Ketabton.com

ketabton.com: The Digital Library

د آریانا تحقیقی موسسی ته
اهدا شو. په درنښت

# پښتانه

## د افغانستان په شمال کې

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(د مقالو ټولګه)

د ډاکټر م. جاوید په زیار

۱۳۸۴ل

# لړلیک


| | |
|---|---|
| ۱- سریزه | الف |
| ۲- د پښتنو لرغوني استوګنځي | ۱ |
| ۳- خښمېدلې امریکا | ۱۴ |
| ۴- د اکثریت او اقلیت تیوري | ۱۹ |
| ۵- کوچیان او د هغوی د تلو راتلو لرغونې لارې | ۴۷ |
| ۶- نه مې هېرېږي چې... | ۶۰ |
| ۷- شمال د پښتنو آر مېشتون او ټاټوبی | ۷۷ |
| ۸- پښتانه، د بشري تاریخ لویه برخه | ۸۷ |
| ۹- راتلونکې، د تېر په څېر | ۹۸ |
| ۱۰- پښتانه د افغانستان په شمال کې | ۱۰۸ |
| ۱۱- د افغانستان قومي ژبني جوړښت | ۱۲۲ |
| ۱۲- راتلونکې لویه جرګه او انتخابات، تشویشونه، اټکلونه | ۱۳۷ |
| ۱۳- د افغانستان اوسنی ژبتوکمیز رغښت | ۱۴۷ |
| ۱۴- د افغانستان په شمال کې د پښتنو وژنې او ځورونې | ۱۴۸ |
| ۱۵- د قعلهٔ جنګي قصابه | ۱۵۴ |
| ۱۶ - د شبرغا ن په دښتو کې د مرګ قافلې چېرته لاړې | ۱۷۲ |
| ۱۷- د جنرال د قتلونو دښته | ۱۸۲ |
| ۱۸- د افغانستان په شمالي سیمو کې د بشري حقوقو حالت | ۱۸۹ |
| ۱۹- د مزار ټولوژنه، په امریکا کې یوه ناویل شوې کیسه | ۱۹۳ |
| ۲۰- په شمال کې د شمالي ټلوالې جارحیت او د پښتنو مظلومیت | ۱۹۷ |
| ۲۱- تصویر خبرې کوي (البم) | ۲۰۱ |

(c) Ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم : پښتانه د افغانستان په شمال کې
(د مقالو ټولګه)
مهتمم : ډاکتر م. جاوید
خپرندویه ټولنه : د ساپي د پښتو څیړنو او پراختیا مرکز
چاپ ځای : د ساپي د پښتو څیړنو او پراختیا مرکز
د چاپ نېټه : ۱۳۸۲ هـ. ش - ۲۰۰۳ م
ټیلیفون او فکس: ۰۹۱ - ۵۷۰۴۵۰۶

# مننه

د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز موسس، په پښتو او پښتونولۍ مين ښاغلي امام الدين ساپي څخه ډېره مننه چې دغه کتاب يې په خپلې شخصي پانګې د مرکز لخوا، وړيا چاپ کړو.

ډاکتر م. جاويد

# مننه او کور ودانی

په ګران هېواد افغانستان کې نن ګنې لوړې دولتي څوکۍ او پوستونه د داسې کسانو په واک کې دي، چې له اره پر ملي وحدت باور نه لري، خو له دې ټولو سره سره افغان ولس د خپلو بادرده شخصیتونو سربښندنې چې د هېڅ ډول کرسیو لېونې نه دي، نه شي هېرولی. په دې لړ کې د ګران ورور ښاغلي [redacted]لوربېني او خدمتونه د ملي ادب او ثقافت په ټینګولو کې خپل ځای لري. چې د ګڼو ملي آثارو په خپرولو سره يې د دې مظلوم ولس د محکومې ملي ژبې لاسنیوی کړی دی او زه هم په ځانګړې توګه ترې مننه کوم چې د دې ټولګې مالي لګښت يې پر غاړه واخیست.

د دې کتاب ټولو لیکوالو ته هم کورودانی وایم چې زما بلنه يې منلې، خپلې مقالې او لیکنې يې ماته له خپلو بوختیاوو سره سره پر وخت رسولې دي.

له ښاغلي ډاکټر ف. نرنګي او ملګرو څخه يې هم ډېره مننه، چې د دې ټولګې د ځینو لیکنو په ټایپ کې يې له ما سره مرسته کړې.

له منلي ورور ښاغلي اشفاق څخه په ځانګړې توګه مننه کوم او کور ودانی ورته وایم چې د ډېر لیکنو په ټایپ، سمون، ډیزاین او د یو شمېر مقاله په تصحیح کې يې له ما سره ډېرې بې خوبۍ وګاللې او پرته د دوی له هڅو د دې کتاب خپرول ما ته ګران و.

همدا ډول له ښاغلي محمد آصف ننګ څخه مننه کوم چې د کتاب په اړه يې د ځینو عسکونو په چمتو کولو کې په ورین تندي ستړیا وګالله.

د یادونې وړ بولم چې دا ټولګه بویه یوه نیمه میاشت پخوا خپره شوې وای، خو د پښتو ژبې یو ډېر نازولي شاعر او لیکوال او همداراز یو بل پیاوړي لیکوال چې دواړو ته يې د دې ټولګې ډېرې مهمې برخې سپارل شوې وې، "نه" و نه ویل، خو زما له پرله پسې ټلیفونو سره سره يې د "هو" ویلو ژمنه هم ترسره نه شوه او کتاب ځکه وځنډول شو. له دوی نه هم ډېره مننه.

په پای کې یو ځل بیا دې د ټولو کور ودان.

په مینه او درناوي

ډاکټر جاوېد

# ددې کتاب د خپرولو ضرورت

ګران لوستونکي په دې خبر دي چې " د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز" د تاسيس يوازنی موخه د مورنۍ ژبې پښتوتعميم او پراختيا دہ (ځکه) د فرهنګ دښمنو عناصرو له خوا د پښتو ژبې د هر غنيمت ـ پښتو علمي کتابونه وسوزول شول او په تيره د پوهنځيو پښتو ژبي محصلين په دغه برخه کې له زياتو ستونزوسره مخامخ شول؛ نو د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز د خپلې علمي شورۍ د پريکړې له مخې د هغو کتابونو چاپولو ته د لومړيتوب حق ورکړ، چې ژبې ته علمي شتمنی وربخښي او يوه ژبه په هغه وخت کې د زياتې پاملرنې او مراجعې ژبه ګرزي چې علمي کتابونه ولري او لوستونکي ترې څه واخستلی شي. لکه څنګه چې د ژبې ژوند د قوم ژوند دی دغه راز هغه ژبه ژوندۍ پاتې کيدای شي چې داسې علمي کتابونه ولري چې لوستونکي ترې د ماخذ او مراجعې په توګه کار واخستلی شي. "د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز"د پورتنيو دلايلو سره سره هغه وروستۍ ناخوالې چې په وروستيو پيښو کې په شمال کې زمونږ پښتانه ورونه ورسره مخامخ شوي دي په داسې حال کې "پښتانه د افغانستان په شمال کې" کتاب په خپله مالي پانګه چاپوي چې د ستر پښتون، نر پښتون او لوی پښتون محترم محمد ګل مومند بابا يوه مياشت وروسته ۳۹ کاله له وفات نه تير يږي؛ نو څکه يې د دغه ستر پښتون د اروا د خوشاليدلو په خاطر دده روح ته ډالۍ کوو او زمونږ مرکز دا حق لري چې ددې کتاب ټول حقوق ځانته محفوظ وساتي.

په پښتني درنښت

په جهان د ننګيالي وي دا دوه کاره<br>
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي

د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

موسس امام الدين ساپي

# سریزه

د امریکا تر نامشروع او وحشیانه بمباریو وروسته، د تش په نامه لویې جرګې او د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه تر راستنېدو دمخه یو شمېر هېوادوالو تمه لرله، که چېرې په ټول هېواد کې سم له لاسه سوله ټینګه نه شي، نو هرو مرو به د رېیمه سقاوي هم نه ورپېښېږي او بې وزله هېوادوال، په تېره بیا پښتانه به له شویو او روانو بشري بخولو بیا قرباني ځکه نه کېږي چې په دې ځل د نړۍ د بشري حقوقو تش په نامه ستر مدعیان چې د شمالي ټلوالې د جنایتکارانو قیضه او پړۍ په لاس کې لري، د تېر په څېر به د افغانستان په شمال کې د طالب په نامه پښتون وژنې، ډلوژنې او پر ضد یې د نورو بشري جنایتونو مخه نیول کېږي یا په بله وینا تاریخ به بیا نه تکرارېږي.

خو لکه څنګه چې څرګنده شوه، د امریکا په مرسته راوستل شوې شمالي ټلوالې د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د پښتون ولس او ملي ژبې ورکولو ته په ډېره علني او برېنډه توګه متمې بډ وهلې او د یوې لویې پلان شوې دسیسې پر اساس پل پر پل منظم پر مخ روان دي، چې په ترڅ کې یې هر ډول افغاني، اسلامي او بالاخره بشري معیارونه تر پښو لاندې کړي.

په لومړي پړاو کې چې د بون غونډه په لړ کې نیسي، د نظار شورا عبدالله او یونس قانوني په ډېره سپین سترګي د افغانستان غوڅ اکثریت "پښتانه" له ۶۳٪ د خپلو ستمي مشرانو په حواله ۳۸٪ ته راښکته کړل. د ایران او روسیې په ملګرتیا یې په سورو نارو د نړۍ په ټولو رسنیو کې دغه غلط او جعلي سلنې (فیصدۍ) ومنلې او خورې یې کړې او په همدې بهرنۍ غونډه کې په ګلتوري لحاظ پښتانه په نشت یا صفر کې راوستل شول.

دامریکا له بمباریو وروسته او دلنډ مهالي حکومت په بهیر کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې دپښتنو وژنې، له کورنو،کلیو او بانډو یې شړل. پر عزت او ناموس یې تېري کول، په جنوبي برخوکې امریکایانو ته د طالب او القاعده په نامه دغلطو راپورونو په ورکولو سره شمالي ټلوالې وکولی شوای پښتانه لانور وځپي او خپلې منګولې دهیواد دشمالي ټولوالې. خو په تیره بیا دنظار شورا ( دیوې ولسوالۍ) شورا په انحصار کې ولویږي. تر څو دویمه مرحله، بشپړتیایي پړاوته ورننژدې کاندې.

دلنډ مهالې اداري په اوږدوکې مخالفینو دومره وکولی شوای چې " ملي ژبه" له رسمیاتو لرې کړي، دلوړو زده کړو وزیر یې پر ورانـدې کرکـه وښيي، دټولو ملي ارګانونو لکه پوهنځیو،وزارتونو او ادارو پښتو نومونه پر ایراني ډوله پارسي واړوي.لکه داطلاعـاتو او کلتـور وزارت پـر وزارت اطلاعات وفرهنګ، دښوونې او روزنې وزارت پر وزارت معارف ونومول شو.لنډه دا چې پښتو دهېواد په تاریخ کې تر دې بریده په شعوري او ښکاره توګه محکومیت تـه را ټیټه شـوې نـه وه، چې پر غـږېدلو یې د هیـواد پـه شمالي ولایتونو کې په زرګونو پښتانه په شهادت ورسېدل او لسګونو زره بې کوره او در په دره شول.

پر همدې مهال په افغانستان کې دځینو شمالي ولایتونو چې لږ شمېر اوسېدونکي لري، ګڼ شمېر ولسوالۍ جـوړې شي اویـو شمېر یـې پـر دې هڅه کې دي چې ان یوه ولسوالۍ پر ولایت بدله کاندې.

دویم پړاو دتش پـه نامـه لویـې جرګې پـه بـهیر کـې پـر محمـد ظـاهر شـاه د کودتا او دمنځمهالۍ اداري پر لاډېر انحصار پای ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر بلـه خوا په داسې حال کې چې پښتانه تر دې بريده محکومېږي او رټل کېږي چې د افغانستان په شمال کې خپل هويت او اصليت نه شي څرګندولی، د نظار شورا لا د سرشمېرنې چيغې هم وهي.

که چېرې پښتانه د دې ناوړه دسيسې درېيم پړاو مخه پر خپل يووالي او سياسي شعور و نه نيسي چې د نوي اساسي قانوني تصويبېدل په لړ کې نيسي او د افغانستان په شمال کې د پښتنو پر ضد قومي تصفيه په شدد سره روانه ده، نو د پښتنو نژدې راتلونکې هم توره تياره برېښي او دا منځمهال اپارتايد به پښتانه لکه په هندوستان او ايران کې لـه هرډول سياسي او کلتوري ډګر څخه د تل لپاره لـه هر څه نه بې برخې شي او بې هويته کاندي.

څکه ما د يو شمېر پوهانو او د نظر لـه خاوندانو په ملتيا وپتېيله چې د افغانستان د شمالي سيمو پر پښتنو او ځينو نورو حياتي مسايلو د ګرانو هېوادوالو د ذهنيت روښانولو او په ګران هېواد کې د سولې او ملي امنيت د پياوړتيا لپاره د مقالو دغه ټولګه راوباسم.

*ومن الله التوفيق*

ډ.ج

PROPERTY OF ACKU 11551

استاد حبیب الله رفیع

# د پښتنو لرغوني استوګنځي

## بلخ

### د پښتنو د مېشتېدنې او لېږدېدنې لومړنی مرکز

و پاچا د بلخ
بلخې درې - درې
شینکې رودونه
و پاچا د بلخ

د پښتو دا سروکی د هغه وخت یادونه کوي، چې بلخ وداِن و، سمسور و، د پښتنو پاچایي په کې وه او د پښتنو د مېشتېدنې او تولېدنې مرکز و.

له بلخ سره د پښتو او پښتون اړیکي د هغه له نامه څخه را نښلي، ځکه د بلخ زوړ اوستایي نوم بخدي دی، چې له پکهت، پخت، یا پښت څخه جوړ شوی دی. په پښتونخوا کې اوس هم ډېر داسې نومونه شته، چې هم د سیمې لپاره وي او هم د قوم لپاره، لکه: اپرېدی، مومند، ځاځۍ، منګل، ځدراڼ، وردګ او نور چې هم د سیمې نومونه دي او هم په هغه سیمه کې د مېشت قوم، له همدې امله بلخ یاد هغه زوړ شکل پکت او پښت د داسې سیمې نوم و، چې اوسېدونکي یې (پښتانه) وو.

پښتنو همدلته لومړنی ځل د حکومت په نامه سیاسي موسسه جوړه کړه او همدلته یې د خپل تمدن بنسټ کښېښود. سپین تمان یانې سپین تومن(پاک نژاد) "زردشت" همدلته وزېږېد او همدلته یې داسې دین ټینګ کړ، چې د یوه خدای "اهوره مزدا" په ستاینه او د شیطان "اهریمن" په غندنه ولاړ و. انسانانو ته د ده د تګلارې او لارښوونې اساسي ټکي. ښه ګڼنه. ښه کړنه او ښه وېینه وه. ده خپلې لاهوتي او الهامي سندرې د ګاثونو په نامه راپرېښودلې، چې دده اندونه، لارښوونې او تعلیمات په کې نغښتي دي.

د زردشت د ګاثونو ژبه اوستا ده او د ګاثونو او زردشت د پیدایښت وخت څېړونکو له درې نیمو تر څلورو زرو کلونو وړاندې بللی دی. ژبپوهان عقیده لري چې پښتو له اوستا سره د خپلوۍ ژور اړیکي لري او زیات پوهان چې پر پښتو او اوستا یې ژوره څېړنه کړې، نظر ورکوي چې اوستا د پښتو مور او یا په بله ژبه د پښتو زوړ شکل دی. پر دې اساس هغه چا چې په اوستا خبرې کولې، پښتانه وو، چې په دې کې په خپله سپین تمان، زردشت او د ده اسلاف بلخي پېشدادیان چې یما یې مشر او د واکمنۍ موسس و، شمېرلای شو.

تاریخ په پخو سندونو د اوستا او پښتو تړون او د بلخ او پښتنو تړون یادوي، زردشت به خلکو ته بلنه ورکوله او لارښوونه به یې ورته کوله چې د رمه دارۍ او مالدارۍ له ژوند څخه د کښت او کرخوا ته مخه کړي، هماغه وو چې دوی دغې خوا ته مخه کړه او د یوه پاخه فرهنګ بنسټ یې کښېښود.

د اوستا ډېره لرغونې او پخوانۍ برخه ګاثونه دي او ګاثونه د زردشت هغو الهامي سندرو ته ویل کېږي، چې دده لارښوونې په کې خوندي دي. د پښتنو په لرغوني ادب او روان ولسي ادب کې د ګاثونو معنوي او شکلي ریښې په څرګند ډول شته او په واز کومې ګواهي کوي چې پښتو او اوستا مور او لور او یا د یوې ژبې دوه تاریخي ډولونه دي.

پخوانیو آریایانو د کورنۍ ډېرښت او پنځېدنې ته زیات ارزښت ورکاوه، نو ځکه به یې خدای ته لاسونه په دعا پورته کول او د سړیو د ډېرېدو غوښتنه به یې ترې کوله.

یو ویدي سرود په دې باب داسې مناجات لري:
لوی خدای د ژوندون واکمن دی،
د ټولو څښتن دی
ښاغلې کورنۍ سړو ته ورکوي
خدایه موږ ستا مریې یو
بې اولاده، بې ښېګڼې مو مه وژنې!
په ګاڅونو کې له داسې یوه سرود سره مخامخېږو.
"خدای دې له خپلې څواکمنۍ څخه موږ ته کښت او کار راکړي،
څومره په خپلو څلوربولو او سړو کې زیاتوالی راولو!"
پښتانه هم د سړو ډېرښت د ډېر مهم ګڼي او په دې برخه کې د ډېرو نیکه مناجات د همدغو سرودونو پایڅوړ بللای شو:
(دا وګړي ډېر کړې خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه!...)
دوی د سړو له ډېرښت نه دوه هدفونه درلودل، یو دا چې د خپل هېواد د پراخو ځمکو د آبادولو لپاره کار ترې و اخلي او بل دا چې د پردیو د تېري په وخت کې د خپلې سیمې او هېواد دفاع وکړي، دا ځکه چې هغه وخت هم دوی د ایرانیانو، تورانیانو، یونانیانو او نورو له بریدونو سره مخامخ وو او اوس هم پښتانه له مغلو، انګریزانو، روسانو او نورو سره مقابلې ته وخت پر وخت اړ شوي دي.
د اوستا او پښتو د سندرو د مطالبو له نژدېوالي پرته د اوستایي سندرو د جوړښت اصول د پښتو په ولسي ادب کې په ژور ډول پاتې دي او خصوصاً کاکړۍ غاړې خو یې داسې جوړښت لري، چې تقطیع یې د ګاڅونو له ځینو ټوټو سره کټ مټ یوه ده او همداسې درواخلئ د میندو او ماشومانو سندرې. د ګڼو تاریخي، ادبي او فرهنګي سندونو په رڼا کې ګورو چې بلخ د پښتنو د پنځېدنې او مېشتېدنې لومړنی مرکز دی. همدلته یې د کرنې او سیاسي تشکل بنسټ ایښی، همدلته یې له تېریو سره مقابله کړې او تېرونیو ته یې ما ته ورکړې. همدلته یې خپل ا دبي بنسټونه ایښي او پاخه کړي او همدلته یې خپلې فرهنګي شتمنۍ زېږولې دي. او یو خوا بل خوا

خواره شوي دي. د بلخ په باب مشهوره ده چې بلخ دعلم مرکز و. خو شاو خوا ته یې دومره علم وښانده چې ده ته پاتې نه شو. نو همداسې بلخ د پښتنو مرکز هم و، چې دومره ترې ولېږدېدل، چې ده ته هېڅ پاتې نه شول او اوس چې کوم پښتانه په کې شته. هغه له نوروځایونو څخه ورلېږدېدلي دي او داسې ښکاري چې لېږدېدنې د پښتنو ازلي برخه ګرځېدلې وي.

مور کی مه راته قهریږه

د ارمانجنو کډې تلې . ورو وتمه

# غـــور

## د پښتنو د مېشتېدنې او لېږدېدنې یو بل مرکز

تر مېلاد درې نیم زره کاله وړاندې د آریایانو یوې برخې په پخوانی پکتي، پښتي، بخدي یا اوسني بلخ کې د پاچایی په نامه سیاسي دولتي موسسه جوړه کړه او دخپل سیاسي تشکل، تجمع او تمرکز لپاره یې دا ځای و ټاکه.

د لرغونپوهنې، ژبپوهنې، ادبپوهنې، تاریخپوهنې او وګړوپوهنې په رڼا کې د دې خلکو زیاته برخه پښتانه وو. خصوصاً اوستا چې د زردشت یا سپین تومان په وسیله مهمه دیني او ادبي ژبه شوه، د اوسنیو ژبخېړونکو د څېړنې له مخې د پښتو زوړ شکل و. چې د زمانې په تېرېدو سره یې ننني بڼه غوره کړې ده. په دې برخه کې ګاڅونه چې د زردشت د خپلې خولې سرودونه دي، په اوسنی پښتو ژبه او ادب کې هم ژورې لغوي ریښې لري او هم یې ادبي ډولونه او اندونه زموږ په موجوده لرغوني او اوسني ادب کې موجود دي.

د پښتو دا سیاسي تشکل او تمرکز دا مانا نه لري. چې دوی پر همدې ځای را غونډ وو. بلکې د دوی زیات خېلونه او قبیلې د اوسني افغانستان په نیمه غربي برخه کې چې مرکزي شمال لوېدیځې جنوب لوېدیځې او

لوېديځې سيمې په کې شاملي دي. د اوسني بلوچستان تر پښين، پورې او د سليمان غره تر لمنو پورې د مېشتېدنې او لېږدېدنې په ناپايه بهير کې روان وو. په بلخ کې ددوی لږخېلونه بزګر او کښتګر شوي وو او نور زيات خېلونه يې پووندو او کوچيان وو چې د ښو ورشوګانو په لټه به له يوه ځايه بل ته بلل. د بلخ. غور. زابل. هلمند، کندهار. مرغو. پښين او بوري لارې به يې سره نغښتلې او د پسرلي، اوړي، مني او ژمي د مېشتېدنې سيمې به سره بېلې وې.

د مېشتېدنې او لېږدېدنې دا کاروانو نه د زمان په اوږدو او پلنه غېږ کې لا تر ننه هم راروان دي او اوس يې هم شمېره دوه نيم مليونو تنو ته رسېږي، خو په افغانستان کې د کمونستانو خونړۍ واکمنۍ او د روسانو وحشيانه تېري د کوچيانو د مېشتېدنو او لېږدېدنو دا بهير ددوی د عامو وژنو له امله غوڅ کړ. که څه هم د کوچيتوب عنعنه يې غلې نه کړای شوه. خو ددوی د مېشتېدنې او لېږدېدنې لارې او مسيرونه يې بدل کړل.

په بلخ کې د يما پاچا د واکمنۍ په وروستيو وختونو کې د هاک يا سهاک چې عربو ضحاک ثبت کړی، له ده سره د يوه رقيب قدرت په توګه رامنځته شو: د اوستا په مذهبي متونو کې دا سړی زيات کړل شوی او د اهريمن ا ستازی بلل شوی دی. دده له لاسه د بلخي پشيد اديانو پاچايي نړېدلې او يما د زابل پاچا ته پناه ترې وړې ده.

اوستايي متونو د دهاک اصلي ځای بوری ښودلی، چې په اوسني بلوچستان کې د سليمان يا کسي غره په لمنو کې يوه پرته سيمه ده، دده کورنۍ په غور کې واکمني جوړه کړه او په سلګونو کلونو يې خپلواک حکومتونه په کې درلودل.

په دې توګه موږ تر بلخ را وروسته غور د پښتنو د سياسي، مدني او بلدي ژوند دويم مرکز ګڼلای شو.

روايات وايي چې سور او سام د ياد شوي دهاک ورونه وو. سور يې مشر و، او د غور امارت ورته رسېدلی و او سام يې کشر ورور و چې د لښکرو سپه سالاري ورسپارل شوې وه. ددوی وزارت تر اسلام د مخه د غور په منديش کې په پېړيو، پېړيو امارت درلود.

د غور سیمه دغرونو په لړیو پوښلي سیمه ده او په غور نوم هم د پښتنو د غره په ارتباط پرې اېښودل شوی. چې پاچایانو ته یې غور شاهان وایي او عرب دا سیمه "جبال" او پاچا یې د ملک الجبال په نامه یادوي او همدا راز دغو خلکو ته سوري او یا سوریان د ملک سور له امله وایي چې نسبتي نوم دی او د سور مانا بیا لمر وه. ځکه چې ددې ځای خلکو د لمر لمانځنې دین درلود.

ددې سوریانو یو بل حکمران بستام د بهښاد زوی و. چې د شغنان، بامیان او تخارستان پر غرونو یې حکم چلاوه او د فردوسي په قول د کابل مهراب کولا چې د لمر کورنۍ په مانا دی هم د همدې ضحاک له نسله و.

د اسلامي دورې په اوایلو کې د سوري کورنۍ حکمران شنسب د خدنګ زوی و. ددغه نامه ترکیب له شین او اسپ څخه دی، چې دهغه وخت پښتنو د اسونو د ځواکمنۍ له امله دا ډول نومونه اېښودل او د چا په نامه کې به چې داسې ترکیب و هغه به ځواکمن او پیاوړی و. چیني سیاح هیوان څنګ، شین اسپ د افغانستان د شمالي او ختیزو برخو د اسونو عالي جنس بولي.

د غوریانو ددورې نامتو مورخ قاضي منهاج سراج جوزجاني لیکي: ملک شنسب د حضرت علی (کرم الله وجهه) د خلافت په دوره کې ایمان راوړ او له اسلامي خلافت سره ژمن شو. دې د غور لومړنۍ حکمران دی چې په اسلامي دوره کې پېژندل شوی دی. تر ده سل کاله راوروسته ددې کورنۍ مشر امیر پولاد و. ده له خراساني ابومسلم سره د بني امیه و په ماتولو او د عباسیانو په واکمنولو کې لویه مرسته وکړه او د غور لښکرې یې د ابو مسلم ملاتړ ته ور ولېږلې. تر امیر پولاد وروسته دده زوی امیر کروړ د جهان پهلوان په ۱۳۹ هـ ق کال د غور په مندېش کې امیر شو. خپله پښتو ویاړنه یې را پرېښوده.

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نه شته
په هندو سند او په تخار او په کابل نه شته
بل په زابل نه شته
له ما اتل نه شته

غشی مې ځي لکه برېښنا پــه میرځمــنو بــاندې
په ژوبله یو نیم یرغالم پر تښتــېدونو بانـدې
په ماتېدونو باندې
لـه ما اتل نــه شته

***

زما د ېریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ و په و یاړ
داس لـه ســومې ځمــکه ریږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه او جاړ
لـه ما اتل نه شته

***

زمـــا دت وري تر شپول لاندې دي هرات او جروم
غــرج و بــامیان و تخـــار بولي نوم زما په اودوم
زه پېژندویم په روم
لـه ما اتل نه شـــته

***

پـــر مـــرو زما غشی لوني ډاري دښن راځخه
د هــریرود پر څنډ و څم تښتي پلـــن را ځخـه
رپي زړن را ځخه
لـه ما اتل نه شته

***

د زرنج سوبه مې د توري په مخسور وکړه
په باداری مې لوړ وای د کول د سور وکړه
ستر مې تربور وکړه
لـه مـــا اتل نه شته

***

خپلو وګړو لره لـــور پـــېرزوینه کوم
دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم
لـه ما اتل نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لويو غرو مې وينه درومي نه په خنډو په تال
نــړۍ زما ده نوم مې بولي پر دريځ ستايوال
په و رځو شپو مياشتو کال
لـه مــا اتـــل نـــه شته

***

دا مېړنی او اديب پاچا په ۱۵۴ هـ ق کال د پوشنګ په جنګونو کې مړ شو او تر ده وروسته يې زوی امير ناصر ايوادونه ضبط کړل او د غور. سور بست او زميندا ور پر سيمو واکمن شو.

د غوريانو پر پښتونوالي ډېر سندونه شته. نومونه يې پښتو دي. د پښتو ادب لومړنی انګازې لـه همدغو غرونو څخه راپورته شوې او ټول کورني او باندیني محققين او سوريانو ژبه پښتو او دوی پښتانه وو.

د څېړونکو لـه رواياتو څخه دا هم زباتېږي چې د غور د لرغونو واکمنانو اصلي ژبه زند يا هماغه اوستا وه، چې د بلخ د واکمنو ژبه وه او بيا د زردشت په وخت کې ادبي او ديني ژبه شوه او اوس هغه د پښتو زوړ شکل ګڼل کېږي، خو غوريانو زردشتي دين نه و منلی او مخکې له دې چې دا دين را منځته شي. دوی لـه بلخي پېشد اديانو سره دښمن شوي وو، دا دښمني لکه ځيني کسان چې غوريان بېخي بل نسل ګڼي، د پرديتوب له امله نه وه بلکې دا دښمني لـه هغو تربګنيو څخه راولاړه شوې وه چې په پښتنو کې اوس هم شته او خصوصاً د قدرت او واک په سر سره وران شوي وو. د پښتنو يوازې دوې پاچايي نه وې بلکې په زابل او نورو سيمو کې يې هم واکمنی جوړې کړې وې او د تجمع او سره ټولېدنې مرکزونه يې درلودل، چې زابل ته د يما پاچا ورتلل په خپله دا ټکي روښانه او د پښتنو د خورو. ورو واکمنيو نقشه انځوروي.

د غور دنګ غرونه د سوري پښتنو د اوکوب، پرتم او برم لرغوني شاهدان دي. دوی د غور په هره برخه کې لـه يوې خوا دغور د ساتنې لـه پاره پاخه سنګرونه جوړ کړي وو اولـه بلې خوا يې د خلکو د ژوند او هوسايې لـه خاطر دغور په ګوټ، ګوټ کې ښارونه ودان کړي وو او په دې ښارونو کې يې د هنر په ګوتو ښکلې ماڼۍ او اسمانڅکې ودانۍ جوړې

کړې وې، مندېش ، آهنګران، فیروزکوه، استیه، زرنی، زمینداور، بامیان او بیا وروسته غزني د غوري سوریانو د تاریخ د بېلابېلو وختونو، بېلابېلو موسمونو او بېلابېلو واکمنو پلازمېنې او ښهرک، تولک، خیسار، شلنګ، فخرآباد، خوابین، سیفرود، خلج، روزګان، ګزیو، تمران، غازان، والشتان، لجوران او نور د غور تاریخي ښارونه، کلاوې او حصارونه وو.

ددې کورنۍ روڼ تاریخ د امیر پولاد، امیر کروړ او امیر ناصر تر واکمنۍ وروسته یوه لنډه موده پوتیاده کې دی، امیر بنجی، شنسپ د نماران زوی هغه واکمن دی چې د هارون الرشید د خلافت په وخت کې د غور واکمن و.

همدا وخت په غور کې یوې بلې کورنۍ هم د واکمنۍ دعوه درلوده. چې د یشنپانیانو په مقابل کې په شیشانیانو یادېده ددې کورنۍ مشر شیش د بهرام زوی و د غور خلکو دوی ته مشوره ورکړه چې بغداد ته د عباسي خلافت دربار ته ولاړ شي خلیفه که هر یوه ته د غور واکمنی حواله کړه هغه به ددوی واکمن وي. همداسې یې وکړل. خلیفه بنجي ته وا کمني او شیش ته د پوځونو مشري ور وسپارله، دوی بېرته راستانه او په خپلو، خپلو چارو بوخت شول.

سوری د محمد زوی د بنجی د کورنۍ یو بل واکمن و چې د صفاریانو معاصر و، دده زوی محمد بن سوری داسې وخت واکمنۍ ته ورسېد چې د غور په ګاونډ غزني کې د سامانیانو د نامتو سالار الپتګین له خوا د غزنویانو د واکمنۍ بنسټ اېښودل شوی و او سلطان محمود د غزنوي ستر واکۍ یعنې امپراتورۍ په جوړولو بوخت و، ده غوښتل چې په ټول افغانستان او ټوله سیمه کې یوه لویه ستر واکي جوړه او وړې وړې واکمنۍ را نسکورې کړي. ده په دې لړۍ کې پر غور هم پوځونه ور وخېژول.

سلطان محمود غزنوي په ۴۰۱ هـ ق کال دخپلو دوو پیاوړو جنرالانو ادتونتادش حاجب او ارسلان جاذب په مشرۍ غورته درنې او په وسله پورې لښکرې ولېږلې. په یوه تنګه دره کې د پر لږ شمېر غوري سپاهیانو ددوی له مخه یې مورچې جوړې کړې وې او زیاتې شپې یې د سلطان لښکرې دلته ایسارې کړې، دغور خلکو قومي لښکرې را ټولې کړې او نژدې وه چې

غزنوي لښکرې ماته وخوري دا وخت سلطان محمود په خپله له نورو لښکرو سره مرستې ته راورسېد اوتر اوږدو جګړو وروسته يې غوري لښکرې په شا وتمبولې، محمد سورى د آهنګران لويه نظامي کلا تخليه کړه او له خپلو لس زره ژوبلورو سره په ميدان يې دغور له لوړو غرونو کې سنګرونيو، سلطان محمود ته د دوى ماتول سخت شول. له جنګې ضدعې نه يې له کار راخيستو سره په شا تګ وکړ، غوري لښکر له سنګرونو نه را پاڅېدل په دوى پسې را روان شول خو چې له خپلو سنګرونو نه لېرې شول محمودي لښکرو بېرته مخ پرې را وګرځاوه دوى يې مات کړل او محمد سوري بندي ونيول شو.

غوري واکمن ته اسارت تر مرګه دروند و. د غزني په محبس کې يې زهر چې دخپلې ګوتمې تر غمې لاندې يې ځاى په ځاى کړې وو وخوړل او له نړۍ څخه يې سترګې پټې کړې، غوري شاعر شيخ اسعد سورى په يوه بولله کې دده سويې ويرنه وويله او دغور دا لويه غمېزه يې داسې انځور کړه:

د فلــک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوى هر ګل چـې خاندي په بهار
هر غاټول چې په بېـديا غوړېده وي
ريژوي يې، پاڼې کانـدې تار په تار
د هر مخونه د فلک څـپېړه شنه کا
د هر ســرونه کاتر خاورو لانـدې زار
د واکمن له سره خول پريباسي مړ شي
د بې وزلو وينې توى کاندي خونخوار

چې تر يوه اوږده تشبيب وروسته مطلب ته را رسېږي او وايي:

زموږ پر زړونو دى نن بيا يو غشى وويشت
ودې ژوبلـــلـه پـــه دې غشـــي هزار
پـــر سوريو باندې وېر پريووت له پاسه
محـــمد واکمن چې ولاړى. په بل دار
يو دار شو امير په لا س د ميرخـمنو
انتقال يې وکـــړ قـــبر لـه بـــد وار

پـر سـماو یــې ودان آهـنګران و
په تیکنه و پر درســت جــهان اوښـار
د محمود د ژوبلورو لـه لاس کښیووت
چـــې غـــزنه ته یې باتلي په تلوار
ننګیالیو لره قــید مــړینه ده ځکه
سـه یې والوتله هسک ته پـه دې لار
تــر نړۍ یې غوره خاورې، هدېره کا
د زمــریو پـــه بیړو کلـه وي ښوار
په دې وېر د غور وګړي تورغري سول
په دې وېر رڼا تــیاره شـولـه د ښار

د غور د ماتم حالت انځوروي او بیا فلک ته خطاب کوي:

لاس دې مـــات شه ای فلکه چې دې وکـا
محمد غونـــدې زمـــري د مړینې ښکـــار
شین زړګی فــلکــه ولـــې لا ولاړ یـې؟
اې د غـــور غرونـــه په څه نه شـــوی غـبار
مځکې ولـــې پـــه ریږدلو نـــه پـریوزې
لاندې باندې شه چـــې ورک شې دا اشعار
چې زمری غـــونـــدې واکــمن ځي لـه جهانه
چـــې څوک نه کړي پـه نـــړۍ باندې قرار
سخ پر تا دی محموده د غـــور لـــمـــر وې
پـــه نـــړۍ بـــه نه دي ستا دعدل ســـار
ته پر ننګه وې ولاړ په ننګ یـــې مـړ شوې
هـــم پـــر ننـــګه دې پـــر ننګه کا ځان جار
که سوري دې په تګ وېر کاندي ویرمن شول
هـــم پـــه ویاړي ســـتـا په نوم ستا پـــه تبار
لـه جـــنـــت دېـــر وه تـون زمـــور واکــمـنـه
هـــم پـــه تـادې وي د بر لـــور دغـفار

ځينې مورخين ليکي چې سلطان محمود غزنوي پر غور باندې دا لښکر کشي ددې لـه پاره کولې چې د غور خلک مسلمانان کړي او غور ته اسلام ورسوي خوحقيقت دادی چې غور ته د اسلام سپېڅلې دين ډېر پخوا راغلی و او د غـور واکمنو د حضرت علي کرم الله وجهه د خلافت لـه دورې نه د خلافت لـه مرکز سره ښه او تاوده اړيکي درلودل. نو ځکه د سلطان محمود غـزنوي دا بـريدونه د غـور د خلکـو د مسـلمانولو لـه پـاره نـه وو بلکـې ده غوښـتل چې پـه سيمه کې د يـوې لويـې سـترواکۍ بنسـټ کښـېږدي چې همداسې هم وشول.

د محمد سوري لـه ماتې سره د غوريانو مستقله واکمني ختمه شوه او د غـور اوبسـت سـيمې چـې د غوريـانو پـه لاس کـې وې د غـزنويانو لاس تـه ولوېدې. لـه دې سره هم غـزنوي سلطان غورتـه کوم نـوی والـی ونـه لېږه، بلکې هماغـه د محمـد سوري زوی امير ابو علي يې چې ده ته تابع شوی و پـه غـور کـې خپـل تـر لاس لانـدې امـير وټاکـه خـو بـيا هـم د غـور د واکمـنې کورنۍ نور غړي په ځو کې وو او د وخت انتظار يې يوست.

امـير عـباس د غـور يـو غيرتـي شـهزاده و چـې يـو ځـل بـيا يـې د غـور خپلواکـي را ژوندۍ کړه، د غـزنويانو اطاعـت تـه يې غـاړه کښېښنبوده او د خپـل تـره امير علي تـر بنـدي کولـو وروسته يې په غور کې خپلواک حکومت پيـل کـړ او لـه همدې املـه امير الکـامل يا بشپړ واکمن وبلل شو. ده د غور پـه منديش کې د غوريانو د لوی مشر ضحاک يا سهاک لرغونې کلا لـه سره جوړه کړه او همهلتـه يې يوه شاهي ماڼۍ هم ودانه کړه او په دې توګه يې د خپـل قومي غرور او دغور د وياړ ځلي دنګ کړ.

سـلطان محمـود لـه خـپلو نـورو سـتونځو سـره سره بـيا هـم د غـوز لـه بيانيولو نـه تېر نـه و. ده پـه ۴۱۱ شهزاده مسـعود تـه وظـيفه ورکـړه چـې لـه هرات نـه پـه غـور لښکـر ور روان کـړي، نومـوړي تـر بـريد وړانـدې د جروسـې واکمـن تـه يـو هـيات ور ولېږه او دوه تـنه غوريـان يـې هم ورسره مله کړل چې هلتـه د هـيات ترجمانـي وکـړي، دا پېښـه ابوالفضل بيهقي همهغه وخت ثبت کـړې او مورخينـو د نـورو سندونو تـرمونـدل کېدو وړانـدې دا ددې دليل ګڼـه چـې دغوريـانو ژبـه لـه غـزنويانو نـه بېلـه او پښتو وه نـو ځکـه د تـرجمان پـه

وسیله خبرې کېدې خو د پټې خزانې موندل کېدو نه یوازې دا روښانه کړه چې د غوریانو ژبه پښتو وه بلکې دا یې هم وښوده چې د غور دربار د پښتو ادب لرغونی مرکز و او همدلته و چې دامیر کروړ ویاړنې او د شیخ اسعد او ښکارندوی فصیحو او بلیغو بوللو. د ادب نړۍ ته سترګې وغړولې او د پښتو ادب بنسټونه کېښودل شول.

هو! مسعود استازو غوریانو ته د ویرولو ډک پیغامونه ورکړل چې باید د امیر اطاعت ومني خو غوریانو ورته وویل: امیر ډېر غلط فکر کړی چې ګوا کې دا سیمه او دا خلک داسې دي چې څوک دې پرې ورشي او نړۍ تېردې شي. را دې شي و دې ګوري چې دلته تورې دي، وسلې دي او ډېرې دي، بیا هم د غور د یوې برخې اوسېدونکو د مسعود له لښکرو سره درنې جګړې وکړې او په پای کې مات شول او ددوی مشر هغه سیمې چې د غرجستان له شارانو نه یې نیولې وې غزنویانو ته ور پرېښودې. خو امیر عباس تر ډېره وخت د غور د مرکزي برخو واکمن و، تر پایه یې د غزنویانو سلطه ونه منله او مقابله یې ورسره وکړه څو چې ابراهیم غزنوي یو ځل بیا یو، درنه حمله پرې وکړه، د جنګ په ډګر کې ژوندي ونیول شو او دامیر محمد سوري غوندې یې ژوندې غزنې ته بوته او د غور واکمني یې بیا هم دده ایل شوي زوی امیر محمد ته وسپارله.

که څه هم ځینې مورخین لیکي چې امیر عباس پر خلکو ظلم کاوه او د غور خلکو له غزنوي پاچا نه دلیکونو په وسیله وغوښتل چې ورشي او دوی ته له دې ظالم پاچا نه نجات ورکړي خو حقیقت دادی چې دا لښکر هم د همهغو لښکرکشیو سلسله وه چې د سلطان محمود له وخت نه یر غور پیل شوې وې او غزنویانو غوښتل چې د خپلې ستړواکۍ د ټینګتابه له پاره غور د تل له پاره د خپلې ستړواکۍ جز وګرځوي او د غور خپلواک حکمرانان ختم کړي.

پوهاند اکاډېمسن عبدالشکور رشاد

# خښمېدلې امریکا

دې غریب افغانستان تـه امـریکا ده خښمېدلــې
پـه دې هـوډ کــې ورسـره برېتانــیا ده پـارېدلې

امــریکا یــوازې نـه ده اروپــا ورسـره ملـه ده
تباهــې د خــوار افغــان یــې پـه سـلا ده پتېـیلې

د خښمونــو سـیلاوونه، مـــاتوي د هــوښ بـندونه
تـل پـه دې مــبارزه کــې، هوښیارتـیا ده تښتېدلې

دولـتو تـه خښمېدلــې مسـتر بـوش وکښلـه کـرښه
ول(۱) پر دوست او پر دښمن مونږ دا دنیا ده نن وېشلې

بـادران د سـپینې خونــې د تـیارو اهریمـنان سـول
دې د شـر او شـور خدایـانو زمـونږ رڼـا ده راوژلــې

هرهغه چې زمونږ دوست دی، زمونږ صفو ته به رادرومي
چې را نـه شي، د دښمـن د لاس امسـا ده مونږ ګڼلې

دښمنـــې د افغانـــانو د انګلـو امـریک رضـا ده
اوس خـو ګټـه پـر محـور د دې رضـا ده ځـرخېدلې

څوک له بېرې، څوک له تمې، څوک له عذره په پسې دي
امریکا چې په دنیا کې دا سرنا ده رغولې

.

استوي د جنګ میدان ته. دولتونه خپلې ډلې
څوک یې اوس دي په تکل کې چا پخوا ده رالېږلې

لوټکې چا تحفه کړې، چا پیکش کړله ټانکونه
جاسوسي په دې غورځنګ کې چا و چا ده ورمنلې

ځینو لارې ورته ورکړې، ځینو ځمکې کړې د مرستو
ورکوي څوک میدانونه چا فضاء ده وربخښلې

څوک باروت او ځینې تېل ورته راوړي ځینې پېلوځې
دا لمبه چې زموږ په ملک کې امریکا ده لګولې

چې ضعیف یم د جهان ټکې پر ما باندې رالوېږي
په نړۍ کې بدبختي په پچه زما ده را ختلې

ګروېه وي یې، سوځوي یې، ځوبلوي یې، قتلوي یې
دا پر ضد د پښتنو، توره بېلا ده پاڅېدلې

که ښارونه دي که کلي لېونو سپو دي داړلي
د بشر وینو ته تږو، دا وبا ده راښکارلې

که جونګړه د ادي ده، که خپره د دادا ده
زموږ د قرن بشر دوسته اتیلا ده راسوځلې

د مظلومو انسانانو په سرو وینو ژرندې ګرځې
د بېوسو په سرو اوښکو ښار، بېدیا ده لمبېدلې

دلـته بـورې، دلـته وراړې، دلـته کونډې يتـيمان دي
دلــته چـيغې، دلــته ويــر. دلـــته ژړا ده اورېدلـــې

دلته څپرې ګرېوانونه، دلته ساندې دي سوګلې دي
جــنازه چــې د خوښــيو د خــندا ده مــرګ اېســتلې

ژوندونونه يې پايمال کړل امنيت سو لګد کوبه
دلــته شــر، دلــته فتــنه، دلــته غوغــا ده تورېدلــې

تباهــيو د عــراق او فلســطين مظلــوم تــه ځيو سـه
اى پښــتونه! دغــه تکــه اوس پــر تــا ده رالوېدلــې

جامعــه د افغانــانو دغــه دروېشــت کالــه کېــږي
پــه ځــورو ده ځورېدلــې، پــه جفــا ده ژړېدلــې

د بشــر د حــق غوښتــنې، د زړه ســويو ادعــاوې
عــدل و رحــم و خواخوږيــو چليــپا ده پــر راکښلــې

واى(۲) دفــاع د تمدن کړو ازادي له فنا ژغــوروي
مګــر دوى افغانســتان تــه نــن فــنا ده رابللــې

کلــه وايــي: مــوږ جــنګ کــې راولــو بشــر تــه سوله
کله وايي (۳) صليبي جنګ دى کليسا ده موږ ژغورلې

د نــيويارک او واشــنګتن و تروريــزم، خــو دا نــه دى
چــې پــه وينــو د پښــتون يــې پښــتونخوا ده رنګولــې

ترې د اوښکو سين روان دى، ترې د وينو سيل بهېږي
دا صــفحه زمــوږ د تــاريخ چــې هــر ترســا ده راليکلې

دا جذبــه د خودخواهــی ده، لېوتــوب د انــتقام دی
د خښمــنو زلزلــه يــې چــې بقــا ده لړزولــې

خودغرضه رهبران يې دخلـه نـه دي پـه کړکېچ کې
د پـردو مداخلــو چــې زمــونږ بــنا ده نړولــې

وايـي پېـنځه زره تـنه امـريکايان دي تلـف سـوي
طـياره چـې تـر سـرتېر مصـري عطـاء ده جـنګولې

دروېشـت زره افغانـان يـې قربانـي کـړل د دې پېښـې
و جـنون تـه خښمېدلـې امـريکا ده رسـېدلې

عدالــت، بــرادري او مســاوات د حــق پالــنه
پــه عمــل کــې دغــه هــره ادعــا ده شــرمېدلې

ناميندې دي، نامرادې دي، شپه او ورځ ځوانيمرګی دي
خوشـالي لـه پښتونخوا نـه پـه رښتيا ده لېږدېدلې

چــې پــنجه لــه زورور ســره چــا ده ازمويلــې
د هغــه کمـزوري لېچــه خامخــا ده دردېدلــې(۸)

خود بـه نـه تولېږي مړي، خود يې ملک په وينو رنګ وي
د قـوي لـه جوغـه غـاړه چـې هـر چـا ده غړولـې

خـود بـه سوځي د غښـتلو د خښمونـو پـه اورو کـې
هغــه چــا چــې غلامــي د امـريکا ده نامنلې

د وطــن د خــرڅولو بازارونــه ښــه تــاوده دي
پـه ايمـان د سياسـي ګټـو سـودا ده اوس پسـندلې

ځانــي ګڼـي چې بـه تــل تــر ملــي ګټــو جــاريدلي
دا جذبـــه د قدرتونـــو استســـقاء ده راوژلـــې

د انګريز پلي لښکر يې د بګرام ميدان ته راوست
فرانســه وايــي: مــزار تــه مــوږ سـپاه ده راوســتلې

نــن هغــه ښــه راغلــې وايــي د کفــارو تــور لښکــر تــه
چې پرون يې سره سپاه د روس پلا پلا ده ځغلولې

له پردو به څه ګله کړو، ځای د ویر دی ځاې د شرم
چې زمــوږ خپلو پــه کفــارو زمــوږ لــوا ده پرځولې

کسات خېژي، نه پاتېږي، دا دنيا دغه يې دود دی
دا نکتــه پــه پښتنو کې لــه پخوا ده ازمويلـــې

د انګريــز او امــريکا د دولـــتونو مــريې تــوب دی
زه ګمان کړم خپلواکي مو نن سبا ده بايلودلې(۳)

---

۱- ول= ويل.
۲- وای= وايي.
۳- بايلودلې= بايللې
× د د سعدي شيرازي د دې بيت ژباړه ده:
هر که با فولاد بازو پنجه کرد
ساعد سيمين خود را رنجه کرد

ډاکټر عبدالحی نیازي

# د اکثریت او اقلیت تیوري

لږ ترلږه له څلوېښتو کالونو را په دېخوا د اقلیت او اکثریت مسئله په پرله پسې توګه د افغانانو تر منځ د یوې سیاسي لانجې په ډول راپورته کېږي او دا مسئله کله ناکله د دولت په سطحه هم مطرح کېږي، خو د تېرو حکومتونو له خوا دا مسئله افغان ولس ته نه ده جوته شوې، نو ځکه دا د اکثریت او اقلیت مسئله د عام ولس تر منځ په اجمالي توګه او سیاسي ډلو تر منځ او خصوصاً د غیرپښتني سیاسي ډلو له خوا د ګوندونو په سطحه په ځانګړې توګه مطرح کېږي. نو ځکه په کار ده چې د اقلیت او اکثریت مسئله داسې رابرسېره شي چې له یوې خوا د افغان ملت د جوړېدو په بهیر کې کوم خنډ پېښ نه شي او له بلې خوا د افغانستان وګړي هر یو په اګاهانه توګه د خپلې اتنیکي ریښې او په اوسني افغانستان کې له خپل ټولنیز او سیاسي موقف سره اشنا وي. دلته په اجمالي توګه د افغانستان د قومونو جوړښت او سیاسي کړو وړو ته یوه لنډه کتنه کوو.

اکثریت یعنې څوک؟ پښتون، افغان، پټان، روهي او سلیماني کلمات په مترادفه توګه د پښتنو لپاره د مختلفو اقوامو له خوا استعمال شوي دي، خو پښتانه خپل قومي هویت پښتون او خپله سیمه پښتونخوا بولي او په اوسني افغانستان کې پښتانه په سیاسي لحاظ خپل ملي هویت افغان بولي او پخپل افغانیت ویاړي. د معتبرو شمېرنو (احصائیو) پر اساس د افغانستان د نورو اقوامو په پرتله پښتانه د افغانستان د ولس اکثریت برخه جوړوي. پښتانه

هغه اريايي قبايل دي چې په دويم ميلادي کال کې د خپلې ټولنيزې او سياسي ودې په لحاظ دې مرحلې ته رسېدلي وو چې پخپله سيمه کې يې سياسي نظام رامنځ ته کړ. هغه د کنشکا پاچاهي نظام و چې په ژمي کې يې پلازمېنه (پايتخت) په پېښور کې او په دوبي کې د کابل په باګرام کې وه.

همدغه پښتني قبايل وو چې په شپږم ميلادي کال کې د نوې کالو لپاره له فراه څخه تر کابله پورې د اعرابو په مقابل کې وجنګېدل. بالاخره د اسلام مقدس دين يې ومانه، خو د اعرابو سياسي واک يې ونه مانه. چې په نتيجه کې د اسلام مقدس دين د تدريس لپاره د اموي امپراتورۍ له خوا په زرګونو تنه اعراب د پښتنو سيمو ته ولېږدول شول چې نر نن ورځ پورې په افغانستان کې اوسېږي. له زرو کالو را په دېخوا د پښتنو تاريخ ټولو ته جوت دی، پښتانه په حکومت جوړولو کې دننه په افغانستان کې او د باندې تر امپراتوري جوړولو پورې تجربې لري. د سلطان محمود په لښکر کې د پښتنو برخه يو څرګند واقعيت دی چې د سومنات په جنګ کې د پښتنو برخه په دې شعر کې ښه تمثيلېږي.

ترک و نامرد واړه ودانګل له نام و ننګه
يو زه پښتون ولاړ وم د سلطان تر څنګه

سلطان محمود د ترک نژادو عسکرو په زور له پښتون سره سخت ظلمونه او نارواوې وکړې، په ملتان کې نصر لودي ته يې ماتې ورکړه او د پښتنو ريښې يې له ملتان څخه وويستې او په غور کې يې د شيخ اسعد سوري په شمول ټول پښتانه خانان بنديان کړل. په کلتوري لحاظ ترک نژاده سلطان محمود د فارسي ژبې په تحکيمولو کې ستر رول ولوباوه. دا چې پښتنو ولې د سلطان محمود واک ومانه علت يې دا و چې محمود د اسلام او جهاد شعار پورته کړی و خو په پای کې پښتنو له ترک نژاده کورنۍ څخه خپل کسات واخېست او د غور پښتنو د ترکانو ريښې له غزني څخه د تل لپاره وايستلې.

پښتانه د خپل تاريخ په اوږدو کې د جګړې ستر تاريخ لري له سکندر، عرب، چنګېز، تيمور سره جنګيدلي دي. د هرات تيموريان د شارخ په مشرۍ په کابل کې د يوسفزو اوه سوه خانان د مېلمستيا پر وخت ووژل او

ټول یوسفزي او ګڼ شمېر نور پښتانه له کابل څخه وشړل شول او ټول سوات او مردان ته ولاړل. تر نن پورې کابل ښار بیا یو پښتني ښار نه دی شوی. د شارخ وراره بابر چې د هند د مغلي کورنۍ د واک بنسټ ایښودونکی و، خپل ټول عمر له پښتنو سره په جنګونو کې تېر کړ. خو یوسفزو د بابر واکمنۍ ته سر ټیټ نه کړ. د هند له مغلي دولت سره د پښتنو جنګونه د پښتنو سیاسي فرهنګ جوړوي.

د ایران له فارسیانو سره د پښتنو جنګونه د پښتونخوا د تاریخ یوه بله برخه جوړوي. پښتنو د فارسیانو په مقابل کې خپله خاوره ساتلې ده، خو له بده مرغه په فرهنګي ډګر کې په هرات، فراه، زرنج، غور او بادغیس کې ګڼو پښتنو خپله مورنۍ ژبه له لاسه ورکړه، همداراز د افغانستان پرله پسې دولتونه په دغو سیمو کې د پښتو ژبې او پښتني کلتور د بیا ژوندي کولو لپاره هیڅ ډول هڅه نه ده کړې.

پښتانه د افغانستان د نورو اقوامو په پرتله د اسلام د مقدس دین د خپرولو لپاره تر نن ورځې توره وهلې چې په افغانستان، هند او پاکستان کې ډېر روښان تاریخ لري.

هند ته د انګرېزانو له راتګ سره سم د پښتنو د بخت ستوری له ځلا ولوېد. پښتنو د خپل تاریخ او سیاسي ژوند په بهیر کې د انګریزانو له خوا تر ټولو لوی تاوان ولید او هغه دا و چې پښتانه او د افغانستان خاوره د (۱۸۴۲ - ۱۹۱۹) کلونو په ترڅ کې په دوو برخو ووېشل شوه چې نن د ډیورنډ کرښې په نامه یادېږي او افغانستان د خپلې خاورې پنځه د برېش فیصده خاوره او څلوېښت فیصده نفوس له لاسه ورکړ. خو په لروبر پښتونخوا کې د یووالي احساس لا تر اوسه پخپل قوت پاتې دی.

له روسانو سره په جګړه کې پښتنو د افغانستان د نورو قومونو په پرتله لویه ځاني، مالي او سیاسي صدمه ولیده. نو ځکه پښتانه د افغانستان د کډوالو او مجاهدینو اکثریت برخه جوړوله. پښتانه افغانستان او افغاني ملي هویت ته سخت وفادار. د ملي یووالي او رښتني ورورولۍ غوښتونکي دي. د پښتنو سیاسي ډلې په افغانستان کې د مرکزي نظام ناړې وهي. د افغانستان په تاریخ کې د تاجکانو ټولنیزه او سیاسي برخه

(تاجکان در مسیر تاریخ) یوازینی کتاب دی چې د افغانستان تاجکانو د سیاسي او ټولنیز ژوند په هکله زما لاس ته راورسېد. دا کتاب د یو شمېر ایراني، تاجکستاني، روسي او افغاني لیکوالو د مقالو مجموعه ده. له بده مرغه د دې مقالو مرتب کوونکي میرزا شکور زاده او بلال عمار د (تاجکان در مسیر تاریخ) نوم ورته غوره کړی، چې په واقعیت کې دا کتاب یو علمي اثر نه، بلکې د مخالفت او عکس العمل په توګه د (افغانستان در مسیر تاریخ) او (پښتانه د تاریخ په رڼا کې) کتابونو د نومونو او محتویاتو پر ضد ترتیب شوی دی. د دې کتاب په مقدمه کې د دې پر ځای چې د افغانستان د تاجکانو اتنیکي ریښې او قومي جوړښت څرګند کړي، په صراحت سره یې پر پښتنو باندې تېری کړی او په لمسوونکې توګه یې د پښتنو پر ضد لیکلي او په افغانستان کې قومي تاوتریخوالی زیاتوي. د مثال په توګه په مقدمه کې داسې راغلي: "از قرن شانزده تا هم اکنون، تاریخ افغانستان مملو از اغتشاشات، هرج و مرج، کشتار و مرګ، استقرار حکومت قبیله سالاری و زوال عنصر شهرنشینی و تفوق کوه و صحرا بر شهر است. وقتی حکومت از دست شهر نشین ها خارج شد و بدست قبایل کوه ګرد و بیابان ګرد افتاد، جنګهای خونین و کشتار عظیم د سته جمعي و قتل و غارت و ناامنی ګریبان ګیر این کشور شد... در کنار، حملات و هجوم های اقوم نیمه وحشي و حاکمیت نظام تک قبیلوی...

د دې بې خبره لیکوال په خوب کې باید ووایو چې په اوه لسمه او اتلسمه میلادي پېړۍ کې په افغانستان کې د ښارنشینانو کوم حکومت په کابل، کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، تخار او چاریکار کې موجود نه و چې د پښتنو د وحشت او بربریت په وجه وران شوی وي او نه خو پښتنو په ثمرقند، بخارا، دوشنبې باندې حملې کړې دي، بلکې په اوولسمه او اتلسمه میلادي پېړۍ کې د افغانستان خاوره د ختیز له لوري د هند د مغلو له خوا او د لوېدیځ له لوري د ایران د صفویانو تر پرله پسې بریدونو لاندې نیول شوې وه، چې پښتنو د دواړو یرغلګرو پر وړاندې په لره او بره پښتونخوا کې په ولسي مقاومت لاس پورې کړ، چې غلجي پښتنو شاه حسین صفوي ته په اصفهان، او درانیو د احمد شاه بابا په مشرۍ

هندي مغولو ته په ډیلي کې ماتې ورکړې. د افغانستان په خاوره کې نه غلجي پښتنو (هوتکیانو) او نه خو درانیو پښتنو د افغانستان د کوم قوم پر وړاندې جنګېدلي دي.

(تاجکان در مسیر تاریخ) د افغانستان د تاجکانو د قومي او اتنیکي ریښې په هکله علمي او ګټور معلومات نه ورکوي او یوازې د فردوسي شهنامې په اشعارو بسنه کوي او یا د سمرقند، بخارا او تاجکستان د تاجکانو په اړه خبري کوي، خو په مجموعي توګه دا کتاب د تاجکانو په هکله چې پښتانه ورته دهګان وایي. لیکي:(کلمه - تاجیک - که در متون قدیمي به صورت تاژیګ و تازک نیز به کار رفته است اعراب و مسلمان غیر عرب راتازي و ترکان انهارا تاجیک کې نامیدند. ایرانیان تاجک ها را قومي ایراني مې دانند. زه د (تاجک در مسیر تاریخ) د روسي او ایراني مقالو په اساس داسې مستفید شوم چې تاجک یا تازک یا تاژک یو اتنیک نه بلکې هغه غیر عرب او غیر ترک مسلمانان دي چې عرب ورته عجم او ترک ورته تازک ویلي دي، چې واحده اتنیکي ریښه نه لري، بلکې واحده ژبه لري یعنې (فارسي - دري) په دې کې کېداې شي چې ګڼ شمېر اقوام شامل وي چې له فارس نژاده اقوامو څخه شروع تر ترک نژاده فارسي ژبي - سمرقند، بخارا او د افغانستان فارسي ژبي، چې د دوی اتنیکي ریښې او قومي جوړښت پوره نه دي څرګندې شوې، دوی یوازې ژبنی هویت لري، خو د تاجکانو تر نامه لاندې دیګان، یو شمېر هزاره ګان، یو شمېر فارسي ژبي پښتانه، فارسي ایماق، ازبکان، هندي او کشمیري مسلمانان، عرب او سادات عرب شاملېږي چې په دري ژبه خبرې کوي. په معاصر افغانستان کې په ملي او سیاسي لحاظ تاجک یو افغاني قوم دی چې په افغانستان کې د هستوګنې په لحاظ ژور تاریخ او غني کلتور لري، ژبه یې دري، قومي هویت یې تاجک او ملي هویت یې افغان دی.

د افغانستان د تاجکانو د نفوس دقیق شمېر متاسفانه معلوم نه دی. کله چې روسان پر مرکزي اسیا باندې مسلط شول لږ تر لږه د یو ملیون وګړو په تعداد تاجک، ازبک، ترکمن، تاتار او قزاق افغانستان ته کډوال شول او اکثریت یې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې او ځینې یې په

کابل کې مېشت شول. د افغانستان حکومت د اسلامي ورورولۍ له مخې نوموړو کډوالو ته افغاني تابعیت او هویت ورکړ، خو نن همدغه د مرکزي اسیا مهاجرین داسې شمال وایي چې د دوی خاوره وي او همدغو خلکو نن د افغانستان د تجزیې لپاره د فدرالي نظام نارې سورې پورته کړې دي چې دا ډېره ناسپاسي ده، دا خلک په شمال کې د افغانستان پښتنو ته ناقلین وایي، خو خپل ځانونه د مرکزي اسیا مهاجرین نه بولي او د فدرالېزم نارې وهي.

دلته په اتنیکي او کلتوري لحاظ دوې مسئلې سره ګډې شوې دي: په اتنیکي لحاظ تاجکان د افغانستان اصیل اریایي قوم دی چې د تاجک قوم اتنیکي ریښې، قومي جوړښت او ځانګې په هکله ما کوم علمي معلومات تر لاسه نه کړل، خو د اجمالي معلوماتو پر اساس د افغانستان تاجک قوم حد اقل درې ځانګې لري: رګاه، فورمولې او کشمیري. په کلتوري لحاظ د افغانستان تاجکان، هزاره ګان، یو شمېر ازبکان او ترکمنان، سادات، چارایماق، قزلباشان او یو شمېر پښتانه چې په دري ژبه خبرې کوي، په ځینو احصایو کې ټول په قومي لحاظ تاجک درج شوي دي.

په کلتوري لحاظ د احمد شاه بابا او تیمور شاه له دولتونو راپه دېخوا فارسي ژبه حاکمه رسمي او دولتي باندې بدله شوې ده. د هوتکیانو د حکومت له مخه د افغانستان خاوره د هند د مغلي دولتونو او د ایران د صفوي دولتونو له خوا تر تېرې لاندې وه او کوم منظم دولتي نظام موجود نه و.

### *د افغانستان په سیاسي ډګر کې د افغانستان د تاجکانو لومړنۍ برخه*

د افغانستان په ټولو دولتي او اداري چارو کې د افغانستان تاجکانو بې له کوم تبعیض او امتیاز څخه په لویه کچه برخه لرلې ده. د مثال په توګه د امان الله خان د دولت نایب السلطنه عبدالولي دروازي و. ډاکتر یوسف د افغانستان د دیموکراسي دورې لومړنی صدراعظم و. د حبیب الله کلکاني د حکومت پر مهال کې داسې اسناد نه شته چې حبیب الله کلکاني ادعا کړې وي چې ده د تاجکانو حکومت دې جوړ کړې وي. له بلې

خوا که چېرې په غزني کې غلجي پښتانه (اندړ او سليمان خېلو) د حبيب الله کلکاني په پلوۍ نه وي درېدلي نو ډېر احتمال يې درلود چې د کندهار دراني او د هزاره قوم سرتېري د امان الله خان په پلوۍ د حبيب الله کلکاني عسکرو ته په غزني کې ماته ورکړي، خو امان الله خان شخصاً له دې جګړې څخه مخنيوی وکړ. حبيب الله کلکاني د کابل د ښاريانو تر منځ ډېر منفور و او هېڅ ډول محبوبيت يې نه درلود. په کابل کې عام خلک جبيب الله کلکاني (د بچه سقو) په نامه يادولو او دا شعر چې له سقوي دوران څخه پاتې دی د کابل د خلکو احساسات څرګندوي:

تاملک محسن شغال ماده والي گشته است... بهر ما مور و ملخ قوم شمالي گشته است.

د معاصر افغانستان په تاريخ کې د کورنۍ جګړې تر پيل پورې داسې کوم اسناد نه شته چې د افغانستان تاجکان، د تاجک قوم په نامه د سياسي واک د تر لاسه کولو لپاره په مشخصه توګه په کوم اقدام لاس پورې کړې وي او يا مشخصاً د تاجک تر عنوان لاندې په افغانستان کې کوم حکومت موجود وي.

## د اقليت او اکثريت د تيوري بنسټ ايښودونکي

د ګوندونو په سطحه د لومړي ځل لپاره (د خلق، ديموکراتيک ګوند) څخه په کال ۱۳۴۷ هجري شمسي کې د قوميت په بنا دوه انشعابونه رامنځ ته شول. لومړی د ببرک کارمل په مشرۍ د پرچم ډلګۍ او دويم د طاهر بدخشي په مشرۍ چې وروسته يې د (سازمان انقلابي زحمت کشان افغانستان.... سازا) بنسټ کېښود. د خلق له ګوند څخه جلا شوي فرکسيونونه په ټولنه کې د ستميانو په نامه شهرت ومومند. همدغه مهال دی چې د دولت له چوکاټ څخه بهر د قوميت له عنصر څخه د يوې سياسي الې په توګه کار اخېستل کېږي. د پرچم ډلګۍ په سياسي ادبياتو کې پښتنو ته بې فرهنګه اکثريت او تاجک ته بافرهنګه اقليت وويل. خو طاهر بدخشي له دې نه هم وړاندې ولاړ او احتمالاً د روسانو په تحريک او مرسته په منظمه او سيستماتيکه توګه د قوميت پر بنا د يو سياسي

سازمان (سازمان انقلابي زحمت کشان افغانستان... سازا) بنسټ کېښود، چې تر اوسه پورې د افغانستان د کورنۍ جګړې ایدلوژیک محور جوړوي.

د طاهر بدخشي ماسکو پلوه مارکسیست لېنینستي ډلې په ټولنه کې د ستمي، ستم ملي ډلې په نامه شهرت وموند. ستمیان د ملت او ملي یووالي په مفکوره باندې معتقد نه و او داسې يې استدلال کاوه چې افغانستان د قومونو او ملیتونو مجموعه ده او هر قوم باید چې په جلا جلا توګه خپل سیاسي، اقتصادي او ټولنیز برخلیک وټاکي او د قوم پر بنسټ فدرالي نظام رامنځ ته شي. طاهر بدخشي او بهرالدین باعث د خپل تحلیل په دوام کې زیاته کړه چې پښتانه په افغانستان کې یو ظالم، غاصب او ستم ګر قوم دی او د افغانستان نور قومونه تر ستم لاندې اقوام دي، نو ځکه د افغانستان خلکو دوی ته د ستمیانو لقب ورکړ. د افغانستان په سیاسي ادبیاتو کې د اکثریت او اقلیت تیوري د ستمیانو له خوا مطرحه شوه، چې *وروسته روسانو د خپل تېري پر مهال دې تیورۍ ته ماتریالستیکي بڼه ورکړه او روسان په دې لټه کې شول، چې غیر پښتانه قومونه په نظامي، سیاسي او ټولنیز لحاظ وروزي.

د ناڅرګندو دلایلو له امله په ۱۳۵۶ کال کې د ملي ستم ډلګۍ رسماً په دوو برخو وویشل شوه: د سازا ډلګۍ د طاهر بدخشي تر مشرۍ لاندې او بله برخه یې د (سفزا) ډلې په نامه د مولانا بهرالدین باعث او محمد اسمعیل اکبر تر مشرۍ لاندې راغلې. د سازا د سازمان غړي په تاکتیکي ډول په کابل کې پر دولتي چارو بوخت شول او د سازا سازمان تصمیم ونیو چې د داود خان د حکومت پر وړاندې پر وسله واله مبارزه لاس پورې کړي.

په نامعلومو دلایلو مسکو پلوه ستمیانو د تره کي د حکومت پر وړاندې په مخالفت لاس پورې کړ، بهرالدین باعث او طاهر بدخشی د خلقیانو له خوا ووژل شول او په همدې اړه د بهرالدین باعث د خلاسون لپاره په ۱۳۵۸ کال کې د اسمعیل اکبر په هدایت د امریکا سفیر (دبز) یرغمل ونیول شو چې په کابل هوټل کې یرغمل نیونکي او د امریکا سفیر دواړه د خلقیانو له خوا ووژل شول.

## د افغان جهاد په بهير کې او په ځانګړې توګه د کورنۍ جګړې پر مهال د سازا او سفزا ستمي ډلو سياسي دريځ

د سازا سازمان لومړنۍ سياسي ډله وه، چې په سياسي ادبياتو کې بې له کوم ژور سوچ څخه د افغانستان د ټولو بدبختيو عامل پښتانه وبلل، د سازا د سازمان د رهبرۍ په هئيت کې يو شمېر پېژندل شوي کسان په دې ترتيب دي: محمد طاهر بدخشي، محبوب الله کوشاني، ظهورالله، محمد بخش فلک، خليل رستاقي او محمد اسمعيل اکبر.

د روسانو له يرغل سره سم محبوب الله کوشاني، ظهور الله، محمد بخش، فلک او خليل رستاقي پرته له دې چې د ببرک کارمل له حکومت سره يو ځای شي په مستقيمه توګه له روسانو سره د تخار، بدخشان او بغلان په ولاياتو کې همکارۍ پيل کړلې، د څرخي پلنه له جيل څخه ازاد شول، د سازا ډله په دې بريالۍ شوه چې په تخار کې د مجاهدينو قوماندان امر صمد او يو شمېر نور جهادي قوماندنان د روسانو په پيسو په خپل سازمان کې جذب کړي.

## د ببرک کارمل او سازا اختلافات:

د سازا سازمان سياسي غوښتنه له ببرک کارمل څخه دا وه چې ببرک د افغانستان د شمالي ولايتونو واک د سازا ډلې ته وسپاري، چې د روسانو په مرسته په مستقله توګه د مجاهدينو پر ضد وجنګېږي. په هر دليل چې و ببرک د خپل حکومت په مهال کې له خپلو ټولو خيانتونو سره سره دې ته حاضر نه شو چې د (سازا) په غوښتنه رسماً په افغانستان کې فدرالي سيستم رامنځ ته کړي. ببرک کارمل او سلطان علي کشتمند د افغانستان د اردو له تشکيل نه د باندې قومي کنډوکونه رامنځ ته کړل او د قوماندان سالارۍ او قومي تعصباتو او تشنجاتو اساسات يې کېښودل.

نجيب د خپل حکومت په مهال کې د ملي پخلاينې د پاليسۍ تر عنوان لاندې د سازا، سفزا له ډلو سره يو ځای شو. بشير بغلانی د سازا مشر د ډاکټر نجيب د مرستيال په حيث اعلان شو. بشير بغلانی د نجيب په لويه

جرګه کې د فدرالي نظام نارې پورته کړې. د ولايتي نظام تر څنګ د (زونونو-حوزو) سيستم هم مطرح شو، لکه د شمال زون - لوېديځ زون او داسې نور. د سازا سازمان له يوې خوا له روسانو څخه وسلې او پيسې ترلاسه کړې او له بلې خوا ډاکټر نجيب د شمالي ولايتونو د يو شمېر ولسواليو واک چې د مجاهدينو تر ولکې لاندې نه و، رسماً د سازا سازمان ته وسپارل. د سازا ډله افغان ولس د يو واحد ملت په حيث نه پېژني، بلکې افغانستان د داسې قومونو او مليتونو مجموعه بولي چې د هر قوم لپاره په جلا توګه سياسي او ټولنيز برخليک غواړي، او هر قوم بايد پخپله سيمه کې خودمختارۍ ته تر دې بريده وده ورکړي چې په مستقلو جمهوريتونو بدل شي. د افغانستان په سياسي ادبياتو کې د لومړۍ ځل لپاره د څلورو جمهوريتونو غږ د سازا سازمان له خوا پورته شو، يعنې د پښتنو جمهوريت، د تاجکانو جمهوريت، د هزاره ګانو او د ازبکانو جمهوريت. نو په دې توګه د سازا ډله د افغان ولس د ملي يووالي او ځمکنۍ بشپړتيا ته، چې ستر ملي ارزښتونه ګڼل کېږي، باور نه لري. موږ کاملاً په دې باور يو چې د افغانستان پښتانه، تاجکان، ازبکان، هزاره ګان او نور واړه قومونه د افغانستان د ولس ملي يووالي او د خاوري بشپړتيا ستر ملي ارزښت بولي او د افغان ملت پر جوړېدو او بشپړتيا ژور باور لري.

د نجيب د حکومت په وخت کې د سازا سازمان د پښتنو او د پښتنو د کلتور د توهينولو لپاره په خپله خپرونه کې (ميهن - چې اوس هم دا جريده په تاجکستان کې خپرېږي) په ښکاره ډول دغه شعر خپور کړ چې د دې سازمان په ماهيت او د هغه د عواقبو ښه څرګندونه کولی شي.

قبيله نشينان شهر حبش
که بد دين شان ترکش و تير کش
به ابشخور رخش اشتر زدند
تـه اشتر که خود را به اخور زدند
قبيله چه باشد که شاهي کند
به هر جا رسد و تباهي کند
چو رفتند جا ماند دهل دوسر

که قاطر به جا ماند از اسب و خر
هوایی خراسان مادر سرش
بگو چیست امروز اندر خورش
خراسان تو انی که از نام تو
جهانی به حیرت شده در فرود

*د سازا د ستمي ډلې په ځواب کې پښتانه وايي*

د. افغانستان دی، دا وطن به خراسان نه شي ـ لوز مې د پښتو دی، پښېمان نه شي: له بده مرغه د دې پر ځای چې ستمیان له خپل کردار نه پښېمان وي، په امریکا کې د قومي تعصب او ملي تشنج او تاو تریخوالي د راپارولو لپاره د امید اخبار چلوونکي په ښکاره ډول پښتنو ته ښکنځلې کوي. ستمیان او د امید د اخبار چلوونکي ادعا کوي، چې پښتانه په افغانستان کې ځانونه لوړ ګڼي، هغه پښتانه چې له خپلې ژبې او کلتور څخه دفاع کوي، هغوی فاشیست بولي. دا ټولې ادعاګانې ناسمې دي. په ټولنیز او سیاسي لحاظ پښتانه په افغانستان کې د نورو اقوامو په پرتله نه لوړ دي او نه ځانونه لوړ ګڼي. خو ځینې سیاسي او ټولنیز واقعیتونه شته، چې ستمیان او ځینې لنډ اندي کسان ځوروي او په دوی کې د حقارت عقدې پیدا شوې دي. دا ټولنیز او سیاسي واقعیتونه په لاندې ډول دي: پښتانه په افغانستان کې د خپلواک دولت بنسټ اېښودونکي دي. پښتنو په هندوستان کې مستقل دولتونه درلودل.

پښتانه د تاریخ په اوږدو کې له سکندر، عرب، چنګېز، مغل، فارس او انګرېز سره په یوازیتوب جنګېدلي دي. د سومنات په جنګ کې د سلطان محمود د لښکر ډېره برخه پښتانه وو.

لاندې شعر د پښتنو برخه د سومنات په جګړه کې څرګندوي:

ترک و نامرد واړه و دانګل له نامو و ننګه
زه یو پښتون ولاړ وم د سلطان تر څنګه

غلجي پښتانه له لته بند څخه تر ننګرهاره پورې په ۱۸۴۲ کال کې شپاړس زره انګرېزي پوځ تباه او برباد کړ، او یوازې ډاکټر براېډن څنې ژوندی پاته شو چې دا په مجموع کې د افغان ملت پوځي حماسه ده.

له روسانو سره په جنګ کې تر ټولو قومونو پښتنو ډېره قرباني ورکړې ده. د افغانستان نوم او افغاني ملي هویت د پښتون د قوم، قومي هویت دي، خو په سیاسي لحاظ پښتنو د افغانستان ټولو قومونو ته دا ویاړ بخښلی دی چې په ویاړ سره ځان افغان وبولي. دا د افغانستان د ۱۹۶۴ په اساسي قانون کې درج شوي دي. له نېکه مرغه پرته له ستمیانو د افغانستان ټول اوسېدونکي قومونه ځانونه افغان بولي او پر خپل افغانیت ویاړي او نه ځانونه له پښتنو کم احساسوي او نه د حقارت کومې عقدې لري او خپل سیاسي او ټولنیز برخلیک د افغان تر نامه لاندې خوندي ویني.

دا یوازې د سازا ستمي ډله نه ده چې د سیاسي حقارت عقده لري، د ساما (سازمان ازادي بخش افغانستان) د مرامنامې په لومړي مخ کې هم په مشخصه توګه د پښتنو فیوډال پاړکی محکوم شوی دی، نه فیوډالي نظام، په داسې حال کې چې په نورو اقوامو کې هم فیوډالان موجود دي. د ساما سازمان په خپله کړنلاره کې د ملي مسئلې د حل غوښتونکي دي، خو ملي مسئله یې نه ده جوته کړې او داسې مفهوم څنې اخیستل کېږي چې غواړي د اقوامو تر منځ انډول ټینګ شي او د پښتنو برخه د افغانستان په ټولنه کې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز لحاظ کمه شي. خو موږ په دې باور یو چې د افغانستان د قومونو تر منځ په اجباري ډول کوم عدم تعادل نه شته، بلکې په افغانستان کې د دیکتاتوري نظامونو پاینښت د افغانستان د اقتصادي، سیاسي او ټولنیز شاته پاته والي ستر لامل ګڼل کېږي، نه د قومونو تر منځ ځینې سیمه ییزي شخړې او اصطحکاکونه. که چېرې د دیموکراسۍ د اصولو پر اساس په افغانستان کې د یو داسې نظام بنسټ کېښودل شي، چې د اسلام د مقدس دین او د افغاني ټولنې له کلتوري ارزښتونو سره سم وي، نو دا به د یوې ملي مدني ټولنې بنسټونه وګڼل شي.

د افغانستان د وروسته پاتې والي دليل د افغانستان مختلف قومونه نه، بلکې د بهرنيو لاسوهنې او د ډيکتاتوري نظامونو پايښت دی.

د سازا ستمي ډلې تر څنگ د نظار شورا او د جمعيت اسلامي گوند هم د افغانستان د کورنۍ جگړې د اقليت او اکثريت په تيوري معتقد شول او د افغانستان د اقليتونو د حقوقو تر پلمې لاندې ناړې سورې پورته کړې، خپل لومړني اسلامي شعارونه او ملي رسالت يې هېر کړ، له سازا، پرچم، دوستم او له وحدت گوند سره يې د شمال ائتلاف بنسټ کېښود. د نظار شورا او جمعيت گوند د اقليتونو د حقوقو د اعاده کولو لپاره د افغانستان د دوه مليونو شهيدانو بلهارۍ تر پښو لاندې کړې او په ښکاره ډول له روسانو سره يو ځای شول. روسان د خلق او پرچم پر ځای د نظار شورا پر ستر ملاتړ کوونکي بدل شول. د شمال ائتلاف د افغانستان په کورنۍ جگړه کې د روسانو په پيسو او وسلو ستره ويجاړوونکي ونډه واخيسته. د بن د غونډې په بهير کې د شمال ائتلاف په استازيتوب ډاکټر عبدالله سخت ټينگار وکړ چې پښتانه په افغانستان کې ۳۸ فيصده دي او په دې توگه لخضدر ابراهيمي ته قناعت ورکړ چې د کابينې په ترکيب کې ۳۸ فيصده پښتانه برخه واخلي.

د ډاکټر عبدالله دا عمل د اتنيک پر اساس يو شوئنيستي حرکت گڼل کېږي، نو ډاکټر عبدالله به بيا په کوم مخ پښتنو ته گوري چې د افغانستان د بهرنيو چارو وزير په حيث ورباندې باور وکړي.

له بلې خوا د اکثريت او اقليت د تيورۍ پر اساس د جون د لويې جرگې په بهير کې د نظار شورا له ټولو ناجايزو امکاناتو څخه کار واخيست او د افغانستان په سياسي جغرافيه کې يې بې له کومې رسمي څېړنې او سرشمېرنې، نوی بدلون راوست او د شمال په ځينو ولايتونو کې نوې ولسوالۍ جوړې کړې، قومي تاوتريخوالی او ملي تشنج يې راوپاروه او د ولس په ذهنيت کې يې د لويې جرگې مشروعيت تر پوښتنې لاندې راوست او د هغې پرېکړې يې بې ارزښته کړې.

له روسانو سره په جگړه کې د تاجکانو مخکښې ډلې لکه پرچم، سازا، سفزا، ساما، ساهو د افغانستان د نورو گوندو په پرتله له روسيې، هند،

ایران، امریکا او متحدې اروپا څخه د پرې سیاسي او اقتصادي ګټې تر لاسه کړې. د کورنۍ جګړې په بهیر کې د تاجکانو مخکښ ګوند، اسلامي جمعیت او د نظارشورا چې د افغانستان د کورنیو مصیبتونو په کتار کې څکه په لومړي سر کې راځي چې برهان الدین رباني د پاکستان له خوا د د څلور میاشتو لپاره د پښتنو د تړون په اساس وټاکل شو او رباني تر یوولس کالونو پورې ځان جمهور رئیس وباله. پاکستان په دې سوچ کې و که په افغانستان کې د یو تاجک په مشرۍ یو حکومت وي نو بیا به د پښتونستان مسئله توده نه شي، وروسته چې پوه شو، چې په لراو بر پښتونخوا کې د یو نوي غورځنګ د پورته کېدو امکان شته، نو څکه یې له رباني څخه لاس واخیست او د طالبانو د مذهبي تحریک چې د کورنۍ جګړې او سراسري بې امنیتۍ ثمره وه، مرسته وکړه.

د کورنۍ جګړې په بهیر کې د اقلیتونو د حقوقو تر پلمې لاندې روسانو چې د نظار شورا، جمعیت، پرچم، سازا او دوستم له خوا نژدې ملګري کړي، د پرې پوځي، مالي او سیاسي مرستې وکړې، خو د روسیې، ایران، هند او متحدې اروپا له بې دریغو مرستو سره سره نوموړې ډلې د طالبانو په مقابل کې جګړې بایلودلې، تر څو پر افغانستان د امریکا له بریدونو او د روسیې له سترو پوځي او مالي مرستو سره یو ځل بیا د افغانستان په سیاست کې مطرح شول او د امریکا، ملګروملتونو د سوله ساتې ځواکونو او د حامد کرزي تر سیوري لاندې په کابل او ځینو شمالي ولایتونو کې واک ترلاسه کړ.

دویمه ډله چې د اقلیت او اکثریت د تیوري پیروان دي د وحدت ګوند دی. د نجیب د حکومت له راغورځېدو سره سم، د وحدت ګوند مشر، عبدالعلي مزاري وویل چې اوس د پښتنو دوه سوه پنځوس کلنه واکمني په افغانستان کې پای ته ورسېده. د ده د بیان معنی دا ده، چې د وحدت ګوند د روسانو پر ضد په جهاد باور نه درلود او د ایران په مرستهٔ د پښتنو د واک د ختمولو لپاره جنګېدلي وو، نه د روسانو د یرغل پر خلاف. د وحدت ګوند د ایران په مرسته د افغانستان د کورنیو جګړو په بهیر کې او په ځانګړي توګه په کابل ښار کې ستر ویجاړوونکی رول لوبولی دی. د وحدت

ګوند د کابل په ښار کې د افشار په سیمه کې پر ۱۹۹۳ کال د نظارشورا له خوا سخت وځپل شو او بیا وروسته د طالبانو له خوا بې وسلې شول.

سره له دې چې هزاره ګانو په افغانستان کې درېیم لوی قوم شمېرل کېږي، په تاریخي لحاظ د افغانستان په تاریخ کې په پراخه کچه یوازې د امیر عبدالرحمن خان پر مهال مطرح کېږي، هغه هم له مرکزي نظام څخه سر دغړونې په خاطر چې دا یو ځانګړی تاریخي بحث دی. خو د کورنۍ جګړې په بهیر کې په کابل، بامیان او مزارشریف کې په ټولو جګړو کې یې برخه اخېستې ده.

له بده مرغه د هزاره ګانو د اتنیکي ریښې په هکله ډېر لږ علمي څېړنې شته، سربېره پردې عام نظر دا دی چې هزارګان د چنګېز د عسکرو بقایا دي، خو دا نظریه په علمي توګه نه ده جوته شوې. دا چې هزاره ګان څنګه نژادي او اتنیکي ریښې لري، په افغانستان کې کومه سیاسي یا ټولنیزه ستونزه نه ده. خو د ایران لاس وهنې د افغانستان په کورنیو جګړو کې د اقلیتونو د حقوقو د تر سره کېدو تر پلمې لاندې ستره ستونزه جوړه وي او په دې اړه د وحدت ګوند ایران پلوه پالیسي ده چې د سیمه ییزې خود مختارۍ او فدرالي نظام شعار یې پورته کړی دی. په یقین سره ویلای شم، چې د وحدت ګوند دا پالیسي یوازې په افغانستان کې سیاسي او ټولنیز تاو تریخوالي زیاتولی شي، خو هېڅکله به کوم ځای ته ونه رسېږي. د وحدت ګوند غوارې چې د افغانستان په هغو سیموکې چې هزارګان اوسېږي د تل لپاره د وحدت ګوند تر ولکې لاندې وي او دې سیمه ییزې خودمختارۍ ته تر هغه ځایه پورې وده ورکړي چې افغانستان د تجزیې په لور سوق کړي ترڅو چې خپل هدف ته ورسېږي، په مرکزي دولت کې د یو خودمختار ځواک په څېر رول ولوبوي چې له بده مرغه د وحدت ګوند دا ناوړه پالیسي په افغانستان کې د امریکا تر برید وروسته تر یوې اندازې پورې ترسره شوه.

د اکثریت او اقلیت د تیوري درېیمه ملاتړکوونکې ډله د دوستم ډلې ټپلې دي، چې د نجیب د حکومت د راغورځېدو سره سم د ملي اسلامي جنبش په نامه پر ۱۹۹۲کال رامنځ ته شوه، دا د افغانستان په تاریخ کې

لومړی ځل دی چې یوه پوځي، سیاسي ډله چې په اتنیکي لحاظ به ازبک وي، په دومره لویه کچه رول لوبوي.

دلته دوې مسالې دي: لومړی دوستم، ملک، غفارپهلوان، رسول پهلوان او امان الله ګلم جم او داسې نور ملیشیایي ډلې څنګه رامنځ ته کېږي او د مجاهدینو پر وړاندې د یو ستر پوځي ځواک په څېر کارول کېږي؟ دا قضیه د اسدالله ولوالجي په کتاب کې (خروج جنرال دوستم و سقوط دوکتور نجیب الله) په ښه توګه بیان شوې ده. دویم د روسي کمونیست دولت پالن دی، چې د افغان جهاد په دوران کې د مجاهدینو پر وړاندې چې اکثریت یې پښتانه و د افغانستان له قومي جوړښت څخه ډېره ګټه تر لاسه کړي او د افغانستان له ازبکانو او تاجکانو سره د ځانګړو سیاسي او پوځي اړیکو په جوړولو پیل وکړي او د روسانو لپاره دوه کسه ډېر ګټور او په زړه پورې تمام شول: لومړی د نظار شورا مشر، احمدشاه مسعود او دویم عبدالرشید دوستم. د روسانو نژدې اړیکي له مسعود او دوستم سره د افغان جهاد په دوران او د کورنیو جګړو په بهیر کې لکه د لمر په څېر ټولو افغانانو او خصوصاً د افغانستان د شمالي ولایاتو مجاهدینو ته روښانه دي.

د نظار شورا او دوستم ډلې تر اوسه پورې د روسانو په مرسته او لاربښوونه په افغانستان کې خپل سیاسي او پوځي ژوند ته ادامه ورکوي. هغوی په افغانستان کې د امریکا له برید نه وروسته ډېرې ګټې تر لاسه کړې او د حکومت په چوکاټ کې یو ځل بیا په یوسیاسي او پوځي لحاظ په واکمنو ډلو بدلې شوې.

په افغانستان کې اسلامي بنسټ پاله ګوندونه لکه د حکمتیار او خالص اسلامي ګوندونه، که څه هم په ایډیولوژیکي توګه د اسلامي اتحاد په اسلامي امت معتقد دي، خو په عمل کې د افغانستان او افغان ملت د جوړېدو په وړاندې نه یوازې کوم شعار نه دی پورته کړی، بلکې دافغانستان د ازادۍ په لاره کې تر ټولو ډېره قرباني ورکړې ده، د افغانستان ملي اسلامي محاذ د نجات ملي جبهه د اکثریت او اقلیت په تیوري معتقد نه دي، بلکې افغانستان یو واحد ملت د یوه افغان په نامه

راټولېدل د افغانستان ولس رابولي. د افغان ملت ګوند د یو واحد او لوی افغانستان جوړېدل خپل ملي ارمان ګڼي. د ملیتونو او اقلیتونو اصطلاحات د افغانستان په سیاسي ادبیاتو کې له څلویښت کالونو ډېره سابقه نه لري، خو د ملیتونو او اقلیتونو اصطلاحاتو تر څنګ د سازا د ستمي ډلې په سیاسي ادبیاتو کې د لومړی ځل لپاره په شمالي ولایاتو کې د پښتنو ناقلینو اصطلاح په لمسوونکې توګه استعمال کړه او د سازایانو په پیروۍ د نظار شورا، د وحدت ګوند او د دوستم ملي اسلامي جنبش او په عامه توګه د شمال ائتلاف له خوا د یو سیاسي او ستراتیژیکې پالسیۍ په حیث استعمالېږي.

دا چې پښتانه کله د افغانستان په شمال کې مېشت شوي دي یوې علمي او تاریخي څېړنې ته اړتیا لري، خو په سیاسي توګه د ناقلینو اصطلاح د شمال ائتلاف له خوا استعمالېږي او په افغانستان کې د امریکا له برید سره سم د شمال ائتلاف د پښتنو پر کورونو باندې په ډېره نامردانه توګه حملې پیل کړې او حتی د ښځو پر ناموس باندې یې تېري وکړل، چې په نتیجه کې تر اوسه پورې څه له پاسه یو لک پښتانه کډوال شول. د شمال ائتلاف عناصر په دې پوهېدل چې د طالب او القاعدې تر نامه لاندې لر او بر پښتانه د امریکا او برتانیا تر حملې لاندې دي او د روسیې په وسلو او پیسې د پښتنو پر ضد له هېڅ ډول جنایت څخه ډډه ونه کړه، خو بیا هم پښتنو د شمال د ائتلاف د دې جنایاتو په مقابل کې له زغم او تحمل نه کار اخیستی دی.

په دې کې هېڅ شک نه شته چې د افغانستان پخوانیو دولتونو د افغانستان شمال ته پښتانه لېږلي دي. دا چې کوم حکومت په کومه پیمانه په کوم تاریخ او د کومو دلایلو په اساس پښتانه شمال ته لېږلي په رسمي توګه نه ده جوته شوې او د افغانستان پخوانیو حکومتونو خپل دریغ په رسمي توګه په دې اړه نه دی څرګند کړی. نو موږ هم مجبور یوو پر هغه باندې له خپلې دیدګاه څخه قضاوت وکړو نه د دولتي اسنادو په استناد.

حد اقل له یو سلو شل کالو را په دېخوا د افغاني دولتونو په رسمي توګه ناڅرګنده او نابیانه شوې پالیسي دا وه، چې د افغانستان پښتانه

شمال تـه ولېږي، زمـا پـه انـد دې سياسـي، ټولنيز او اقتصـادي اړخونـه درلودل.

د نولسمې پېړۍ په اواخرو کې او د شلمې پېړۍ په اوايلو کې په سياسي لحاظ د تزاري روسيې کمونستي دولتونه په منځنۍ اسيا کې په منظمه توګه ورځ پـه ورځ واکمنېدل او پـه دې کې هـم هېڅ شـک نـه شته چې د منځنۍ اسيا ولسونو لکـه تاجکـانو، ازبکـانو او ترکمنانو د افغانسـتان د شمالي ولايـاتو لـه تاجکـانو، ازبکـانو او ترکمـنانو سره اتنيکـي او کلتوري اړيکي لري او لـه دې اړيکو نه روسانو د خپلې امپرياليستي پاليسۍ په ګټه تـل د ګټې اخېستلو په سوچ کې وو او لـه بلې خوا د افغانستان دولتونه د روسانو پـه نيت باندې ښه پوه وو، نو ځکه احتمالاً د امير دوست محمد خان لـه حکومت څخـه د ډاکټر محمد يوسف تر حکومت پورې د افغانسـتان حکومـتونو دافغانستان شمالي ولايـاتو تـه د پښتنو پـه لېږلو کې څه ناڅه مرسته کړې ده، خو لـه بده مرغه د افغانسـتان حکومـتونو پـه دې اړه خپل دريغ د يو ضرورت پـه توګه ولس تـه نه دی څرګند کړی، نو دا سبب شو چې نن د سازا ستمي سـازمان او د شمال ائـتلاف داسې تبليغ وکړي چې د افغانسـتان حکومـتونو د تاجکـانو، ازبکـانو او ترکمـنانو د کم ځواکـه کولـو لپاره دا پاليسي غـوره کړي، خو هغه وخت د افغانستان تاجکانو، ازبکانو او ترکمـنانو لکـه نـن پـه پوځي او سياسـي لحـاظ غښتلي نـه وو او نـه لـه روسانو سره کـوم ډول سياسي اړيکي درلـودل. د نولسمې پېړۍ پـه اواخرو کې او د شلمې پېړۍ تر پيلـه تزاري روسيـه او کمونسـتي دولـتونه واکمن شول او د غير رسمي احصائيو پر اساس څه لـه پاسه يو ميليون تـاجک، ازبـک او ترکمن افغانستان ته کډوال شول او د افغانسـتان پـه شمالي ولايـاتو کې مېشت شـول او د افغانسـتان حکومـتونو او ولـس د اسلامي او بشـري روحي پـه ښه دوی تـه افغانـي تابعيت او ځمکې ورکـړل، د دې معنـی دا ده چې د افغانسـتان حکومتونو لـه کډوالو تاجکانو، ازبکانو او ترکمنانو سره نـه يوازې کومـه دښمني نـه درلـوده، بلکې لـه ډېرې مينې او صميميت څخه هـم کـار اخېسـتی، نـو څـرنګه کېـدلای شي چې د افغانسـتان د مېشـتو تاجکـانو، ازبکـانو او ترکمـنانو سـره دښمنـي درلودلـې، خـو د افغانسـان

حکومتونو احتمال لري چې د منځنۍ اسیا د کډوالو د راستنېدلو او د مېشتو قومونو د مساوي ساتلو لپاره پښتانه شمال ته لېږلي وو، او که چېرې د کوم تاجک، ازبک او یا ترکمن کور یا ځمکه کوم پښتون ته ورکړې وي، نو د هغوی وارثین حق لري چې له یوه قانوني حکومت څخه د خپلې شتمنۍ غوښته وکړي او که چېرې دولتي ځمکې یې ورکړې وي، نو دوی بیا دا حق نه لري چې دعوا وکړي.

تاریخ دا ثابته کړې، چې د افغانستان د حکومتونو تشویش د روسانو له کبله له امیر دوست محمد خانه تر ډاکټر یوسفه پورې سم و. د روسانو د حملې پر مهال د اتنیکي احساساتو تراغېزو لاندې د شمال غیر پښتنو مجاهدینو ژر له جهاد څخه لاس واخیست او له روسانو سره یې پټ او ښکاره اړیکي ټینګ کړل. که په احتمالي توګه وګورو د ازبک د قوم ګڼ شمېر ځوانان د دوستم، مالک، رسول پهلوان او چاپ اندازانو په مشرۍ د روسانو تر قوماندې لاندې د افغانستان د اشغال لپاره د مجاهدینو پر وړاندې ترپایه پورې وجنګېدل او د کورنیو جګړو په دوران کې یې د افغانستان د تجزیې لپاره ملاوي وتړلې تر اوسه پورې د روسیې، ازبکستان او ترکیې په مرسته په افغانستان کې خپل سیاسي او پوځي ژوند ته ادامه ورکوي. د دوستم ډله د جنبش ملي په نامه ګوند جوړ کړی او د افغانستان د تجزیې لپاره د فدرالي نظام شعار پورته کړ. د دوستم ملي اسلامي جنبش په افغانستان کې د افغانانو لپاره ډیموکراتیک او مدني قانون نه غواړي بلکې په افغانستان کې د اقلیتونو لپاره حقوق غواړي. د دې شعار معنی دا ده چې دوی خپل برخلیک د افغانستان له ولس څخه بېل بولي.

همداراز د نظار شورا او وحدت ګوند د اقلیتونو د حقوقو د اعادې شعار پورته کړی دی او د ایران حکومت هم له دې شعار څخه ملاتړ کوي. د نظار شورا د مسعود په مشرۍ د جهاد په دوران کې له روسانو سره ملګرتیا ټینګه کړه او د روسانو په پیسو او وسلو یې کورنۍ جګړې پر مخ بیولې او د ژوند تر پایه پورې له تاجکستان سره د اتنیکي لېوالتیا پر اساس اړیکي ټینګ کړل. مسعود د تاجکستان په کولاب کې هوایي ډګر

درلود، په مسعود کې اتنیکې علایق دومره غښتلي شوي وو چې د افغانستان د دوو میلیونو مجاهدو شهیدانو پر وینو او ارمانو یې پښنه کېښوده او د سازا ستمي سازمان په پیروي يې د اقلیتونو د حقوقو د اعادې لپاره د روسانو تر قوماندې میدان ته ودانګل.

د وحدت ګوند په افغانستان کې د ایران د سیاسي، مذهبي او کلتوري ګټو د خوندي کولو لپاره جنګېږي، نه د افغانستان د ولس د سیاسي او ټولنیزو حقوقو لپاره. دوی افغانستان واحد ملت نه بولي، بلکې ستونزه دا ده چې په افغانستان کې د خپل قوم لپاره ځانګړي حقوق په داسې حال غواړي چې په افغانستان کې نه کوم قانوني حکومت شته، نه منتخب پارلمان. د وحدت ګوند غواړي چې د افغانستان هزاره مېشته سیمه د هزارستان په نامه د وحدت ګوند د تل پاتې ولکې لاندې وي او په مرکزي حکومت کې هم په هر حال کې لوی لاس ولري.

په دې توګه پښتانه په افغانستان کې کوم ډول مدني یا سیاسي حقوق لري، چې غیر پښتني قومونه له هغه څخه محروم پاتې وي خو د قومي حقوقو د توازن لپاره د شمال ائتلاف اوس ملا تړلې ده.

په یوه وروسته پاتې ټولنه کې لومړني ټولنیز حقوق په دې ډول دي: ۱ - د ژوند کولو حق. ۲ - د مذهبي عقایدو څرګندول او په ازاده توګه عبادت کول. ۳ - د کار او مالکیت لرلو حق. ۴ - په خپله مورنۍ ژبه د زده کړې حق. ۵ - له صحي امکاناتو څخه بې له کوم تبعیض څخه حق. ۶- د ژبې، قوم او مذهب په نامه توهین یا نه تحقیرېدل یعنې لومړنیو بشري حقوقو ته درناوی.

له دې لومړنیو حقوقو څخه په افغانستان کې ټول اوسېدونکي برخمن وو نو پاتې شو د حکومت د ټاکلو حق، د رایې ورکول حق، د سیاسي فعالیتونو حق، د سیاسي ګوندنو د جوړولو حق چې له دې ډول حقوقو څخه هم پښتانه محروم وو او هم غیر پښتانه.

که چېرې د افغانستان د تجزیې لپاره د اقلیتونو د حقوقو اعاده لومړی ګام وي، نو ښکاره خبره ده، چې پښتانه او په میلیونو تنه غیر پښتانه به د تجزیه طلبانو پر وړاندې جنګېږي.

د اقلیتونو یا د اکثریت د حقوقو داعادي تر پلمې لاندې په مجزا توګه مبارزه کول څه چې موږ ورته افغانستان او یا افغان ولس ووایو، ملي خیانت ګڼل کیږي.

د افغانستان د پخوانیو حکومتونو تشویش د روسیې فارورډ پالیسۍ مخنیوی و، نه د افغانستان د شمال له تاجکانو، ازبکانو یا ترکمنانو څخه ډار، خو د دې لپاره چې روسانو د افغانستان له قومي جوړښت څخه او د مرکزي اسیا د تاجکانو، ازبکانو یا ترکمنانو له اتنیکي اړیکو، چې د افغانستان له تاجکانو، ازبکانو یا ترکمنانو سره یې لرل، د یو سیاسي فکتور په څېر ګټه وانه خلي، یو شمېر پښتانه د افغانستان شمالي ولایاتو ته ولېږل، خو له بده مرغه د خپلې پالیسۍ ګټه یې د افغانستان ولس ته جوته نه کړه، نو لازمه وه چې د افغانستان پخوانیو حکومتونو د افغانستان د قومي او ټولنیز جوړښت د پیاوړتیا په خاطر دیو ملي ضرورت په حیث، د دې لپاره چې د افغانستان ګاونډي هېوادونه چې له موږ سره اتنیکي او یا مذهبي اړیکي لري د افغانستان بې ثباتولو لپاره ناوړه ګټه وانخلي، قومونه په متوازنه توګه ځای پر ځای کړل. له بده مرغه د افغانستان پخوانیو حکومتونو پښتانه داسې شمال ته ولېږل چې په شمالي ولایتونو کې یو شمېر خلکو د افغانستان د حکومتونو پالیسي د خپل قوم پر ضد تعبیر کړه؛ او د هغه تعبیر پر اساس طاهر بدخشي او بهرالدین باعث د اکثریت او اقلیت تیوري بناء کړې او په پای کې په افغانستان کې د کورنۍ جګړې د تازه ساتلو لپاره د افغانستان ګاونډیانو ډېرې ګټې تر لاسه کړې. د افغانستان پخوانیو حکومتونو د ملي ټولنې د جوړولو په عمل او تیورۍ کې پاتې راغلل، نه په کافي کچه پښتانه شمال او غیرپښتانه سوېل او ختیز ته ولېږل، چې په فرهنګي لحاظ د افغانستان قومي او ټولنیز جوړښت مدغم او خونډي شي او نه په دیموکراتیکه توګه د اساسي قانون او ښوونې او روزنې له لارې د ملت جوړونې تیوري او اهمیت وروښودل. که څه هم په اساسي قانون کې د افغان کلمه د ملي هویت په توګه ښه روښانه شوې ده، خو د پښتو لېږل شمال ته او د هغه اهمیت او ګټه په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه توګه نورو قومونو ته تفهیم نه شول، نو په نتیجه کې روسانو له دې

خلا څخه ګټه پورته کړه او د طاهر بدخشي له لارې يې د اقليتونو د حقوقو د تر لاسه کولو لپاره د اقليت او اکثريت تيوري طرحه کړه او د کورنۍ جګړې په دوران کې يې تړې کار واخېست. په افغانستان کې د قومونو ټولنيزې او سياسي ګټې او ملي غوښتنې په ملي کچه په لوی ملي محور کې متمرکز نه شوي، نو ځکه د افغانستان پخوانيو دولتونو د خپلو يو اړخيزه پاليسيو په جوتولو کې ناکام شول. د افغانستان مېشت قومونه هر يو له دولت څخه ګيله من شول او له بده مرغه سياسي ګوندونه د قومونو پر محور بناء شول او د يو سياسي دود په توګه پاتې شول. د افغانستان قومونه سره په کافي اندازه ګډ نه شول، برعکس روسانو د افغانستان د دولتونو د دې ناکامې پاليسۍ د خپلو اهدافو د تر سره کولو په خاطر ډېرې ګټې تر لاسه کړې. يو شمېر ښاري او کليوال پښتانه او تاجکان د روسانو په مشوره د خلق، پرچم او سازا د سازمانونو اساسات کېښودل. د مارکسيزم د ايډيالوژي په پلمه په افغانستان کې د قومي دښمنۍ او تربګنۍ اساسات کېښودل شول او د ملي يووالي مفکوره او احساسات په سياسي ډول کمزوري شول. خلق، پرچم او سازا پر قومي او سيمه ييز محور بنا شول. روسانو له هر يوه سره جلا جلا اړيکي ټينګ کړل. نه خلقيانو نه پرچميانو او ستمي سازيانو د ملت په جوړښت باور درلود. دوی د افغان ملت پر ځای په اګاهانه توګه د هغو کلماتو ترجمه استعمالوله، چې په، مارکسيستي ادبياتو کې د ملت پر ځای استعماليدلې، د بېلګې په توګه د افغانستان خلک، د افغانستان ولسونه، د افغانستان پرګنې، توده های افغانستان، مردمان افغانستان، مليت های افغانستان، اقوام برادر و برابر، افغانستان کثيرالمليت، حقوق مليت ها، او داسې نور اصطلاحات د افغان ملت د کلمې او د ملي يووالي د ضعيفولو لپاره استعمالول.

د افغان ملت د کليمې او د قومونو يووالي د ضعيفه کولو لپاره چين پلوې مارکسيستي ډلې هم پخپلو سياسي ادبياتو کې د ماسکو پلوه کمونستانو لاره خارله. د ساما سازمان د ملي مسئلې د حل غوښتنکي دي، خو ساما ډله دا نه په ډاګه کوي چې د دوی هدف له ملي مسئلې څخه څه دی؟ خو ساما د خپلې کړنلارې په لومړيو کرښو کې په ډاګه کوي، چې

د افغانستان د ټولو بدبختيو او وروسته پاتې کېدو لامل د پښتون واکمنه فيوډالي طبقه بولي. په واقعيت کې ساما د (حل مسئلې ملي) تر عنوان لاندې د سازا د ستمي لاره څاري او غواړي د پښتانه سياسي نفوذ د افغانستان په ټولنه کې کم کړي. کنه نو ملي مسئله څه ده چې ساما د هغه نارې وهي او خپل دريغ نه جوتوي؟

د افغانستان د اخوان المسلمين په ليکو کې د جمعيت ګوند او د نظارشورا ــ په کلي توګه د سازا د سازمان لاره ، سياسي غوښتني او سياسي ادبيات څاري.

د اکثريت او اقليت تيوري سبب شوه چې د ملي يووالي او واحد ملت پر ځای نن د شمال ائتلاف، د شمال او جنوب، د تاجک او پښتنو مسئله مطرح کړي او د جهاد او مجاهدينو ارمانونه له خاورې سره سم شي.

روسانو د خپلو ګټو د ساتلو لپاره د افغانستان سياسي او قومي جوړښت او توازن ته بدلون ورکړ، ايران او هند هم په دې لاره کې له روسانو سره ملګرتيا وکړه چې په نتيجه کې په مشخصه توګه د افغانستان د تاجکانو د ګټې پر بناء ولاړه د پرچم ډله، د سازا ستمي ډله او د جمعيت ډله، د نظار شورا ډله، د کارګرو رامنځ ته کړه او يا پخپله ګټه وځرخاوه، خو په عمل کې د افغانستان تاجکانو پرته له دې چې له تباهۍ سره مخامخ شي، کومه ګټه ونه کړه، ځکه چې د افغانستان هر ميشت قوم د افغانستان بشري قواوې او سرمايې دي، نو که يو تاوان وکړي، د افغانستان بشري قواوې کمېږي.

امريکايانو هم له القاعدې سره په جنګ کې د افغانستان د قومي جوړښت له کمزورتيا څخه کار واخېست او د شمال ائتلاف د امريکا په زور يو ځل بيا په افغانستان کې په سياسي او پوځي لحاظ مطرح شول.

*نو په دې توګه د افغانستان د ملي مسئلې يا شخړې د حل سوله ييزه لاره څه ده؟*

د افغان ملت د جوړونې تاريخي بهير بشپړېدل د ټولو قومي، سيمه ييزو او ژبنيو شخړو د حل يوازينۍ لاره ده. خو ګوندي او ټولنيزې سياسي

شخړې په ټولنه کې تل پاتې دي، د متمدنې ټولنې تاریخ ښیي چې په ټولنه کې د سیاسي واک د تر لاسه کولو لپاره ګوندونه تل په تضاد او تباهۍ کې دي. که چېرې دا ګوندي سیاسي تضادونه په غیر مسلحانه توګه او د قانون په چوکاټ کې وي، ټولنه په سیاسي او ټولنیز لحاظ وده کوي او د ملي ولسواکۍ ټولنې بنسټ غښتلي کېږي.

په تاریخي، سیاسي او ټولنیزلحاظ ملت څه ته وایي او ملتونه په څه ډول جوړېږي؟

په تاریخي لحاظ ملت د یوې ټولنې سیاسي جوړښت دی، چې د ټولنې د فیوډالي مرحلې له ختمېدو سره سم رامنځته کېږي. ملت په تاریخي، ټولنیز او سیاسي لحاظ د لومړي ځل لپاره په اروپا کې د فرانسې د بورژوازي انقلاب چې فیوډالي ضد ماهیت یې درلود له بریالیتوب سره سم رامنځ ته شو، نو ځکه د ملت د جوړېدلو لپاره په ټولنیز لحاظ په ټولنه کې د بورژوازۍ طبقه غښتلې کېدل او په اقتصادي لحاظ د سرمایه دارۍ مناسبات رامنځ ته کېدل د کانې کرښې دي.

نو په دې توګه ملت او ډیموکراسي د پانګوالې ټولنې ثمره ده.له بده مرغه په افغانستان کې له یوې خوا د غښتلي فیوډالي قبایلي جوړښت له کبله او له بلې خوا بهرنیو قواوو د پرله پسې او دوامداره حملو او مداخلو له امله همداراز د حکومتونو د بې کفایتۍ له کبله د بورژوازۍ د طبقې او د پانګوالۍ اړیکي په ښارونو کې ډېر ورو وده وکړي. او د افغانستان قومونه په ښوونځیو، فابریکو، دولتي اورګانو او تجارتي اورګانو کې سره په لویه کچه ګډ نه شي او دوی قومي ګټې، سیاسي غوښتنې او کلتور په کافي اندازه سره ګډ او یو نه شي.

له بلې خوا ګوندونو او ډلو ډېر منفي رول ولوباوه او د قومي ګټو پر بناء خپلو سیاسي فعالیتونه سره سم کړل او بالاخره د روسانو له حملې سره سم د قومیت پر بنا پوځي فرقې او غونډونه رامنځ ته شول او د کورنۍ جګړې پر مهال د روسانو له خوا جوړ شوي قومي غونډونه د قومیت پر بنا سیاسي ګوندونو سره یو شي او د ټولنې قبایلي جوړښت به بېرته منظم شي،

د ملت د جوړېدو پروسه ضعیفه او قومي ګټې او احساس د ملي ګټې او احساس ځای ونیسي او د افغان ملت د جوړېدو بهیر نیمګړی پاتې شي.

په تاریخي لحاظ ملتونه په دوه ډوله جوړېږي:

لومړی - اتنیک کلچر (Ethnic Culture Nations)

دویم - متمدنه ملتونه (Civic - Nations):

Ethnic–Culture Nations هغه ملت ته وایي چې یو نژاد، یوه ژبه او یو کلتور یا ټولندود ولري. یعنې یو قوم چې یوه نژادي ریښه، یوه ژبه او یو کلچر ولري او د تاریخ په اوږدو کې په تدریجي توګه په یوه محدوده جغرافیایي ساحه کې وده وکړي او بیا قومي مناسبات د دوی په منځ کې کمزوري شي او د Nation–hood Statehood احساسات په دوی کې پیدا شي، هغه ته اتنو کلچر نشین وایي. دارنګه ملتونه ډېر لږ دي چې، ټول ملت یو واحد نژادي، قومي او ژبنۍ ریښې ولري، جرمني، کوریا سعودي عرب او ځینې نور.

دویم- متمدنه ملتونه *Civic – Nations*

هغو ملتونو ته وایي چې ولس یې مختلفې نژادي، قومي، مذهبي او ژبنۍ ریښې ولري او بیا ولسونه د سیاسي، اقتصادي او یا پوځي فشار په بنیاد د یو مرکزي دولت چې د یوه یا څو قومونو د امتزاج په بنیاد جوړ شوي وي، سره راټول شي او بیا ټول ولسونه یوه ژبه، کلچر او ملي هویت ومني او بیا د مدني قوانینو پر بنیاد د ټولو ولسونو اقتصادي ګټې، سیاسي هیلې او ارمانونه د یوه ملي ارمان په توګه څرګند شي او په یوه واحده جغرافیایي ساحه کې ژوند وکړي، د وخت په تېرېدو سره یو ملت جوړېږي د نړۍ اکثریت ملتونه د مختلفو قومونو مجموعه ده. د امریکا ملت د یو متمدن ملت ښه نمونه ده. افغان ملت د ملتونو د سیاسي تعریف په لحاظ د یو متمدن ملت د جوړېدو نمونه ده، چې قومونه یې مختلف نژادي او اتنیکي ریښې لري د تاریخ په اوږدو کې په محدوده جغرافیایي سیمه کې سره مدغم شوي دي، خو له بده مرغه د خپل متمدن ملت د جوړېدو سیاسي او ټولنیزه پروسه یې له لا بشپړه شوې نه ده. د افغانستان

د قومونو ملي هويت افغان دی، په عين حال کې افغان د پښتون قومي هويت هم دی او پښتانه په اوسني افغانستان کې د دولت بنسټ ايښودونکي دي. د افغان کلمه چې په افغانستان کې ژوره تاريخي او اتنيکي ريښه لري د افغانستان په اساسي قوانينو کې د افغانستان د ولس د ملي هويت افغان درج شوې ده. ځينې ډلې د افغان له کليمې سره ځان نا ارامه احساسوي او په خپلو سياسي ادبياتو کې د خراسان او اريانا کليمې د افغان او افغانستان پر ضد استعمالوي. دا يوه لويه خطرناکه لوبه ده، دا خبره سمه ده چې افغان او پښتون مترادفې کليمې دي، خو دا يو سياسي مصلحت، د زمان ضرورت او د افغانستان د ټولو قومونو په ګټه ده، چې په اګاهانه توګه د خپل ملي هويت لپاره د افغان کليمه د زړه له کومې ومني او د قومونو يا د اقليتونو د حقوقو پر ځای د افغان ملت د ټولنيزو او سياسي حقوقو لپاره ودرېږي. دا يو سياسي واقعيت دی چې په ايران کې بلوچ، ترک، کرد ايراني نوم منلی دی. په تاجکستان کې ازبکانو خپل ملي هويت تاجک منلی دی او په سلهاوو نور مثالونه شته، په داسې حال کې چې قوم او قبيله د فيوډالي ټولنې د ټولنيز او سياسي جوړښت ستره مشخصه او يو طبيعي جوړښت دی. ملت يو طبيعي جوړښت نه، بلکې يو د بورژوازۍ او پانګوالۍ مرحلې د ودې سياسي او ټولنيزه ثمره ده. په سياسي لحاظ ملت قوم نه دی، ملتونه جوړېږي، د ملتونو (هېوادونو) د جوړېدو لپاره د سياسي او کلتوري ودې تر څنګ د زور عنصر هم ستر رول لوبولی دی. تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان... د ستالين له خوا جوړ شوي دي، پاکستان د انګريزانو له خوا او اسرائيل د انګرېز او امريکا او په لسهاوو نور د ملتونو د جوړېدو مثالونه شته چې همداسې ملتونه په زور تجزيه کېږي لکه د جرمني، کوريا، يمن، ويتنام او داسې نور.

که چېرې د افغانستان ولس د افغان کليمه د خپل ملي هويت په حيث د زړه له کومې ومني، نو د اکثريت او اقليت کليمه بې معنی ده، خو هر قوم حق لري چې ملي ګټې او د افغانيت په چوکاټ کې د خپلې ژبې او کلتور لپاره داسې مبارزه وکړي چې ملي يووالي او ملي هويت ته تاوان ونه رسوي او د اقليتونو او مليتونو اصطلاحات له خپلو سياسي ادبياتو څخه وباسي.

که موږ وغواړو او که نه قومیت چې د فیوډالي ټولنې مشخصه ده، د پانګوالې او د بورژوازۍ د کلتور له ودې سره سم له منځه ځي او قومیت په ملي ټولنه کې یوازې د ټولنې د انتروپولوژي په لحاظ کلتوري غنا ښيي، نه سیاسي اهمیت.

نو په دې توګه نشنلېزم د ملي ارزښتونو ملي ګټو او د ملي کلتور دفاع، ساتنه، پالنه او د ملت د تیورۍ د خپلواکۍ مظهر دی، نه د قوم پالنې تیوري. لومړی ملت یا نیشن د هېواد په چوکاټ کې باید رامنځ ته شي تر څو چې نشنلیزم تحریف شي. نشنلېزم د بورژوازي فرهنګ او د پانګوالي نظام سیاسي ثمره ده، ځکه د هر ملت او هېواد ملي ګټې یو له بل سره توپیر لري، نو د هر هېواد نشنلیزم له بل هېواد سره توپیر لري، په داسې حال کې چې کمونیزم د تیوري په اساس د هېوادونو تر منځ سرحد نه پېژني، برعکس نشنلېزم ته د هر هېواد سرحد او خپلواکۍ ساتنه، لوړتیا او تقدس لري. نو په دې توګه په قبایلي ټولنه کې چې فیوډالي فرهنګ لري قومي جوړښت واکمن دی. نشنلېزم چې د بورژوازي سیاسي فرهنګ او د ملت د جوړېدو ثمره ده، منځ ته نه راځي، بلکې قبیله ګرايي یا قوم پالنه یا اتنیسیزم یا د قومي ګټې ساتنه رامنځ ته کېږي چې له نیشنلیزم سره کلک توپیر لري. د افغانستان کورنۍ جګړه د افغاني ټولنې د قومي او قبیله ګرايي د سیاسي ګوندونو په چوکاټ کې د قومي ګټې پر بنا رامنځ ته شوه او د افغانستان ګاونډیانو هغه ته لمنه ووهله او سخته یې کړه، نو په نتیجه کې قومي او سیمه ییزي ګټې لوړې او ملي ګټې او نشنلېزم تر پښو لاندې شول. د قوم او ملت تاریخي دوره سره توپیر لري، ملت چې د قومونو د سیاسي او ټولنیزو امتزاجونو مجموعه ده، ځکه قومي مبارزه له ملي مبارزې سره کلک توپیر لري. که یو ځل بیا په اساسي قانون کې پر افغان او افغانیت د یوازیني ملت هویت په حیث ټینګار وکړي، ګوندونه د ملي ګټې پر اساس رامنځ ته شي، د اکثریت او اقلیت او فدرالېزم تیوري ته د پای ټکی ږدي او د ملي ګټې پر بناء او د افغاني ناسیونالیزم پر اساس ملي ټولنه او ولسواکي رامنځ ته کېږي. موږ په اقلیت او اکثریت معتقد نه یو، بلکې موږ په ملت او په افغان ملت معتقد یو او د استاد حبیب الله رفیع په

بیان معتقد یوو چې وایي: غواړو ملت! کوم ملت؟ افغان ملت. څنګه ملت؟ سم ملت، مسلمان ملت، ودان ملت، یوملت، واحد ملت، قوي ملت، کلک ملت، په خپلو پښو روان ملت، افغان ملت افغان ملت.

*ان شاء الله*

الحاج محمد معصوم هوتک

# کوچیان او د هغوی د تلو راتلو لرغونې لارې

کوچیان د انسانانو هغه کډوالي ډلې دي، چې د کال په بېلابېلو موسمونو کې له یوې سیمې بلې ته لېږدېږي. داسې ښکاري چې کوچیتوب د نړۍ په هره پراخه ورشو کې وجود درلود. ځینې کوچیان سیمه ییز وي - په دې معنا چې د یوه هېوادیا څو ګاونډیو هېوادونو په قلمرو کې تګ راتګ کوي او د کال بېلابېل موسمونه د خپل لېږد په مختلفو سیمو کې تېروي. خو ځینو یې تقریبا نړیواله بڼه غوره کړې ده. د دغه راز کوچیانو ډېر ښه مثال جیپسي کوچیان (جټان) دي، چې وروسته به پر ورېغېږو. په نړۍ کې د کوچیتوب ژوند لرغونی دی او ویل کېږي چې د ژوند دغه طرز د قبل المیلاد د دویم زرم کال په پای او د لومړي زرم کال په شروع کې پیل شوی دی. په منځنۍ اسیا او نني افغانستان کې هم د کوچیتوب پیدایښت لرغونو زمانو ته رسېږي. د زردشتي عصر په متونو کې د کوچي قبایلو او زردشتیانو تر منځ د دښمنیو ډېر بیانونه شته.داسې روایت لا هم شته چې کوچیو ساکونو د پارس ستر امپراتور (کوروش) ته سره له دې چې بې ساری لښکر یې درلود، سخته ماته ورکړه. کوچي ساکان هغه قبایل دي چې په تخارستان، سیستان، اراکوزیا، مرغاب، ننګرهارا او بامیانو کې خپاره وو. کوشاني امپراتورۍ په همدغو ساکانو اړه لرله.

په اسیا کې د کوچیانو بېلابېلې ډلې شته، چې د منګولیا د کوچیانو کوچیتوب په کې ډېر ځانګړی دی. شمالي اسیا د یو زیات شمېر کوچي قبایلو ټاټوبی دی چې د ځینو نومونه په دې وروستیو زمانو کې ثبت شوي

دي. دغه قبايل له سيمه ييزو خلکو سره د ورشو پر سر يو راز مشخص اړيکي لري. چين هم يوه داسې سيمه ده چې بېلابېلې کوچي ډلې په کې تګ راتګ کوي.

کوچيان لکه له نامه ښخه چې يې ښکاري، هغه خلک دي چې له خپلو مالونو سره د څړځايو او ښو په نيت مزلونه وهي. نن يې دلته سبا يې هلته مېنې ودانې وي. د پښتو ژبې يوه لنډۍ همدغه حالت بيانوي:

*ما د کوچي له عمره جار کړې*

*د سبايي اور يې بلېږي دی ترې ځينه*

دا خلک له سختو حالاتو سره د تطابق خورا زيات استعداد لري. د لوږې په وړاندې فوق العاده مقاومت کولای شي او په سختيو کې ايشېدلي دي.

د عربو کوچيان بدوان (Bedawins) نومېږي، چې د کوچيتوب د پيل زمانه يې په دقيقه توګه څرګنده نه ده. اساسا د عربستان د ټاپو وزمې لرغوني اوسېدونکي پر دوو برخو ويشل شوي وو. کوچي يا بدوي او ښاري يا حضري. بدوانو به وياړل چې دوی بزګران او کروندګر نه دي. دوی که به کومه کرونده لرله، په مزدورانو به يې کرله چې غالبا به مريان وو. کوچيانو به د وچکاليو پر وخت د محلي ګاونډيو پر کرنه باندې خورا سخت بريدونه کول. په دغه وخت کې کروندې د ټولې قبيلې ملکيت و او حاصلات به يې پر ټوله قبيله وېشل کېدل. د کروندې دفاع هم د ټولنې قبيلې دنده وه. د عربستان لرغوني اقوام او قبايل تر ميلاد تقريبا څلور زره کاله وړاندې د پرله پسې وچکاليو له امله له خپلې ابايي مېنې ښخه غالبا مخ پر شمال د اوسني عراق، سورېې، لبنان او فلسطين پر لور ولېږدېدل او کوم خلک چې پر خپله پخوانۍ مېنه پاته شول، د عرب په نامه ياد شول. عرب په لغت کې بدوي، صحرايي او کوچ کوونکي ته وايي. جمع يې اعراب ده. اعرابي د صحرايي په معنا مروجه کلمه ده. د اشوريانو په کتيبو کې د عرب کلمه

يوازې بدويانو (بدوانو) ته ورکړه شوې ده. او د ښارونو اوسېدونکي يې د عرب په نامه نه دي بللي.[۱]

د استراليا کوچيان د ځنګلونو په ښکار او د حيواناتو په نيولو کې ډېر مهارت لري. هندي کوچيان (Pampans) پر اسانو باندې له يوې سيمې څخه بلې ته اوږده مزلونه وهي. د قرقيز التايان د مرکزي اسيا مشهور کوچيان دي.د دوی په سندرو کېله کوچيتوب او اسانو سره د مينې خورا ډېر بيانونه مونډل کېداى شي. د جنوبي افريقا کوچيانو ته د شلمې پېړۍ په سر کې ډېره پاملرنه واوښتله، ځکه داسې فکر کېدى چې د افريقا اصلي او سېدونکي له همدغو کوچيانو څخه راټوکېدلي دي.[۱]

د باسکانو (Basques) په باب داسې فکر کېږي چې دوی د اسيا له کوم کونج څخه را کوچېدلي دي. په جنوبي امريکا کې ننني څېړنو د دغه نظر ملا ور تړلې ده. دا خلک د اروپا د جنوب لويديځ اوسېدونکي دي چې ځانونه پخپله ژبه (باسکي) بولي. په هسپانيا او فرانسه کې يې د استوګنې مېنې او کلي شته. د شلمې پېړۍ په منځ کې د باسکانو شمېر ۷۵۰،۰۰۰ تنه اټکل شوی و چې ددغه شمېر په سلو کې اتيا يې په هسپانيا او نور يې په فرانسه او جنوبي امريکا کې اوسي. دوی خپل عنعنوي کلتور ته پابند خلک دي.[۲]

ويل کېږي چې ايرلېنډي سوداګر د هغه کوچي اتنيکي ګروپ زوزات دي چې د ۱۸۰۰ م په حدودو کې د امريکا متحده ايالتو ته د پټاټو د کاختې په کلونو کې راغلي دي. دوی د ګرنده دندو په تلاښ ددغه هېواد

---

[۱] مشکور دکتر محمدجواد، خلاصه اديان، چاپ دوم، تهران، ۱۳۶۳ د يادونې وړ ده چې د کندهار د پنجوايي ولسوالۍ د مرکز په شمال کې د ارغنداو د رود پرغاړه اشوغې ته نږدې د "شمشبرغار" په نامه د قبل التاريخ يوه مغاره شته. دغې مغارې ته خرمه کلی د ((بدوان)) په نامه يادېږي. د نامه تاريخي ريښه يې ماته معلومه نه ده. څېړنه غواړي.

[۱] انسايکلو پيډيا بريتانيکا، ۱۶ ټوک.

[۲] هماغه اثر په هسپانيا کې د Batasuna بېلتون غوښتونکی ګوند د همدغو باسکانو ګوند دی. دا ګوند په تروريزم تورن دی او خينې غړي يې د سږکال (۲۰۰۲م) په سپتمبر کې پر ګوند باندې د بنديزونو لګولو پر ضد د اعتراض په نامه نر و ښځي لوڅ لغړ کوڅو ته را وتلي وو. ( تورنتو سن ورځپانه، ۲۰۰۲ م کال د سپتمبر د پنځلسمې ګڼه، ۳۶ مخ.

پراخې سيمې پر اسانو يا ګاډيو کې تر پښو کاږي. د امريکا د رسمي منابعو د خولې خبره ده چې وايي په دغه هېواد کې د ايرلېنډي سوداګرو بېلابېل خېلونه شته.[۳]

جيپسيان هغه کوچيان دي چې له لويه سره له هنده را ولاړ شوي دي. دوی په هغه هېواد کې د ټيټ پوړ خلک وو او ويل کېږي چې د سازنده ګانو (سندرغاړو) له هغې قبيلې سره يې اړه درلوده چې (Doms) يې بلله[۴]. د دوی ژبه پراکريتيک وه چې هغه بيا له سانسکريټ سره اړيکه لري. دا خلک نه کومه ټاکلې نيشناليتي لري او نه هم ليکلی تاريخ، هنر او ادب. دوی د نامعلومو عواملو له امله د هندوستان له شمال لوېديځ څخه د ميلاد په لومړۍ زريزه کې راوکوچېدل او پارس ته واوښتل. هورې د مغولو د لومړي تاړاک تر زمانې وپاېدل. تر دغه تاړاک وروسته يې يو شمېر ارمينيا، ځينې يې سوريې، فلسطين او مصر ته او يو شمېر نور يې د اناتولي له لارې يونان ته ورسېدل. له بالقاناتو څخه وروسته تر ډانيوب سيند وراواوښتل. د ترکانو د يرغلونو له امله يې رومانيا ته پناه يووړه. بيا په هنګري او اتريش کې خپاره شول. په ۱۴۱۷ م کې يې ځانونه جرمني ته ورسول او ورپسې فرانسې او سويټزرلينډ ته ورسېدل. د ۱۵۰۰ م په شاوخوا کې يې لومړۍ ډله انګلستان ته ورسېدله او هورې يې دوې پېړۍ ډېر کړاوونه وليدل. د نونسمې پېړۍ په سر کې د ډوی د استوګن کېدلو او ښوونې او روزنې لپاره هڅې پيل شوې او په هسپانيا، فرانسې او انګلستان کې يې ټولنې جوړې شوې. په پخوانۍ شوروي اتحاد کې د مسکو ښار د جيپسي جټانو تياتر ښه ډېر کلونه په برياليتوب سره وچلېد. ويل کېږي چې د سويډن جيپسيان ډېر ماړه او د بالقاناتو او جنوبي هسپانيا دا ډېر بېوزلي دي.[۲]

. افغانستان ته د دوی (جټانو) ډلې د کال په ټاکلي موسم کې راتللې او د کابل ښار په شاوخوا کې يې خيمې درولې. زياتره په اخلاقي انحرافاتو اخته

[۳] تورنټو ستار ورځپاڼه، ۲۰۰۲ کال دسپتمبر د درويشتمې نېټې ګڼه.
[۴] ما ته د پښتو ژبې "ډم" له دغې کلمې سره بې ربطه نه ښکاري.
[۲] انسايکلوپيډيا بريتانيکا، ۱۱ ټوک، ۱۹۵۸.

وو. پخوانيو حکومتو څه بنديز پر لګاوه خو د ثور د کودتا په کلونو کې چې په اصطلاح د مظلومو مليتونو د ازادۍ نغمه چالو وه. بنه په پراخه پېښه ګرځېدل.

پښتانه، کوچيانو ته پوونده او مالدار هم وايي چې ددې نومونې له مخې نو کوچيان هغه کډوال دي چې څاروي پيايي او له دې لارې خپل ژوند تامينوي. خو دا خبره بايد هم وويل شي چې د مالدار اصطلاح په هغو مېشته کلّيوالو هم دلالت کوي چې د مالونو (څارويو) د روزنې له لارې ژوند پر مخ بيايي. دغو مېشته خلکو ته کوچيان نه ويل کېږي. کوچيانو ته په انګرېزي Nomads پوري رسېږي. مېنه زياتره د کورنۍ له غړو څخه جوړه وې خو په هغې کې وايي او د نامه ريښه يې د يونانۍ ژبې له Nemein سره بې ارتباطه نه ښکاري ځکه د يوناني ژبې په Nemein کې د (څرېدلو) مفهوم پروت دی او په پښتو کې هم وينو چې له کوچيتوب سره د مالونو پوول لازمي دنده ده[1]. پوونده د ژمي د استوګنې کمپ ته "مېنه" وايي. د دوی پر مېنه له لسو څخه تر پنځلسو کېږديو پورې ولاړې وي. په لويو مېنو کې د کېږديو شمېر ان تر سلو همسايه ګان هم وي. همسايه عموماً له نورو قومونو څخه وي. ددې پر څنګ کوچيان د کال په مختلفو فصلونو کې د مالونو له پوولو سره يو ځای سوداګري او لوګري هم کوي. لګر (لوکوونکي) کوچيان د کوچيانو بېوزلی قشر دی. دوی د غنمو د لو پر وخت له کليوالو سره د مزد په مقابل مرسته کوي.

د افغانستان په کوچيانو کې پښتانه، بلوڅ، ازبک، ترکمن، قرغيز، هزاره، فيروزکوهيان، جمشيديان او ايماق شته خو يو غټ اکثريت يې پښتانه دي. پښتانه کوچيان دوې سترې څانګې لري: دراني کوچيان او غلجي کوچيان.

د غلجيو او درانيو پوونده وو تر منځ د ژوند د ډول له مخې کوم توپير نه شته خو د دوبي او ژمي په مېنو کې يې فرق ليدل کېږي. د دوبي مېنې ته

---

[1] په کندهار کې د کوچيانو لپاره د ((تره کو)) نوم هم مروج دی. حاجي عبدالغني هوتک وايي: د بر تره کې راغله خپاره شوه پر سپين ميدان مېشته زما پر کارېز شوه په زړو يې سره اوښان.

"اېلاق" او د ژمي هغې ته "قشلاق" ویل کېږي. د مونټ سټوارټ لفنسټن په نظر دا کلمې "پښتنو او فارسیانو دواړو له تاتارانو څخه اخیستې دي.[۲] د پښتنو کېږدۍ، د دري ژبې "سیاه چادر" او د تورکي ژبې "کرویی" هغه مفاهیم دي چې انګرېزي معادل یې Black Tent دی.

د درانیو په پراخه سیمه کې چې د الفنسټن په قول د شمال له خوا د پارو پامیزاد له غرو سره، د جنوب له خوا له ښوراوک سره، د ختیځ له لوري د غلجیو له سیمې سره او اوږدوالی یې نژدې ۴۰۰ میله او پسور یې له ۱۲۰ څخه تر ۱۴۰ میلو پورې رسېږي، د درانیو پوونده خپاره دي[۱] چې په دې ډول د هېلمند او سیستان په منځ او د کندهار د جنوب ختیځ ورشوګانې د درانیو پوونده وو اساسي سیمې ګڼل کېږي. د کندهار د جنوب کوچي قومونه د کال یوه برخه د توبې په غرو کې تېروي او په پسرلي کې سیاه بندو ته خېژي.[۲] توبه د خواجه عمران د غرو جنوب ته د مرغې په مقابل کې پرته ده. د خواجه عمران د غرو عمده اوسېدونکي هم دراني پوونده دي، چې په هغو کې بیا اکثریت د اڅکزو قامونه پراته دي. مرغه بیا د همدغو غرو په شمال ختیځ کې واقع ده.د مرغې اوسېدونکي زیاتره نورزي دي. نورزي پوونده ژمی پر خپله مېنه تېر وي او په پسرلي کې سیاه بند ته اوړي. د مرغې شمال ته ارغان پروت دی چې دا سیمه په عمده توګه په بارکزو او پوپلزو اړه لري. د ارغان زیاتره اوسېدونکي پوونده دي. باید وویل شي چې د هېلمند او ارغان بارکزي د سیمې د سمسورتیا له امله په زیاته اندازه په کرنه بوخت دي، خو د پوونده وو شمېر یې هم د پوره یادونې وړ دی. ساکزي زیاتره په زمینداور کې اوسي او ددغه قوم نیمایي برخه کروندګر او نیمایي یې شپنیان دي. د فراه رود او خاشرود د شاوخوا سیمو دراني پوونده په دوبي کې خپلې رمې سیابندو ته بیایي. دالفنسټن د بیان له مخې د درانیو ستر قوم په مجموعي ډول نیمایي پوونده او نیمایي

---

[۲] الفنستن، دکابل سلطنت بیان، پښتو ژباړه، دویم ټوک، ۷۸مخ، کابل، ۱۳۶۱ش.

[۱] د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ۷۹ مخ.

[۲] سیابند د کوچیانو یوه اصطلاح ده او هغې سړې سیمې ته ویل کېږي چې دوی دوبي په کې تېروي. په مقابل کې یې بیا هغه توده سیمه چې دوی د ژمي مېنه په کې وي؛ د "وطن" په نامه یادوي.

کروندګر دي. د دوی یو زیات شمېر کروندګر د شلمې په سر کې لا په کېږدیو کې اوسېدل.

په درانیو کې اڅکزیو او نورزیو د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې سوداګرۍ ته مخه کړه او مخ پر ښارونو ورمات شول. دوی زیارکښ خلک دي او د کندهار په ښار کې یې په لږ وخت کې لویې لویې تجارتي کوټې تاسیس کړې او په کابل، هرات او مزارشریف کې یې د لیلامي مالونو لوی لوی مارکیټونه پرانیستل[5] دوی د سوداګرۍ پر څنګ له محلي مځکه والو څخه جایدادونه هم رانیول زما د معلوماتو له مخې که دا جریان په همداسې توګه روان وي نو یو وخت به د کندهار عمده زمینداران همدا خلک وي.

غلجي پووندې دکابل سیند په ټوله ناوه کې تر جلال اباد پورې، د ترنک په ناوه کې ترکندهاره پورې او دغه راز د غزني په شاوخوا پراخو دښتو او مېرو کې خپاره دي. الفنسټن د غلجیو د سیمې د پراخوالي په باب لیکي "دا به ډېره ګرانه وي چې د ټولو هغو وړو ناوو بیان وشي کومي چې تر هندوکش او سپین غره پورې غزېدلي دي او یا د غرو ډډې او له پاسه هغه ساړه او تاوده میدانونه مشخص شي کوم چې غلزيي یې کړي". دی زیاتوي "د غلزیو ملک د یوه داسې متوازي الاضلاع په شکل دی چې اوږدوالی یې یو سلو اتیا میله او سور یې نژدې پنځه اتیا میلو ته رسېږي[۲]"

د غلجیو پووندې وو د بېلابېلو قومونو په باب زه بیا هم د الفنسټن له لیکنو څخه استفاده کوم. د ده څېړنې که څه هم دوې پېړۍ مخکې سر ته رسېدلې دي، خو له بده مرغه اوس هم د تطبیق وړ دی. له بده مرغه مې څکه وویل چې تر دوو پېړیو وروسته بیا هم ددغه قوم په ژوند کې کوم ژور او اساسي بدلون نه دی راغلی. د غلجیو پووندې وو لوی قومونه تره کي، ناصر، سلیمان خېل، خروټي او یو شمېر هوتک او توخي دي.

---

[5] د مزارشریف زیاتره اڅکزي سوداګر او هتۍ وال د وروستیو کلونو په جریان کې د سیمه ییزو پښتون دښمنو عناصرو په ټونګ د پښتونوالي په جرم او له طالبانو سره د ارتباط په پلمه قتل عام شول. ددغو کتله یي وژونو خبرونه د نړۍ تقریبا ټولو خبري منابعو خپاره کړي دي.

[۲] د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ۱۳۰ مخ.

تره کې په مقر او د هغه په شاوخوا سیمه کې د غلزیو تر وروستي جنوبي برېده پورې غزېدلي دي. د دوی کډې په ژمي کې د درانیو سیمې ته لېږد کوي. د الفنستین له څېړنې سره سم، په هغه وخت کې د تره کو شمېر دوولس زره کورنۍ شمېرل شوي و.

په سلیمانخېلو کې احمدزي پوونده دي. دوی په التمور او د لوګر په ختیځ کې اوسي، خو خپلې رمې ان د جلال اباد تر غرونو پورې پیایي.

خروټي د کټواز ختیځ لورته د سلیمان غرو په منځ کې اوسي. د دوی سیمه خواره ده. زیاتره کروندګر یې خپلې مځکې خپلو ورونو ته پرېږدي او دوی د کوچیتوب شاقه ژوند ته مخه کړي. د خروټو پوونده ژمی په دامان کې او اوړی د غزني په شاوخوا کې تېروي.

هوتک پخوا د شمېر له مخې زښته زیات وو. دوی د افشار نادر ترتاړاک وروسته د زرګونو کورنیو په شمېر له هېواد تبعید او بېځایه شوي دي. دوی په کرنه او سوداګري بوخت دي، خو د الفنستن په روایت تر زیاتې اندازې په کېږدیو کې اوسي.

ناصر په پسرلي کې د توخو او هوتکو په سیمه کې وړې وړې مېنې لري. د کال په پای کې ځانونه د دامان اوارو میدانو ته رسوي. د ناصرو یو زیات شمېر افرادو په وروستیو لسیزو کې سوداګرۍ ته مخه اړولې ده.

د ږوب درې ځینې کاکړان هم پوونده دي. د دوی په سیمه کې د پوونده وو دومره لویې مېنې جوړېږي چې "د کېږدیو ښارونه ورته ویل کېږي". [1]

پښتانه او بلوڅ کوچیان په کېږدیو کې اوسي، خو د افغانستان د شمالي سیمو کوچیان په یو راز دایروي خېمو کې ژوند کوي، چې سرونه یې له لرګیو څخه جوړ شوي وي او (اوتاو) یې بولي. او هغه سیمه چې د کوچیانو دغه راز خېمې په کې وهلې شوي وي، د (یرت) په نامه یادېږي. [1]

د ازبکانو یوه برخه په کېږدیو کې اوسي چې دوی "خرګاه" ورته وایي. خرګاه چې په فارس او چین کې هم رواج لري، تر کېږدۍ د تودوخې په لحاظ ښه

---

[1] د زیات تفصیل لپاره وګورئ: د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، ۱۳۲، ۱۵۵ مخونه

[1] غیا ث اللغات د یرت کلمه په ((منزل)) معنا کړې ده.

ده او په انتقالولو کې هم تر رواج کېږدۍ اسانه انتقالېدلای شي. خرګاه له نریو او ښویو دړو څخه جوړه شوې او سر یې د ګومبټې په شان جګ وي. ځینې ازبکان خرګاه ته "کراو" وایي[۲] ایماق هم د خرګاوو په مېنه کې اوسي او خرګاوې یې د ازبکانو هغې ته ورته وي. د ایماقو یوه څانګه چې تیموري نومېږي، د پښتنو په شان په تورو کېږدیو کې اوسي.[۳]

پښتنو کوچیانو له لرغونو زمانو راهیسې د افغانستان او د اباسین د حوزې د پراخو میدانو تر منځ پراته غرونه او دښتونه هر کال دوه واره په منظم ډول وهله او په دې ډول یې نه یوازې د مالونو د روزلو له لارې، بلکې د سوداګرۍ امتعو د وړلو راوړلو له لارې د سیمې په اقتصاد کې مثبته برخه درلودلې ده. دوی د هند، منځنۍ اسیا او ایران تر منځ د تجارتي مالونو په لېږدولو کې ستره ونډه اخیستې وه. دا چې ولې د سوداګرۍ راکړې ورکړې جریان ته د کوچیانو علاقمندي پارول شوې وه، علت یې یوازې مادي ګټه نه، بلکې نور عوامل هم وو. یو دا چې د هند، منځنۍ اسیا او ایران تر منځ تجارتي لار د دوی له هېواد (لوی افغانستان) څخه تېرېدله. بل دا چې تجارتي کاروانونو هم پر هغه مسیر تګ راتګ کاوه چې د کوچیانو کډې او رمې به په کال کې دوه واره ورباندې تېرېدلې راتېرېدلې. کوچیان په شمېر زیات وو، زړور او جګړه مار خلک وو، وسله یې درلودله او د لارې د غلو وغدیو په دفع کولو کې یې ښه اغېزه درلودلای شوای. همدغو عواملو د دوی کوچیتوب ژوند ته سوداګري ورننه ایستله. کوچیانو سوداګرو پر دوو سترو لارو تګ راتګ کاوه. لومړۍ لار د اټک، خیبر، کابل، هندوکش او د امو له لارې بخارا او ماورالنهر لار وه. دویمه یې له هند څخه خراسان او ایران ته تلله چې د سند، بولان، ګومل، کندهار او هرات لار وه. د لومړۍ لارې مهم مرکز کابل او د دویمې دا

---

[۲] د کابل سلطنت بیان. ۱۷۰ مخ.

[۳] ایماق معمولا د چار ایماق په نامه راوړل کېږي چې تایمني، هزاره، تیموري او زوري په کې شامل دي

کندهار و.[۱] د شمالي افغانستان د کوچیانو د کوچ مسیر په بېلابېلو ولایتونو کې مختلف دی. د مثال په توګه اوزبک او ترکمن کوچیان په ژمي کې په بلخ، جوزجان، او فاریاب کې اوسي خو دوبی د بابا غره په شمالي برخو کې تېروي.

په کوچنیو سوداګرو کې کې لواني پوونده تر نورو مالدارو کوچیانو وړاندې وو. ان ځینې به یې تر برما، اسام، بنګال او نیپال پورې هم تلل. له دې خوا به یې وړې، وړي، بادام، پسته او طبیعي بوټي په تېره بیا هنجه وړله او له هغې خوا به یې ټوکران، بوره، چای او نور شیان راوړل. ډپټي محمد حیات خان پخپل اثر (حیات افغاني) کې ددغو سوداګرو کوچیانو د کورونو او څارویو د شمېر په باب نسبتا مفصله احصایه ورکوي. انګریز ختیځ پوه بیلیو هم ددغو کوچیانو په باب څرګندونې لري. ځینې شواهد ښیي چې د مغولي شاهانو په تېره بیا د بابر چې به دولتي خزانه تشه شوه، د دغو پښتنو پوونده وو کاروانونه به یې لوټول.

د کوچیانو د ژوند ډول د یوه خاص اقتصادي او اجتماعي دور محصول دی. هر څومره چې دغه اقتصادي او ټولنیز مناسبات پر مخ ځي، په کوچیانو کې د مېشته کېدو هڅه پیاوړې کېږي. د کندهار ښار په ختیځ کې د ناصرانو یو کلی شته چې د کوچیو ناصرو د یوه مشر زوزات په کې مېشته وو او دغه لوی کلی یې جوړ کړی و.

ددغه کلي ځینې کورنۍ د کندهار ښار ته رانقل شوې دي او په سوداګرۍ او زمینداری بوختې دي. یو شمېر ځوانانو یې تر لوړو تحصیلاتو پورې زده کړې دي.

خو لکه د کوچیو د ژوند عمومي میلان چې د مېشته کېدو پر لور دی. برعکس جریان یې هم کله کله لیدل شوی دی. الفنستن د کټواز د قلندر خېلو یو مثال راوړي چې سل کورنۍ دي او په هغو کې یې پنځو شپږو کورنیو کروندګري خوشي کړې او د کټواز له پوونده وو سره د کال په یوه

---

[۱] د دغو دوو تجارتي مرکزو یادونه د مغولي امپراتور ظهیرالدین محمدبابر په تاریخ، بابرنامه کې د شپاړسمې پېړۍ په سر کې شوې ده چې لوستونکي یې هورې لوستلای شي.

تاکلي وخت کې خپلې مېنې پرېږدي او د ګومل د دوړو غاړو په غرونو کې مالونه څري. الفنستن ليکي: دوی د ژوند له دغه بدلونه بېخي راضي وو.

له څوارلسمې ميلادي پېړۍ په هاخوا د پښتنو سوداګرو کوچيانو د ژمي څرځايونه د سليمان د غرو شاوخوا سيمې وې. په پسرلي کې به پوونده د ګوملې او غزني له لارې تېرېدل او دوبې به يې د هندوکش د غرو په لمنو کې تېراوه. د دوی دغه تجارتي فعاليت تر نونسمې پېړۍ پورې لا دوام درلود. د ترانسپورتي وسايلو انکشاف د دوی عنعنوي سوداګري متاثره کړله او له دې امله د کوچيانو تجارت کمزوری شو او څه موده وروسته په ټپه ودرېدی، خو د دوی د عنعنوي کوچ سير او تګلوری د هماغه پخوا په شان پاته شو او د ژوند د بقا په منظور يوازې د مالونو پوول او روزل پر مخ وهي.

د امير عبدالرحمان خان تر پاچهۍ پورې کوچيان له دولتي ماليې څخه تر ډېرې اندازې خلاص وو. د نوموړي امير د پاچهۍ په وروستيو کلونو کې د کوچيانو مشران کابل ته راوغوښتل شول او هغوی ته د مالونو پر سر د ذکات د اخېستلو فرمان واورول شو. ددغه فرمان د تطبيق لپاره د شاهي پوځ ۱۴ تنه سپاره افسران وګومارل شول چې لومړی بايد د پوونده وو مالونه وشمېري. ددغه کار لپاره يې د (شاخ شماری) په نامه يوه دولتي اداره هم جوړه شوه.[1] دغه راز د همدغه امير په پاچهۍ کې د هغو لانجو د اوارۍ په خاطر ځينې فرمانونه صادر شول چې د افغانستان په مرکزي سيمو کې به د کوچيانو او غرنيو کليوالو تر منځ هرکله پېښېدلې او کله کله به وسله والو نښتو ته رسېدلې. دغه راز نښتې نه يوازې په مرکزي افغانستان بلکې په شمالي افغانستان کې هم د غير پښتنو کوچيانو او سيمه ييزو کليوالو ترمنځ هر کله پېښېدلې او پېښېږي. د افغانستان مرکزي سيمه او د هندوکش لمنې لکه وړاندې چې وويل شول، د لرغونو زمانو راهيسې د کوچيانو د دوبې څرځايونه او اورشوګانې وې. غرنيو

---

[1] بناغلي لوستونکي دې د مرحوم فيض محمد کاتب هزاره هغه څرګندونې وګوري چې د سراج التواريخ د دريم ټوک د لومړی بخش په ۵۹۹ مخ کې بيان کړې دي. چاپ، تهران، ۱۳۷۳.

کليوالو د خپل چاپېر دغو دولتي دښتونو او څړځايونو ته د خپل ملکيت په سترګه کتل او د غه علت و چې بل چاته يې د استفادې حق نه ورکاوه. له بلې خوا به کوچيانو هم کله کله د سيمې د محلي اوسېدونکو کښتونو او کروندو ته تاوانونه رسول او تر هغو پولو به وراوښتل چې له لرغونو زمانو ورته په عنعنوي توګه تاکل شوي وو. امير عبدالرحمان له هزاره وو سره تر سولې وروسته د دوی او کوچيانو ترمنځ د څړځايونو پر سر دلانجو د اوارولو په مقصد يو منصف هيات وټاکه چې مشري يې د قاضي يعقوبعلي پر غاړه وه. دغه هيات د هزاره وو د قناعت تر لاس ته راوړلو وروسته د پوونده وو لپاره ټاکلي بريدونه وټاکل او پوونده وو ته وويل شول چې که د هغوی رمې تردغو ټاکل شوو بريدونو واوړي، شل زره افغانۍ جريمه به ورکوي. تر دغې جوړې وروسته د هزاره وو او کوچيانو تر منځ شخړې او لانجې په ګډو تجارتي او ټولنيزو همکاريو بدلې شوې. د مثال په توګه هزاره وو له کوچيانو سره د وړيو په سکوللو کې همکاري کوله او له دې لارې يې د وړيو يوه ټاکلې ونډه ترلاسه کوله. دغه راز هر کوچي چې به په ژمي کې له مرکزي سيمو څخه تودو سيمو ته کوچ کاوه، خپلې غواوې به يې هزاره وو ته پرېښوولې. که به غواوو شيدې کولې، هزاره وو يې له شيدو څخه استفاده کوله او که به وچې وې، د هرې غوا د ساتلو پر سر به يې نغدې اجوره اخيستله. د کوچيانو د دوبي کرډۍ او نور درانه بارونه به هم هزاره وو ورخوندي کول. د هزاره وو او کوچيانو تر منځ د پور ورکول تعامل هم رواج و.

د ثور د بدمرغې کودتاه په ټينګېدو سره روسپالو د روس په قومانده په هېواد کې د مېشته قومونو تر منځ د دښمنيو د بيا تازه کولو په مقصد او له دې لارې د خپل ناروا حاکميت د ټينګولو په نيامت يې لکه په ټولو قومونوکې د بېلتانه کرښې وايستلې. د "ملي مسالې" د حل په نامه يې ملي اختلافونه وزېږول. په هېواد کې يې د زرګونو کلونو مېشته قومونو تر منځ د"ستمکش" او "ستمګر" په نامه د نفاق دومره زهر وپاشل چې زما يقين دی يو وخت به د همدې تيورۍ عاملين پخپله هم له سختو ستونزو سره مخامخ کړي. د "قوم" پر ځای يې د "مليت" نامانوسه او غير واقعي

مقوله باب کړه او په دې لړ کې یې د هزاره وو او کوچیانو تر منځ هم د زړو بدو اور تازه کړ او په نتیجه کې یې د کوچیانو پر مخ د دوی د دوبي د څړځایونه لرغوني مېنه وتړله. دې کار که له یوې خوا کوچیان جګړې ته ور ټېل وهل، له بلې خوا یې هغه ایکالوژیک انډول Ecological Balance له منځه یووړ، چې له سوونو کلونو راهیسې د کوچي او کلیوالي وګړو تر منځ موجود و. له دغې ناانډولۍ څخه په سیاسي ډګر کې د یوې تبلیغاتي وسیلې په توګه د هزاره ولس د حمایت لپاره کارواخیستل شو، خو له راتلونکو اقتصادي او ټولنیزو تاوانونو څخه یې کوچیان او هزاره کلیوال دواړه متاثر شوي دي. البته کوچیان په هېواد کې دننه په مختلفو موسمونو کې تاکلې لارې لري او د هر قوم څړځایونه د هغوی په نومونو باندې مشخص شوي دي. حتی په سیمه کې دننه د یوه قوم د بېلابېلو خېلونو حقوق له پېړیو پېړیو راهیسې ثابت پاته شوي دي. دا نه د نن خبره ده نه د پرون، نه د امیر عبدالرحمان خان بخشش دی نه د کوم بل واکدار هدیه، نه "فاشیزم" دی او نه هم "قبیلې حاکمیت". دا د لرغونو زمانو عنعنه ده او په راتلونکي کې به هم دوام وکړي. سیاسي واکدارانو په هر وخت کې له دغه راز مسایلو څخه د خپلې واکمنۍ په ګټه کار اخیستی او په راتلونکي کې به یې هم واخلي. خو دا چې زموږ ځینې "قلم بدستان" په دې برخه کې اني مصلحتونه په پام کې نیسي او قلمفرسایي کوي، زما په نزد د ملي مصالحو پر خلاف عمل کوي.

استاد عبدالجلیل وجدي

# نه مې هېرېږي چې...

د دیموکراسۍ د لسیزې له پیلېدو نه لږه موده دمخه، زه میمنې ته د فاریاب له ولایت د اطلاعاتو او کلتور د ادارې د مسئولیت په غاړه اخېستلو لپاره ورغلی وم. دا زما په شخصي ژوندانه کې لویه پېښه وه چې د لومړي ځل لپاره له کابل څخه وتلم او د هېواد یوې داسې سیمې ته تللم چې هغه وخت یو مسافر تر یوې بشپړې اوونۍ سفر کولو وروسته هلته ور رسېدلی شوای. هغه وخت د سالنګ لویه لاره پرانېستل شوې نه وه.

دا طبیعي ده څوک چې یوې سیمې ته د لومړي ځل لپاره ورځي، هغه ته د فزیکي ماحول او ټولنیز چاپېریال په باره کې ضرور لږې یا ډېرې پوښتنې پیدا کېږي. زما د کار څرنګوالي زما پوښتنې لا زیاتولې. زما ځینو پوښتنو ته د ځوابونو موندلو په لړ کې د څو بیروکراتو (میرزا تیپه) کابلیانو څو خبرې لا تر اوسه زما د ذهن په صفحه د کلیشې په توګه نخچ شوې دي.

یوه یې دا وه چې "انجا مُلک پکه و پوستین است"، بله یې دا وه چې "مردم انجا ګوسفندې است" او یوه بله یې دا هم وه چې "قهر افغان رحم ازبک است".

د لومړۍ خبرې معنی دا وه چې د هغه ځای هوا به کله په ناڅاپي توګه دومره توده شوه چې پکې ته به یې اړتیا پېښه کړه او کله به په ناڅاپي ډول داسې سړه شوه چې پوستین ته به اړتیا پېښه شوه. دوو نورو ظاهراً متضادو خبرو هلته د حاکمانو او محکومینو تر منځ د ظالمانه مناسباتو نمایندګي

کوله. یعنې دا چې هلته استول شویو بیروکراتانو د سیمې خلکو په تېره ازبکانو ته د پسونو په نظر کتل؛ ګواکې د هغه ځای زیاتو نسبتاً زیاتو شتمنیو د رشوت خورو او زبېښاکګرو د حرص لوږه دومره زیاته کړې وه چې انسانان هم ورته پسونه ښکارېدل.

هغه وخت ولسوالان "حاکمان" بلل کېدل. همدارنګه هغه وخت هلته داوسني والي پر ځای "اعلی حاکم" ناست و، چې د مرکزي حکومت نمایندګي یې کوله. د حکومت هغو کارکوونکو چې غوښتل به یې په لنډه موده کې ډېرې پیسې پیدا کړي، نو هڅه به یې کوله چې خپل ځانونه هلته ور "تبدیل" کړي. د غرنیو سیمو علاقه دارانو د خپلو ځانونو لپاره لنډې پاچهۍ جوړې کړې وې، ځکه د چارو تش په نامه پلټونکي هلته ورتللای نه شوای.

د خلکو په ځپلو او زبېښلو کې د رسمي حاکمانو او محلي بایانو هڅې شریکې وې.

حقیقت دا دی چې حاکمانو او بایانو (خانانو) د خلکو د ژوندانه ساحه تنګه کړې وه او دوی یې له داسې عقدو څخه ډک کړي وو چې د افغان قهر یې په سختۍ او شدت کې د ازبک له رحم سره برابر کړی و یعنې د ازبک رحم د پښتون د قهر هرمره دردوونکی و.

په مقابل کې پسونو غوندې "ګوسفندي" شوي وو، خو تر لاس لاندې انسانانو او حیواناتو لپاره قهرجن پړانګان هم ګرځېدلي وو. په ښځو باندې یې د فشار درجه زیاته وه. د خرو لپاره یې داسې چوکې جوړې کړې وې چې په سرونو کې به یې د ستنو غوندې تېره میخونه ځای پر ځای شوي وو کله چې به خره په دې چوکو ووهل شول نو هغو به د خپلې وسې نه هم زیات چابک چابک ګامونه اخیستل، تر دې چې د هغو عادې تګ به د منډې او ځغاستې بڼه نیوله. د دغه بې ژبې مخلوق پر شا به ناسوري ټپونه جوړ شوي وو خو دوی به ټپي شوي ځایونه بیا بیا وهل چې خر خپل تګ لا ګړندی کړي.

ښایې د زړه د سختوالي دا خوی یو څه دوی ته په ارث کې هم راپاتې شوی وي، ځکه چې زیاتره ازبکان افغانستان ته د ګوډ تیمور د پوځیانو په

توګه راغلي او دلته مېشته شوي دي. پخپله ګوډ تيمور هم د پر عقده يي انسان و. وايي چې کله دی تنکی ځوانی ته ورسېد، د يو منحرف سړی له لاسه تر پوزې راغلی، نو ده له دغه مزاحم سړي څخه د ځان د دفاع لپاره د توري وهلو تمرين کاوه. يوه ورځ چې دی له هغه مزاحم سړي سره مخامخ شو، نو د ځان د خلاصون لپاره يې خپل وار ورڅخه دمخه کړ او توره يې په داسې چم ووهله چې په لومړي ګوزار يې د هغه سر قلم کړ. ده دا وخت د سرو وينو له هغو فوارو څخه ډېر خوند واخېست چې د تېري کوونکي سړي له شېريانونو څخه ولاړې شوې وې. تر دې وروسته دا د ګوډ تيمور لپاره يو په زړه پورې کار وګرځېد چې په خپلو لاسونو يا د نورو په لاسونو سره په خاص تېريک سرونه قلم کړي او د سرو وينو د فوارو له ليدو څخه خوند واخلي، ځکه خو زيات ولسونه او خلک د ده له مظالمو څخه ډېرې بدې خاطرې لري. د ګوډ تيمور د امپراتورۍ تر شنل کېدو وروسته د ده پوځيانو په بېلا بېلو ځايونو کې د ملوک الطوايفۍ په بڼه کوچنۍ کوچنۍ حکمرانۍ جوړې کړې چې يو شمېر يې د افغانستان په شمال کې هم جوړې شوې وې.

لکه چې غبار په "افغانستان در مسير تاريخ" کې ليکلي دي، د امو نه ور هغه خوا د ازبکانو حکمرانان ډېر زيات ظالمان وو، ځکه خو د امو د دې غاړې ازبکانو غوښتل چې خپل ځانونه د هغوی د ظلم له ساحې څخه لرې وساتي؛ نو دوی د شمالي افغانستان په ځينو سيمو کې خپلې ورې ورې فيوډالي حکمرانۍ جوړې کړلې. بيا کله چې لوی احمد شاه بابا، په خپلو طبيعي او جغرافيايي پولو کې دننه د لوی تاريخي افغانستان د بيا راغونډولو ملي پروګرام پر مخ بيولو، بې له دې چې په خپله احمد شاه بابا ورشي، ازبکو خانانو د احمد شاه بابا د استازي شاه ولي خان په لاس بيعت وکړ او پخپله خوښه او رغبت يې د معاصر افغانستان د ملي دولت په جوړښت کې ونډه واخېستله. خو په ۱۹ پېړۍ کې چې د دراني تيمورشاه او امير دوست محمد خان په اولادو کې د ځان ځانيو له را پيداکېدو سره د استعماري ځواکونو د مداخلو له امله په افغانستان کې خونړۍ جګړې راپيدا شوې، نو د شمال خان خانيو بيا خپل سرونه راپورته کړل. دې خان خانيو د خپل پخواني خصلت له مخې بيا د ظلم او زور لړۍ پيل کړه.

ښاغلي نبي مصداق په خپل يو مضمون کې (ازبک سالاري په افغانستان کې) د يو شمېر اروپايي ليکوالانو او څېړونکو ليکنې را اخېستې دي چې ليکي: "په ۱۹ پېړۍ کې د قومونو فيوژن (خپرېدل) پيل شول چې له دې امله په قومي عداوتونو او دوښمنيو بدل شول. داسې دوښمني په تېره بيا د هزاره او ازبکو تر منځ ډېره شوه. غالب قوم به د مغلوب قوم افراد د غلامانو په صفت نيول او هغوی به يې د مريو په ډول خرڅول چې ي. دا ډول بازار په کندوز کې هم جوړ شوی و. له هغه ځايه به مريان هند ته د تجارت په ډول وړل کېدل او يا به هم د مرکزي اسيا د تاتار د اسونو په مقابل کې مبادله کېدل. دا غلامان به په ځمکو او کورونو کې د مزدورانو په ډول استعمالېدل (هارسن ۱۹۳۹ د ده ليکل شوي کتاب ۸۲ او ۱۲۷ مخونو تر منځ) پر دې سربېره په کندز. سرپل او ميمنې کې د خانانو حکومتونه هم د هزاره ګانو د مريتوب په تجارت بوخت وو. يو څېړونکی ګرګارين چې د هزاره ګانو د مريتوب په تجارت باندې يې زياته څېړنه کړې ده، وايي چې د غلامۍ دا تجارت خورا لوی و، يوازې ازبکانو په کې برخه درلوده، نور افغانان پښتانه وو که تاجک د غلامانو تاجران نه وو. دا تجارت امير عبد الرحمن خان منع کړ. ګرګارين د نورو منبعو له مخه زياتوي چې د ۱۹ پېړۍ په منځ کې ازبکانو د ځينو هزاره قومونو په مقابل کې له تعصب څخه کار اخيست د کندز والي مراد بېګ د دوی يو ځواکمن والي و.

پر هراسن ګرګارين سربېره برنتر، جان ګري، هالډيج، هم د ازبکو خانانو په لاس د هزاره مريانو د تجارت په باره کې څرګندونې کړې دي."

د غبار له ليکنو څخه څرګندېږي چې د هزاره ګانو د مريتوب په موسسه کې پخپله د هزاره اوبايانو رول ډېر زيات و. له همدغه امله هزاره ګانو د احمد شاه بابا په وخت کې د افغانستان لپاره د يو پياوړي مرکزي حکومت له جوړښت سره ډېره لېوالتيا درلوده، ځکه خو دوی له احمد شاه بابا سره د يو ملي دولت د جوړولو په کار کې خپله مرسته ونه سپموله. غبار ليکي چې د هرات ښار يو هزاره درويش علي خان د احمد شاه بابا په ګټه نيولی و. همدارنګه د کندز ازبک والي مرادبېګ نور خو نور خپل نژدې درباريان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم خپل بنده ګان ګرځولي وو. دوو تنو انګليسي ليکوالانو مور کرافت او تربک چې د ۱۹ پېړۍ په نيمايي کې يې د کندز دربار ليدلی و، په دې باره کې يې داسې ليکلي دي: "هغه صوفه چې دارباب لپاره جوړه شوې وه درې فوټه جګه و." په دربار کې به مير مرادبېګ کيڼ لاس ته پر تخت ناست و. په منځ کې به يې ۳۰ - ۴۰ پورې درباريان ناست وو چې پښې به يې د شا په لوري غځولې وې او سرونه به يې مير مرادبېګ ته ټيټ نيولي وو، ځمکې ته به يې کتل. ګواکې د نيمګړې سجدې په حالت کې به ورته ناست وو. يو شمېر زيات اردليان به په داسې حال کې چې ملاوې به يې کږې او سرونه به يې د مراد بېګ په لوري ټيټ نيول شوي وو پر ځمکه ولاړ وو، دوی به د يو ډول روکوع حالت تمثيلاوه.

مرادبېګ د ختيزوالو په تېره د افغانانو د معاشرت د ادابو پر خلاف د وريښمينو په بالښت تکيه کړې وه، پښې به يې غځې او اوږدې موزې به يې اغوستې وې ـ د درباريانو په لور غځولې وې. يو لوېديځ ليکـــوال وډ ( ۱۸۴۱) ليکي چې مراد بيګ د عادي خلکو پر وژلو او ټکولو سربېره هغه محلي واليان هم چې په خپل کار کې به وروسته راغلي وو وژلي دي. د مثال په ډول هغه داودخان والي، محمد رحيم بېګ چې يو تاجک و، له دې املـه وواژه چې ټاکلې پيسې يې ورته نه وې رسولې. مرادبېګ به د نيول شويو سيمو خلک د غلامانو په ډول نيول او د هغوی کورونه به يې سوځول، مير مرادبېګ به د نورو ازبکانو په شان له نيول شويو ځايونو څخه د پيسو پر ځای غلامان غوښتل. په دې توګه د سيغان او کهمرد تاجک حاکمان مجبور وو، چې د هرو ۳۰ کورنيو پر سر يو غلام هغه ورکړي. ضمناً مرادبېګ د دره صوف او سر پل ازبک حاکمان هم هڅول چې پر هزاره جات باندې د مريو د نيولو لپاره حملې وکړي.

ميمنه هم چېرې چې زما له مسئوليت نه ډک ماموريت په کې پيل شوی و په خپل زړه کې د ازبکو د خان خانۍ ځينې خاطرې ساتلې وې.

د دې لويې فيوډالي واکمنۍ لاسونه هم د هزاره ګانو او او جمشيديانو د غلام کولو او خرڅولو په کارو بار کې ککړ شوي وو. دا فيوډالي واکمنۍ د مرغاب له سيند څخه تر سرپل او بله څنډه يې تر بلخ پورې غځېدلې وه. دا

او د ازبکانو نورې خان خانۍ امیر دوست محمدخان د خپلې پاچاهۍ په دویمه دوره کې پای ته رسولې وې، خو ځینو پاتې شونیو او اغېزو یې په بل ډول ځانونه ښودل. لکه چې د میمنې په یو شمېر سیاسي بندیانو باندې دا تور لګول شوی و چې هغوی له افغانستان څخه د دغه ولایت د جلا کولو هڅه کوله.

هغه وخت چې ما هلته کار کاوه، د دغه ښار سیاسي بندیان یوازې ازبکان نه وو، بلکې د ننګرهار د خانانو یوه کورنۍ هم هلته فرار شوې او تر سختې څارنې لاندې وه. دا د مشهور ملک قیص خوږیاني کورنۍ وه چې په ننګرهار کې د بغاوت کولو په تور دلته راشړل شوې وه. په میمنه کې هغو نورو پښتنو کورنیو هم ژوند کاوه چې د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ په موده کې راشړل شوې وې. هلته زما د کار په موده کې د مخکې پر مخ او تر ځمکې لاندې سیاسي تحریکونه اوسېدل او زه یې د مطبوعاتو د مدیر په توګه د اغېزو په مرکز کې راغلی وم. ماته هغه وخت یو پښتون انقلابي لیکوال او شاعر په خپل یو لیک کې خپل هغه میمنه ګي ملګري راپېژندلي وو چې دوی به له ما څخه خپلې قلمي مرستې، نه سپموې. دغه پښتون لیکوال او شاعر چې څه ناڅه د وخت یوه مشهوره خبره هم بلل کېدای شوه، په خپل لیک له ما څخه داسې یوه غوښتنه هم کړې وه چې په میمنه کې "د پښتونولۍ سوتۍ" ډېر په اوږو ونه ګرځوم.

زه نه پوهېږم چې له "پښتونولۍ" څخه به هغه وخت د ده تصور څه و، خو زما له نظره پښتونولي زموږ د ملي خصوصیاتو او اخلاقي نورمونو هغه مجموعه ده چې بل نوم یې "د افغانیت" دی او په دغه مفهوم کې یې نور ټول افغانان هم ځانونه راګډوي. عجیبه یې لا دا وه چې د هغه وخت یو تاجکستاني چې د پټرولو او ګازو د لټونې په پروژه کې یې کار کاوه "پښتونولي" د پښتون انقلابي شاعر او لیکوال په څېر د جنګ سوتۍ نه بالله، بلکې د سرېتوب د مینې او مهربانۍ غېږ یې ګڼله. دی راغلی و چې د پښتونولۍ په باب کوم لیکل شوی کتاب ولولي. دغه تاجکستاني زما د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې په نورو ژبو کې مېلمنو ته د "خوش امدید" یا (Welcome) غوندې عبارتونه، خو په پښتو کې ورته د "هرکله

راشه!" عبارت په کار لوېږي. له دې څخه څرګندېږي چې پښتانه په رښتیا سره ډېر مېلمه پال خلک دي. همدا سبب دی چې زه د پښتونولۍ له مطالعې سره ډېره مینه لرم.

په حقیقت سترګې نه شم پټولی. هغو کسانو چې پښتون شاعر او لیکوال ماته په خپل لیک کې راپېژندلي وو له ما سره ډېره ښه قلمي مرسته پیل کړه. څه موده وروسته موږ یو له بله د نظریو د بدلون پړاو ته سره ورسېدو. د زیاتو سیاسي موضوعاتو په باره کې زموږ تر منځ د نظر ټکي سره شریک وو. خو په دې کې ځیني داسې کسان هم لیدل کېدل چې پښتانه یې د افغانستان داخلي استعمار ګران(!) بلل. سره له دې هم دوی به په بحثونو کې ټول پښتانه داسې نه ګڼل. یوازې د ځینو کسانو یا ځینو قشرونو نومونه به یې د مثال په توګه یادول. په دې لړ کې هغه کسانو ته ډېره ګوته نیول کېده چې د مرکزي حکومت له خوا د امرینو او حاکمانو په توګه موظف شوي وو. دوی هم یو ډول خلک نه وو. په سخت زړو او زړه سواندو، په پاکنفسو او مردار خورو باندې وېشل کېدای شوای، په خلکو باندې د قدرت د منګولو ټینګولو یا سستولو په کار کې د مرکزي حکومت اشارو ته کتل کېدل. مرکزي حکومتونو د امنیت د ټینګولو په پلمه ډېر ځله یو نژادي ګروپ په بل باندې ټکولي او ځپلي دي. د مثال په توګه امیر عبدالرحمن خان د افغان او انګلیس د دویمې جګړې لوی اتل غازی محمد جان خان مزار شریف ته نژدې په یوه ځای کې د ازبکانو په لاس شهید کړ.

په وروستیو وختونو کې زموږ او ستاسې تر نظر لاندې، ډاکتر نجیب په کندهار او ځینو نورو ځایونو کې ډېر پښتانه د دوستم د ازبکو ملګرو په ذریعه چې جنګونه یې په اجاره اخېستل وځپل او بې عزته یې کړل. په همدې ډول په شمال کې ازبکان د پښتنو او تاجکو په وسیله ځپل شوي وو.

ښایي همدا سبب و چې عوامو ازبکو پښتانه او تاجکان یو قوم بلل او دواړه نژادي ګروپونه یې افغانان ګڼل، خو هغوی یې د "افغان فارسي" او "افغان دغه" په نومونو یو له بل څخه جلا کول. ګواکي پښتانه د دوی له نظره "افغانان دغه" وو.

د ډېموکراسۍ له لسيزې څخه څو کاله دمخه. پخوا له هغه چې په ميمنه کې زما ماموريت پيل شي د مرکزي حکومت په پاليسۍ کې يو تغير راغلی و. يو دري ويونکی محمدزی غلام حيدر عدالت د ميمنې (فارياب) د اعلی حاکم (والي) په توګه ټاکل شوی و.

ده د اجتماعي تحولاتو په نامه ډېر زړه ورکارونه کول. مثلاً د ميمنې د ښار په منځ کې د يوې غونډۍ له پاسه د (سيف الملوک) په نامه يو زيارت جوړ شوی و. ده د دغه زيارت پر ځای يوه سينما جوړه کړه او د "سيف الملوک سينما" نوم يې ورباندې کېښود. ده د ډېرو خولو نه د وتليو "ولې؟ ولې؟ ولې؟..." لپاره بس يو ځواب درلود او هغه دا و چې "سيف الملوک يو مين سړی و مه يې کوه چې د ده د زيارت له پاسه ډېرې مينې تمثيل شي او د مينې ډېرې سندرې وويل شي".

د غلام حيدر عدالت بل ډېر زړه ور کار دا و چې ده يو شمېر پياوړي او مخور پښتانه خانان "مات" کړل او په بله خوا کې يې له ازبکو "بايانو" او سوداګرو سره خپل دوستانه اړيکي او ياراني ټينګې کړلې او له دې لارې يې د ازبکانو د زړونو تر لاسه کولو پاليسي وچلوله.

که له ممتازو قشرونو تېر شوو، نو په عوامو يا خلکو کې د بېلتون او توپير نښې نښانې دومره زياتې نه وې. پښتنو، ازبکانو، تاجکانو او... يو له بله ډېر ښه روابط سره درلودل. که څه هم دوی په بېلو بېلو ژبو خبرې کولې خو د دوی عمومي کړو وړو دا ښودله چې دوی ټولو د يو پراخ وياړلي افغاني کلتور په غېږ کې وده کړې ده.

مثلاً د مېلمه پالنې دود د دوی ټولو لپاره يو ډول و. همدارنګه تقريباً يو ډول جامو هلته د ازبکو، پښتنو او تاجکو د قومي پېژندلو کار مشکل کړی و. دې يو رنګ والي خلک ډېر سره نژدې کړي وو. په خلکو کې د ازبک، پښتون، تاجک او... تر منځ اختلافات تقريباً په يو کلي کې د تربورانو د اختلافاتو سطحې ته راټيټ شوي وو، په ځينو مواردو کې د تربورولیو اختلافات ډېر خله له قومي يا نژادي اختلافاتو څخه سخت او خطرناک وو. تربورولي يوازې په پښتنو کې نه وې، بلکې تاجکو او ازبکانو هم په خپلو کې تربګنۍ درلودې. کله به دا ډول تربوروليو له قومي حدودو څخه

ووتلې او په سيالۍ اخته تربورانو به هڅه کوله چې په نورو قومونو او نژادي ګروپونو کې هم پلويان ولري.

په عمومي توګه ګډ برخليک او ګډو ګټو خلک (ازبکان، تاجکان، پښتانه...) سره نژدې کول او په ګټو ولاړو شخړو او جګړو خلک يو له بل څخه جلا کول. خو سياست مدارانو هڅه کوله چې له اختلافاتو څخه خپلې سياسي ګټې واخلي. سياسي اختلافاتو د دوی تر منځ د بېلتون کرښه هم ايستلې وه، چې په دوو ډلو سره يې ويشلي وو. يوې ډلې يې قومي اختلافات ډېر په نظر کې نيول او بلې يې طبقاتي اضداد ډېر مهم ګڼل.

له صدارت څخه د داود خان تر استعفی وروسته موظف صدراعظم ډاکتر محمد يوسف د خپل حکومت په لومړيو وختونو کې د سياسي بنديانو پر مخ د جېلونو ترل شوي ورونه پرانيستل. په دې لړ کې د ميمنې سياسي بنديان هم خوشي کړل شول. په دوی کې دوه ډوله (له مدرسو او ښوونځيو يا پوهنځيو) څخه وتلي يو څه پوه کسان وو. مولوي علاوالدين، ابوالخير خيري او نظر محمدنظر په کې مشهورې څېرې وې. دوی که ملايان وو يا په اصطلاح نور روښانفکران وو، د ازبکو د قومي حيثيت خوندي ساتلو يا د حقوقو ګټلو په برخه کې يې د نظر ټکي سره شريک وو.

يو ماښام زما مرستيال رضوانقل تمنا چې د سيمې يو اوسېدونکي و، پخپل کور کې د سياسي بنديانو په وياړ يوه مېلمستيا کړې وه چې دې مېلمستيا په ضمني توګه ماته د خدای پامانۍ ويلو اړخ هم درلود (په همدغو ورځو کې زه ننګرهار ته تبديل شوی وم) همدغې مېلمستيا زه له راخوشي شويو سياسي بنديانو سره مخامخ کړم. په مېلمستيا کې د هغه ځای ځو تنو ليکوالانو زما په باره کې هم څه لنډې خبرې وکړې او د نوي نسل د ذهنونو په رڼا کولو او ليکوالۍ ته د هغوی د هڅولو په کار کې يې زما کوښښونه وستايل او پر دې يې يو څه خواشيني څرګنده کړه چې زه له دوی څخه لرې کېږم. ما د دوی له ښه نظر څخه تشکر وکړ ومې ويل: اوس هم له تاسې څخه لرې نه ځم بلکې د خپل لوی کور (هېواد) يوې بلې څنډې ته خوځېږم. زما وياړ به دا وي چې ستاسې او د ننګرهار د خلکو تر منځ د وروروليٰ د احساساتو او نظرياتو د بدلون وسيله وګرځم.

خیري زما خبرې پرې کړې ویې ویل: "روابط ما با انها رنگ دیگر دارد چند نفر انها با قدیفه های خویش امدند، درینجا زمینهای مارا گرفتند، لهذا روابط برادرانه بین ما و انها بعید از امکان میباشد..." وروسته څرګنده شوه چې د مجلس نورو ګډون کوونکو ازبکانو حتی د خیري خپل ورور نظرمحمد نواحي د خیري له داسې یو نظر سره بشپړه همنوایي نه درلوده، ځکه هغه وخت ازبکو روښانفکرانو که د خپل قومي او نژادي ګروپ کلتوري حیثیت یا سیاسي حقوق غوښتل، د هېواد په شمالي برخو کې یې د نورو نژادي ګروپونو په ورته حقوقو سترګې نه پټولې. پخپله نظرمحمد نواحي د خپلې مورنۍ او قومي ژبې د ودې او پرمختیا لېوالتیا درلوده. د هېواد نورو ژبو ته یې هم په درنه سترګه کتل. ما ته په زړه پورې دا وه چې ده له پښتنو سره په روانه پښتو ژبه خبرې کولې، کله چې دی د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د خپرونو د رئیس په توګه وټاکل شو، هلته یې په شمالي ولایاتو کې هم د افغانستان د نورو ولایاتو په څېر قومي رابطې د نوک او اورۍ د اړیکو په څېر نژدې وې. که څه هم "نوک" او "اورۍ" پخپلو جلا جلا نومونو پېژندل کېږي، خو له یو بل څخه یې جلا کول ډېر دردناک کار دی. زموږ خارجي دوښمنانو په ورونو قومونو کې داسې خلک په پیسو واخېستل چې د نوکانو او اوریو د جلاکولو په جنایتونو لاس پورې کړي، ځکه خو د افغانستان هغه غرونه او دښتې د سپېڅلو افغانانو په وینو سرې شوې چې پخوا به یې د غاټولو د ګلانو لرلو له امله سره لمبه کوله.

د خیري له دې خبرو او نورو اجتماعي واقعیتونو سره هم اړخ نه لګاوه. پښتانه د څوکسانو په شمېر له خپلو څادرونو سره شمالي ولایاتو ته، نه وو تللي. بلکې ډېرو پښتنو له پخوا زمانو راهیسې هلته دایمي استوګنه درلوده. پخپله په میمنه کې له پښتنو څخه څو کوڅې یا کلي نه وو جوړ شوي، بلکې څو ولسوالۍ لکه تګاب شیرین، پښتون کوټ او الماره تر زیاتې اندازې په دوی ډکې شوې دي. په همدې ډول په جوزجان کې، بلخ، سمنګانو کې ډېرې ولسوالۍ پښتنو ته منسوبې دي. بغلان او کندوز پخپله داسې ولایتونه وو چې پښتنو په کې اکثریت درلود، په نورو شمالي سیمو کې هم پښتنو، قومي موجودیت درلود.

ارواښاد علي احمد کهزاد د افغانستان یو دري ژبی واقعبین تاریخ لیکونکی دی، چې د افغانستان نور مورخین که هغوی پښتو ژبي دي که دري ژبي، په درنه سترګه ورته ګوري او ډېرو کسانو د ده له لیکنو څخه د باوري منابعو په توګه اخیستني کړې دي.

همدغه نامتو مورخ بلخ بخدی بخت، باختر او...) په نومونو د پښتنو د لومړنی ټاټوبی ثابت کړی دی، چې هلته د دوی د نفوسو د زیاتېدو له امله دوی هرې خواته کډې کولوته اړ شوي دي، خو یو شمېر یې په خپل ټاټوبي بلخ کې پاتې شوی دی. په دې حساب پښتانه شمالي ولایتونو ته تللې نه دي، بلکې له هغو ولایتونو څخه خواره شوي دي. د څو کسانو په شمېر له خپلو څادرو سره د ټولنیزو بدلونونو په بهیر کې له دوی څخه یو شمېر یې په نورو کې جذب شوي او یا دوی نور (قومونه) د ځان په رنګ کړي دي.
همدا سبب دی چې د دغه هېواد د پخوانیو تاریخي اقوامو نومونه یې ژوندي ساتلي دي، مثلاً د (ساکو) قبیلې د تاریخي ساکانو (ابدالیانو) دیفتلیانو نومونه ساتلي دي. دا ټول هغه نومونه دي چې په ټول تاریخي افغانستان په تېره بیا په شمالي ولایاتو کې یې تاریخي رول ثابت دی. په خپله ازبکان وروستیو اجتماعي څپو ورسره راوړي دي، خو بېلا بېلو تاریخي عواملو دوی له امو نه ورهغه خوا ازبکانو څخه په عقیدوي او کلتوري توګه جلا ساتلي دي. لکه چې غبار لیکلي دي دوی د جنیدي دربار د ظلمونو او بې عدالتیو په سبب له هغه ځایه له ازبکانو څخه ځانونه را جلا کړل او لکه چې ډاکتر حسن شرق لیکلي دي، د پرچمیانو د قدرت پر وخت هڅه کېدله چې د افغاني ازبکانو بچیانو ته لومړني تعلیمات په ازبکي ژبه پیل شي. که څه هم همدغسې یوه موضوع د افغاني ازبکو روڼ اندو یوه کلکه غوښتنه وه او دا د دوی حق هم و. خو زموږ ازبکو وروڼو له دې امله رد کړه چې په ازبکستان کې په ازبکي باندې لیکل شوي کتابونه باید د دوی د بچیانو لاس ته ورنه شي ځکه دوی نه غوښتل چې د دوی د دیني اعتقادات صدمه وویني.

دوی په څرګندو ټکو کې د حکومت غوړونو ته دا خبره رسولې وه چې دوی په اوسنیو شرایطو کې له ژبې څخه تېرېدلای شي، لیکن له دین څخه

مخ نه شي اړولی. د حسن شرق د لیکنې له مخې همدغه موضوع په یو رپوټ کې د وزیرانو مجلس ته وړاندې شوه، چې پرچمي وزیرانو ورباندې تعجب کړی و. له دې څخه ځرګندېږي چې ډېر سخت قومي تعصبات ډېرو وروستیو دسیسو راپیدا کړي دي.

البته د خیري دا خبره په میمنه کې د ځینو نورو کسانو له خوا هم اورېدل کېده ګواکې چې پښتانه دلته راغلي دي او زموږ ځمکې یې نیولي دي. حقیقت دا دی چې پښتنو د چا ملکونه غصب کړي نه دي، بلکې هغوی د دې سیمې په ابادۍ او سمورتیا کې لویه ونډه اخېستې ده. د شمالي ولایاتو زیاته برخه له ملي (دولتي سلطان) ملکیتونو څخه عبارت ده چې د څړځایونه (علف چرد) په شکل یې ډېرې دښتې، غونډۍ او غرونه پوښلي دي، له دې امله چې قره قل پوستکو او غالیو د افغانستان په اقتصاد کې بنسټیز رول درلود. نو دولت هڅه کوله چې د قره قل د مېږو او پسونو او د وړیو د تولید لپاره د نورو مېږو او پسونو د ساتنې او زیاتوالي لپاره څړځایونه وساتي. مالداران چې زیاتره یې پښتانه وو د افغانستان په تېره د شمالي ولایاتو له مهمو موارینو ولایاتو څخه وو چې د ملي اقتصاد په وده کې یې مهمه ونډه درلوده، په دې توګه پښتنو د چا ځمکې نه دي نیولي، خو د دوی د ځیرکتیا ګټه هر چا ته رسېدله.

همدارنګه د طبي بوټو په جمله کې یو ډول بوټي د شمالي ولایاتو په لوړو غرونو کې را زرغونېدل چې د "انجې" په نامه یوه ماده به ورڅخه اخېستل کېده. له دې مادې څخه په هندوستان کې درمل جوړېدل. له دغه بوټي څخه د انجې اخېستل کټ مټ له کوکنارو څخه د تریاکو د ټولونې غونډې جنجالي او ستومانوونکی کار و. انجه (هنګ) په خپله ډېره بوینه (بدبویه) ماده وه او په ډېر زحمت تر لاسه کېدله ځکه خو د زیارکښو پښتنو څخه پرته نورو خلکو زړه نه ورته ښه کاوه. همدغه بوټي تر ډېره وخته پښتانه د شمالي افغانستان په غرونو کې مصروف ساتل، هر کال په مني کې به له انجې څخه یو ستر صادراتي قلم جوړېده. د دغې بدبویه مادې تولید او خرڅلاو بې ځمکې پښتنو ته دومره څه په لاس ورکولی شوی چې د

دوی د هېواد په هره برخه کې مځکې او داسې نور جایدادونه واخېستلی شي.

مالداري او سوداګري، د انجې کارو بار د پښتنو زیاتې پرګنې د افغانستان په شمالي سیمو کې په ګټورو تولیدی او اقتصادي کارونو مصروفې ساتلې او هلته مېشته کړې دي. په همدې ډول تجارتي او نورو ډېرو اقتصادي فعالیتونو د افغانستان شمال ډېر اوسېدونکي د افغانستان په جنوب کې د مځکو، جایدادونو او سترو تجارتي امکاناتو خاوندان وګرځول. د جهاد او مهاجرت په کلونو کې د جنوب په لوري خوځېدنې نورې هم زیاتې شوې. موږ لیدل چې د شمال اوسېدونکو د پښتونخوا په ازادو قبایلي او د افغانستان او پاکستان په سرحدونو کې زیات رستورانتونه جوړ کړي وو. د غالیو د تجارت لمنه یې تر پېښور، کویټه، اسلام اباد او کراچۍ پورې هم وغوړوله. خو دغو پېښو په جنوب کې د اوسېدونکو پښتنو تندي تروه نه کړل.

باید وویل شي چې په شمال کې ځینو ازبکانو او تاجکانو د ناقلینو موضوع ته ګوته نیوله. زما د معلوماتو له مخې دغه کار تر ډېره حده د شاړو ځمکو د ابادۍ له امله شوی دی. داسې هم شوي دي چې حکومت انجه وهونکي پښتانه له غرونو څخه راکوز کړي دي او مځکې یې وربانديې ابادې کړې دي. په دري ژبه کې دا متل دی چې "اګر مرګ میخواهی قندوز برو" د یوې ډېرې بدې تاریخي پېښې یادونه کوي چې زموږ تاجکو ورونو ته ورپېښه شوې وه. د یو شمېر څېړونکو لکه هارسن، ګرګارین، برنتر، جان ګري، لډیچ او وډ د لیکنو له مخې چې د کندوز د ازبک والي مراد بېګ د غلامۍ په کاروبار رڼا اچوي، همدغه والي خپل یو شمېر تاجک غلامان په نااجباري توګه مجبورول چې په کندوز کې مځکې ابادې کړي. دا به ومنو چې په زیار او زحمت د ځمکو ابادولو په وخت کې د افغانستان له شمال څخه د غلامۍ زړه او ورسته کمپله چې د ازبکانو خانانو د ناوړو ګټو د جال په توګه غوړولې وه، توله شوې و، نو پښتنو ته د دې وعده ورکول کېده چې که په کندز کې شاړې ځمکې ابادې کړي د ملکیت اسناد به یې همدوی ته ورکول کېږي. خو هغه وخت په کندوز او افغانستان د شمال په

نورو ډېرو توندو او ملاریا لرونکو سیمو کې داسې له کړاوونو ډکو کارونو ته غاړه اېښودل په بیه د خپل مرګ اخېستلو معنی هم لرله.

د موضوع بل اړخ دا دی چې د نادر افشار د پاچاهۍ له مودې راهیسې تر وروستیو شاهي رژیمونو پورې حکومتونو خپلو متقاعدو پوځي مشرانو او سترو مامورینو ته د تقاعد د معاش پر ځای ځمکې ورکولې، په دې توګه یو زیات ممتاز کسان د هېواد د نورو سیمو په څېر په شمالي ولایاتو کې مېشت کړل شول. او د امتیازاتو خاوندان ګرځول شوي دي. له دې امله چې په بېروکراسۍ کې د پښتنو ونډه دومره زیاته نه وه، نو له دې امکاناتو څخه د نورو قومونو په تېره د تاجکو ممتازو قشرونو ډېره ګټه اخېستې ده.

باید وویل شي چې وخت په وخت د ځمکو د اصلاحاتو او په هېواد کې د ټولنیز انډول د ساتنې لپاره اضافي نفوس یوازې له جنوب څخه شمال ته نه دي لېږدول شوی، بلکې له شمال څخه جنوب ته هم استول شوي دي. د مثال په توګه د هلمند په پروژه کې ازبک، تاجک هزاره او نور قومونه هم د ځمکو او شتمنیو خاوندان شوي دي. یو هزاره انجنیر لعلي د هلمند د پروژې له هغو رئیسانو څخه و چې ډېر زیات صلاحیت یې درلود.

ما د جنوبي پښتونخوا د پښین د رانانو په کمپ کې ځینې داسې کورنۍ ولیدلې چې دوه ځله مهاجرت کولو ته اړ شوي دي، یو ځل یې په بخارا کې د کمونستانو د ظلمونو په سبب افغانستان ته او بل ځل یې د افغاني کمونستانو د ظلمونو له لاسه له هلمند څخه پاکستان ته مهاجرتونه کړي دي. دوی له هغو ازبکو کورنیو څخه دي چې له شمال څخه، هلمند ته د ناقلو په توګه استول شوي دي.

په تاریخي لحاظ بلخ د لوړو بیرغونو لرونکی ښار چې عربو د ښارونو مور بلله، د پښتنو او د پښتني فرهنګ د روزنې او پالنې لومړنی توده غېږ وه. په دې توګه پښتانه د وطن د مور مشران زامن او لونې دي. البته له دې حقیقت څخه هم سترګې نه شي پټېدلای چې د تاریخ ډېرو ظالمو یرغلګرو خواکونو چې د ډېرو هېوادونو پولې یې ګډې وډې کړې، زموږ په تاریخي هېواد هم د دوه سوه یا دوه نیم سوو کلونو تجزیه تحمیل کړې ده. د تجزیې په دې بدمرغه دوره کې لومړی هڅه دا شوې ده چې د تاریخي بلخ د

مشرانو زامنو او لوڼو (پښتنو) نومونه د هستۍ له صفحې څخه محوه کړي (ویل کېږي چې همدا اوس هم د افغانستان په شمال کې دا ډول کارونه کېږي)، نو که د خونړیو تصفیو په سبب د پښتنو قومونو نومونه د ثبت او سجل له کتابونو څخه لوېدلي وي، دا معنی نه لري چې په افغانستان کې د دوی شته والی له منځه تللی وي. پښتنو کوچیانو د هېواد په هره برخه کې د "خرپ او ترپ" په حالت کې ژوند کړي دی؛ دوی که په کلیو او ښارونو کې ځمکې یا کورونه له لاسه ورکړي دي، خو هېڅ جابر طاقت دوی د خپل لوی تاریخي لور یعنی افغانستان څخه و نه شو شړلی. که د هندوکش غرونه هر څو لوړ وو، دوی یې په سر لارې جوړې کړې. د ډیورنډ استعماري پولې هم په خپل لوی تاریخي هېواد کې د دوی د تګ راتګ مخه ونه شوای نیولی. د ژوندانه سختو شرایطو له کوچیانو څخه ښه مولدین او هم ښه پوځیان جوړ کړي دي، دوی تل د کاروانونو په شکل له یوه ځای نه بل ځای ته په داسې حال کې چې نارینه او هم به یې ښځې په وسلو پټې وي، خوځیدلي دي، په دې توګه یې د پېړیو پېړیو په اوږدو زمانو کې د افغانستان په هره برخه (ختیځ، لویدیځ، شمال او جنوب) کې خپل پیاوړی موجودیت ساتلی دی او خپل تاریخي هېواد ته یې خدمتونه کړي دي. په میمنه کې زما د دووکلونو او نهو میاشتو استوګنې په موده کې د افغانستان په شمال کې د ورونو قومونو د ګډ ژوندانه په اړه زما د لیدنو، کتنو او یو څه نورو مطالعاتو لنډیز په همدغه ځای پای ته رسېږي، خو یو څه نوې خبرې هم د یادونې وړ دي.

کله چې د ننګرهار ولایت ته د تګ په لاره کې یو څه موده په کابل کې تم شوم، نو د دې وخت مې هم وموند چې له هغه پښتون انقلابي شاعر او لیکوال سره وګورم چې ماته یې خپل ملګري د قلمي ملګرو په توګه راپېژندلي وو او داسې یوه سپارښتنه یې هم راته کړې وه چې زه باید تل د پښتونولۍ سوتې په اوږه ونه ګرځوم. کله چې ما له ده سره وکتل د هغو سیاسي حالاتو څخه یې خبر کړم چې د دېموکراسۍ لسیزې په درشل کې پټ او ښکاره روان وو. ده ماته وویل چې زه تا پېژنم چې یو نشنلیست یې خو زه هم باید تاته ځان در وپېژنم چې یو مارکسیست یم. بیا یې وویل موږ

د ونې په ډډ کې یو شی کېدای شو. خو په ښاخونو کې به سره بېل وو. ده چې دا خبره وکړه د هغه ټول ملي احساسات او جذبات چې د ده په شعرونو کې مې لوستي وو راته د ژوندیو شیانو په څېر تجسم شول، او یو یو مې د سترګو په مخ کې تېر شو. له لږ فکر کولو وروسته مې ورته وویل: زه حیران شوم چې ته ولې مارکسیست شوی یې؟

ده راته وویل: د پښتنو محرومیتونو له ما څخه مارکسیست جوړ کړی دی، پښتانه په دې خاوره کې اکثریت جوړوي خو د اکثریت (کلتوري) او اقتصادي حقوقو څخه محروم دي. یوازې سوسیالیزم کولی شي چې د پښتنو محرومیتونه لرې کړي.

ما چې د ده سوسیالېزم ـ په سیمه کې له راپېژندل شوي سوسیالیزم سره پرتله کړ، سم له لاسه مې له خولې ورته ووتل کومه نظریه چې تاسې د پښتنو د محرومیتونو د لرې کولو لپاره خوښه کړې ده ښایي د افغانستان په شمال کې ځینو نورو کسانو یا ځینو نورو خلکو ته ګټوره وي، خو کورونه او جوماتونه به په جنوبي افغانستان کې ورباندې وسوځول شي. له همدغه وخته جدایي راغله، زما او د ده لارې سره بېلې شوې خو کله به چې په ناڅاپي توګه سره مخامخ شوو، نو یو او بل ته به مو داسې کتل لکه چې یو او بل د سترګو په تمانچو ولو.

په تېرو (۲۳) کلونو کې زموږ د هېواد پښتنو ما او ده ته ټولو افغانانو او د نړۍ ټولو خلکو ته ډېر څه ور وښودل.

پېښو او واقعیتونو ثابته کړه چې هغه وخت زما پېشبیني او وړاندوېینه حقایقو ته ډېره نږدې وو، خو ده هم د افغانستان له پېښو څخه ښه درس اخیستی و، ځکه خو یې یوې مجلې ته په خپل استولي لیک کې ولیکل: "موږ یو ملت غرق کړ او یو انقلاب مو وشرماوه".

زه فکر کوم چې په دې لنډه خبره د ده غاړه نه خلاصېږي. دی باید لږ تر لږه د حسن شرق یا جنرال نبي عظیمي په څېر د خپلو لیدنو او کتنو په باره کې کتاب یا کتابونه ولیکي جنرال عظیمي په خپل کتاب کې خپل ځان او ببرک کارمل سپین کړي دي. هڅه یې کړې ده چې د خیانت داغونه په تره کي امین او نجیب ولګوي. په دې باره کې د خلکو په سینه کې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپاني پوښتنې د ځوابونو په انتظار سر په سر پرتې دي. په تېره بيا دا چې دا څنګه نظريه ورسره څنګه يو انقلاب و چې بايد زښته ډېر پښتانه په کې ووژل تر دي چې د خلقيانو او پرچميانو پښتانه مشران لکه نورمحمد تره کي، حفيظ الله امين او ډاکټر نجيب دې په کې ووژل شي نور دې ژوندي پاتې شي، بر بر دې وغرېږي يا دې په شاعرانه ژبه کتابونه وليکي. ايا د پښتون انقلابي ليکوال او شاعر قلم مات شوی دی چې ضروري او حياتي حقايق نه رسوا کوي؟

استاد محمد آصف صمیم

# شمال، د پښتنو آر، مېشتون او تاتوبی

کله چې سړی د پښتنو د اصل او رېښې په باب په مختلفو آثارو کې راغلي روایات او نظرونه راسپړي، نو له راوړتي سره دا خبره هرومرو مني، چې :"د پښتو ژبې د اصل او ریښې په باره کې هم د نظر اختلاف تر هغه کم نه دی، لکه پخپله د پښتنو د اصل او نسب په باره کې چې دی".

(تږي، رڼا او دفاع)

خو دا هم یو حقیقت دی، چې په علمي مسایلو کې د اختلاف شتون څوک په حقیقت پلټنه کې لاس اخیستو او نهیلۍ ته نه اړ باسي، پښتانه متل کوي، چې :که غر لوړ دی، پر سر یې لاره ده.

وروستیو څېړنیزو پلټنو جوته کړې ده، چې : پښتون له خپل ژبني نامه "پښتو" سره ګډه آره او ریښه لري او لکه څنګه، چې پښتو یوه ساکي ژبه ده، دغه راز پښتون د ویونکي په توګه هم له سکه (*Saka*) ساکي، تېر سره اړوند بلل کېږي. د پښتون نور څرمه (فرعي) نومونه (افغان، اوغان، روهي، روهیلی او سلیماني) د پټهان غوندې د نورو له خوا پرې ایښوول شوي دي.

(زیار/ پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې)

په سنکسرت کې د اریایانو لومړنۍ څمکه یا سیمه د هندوکش په شمال کې د اکسوس (آمو) حوزه یا د باختر برخې ښوول شوي دي، چې استوګنو یې ګاونډیو سیمو (هند او فارس) ته لېږد وکړ.

له اسلام نه ډېر مخکې د افغانستان په شمال کې د آمو پر غاړو او شاوخوا، د پښتنو د مېشتېدنې خبره خو هغه حقیقت دی، چې له دارمستېټر، ګایګر، امپل بنونېست، نه واخله ان تر پوهاند مارکنستېزن او نورو ختیځپوهانو ټولو په یوه خوله منلې ده.

(روهي/افغان ملت)

چې د ملي یووالي غلیمانو د هغو اوسنیو تنګ لیدیو او تنګ سترګیو تور ته یو غابښ ماتی ځواب دی، چې وایي: "پښتانه شمال ته مېلمانه راغلي دي" یانې دغه تاریخي او علمي واقعیتونه دا جوتوي، چې پښتانه د هېواد په شمال کې نه د مهاجر حیثیت لري او نه د مهاجم؛ بلکې د هېواد د دې سیمې پخواني استوګن دي.

(سمسور افغان/دویمه سقاوي)

له خپلو سیمو او استوګنځیو نه د بېلابېلو اقتصادي، سیاسي، مدني او کولتوري لاملونو له مخې د استوګنو لېږد او هجرت هغه بهیر او هغه چار ده، چې ټبریز او ژبني بدلونونه او علمي پایلې او بریاوې یا مدني لوړ و ځوړ رامنځته کوي.

زموږ موخه دلته د خبرې د دومره وړاندې بیول نه دي، بلکې مراد مو له دې سپیناوي نه د تاریخ په ګواهۍ هغو یوښت ماتوونکیو او د ملي یووالي دښمنانو ته یو علمي ځواب ورکول و، چې غواړي ځان د "ویې نیسه ، چې ودې نه نیسي" په کوډو له دغه راز ګوزاره وژغوري او خپله راپوریوتنه او پردیتوب ددغسې یوې دښمنېزې دعوې او تور په پرده کې ونغاړي او هغه هم په داسې ستغه او سپوره ژبه، چې نه یې علم او ادب اجازه ورکوي او نه هم فرهنګ، خو د "فرهنګ" دعوه ګیر یې د فرهنګ د مینه والو په توګه کوي.

پښتانه متل کوي، چې :که شپه تیاره ده، منې په شمار دي" نننۍ بشري حقوقي آرونه هم قومونه او خپلونه د انسانیت د سترې ونې څانګې بولي او د بشر د حقوقو د اعلامیې د حکم په رڼا کې په بشري ټولنو کې د بېلابېلو خپلونو، اولسونو او قومونو شتونِ خپلمنځي منلیو حقوقو ته په پاملرنه د ټولنیز ژوندانه د پایښت تضمین کوي او د اسلام سپېڅلی دین هم خپلونه،

قومونه او ځانګې د "انسانيت" له لمر نه د هغو ذرو په څېر ګڼي، چې شتون او څرګندتيا يې له لمر نه د چورليدو په صورت کې جوتېدای شي او د خپلونو او قومي ځانګو شتون يوازې د خپلمنځي پېژند پر بنسټ ارزښتمن ګڼي، نه د ټکر او خپلمنځي تمبونې (دفع) پر بنياد.

وروستنيو علمي او ډيموګرافيکو (سرشمېريزو) کورنيو او بهرنيو مؤسسو په افغانستان کې د خپلونو او قومونو پر سلنه ډېرې ژورې او دقيقې څېړنې کړي، چې يوه هم. له ۱۹۹۱-۱۹۹۶ ع پورې هغه څېړنه ده، چې د واک فونډېشن له خوا سرته رسېدلې او په دې وروستيو کې "د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز" له خوا په لويه کچه (۴+۸۶+۹۹+۱۸= ۲۰۷) مخونو کې چاپ شوه او نوم يې دی "د افغانستان قومي جوړښت".

بل دې ته ورته علمي او تحقيقي اثر د پروفيسر داکټر ګلجان وردګ هغه څېړنه ده، چې "د افغانستان په شمالي ولاياتو کې د پښتنو استوګنځي" نومېږي او په لويه کچه په ۳۷۸-۷ مخو کې د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ له خوا پر ۱۹۹۷ کال خپور شو.

خو مخکې له دې، چې ددغو دواړو څېړنيزو آثارو د څېړنې په رڼا کې په بېلابېلو پښتونمېشتو سيمو کې د پښتنو سلنه يوازې په دې نيت راواخلو، چې زموږ د ملي يووالي اډانه او ځاندره يوازې ملي واقعيتونو ته په درناوي پاتېدای شي، د هغو ښاغليو او د فرهنګ دعوه ګيرو "فرهنګيانو" علمي(!) نظرونو ته لږ خير کېږو، چې د خپلې "فرهنګي" دعوې شمله په پښتون دښمنۍ جګول غواړي، دا خپلوژ او پرديپال (خود کش، بېګانه پرست) په دې هم نه پوهېږي، چې که دوی پرحقه وای، نو هېواد دښمنه هېوادونه، ټولنې او عناصر يې ولې مادي او سياسي ملاتړ او هڅونه کوي؟.

که دوی رښتيا هم خپل فرهنګ او خپل پېژند ته رښتيني وای، نو د "اوښ د بار پر ځای د اوښ په ګينګړي (جرس) پورې ولې نښتي دي؟.

که رښتيا يې هم د خپلې فرهنګوالۍ دعوی رښتينې کولای شوه، نو دا به يې نه کول، چې:

"پرې ناست يې،، پريکوې هم هغه ځانګه".

که ربښتیا هم فرهنګوال او فرهنګیال وای، نو دا حقیقت به یې منلی وای، چې:

"خان یې په یاران یې"

او دا به یې منلی وای، چې په پردیو څوک نه درنېږي.

خو که دغه ښاغلي بیا هم زموږ دغه د مشرولۍ ورغځولی لاس، لاس نه، تش لستوڼی بولي، نو بیا خو پر نورو (موږ) باندې د بلوسګرۍ دعوی د فرهنګ له دعوې سره خیانت دی.

په هېواد کې د پښتو د ودې او پراختیا د هڅو دښمن "فرهنګ" د هغو پښتنو چارواکیو، چې له دعوې سره سره یې تکی پښتو ویل کولتوري جرم بالـه، دا هڅه، چې ښوونه روزنه دې په پښتو شي، له هټلري فاشیستۍ سره سمه ګڼي، وایي:

"پس از آنکه در سال ۱۹۳۳ هتلر رهبر حزب ناسیونال سوسیالست المان زمام قدرت را در دست گرفتند.

اینها نظر محمد گل را در باره تعمیم زبان پشتو و طرد سایر(!) زبان ها از خود نموده، پس از انکه انرا با آب و تاب هتلری جلا و صیقل دادند، بعنوان سیاست جدید فرهنگی در محل تطبیق گذاشتند، این وقتی بود که در سطح بین المللی، المان نازی باوج قدرت رسیده و دور نمای پیروزی نهایی و حتمی ان عنصر زورگو و فاشیست مزاج در همه جا بسوی خود جلب میکرد. در افغانستان در قدم اول درین راه توسط فرمانی برداشته شد. که در شماره ۲ حوت سال ۱۳۱۵ مرادف با ۳ مارچ ۱۹۳۷ میلادی راجع به زبان پشتو در جریده اصلاح نشر شد.

*(افغانستان در پنج قرن اخیر، ۴۲۶-۴۲۷مخ).*

همداراز ښاغلی فرهنګ خپل تاریخي مېشتغالي او تاتوبي ته د پښتنو په ستنېدو داسې په کرکه ګوري، وایي:

"محمد گل مومند، خانواده های پشتون را حتی از خارج سرحدات افغانستان به تعداد زیاد به شمال هندوکش کوچ داده، با دادن زمین و دیگر امتیازات.اسکان و در ماموریت هم به پشتو زبانان ترجیح میداد".

*(همدا اثر،او مخ)*

د ښاغلي فرهنگ يو بل نوموړکی لاروی، يا لاروي هم د پښتون دښمنۍ په مبارزه کې دده پر پله تر ده تېز تللي دي:

د ليکونکی په کتابتون کې يوه څلور مخيزه، ټايپ شوې ليکنه ده، چې نه ليکوال لري او نه د خپرېدو ځای او کال، خو سرليک يې دی: "يکصدو پنجاه سال اپارتايد در افغانستان" چې په يوه برخه کې يې راغلي دي:

"افغانستان کانون تبعيضات نژادی، لسانی، مذهبی، اقتصادی و منطقوی است. اين تبعيضات که در مجموع ميتوان آنرا اپارتايد پشتونی ناميد، توسط شاهان غاصب پشتون از قرن ۱۸ بدنيسو در افغانستان رشد و نمو کرده و به يک سيستم سياه و ضد انسانی به تبانی در باريان قاجار و امير دوست محمد محمد زايی بطور بسيار بطی بوجود آمد و در زمان امان الله (۱۹۱۹-۱۹۲۸) پادشاه ناسيونالست و روس طلب پشتون و محمود طرزی پايه های آن طراحی گرديد، با گذشت زمان بعدها منافع انگليس، امريکا، شوروی و چين با منافع پشتون شاهی در يک مسير قرار گرفت.

افغانستان مانند اسراييل سخت مورد توجه سياستهای مودرن امريکا و شوروی قرار گرفته است. هر دو ابر قدرت با سرمايه گذاريهاييکه برای حفظ سياست پشتون شاهی در افغانستان بعمل آورده اند. ديگر اين کشور فقير و نادار را به کشتارگاه وحشتناکی که بدتر از قتلگاههای هتلر در المان نازی است، تبديل نموده اند.

اپارتايد پشتونی بمثابه طاعون خطرناک و مسری(!) (ساري) بجان و مال اقوام و نژادهای بومی غير پشتون مسلط گرديده و به غارت و چپاول بيرحمانه در طول (۱۵۰) سال اخير ادامه داده است."

د يو موټي هېواد او ملت په دښمنۍ او د ملي يوښت پر سر په گوزار کې يوازې دوی يوه خوله او يو لاس نه دي، تر دوی نورو درنو ستنو (په لوی سر کې د پښتونولۍ له دعوې سره سره) هم ددې رسۍ سر نيولی دی. ملي مؤرخ او ليکوال غوث خيبري پخپل يوه تازه خپاره شوي اثر "پښتانه د کلتوري ښکېلاک په زنځيرونو کې" په يوه برخه کې ليکي:

"استاد خليل الله خان خليلي (د مطبوعاتو مستقل رئيس) خو ان په پښتو ژبه د ولسي جرگې د وکيلانو د وينا راپورتاژ نشرېدلو ته نه پرېښود." (۴۰۴ مخ)

وړاندې ليکي:

"پر ۱۳۳۸ کال زه د کابل راډيو د "پښتون ږغ" د مجلې مسوؤل مدير وم، زما مرستيال يو حسابي سړی و، چې عبدالمتين اندړ نومېده او د غزني د سيمې اوسېدونکی و، ښه د عقيدې خاوند، کلک پښتون و. يوه مياشت يې د ليکوالو د حق الزحمې لست د پښتو مکتوب (ليک) په ملتيا د محاسبې لوی مديريت ته ورواستولو، ليکن هغو هغه لست په دې دليل، چې مکتوب يې په پښتو دی او د کنترول او محاسبې مامورين ورباندې نه پوهېږي، بېرته راولېږلو او زموږ د لايلو ته هم مقاماتو غوږ ونه نيوو.

*(همدا اثر ۴۱۱ مخ)*

# بدلژبي پښتانه

## "که وبشتلی يم. خو بيا پخپل ټوپک يم"

زموږ په ټولنه کې يو زيات شمېر پښتانه په ژبني لحاظ مسخ شوي دي.

د هېواد ستر او نوماند محقق او ليکوال اکاډيمسين پوهاند عبدالشکور رشاد د خپل يوه يادښت په ترڅ کې دا يو دوه بېلگې وړاندې کوي، چې زموږ ددې پورتنۍ ادعا ټينگ ملاتړ کوي، استاد وايي:

متين خان اندړ راته وويل: يو وخت زه د کابل په چهاردهي کې جبارخان کلا ته ولاړم، چې له رئيس تميز عبدالرب خان اندړ سره ووينم. کلا ته نژدې دده زوی په مخه راغی، د پلار پوښتنه مې ځنې وکړه، ده راته وويل:" او کتی قومايش در مهمانخانه شسته".

*د محمد گل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه/۳۶ مخ*

استاد وړاندې وايي:

يو وخت زه په لېننگراد کې وم، د ختيځ پېژندنې له پوهنځي څخه ټيليفون راته وشو، چې :"يو ډاکټر د عالي تحصيلاتو په نيامت له افغانستان څخه دغه اوس رارسېدلی او ستا په لټه کې دی" ما چې په ټيليفون کې له نوي مېلمه سره خبرې وکړلې، ومې نه پېژانده، خو د

وطنداری په خاطر مې ورته وویل: دغه دی دستي دررسېږم. زما لار څاره.
زه چې پوهنځي ته ورغلم، له نوي راغلي وطندار مېلمه سره مې روغبړ وکړ، اب شی ژیت (لیلیې) ته مې بوته. ځای مې ورونیوه. ښاغلی ډاکټر... چې خدای پاماني راسره کوله، تر کورودانۍ وروسته یې دا هم راته وویل:"
مادر کلان مه نورزایي بود".

*همدا اثر. ۳۷ مخ*

همدا راز د پښتو وتلی نقاد لیکوال استاد سعدالدین شپون هم خپله یوه خاطره یادوي وایي:

د بېتاب نوم خو به مو اورېدلی وي، عبدالحق بېتاب د فارسي ژبې یو شاعر و، په پوهنځي کې زموږ د بدیع (چې دوی هغه وخت علم بالـه) استاد و. دده او خلیلي (چې بیا وروسته پوه شوم، دواړه په قام ساپي او تربوران دي) په ملک الشعراء کېدو مقابله وه، خو د ځینو سیاسي دلایلو په وجه بېتاب ملک الشعراء شو. یوه ورځ د تفریح په وخت کې ما د مندتو یوې ونې ته تکیه ډهلې وه، پام مې شو، چې بېتاب صاحب د کوم کلیوال سره، چې دده سره یې کار و، خبرې کولې. غوږونه مې څک کړل، کلیوال په پښتو د بېتاب صاحب نه لکه چې پیسې غوښتې، که ګورم د بېتاب صاحب اواز راغی، "ځو ځلې مې درته ویلي، چې ما سکه پیسې نشته" اریان دریان پاتې شوم، چې دا خو پښتون دی، نور غوږ مې هم ونیو او بېتاب صاحب په کره، سره او نره پښتو او ان چې د کلیوالو په لهجه په پښتو ګډ و. ما د ځانه سره ویل، کور یې ګډ کړې، چا فکر کاوه، چې بېتاب دې پښتون وي؟ بېتاب به په عمر کې یو پښتو توری که دروغژن نه شم، نه وي لیکلی.

د "من لاله ازادم" په نامه ښکلی شعر ویونکی ابراهیم صفا هم همداسې درواخله، ایله دلته په امریکا کې چې مې دده زوی ډاکټر موسی صفا ولید، چې بې چوخه پښتو وایي، پوه شوم چې ابراهیم صفا پښتون و، د هغه ورور انور بسمل هم همداسې.

*(رنځا او دفاع. د محمد حسن کاکړ تولونه. ۲۳۹ مخ)*

د هېواد په بېلابېلو ولايتو کې د بدلژبيو پښتنو يادونه د "افغانستان قومي جوړښت" ليکوال داسې کړې ده:

په هرات کې برسېره پر توخو او ترينو ځينو عليزيو، پوپلزيو او بارکزيو پښتنو قومونو هم خپل ژبنی او کلتوري هويت له لاسه ورکړی دی. برسېره پر سدوزيو، محمد زيو، فرمولی پښتنو هم خپل ژبنی هويت له لاسه ورکړی دی.

په بدخشان کې يو شمېر درانيو او وردګو پښتنو خپل هويت پرېښی دی.

په باميانو کې هم په همدې ډول، وردګ پښتانه په فرهنګي لحاظ دل شوي دي.

په فارياب کې هم وردګ پښتانه د ژبې له پلوه له ځانه ورک شوي دي.

په کابل، پروان او کاپيسا کې خو ډېر پښتانه په همدې برخليک اخته دي.

واک فونډېشن د خپلې ساحوي سروې او څېړنې له مخې پر زونونو د پښتنو د وېش په لړ کې په شمالي زون کې افغان قومونه داسې ښوولي دي:

شمالي، لويديز زون (بدخشان، تخار، کندوز، بغلان، سمنګان، بلخ، جوزجان، فارياب، بادغيس هرات) ددې زون په سلو کې ۳۹ اوسېدونکي پښتانه دي، چې د ټول افغانستان د نفوسو په سلو کې ۱۳ کېږي. ياني د افغانستان په ټول نفوس کې په سلو کې (په سلو کې له نژدې ۷۳.۶۳۰ پښتنو) څخه ۱۳٪ په دې (شمالي، لويديز) زون او پاتې ۵۰٪ پښتانه د کوچيانو په ګډون د هېواد په نورو زونونو کې مېشته دي. په بله ژبه ددې زون څه کم نيمايي اوسېدونکي پښتانه دي. (د افغانستان جوړښت ۵۶ مخ

## *شمال، پښتانه او محمد ګل خان مومند، مومند بابا:*

د "افغانستان در پنج قرن اخير" ليکوال د سترګو د اغزي په توګه اروابناد محمد ګل خان مومند بابا په دې تور غندي، چې "پښتنې کورنۍ يې حتی د افغانستان له پولې - سره له دې چې پخپل تاريخ (!) کې پوله نه مني - بهرنۍ کورنۍ زيات شمېر د هندوکش شمال ته راولېږدولې او د

ځمکو په ورکولو او نورو امتیازونو سره یې مېشته کړل او په ماموریت کې
یې هم پښتو ژبیو (نه پښتانه) ته لومړیتوب ورکاوه" ۴۲۶ مخ

خو هسې نه، چې په شمال کې د پښتنو پر تاریخي او لرغونې مېشتېدنې بیا راغبرګ نه شو، یوازې دغه د اتلسمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي په وروستیو کې یانې د وزیر بابا له مېشتونې په څه کم دوه پېړۍ وړاندې مېشتونې د ښاغلي فرهنګ د اروا غوړونه خلاص کړو. کېدای شي ده به هم لوستي وي، چې:

" د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د پښتنو استوګنه د نادر افشار په وخت د نظامي خدمت په مقابل کې پیل شوې وه او زرګونو کورنۍ په شمالي او شمال لویدیزو ولایتونو کې استوګنې شوې وې، نو ځکه د دوی دا استوګنځایونه او شمېر د تاریخي اسنادو د قیدولو په بڼه ملي او نړیوال ارزښت لري.

*د افغانستان په شمالي ولایتو کې د پښتنو استوګنځي/ ۱۳ مخ*

که د "فرهنګ" د اروا سر پرې خلاص شوی وي، نو ددې لیکنې د پایلې په توګه به د ښاغلي مخور مشر غلام زرملوال دا وینا واوري، چې:

راځۍ له انصافه به نه تېرېږو، هغه څه چې د مثال په توګه پښتنو، چې زموږ د هېواد اکثریت قام دی، له نورو افغاني قامونو څخه زیات لرل. څه وو؟ په اصل کې که خدای ته مخ کړو، بنده ته شا کړو، په افغانستان کې پښتنو ته خپل حق نه و رسېدلی، د اقتصادی خوا غریب وو، د ماشومانو دپاره یې ښوونځی نه و او د روغتیا دپاره یې روغتون نه درلود، که تاسو په رښتیا په حکومتي دستګاوو کې د دوی برخه وڅېړئ، نو درته څرګنده به شي، چې پښتنو ته خپل حق نه و رسېدلی. په اداره کې، په پوهنه او روزنه کې او کتاب کې د پښتو ژبې برخه په هېڅ شمارېدله او تاسې ته څرګنده ده، چې تعلیم یافته د پښتنو، لکه څنګه چې په پښتو خبرې او لیکنې کولې، په هغه اندازه په دري ژبه خبرې کولې. خپله ژبه یې بلله، بولي یې، مګر هغه څوک چې وایي، په افغانستان کې پر دوی ظلم شوی دی. خپل ګربوان ته دې سر ټیټ کړي، ایا ادعا کولی شي؟

راځئ چې د پکتیا، ننګرهار، پکتیکا، کندهار او هلمند په دښتو کې وګورو، چې آیا د هغو اولسونو ژوند په دښتو کې د اوسېدونکیو ازبکو، یا ترکمنو، هزاره ګانو او تاجکو تر ژوند ښه دی؟

*غلام زرملوال/ ژوندی خاطرې، ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي ۱۹۹۷ - بي بي سي - ۱۸۶-۱۸۷*

قدرت الله حداد

# پښتانه د بشري تاريخ لويه برخه

له نيکه مرغه نن تاريخ پوهان هغه حقايق څرګندوي چې دوی ته په علمي توګه په لاس ورځي. په دې ترڅ کې هغه اړيکي چې د پښتنو د تاريخ تر منځ شته د دغو اړيکو شتون، د ډېرو څېړنو لپاره لاره هواروي.

په ۱۳۰۷ ل هـ کې زما ورور چې په جرمني کې و، چې د برېښنا د انجنيرۍ درس يې وايه. په کابل کې يوه عکاسي خانه د توفيق په نامه جوړه شوې وه، هلته زما پلار او ورونو يو عکس واخيست او زما ورور ته يې جرمني ته ولېږه.

کوم يو جرمني چې عکس ليدلی و، ويلي يې وو دا د اندواروپايي اصلي څېرې ښيي، دا خبره زما ورور پلار ته وليکله.

پلار مې چې دا خبره ولوستله نو ويې ليکل چې زويه موږ نه "اندو" نه "اروپالي"، موږ پښتانه يوو، دغه د اندو اروپايي اصطلاح اروپايانو ايستلې وه چې يو ډول اعتراف دی چې دوی، جرمنيان له دې لوري هلته تللي دي، مګر که تاسې د اريايانو خط السير وګورئ په هند پورې هېڅ اړه نه لري، د افغانستان له شمال څخه په دريو لارو وتللي، د امو له شمال او د امو سيند له جنوب نه منځنۍ اروپا او د مديترانې غاړو ته تللي، درېيم له هندوکش له غره تېر شوي، شمالي هند ته تللي دي، نه اريايان او نه د هغوی ژبه له هند نه راغلې ده او له اروپا او لوېديځ نه دا د اندويورپ خبره

بېخي ډېره شوې ده، د دغه حقیقت روښول یوه علمي مجادله غواړي څو یو فزیکي حقیقت څرګند کړي.

که څېرې مونږ پر پښتنو یوازې خبره و نه تړو نو پښتانه ډېر معتبره قومونه لري، چې هغوی پښتانه دي او په شمېر کې ډېر دي. په بشري فعالیتو کې ډېره برخه لري هر ځای ته رسېدلې دي او هرې قارې ته او دغه پیاوړی قوم "ساک" دی چې سکا، سکیت، سکیتین او ساکا، ساکاز Sakas بلل کېږي، په ډېرو لیکنو کې د سکاساکاز او سکتین خبرې او کیسې راغلې دي.

د سکاټلند په تاریخ کې ویل شوي چې دوی شپږ زره کاله دمخه له لوېدیزې اروپا څخه اوسني سکاټلند ته راغلي. دوی د پکت په نامه یادېدل، س یا S د جمع لپاره په کارېږي چې پکتس Pects شي یا په جرمني کې د ساکسنیا ولایت چې هلته په ۱۹۹۹ م کال کې د ساکو خزانې وموندل شوې، د باکتر، بلخ، پاکتي، بختي، بخدی دا ټولې کلمې یو له بله اړوند دي.

چینایي منابع کوچې ته (یوچي) وایي، په لوېدیځ کې کوشی او بیا کوشانیان ویل شوي چې دا د لهجو او تلفظ خبره ده. کله هم د ځینو تورو نه درلودل دي لکه عربي کې د (پ) توری نه شته جاپان او پاکستان وایي هم یې لیکي.

باکتر یا بلخ او باختر په شمال او په جنوب کې باکتیا، پاکتیا، پکتیکا اوسنی لهجه کې پښتونخوا هماغه یوناني پاکتسیا pacticya دی.

یوه نظریه داسې وه چې یو نیم زر کاله پخوا تر مسیح اریایان له شمال ختیځ نه افغانستان ته راغلي بیا دا نظریه سمه نه راخېژي چې د سند، اندوس، اباسین حوزې ته کله راغلي؟ چې د سند مدنیت تر هغه زوړ دی.

له بده مرغه چې باکتر، سند او د هغه مدنیت، کوشانیان، ساک او ساکستان وروسته سیستان هر یوه باندې یې هندوستان، ایران، روس تاجکستان دعوی کوي، چې دا زموږ دی او خورا په ډاډه زړه دا خبره کوي.

موږ هم د دنیا غمونو اخېستي یو او د رحمان بابا دا خبره زړه ته نه غورځوو چې وایي:

دواړه نه کېږي رحمانه
یا به یار وي یا به دار

دا ډېره لېږې خبره برېښي چې د افغانستان علمي ټولنې دې سرحد ته ورسېږي چې د دغو غلطو مفاهیمو اصل حقیقت د نړۍ علمي ټولنو دایره المعارفو او تاریخي کتابونو ته ورسوي او هغه غلط ټکي سم کړي. د اندو اروپایي په مفهوم کې د ژبې او ځمکې حقیقت خپلو ملي ګټو او هم واقعیت ته راګرځول اسانه کار نه دی، په داسې حال کې چې افغانستان به يې اوس نه پېړۍ وروسته له صفره پیل کوي.

فـــال څه ګوري رحمانه
خپل افعال د سړي فال دی

"لکه ړوند د بل پر اوږه لاس کېښږدي، هېڅ لوړه ژوره نه وي ورمعلومه او لکه خدای را پېښه نري لار کړه نالیدلي لکه ورانه ماشوړه سرګرومه."

(تاین بی) تاریخپوه او فیلسوف وایي: "سړی چې تر اویا کلو تېر شي په ډېرو واقعیتونو پوه شي، نو بیا يې ویلي نه شي". د دې لپاره چې ټولنې یو شکل خپل کړی وي واقعیت نه شي پېژندلی، له چاپېریال سره بدلېدل یوه طبیعي خبره ده، کله چې بشپړ بدل شي بیا پخوانی سړی نه دی یا په بل عبارت مړ شي، خو ژوندی وي.

ژبه او هڅوب دواړه له ټولنې سره اوچتېږي یا لوېږي، ژبه او هڅوب خلک ساتي، خلک ژبه او هڅوب. هڅوب یوه پښتو کلیمه ده چې له هڅې سره تړلې ده، په اروپایي ژبو کلتور یا کلچر، ثقافت عربي، فرهنګ یا پارسي کې، مګر هڅوب خپلې معنی له مخې بشپړه کلمه ده.

### *کلتور: - انتروپولوجي او ارکیالوژي:*

کلتور یا هڅوب یو اصول دی چې ټولنه يې په ځان کې مني، چاپېریال او بشري ټولنې له زرهاو کلونو یوې ټولنې ته شکل ورکوي او ټولنه کولای شي له چاپېریال، پېښو (حوادثو) او بدلونو سره مقابله وکړي.

Archaeology-3 Anthropology-2 CULTURE-1

(c) ketabton.com: The Digital Library



*د تاریخ پوهنې ضرورت له وګړو سره*

*پرون، نن او سبا پېژندنه:*

تاریخ سړي ته اوږد عمر ورکوي. یو تاریخ پوه سوچمن دی، چې د ده ژوندون خورا ډېر دی، دې له پرون څخه خبر دی نن وینې او د سبا اټکل کولای شي.

د انسان ژوند پر ځمکې باندې د لوېدیزو تاریخ پوهانو له سترګو تر پینځه میلیونو کلونو پورې لرغونی دی، مګر هغه تاریخ چې لیکلي اسناد لري تر پنځو زروکلونو نه اوړي.

علمي یا ساینتیفیک Scientifice او متریالیستیک (مادي) د ځمکې لټونې، ارکیالوجي کار دی او له هغې مخې دا ده چې بنسټیز هڅوب کلتور، د هغوی د ژوندانه لاره او اصول او د ټولنې پرمختګ او بدلون څرګند کړي.

کله چې یو زوړ ښار موندل کېږي د همغو خلکو کلتور، د ژوند طریقه او پرمختګ څرګندېږي.

*د لیکلو لارې دا وې:*

لومړی: دوی به لمده خټه هواره کړه، لیکل به یې پرې وکړل بیا به یې لمر ته کېښوده چې وچه شي، بیا به یې تودوخه ورکړه بیا به یې کڅوړه ور واچوله او ستوله به یې.

دویم: د لویو یو ټکی به یې د کاغذ په توګه په کارول او همدا د کاغذ پیلانه ده.

درېیم: د ښارویو پر پوټکو، لیکل یوه معنی لري، یوه سپینه پاڼه تر هغو اهمیت او ورتیا نه لرله څو یو څه پرې ولیکل شي بیا سند شي او یوه مسئله پرې ثبت شي.

*تاریخ پېژندنه:*

ارکیا لوجي ARCHAWOLOGY د ځمکې کندنه د لرغونو وګړو د ژوندانه وسایل موندل.

**ANTHROPOLOGY** انتروفولوژي:

دا د وګړو ټولنيز ژوند څېړي، چې يو له بل سره څه ورته والی او څه توپير لري او څنګه د مهال له بدلېدو سره بدلېږي.

انتروپولوجيست دا هم ګوري چې انسان څنګه د يوه ژوي په توګه له څه ډول بدلونو سره مخامخ شوی.

مسعودي وايي: سپين اريايان چې هند ته لاړل د هغه ځای له تودې هوا او چاپېريال سره تور شول په غرو کې بل ډول اغيزې وي.

خواړه، ځمکه وچه هوا او لمده لوړه ژوره ټول هغه عوامل دي چې د بېلو علومو متخصصن يې څېړي او تاريخ يوازې هغو ته نه دی پاتې چې حالات وليکي د هغه تحليل او تجزيه د نورو پوهانو کار دی.

امکان نه لري چې يو سړی د تاريخ په ټولو اړخونو پوه شي، ځکه تاريخ له طب، ستوري پېژندنې، فزيک، کيميا هر هغه څه چې د نړيوالو ژوند بدلوي لکه برېښنا، د انرژۍ سرچينې او نور له هوايي سفرونو او ترانسپورټ تر کلتور، ټولنه پېژندنه، فلسفه او اديان... ټول يو تاريخ لري، جغرافيا او چاپېريال، تاريخ په زره پورې او ګټور مضمون دی، تاريخ پوهانو ډېر داسې شيان پېژني چې اوس شتون نه لري او موجود نه دي.

## *کلتور او هڅوب:*

د کلتور لپاره ثقافت او فرهنګ هم کارول کېږي، خو هڅوب په پښتو کې چې له هڅې څخه اخېستل شوی، تر ټولو پخه او ښه ښه ولي.

هره ټولنه يو کلتور لري چې د هغې له مخې پېژندل کېږي. هڅوب يا کلتور ټولنې ته شکل ورکوي، چې له مخې يې له نورو ټولنو سره توپير څرګندېږي هر هڅوب خپل کړه وړه او عادتونه لري چې د هغې له مخې پېژندل کېږي: اقتصادي، ټولنيز، قضايي اصول او اخلاق چې د ټولنې هر يو غړی د هغه په منلو ځان اړ بولي.

هڅوب له يوه نسله بل (کول) ته رسېږي، ګروهنې، (عقايد) دين ورځنې مفاهيم يو بل پوه کول او خبرول خپل معلومات شريکول دا ټول يو لاس د ټولنې کلتور ښيې هڅوب خلک په ټولنه کې سره نژدې کوي.

سوړ ژمي او تود اوړی د دوی کالي د ژمي او دوبي په څېر وي چې په ژمي کې تود وي او په اوړي کې سوړ، د دوی کالي، ژبه دودونه یو شانې وي.

کله چې پښتانه د افغانستان شمال کې اوسېدل. دوی چپنې اغوستلې. وزیر محمد ګل خان چې د شمال د تنظیمه رئیس و. پښتنو ته یې وویل چې چپنې مه په ځان کوئ او لنګوټې د پخوا په شان تړئ. دی پوهېده چې دا د چاپېریال اغېزه ده، ورو‌یې خویونه او عقاید بدلېږي. دا خبره موږ د هند او ایران په پښتنو کې وینو. ژبه کالي او دودونه چې بدل شي بیا پښتانه نه بلل کېږي. دوی یو یا دوه نسله ځان پښتون وساتي، خو دا څرګنده چې چاپېریال او نوې ټولنه دوی جذبوي. په دې برخه کې داسې مثالونه شته چې نه یې بدلوي لکه د کشمیر پښتانه.

د افغانستان هندوان او سکهان چې پېړۍ پېړۍ یې کلتور حتی خپل رسم الخط ساتلي دی، دا یې ښه کړي که نه، اوس به یې نښه نښانه نه وای.

پښتانه په دې خبرو پسې نه دي ګرځېدلي، یوازې تایلند پښتانه که درېشي ولري، بیا هم پګړۍ تړي.

په کال ۱۳۸۰ - ۱۳۸۱ چې په امریکا د سپتمبر د یوولسمې پېښه وشوه، مګر ډېرو مسلمانانو خپل کالي بدل کړي نه وو، په داسې حال کې د دې لپاره چې د نیویارک تجارتي مرکز وهلو کې ډېر عرب لاس و او امریکایانو مسلمانانو ته په ښه نظر نه کتل او حتی یو سکهـ په نیویارک کې چې امریکایانو یې له مسلمان سره توپیر نه شو کولای وواژه.

یو انتروپولوجېست اید وارډ تایلر Edward Tylor هځوب داسې بیانوي:
کلتور د پوهې، عقایدو (ګروهنې) هنر، اخلاق، قانون رواجونو، خویونو، یوه مجموعه ده چې د ټولنې خلک ځانته رابولي.

ارکیاجي، څمکه کندنه او د تېر تاریخ د ژوند وسایل را ایستل او د هغوی هځوب پېژندل دي.

د انتروپولوجي د ټولو خلکو دغه ځانګړي هځوب یو بل سره څرګند وي. دغه درې ډوله پوهنې له تاریخ سره تړلي دي.

ځکه تاریخ، ارکیالوجي او انترویولوجي سره اړوند دي او بلېدای نه شي.

*بشري ټولنه او تاریخ:* تاریخ ښيي چې پخوانو خلکو څه ډول کار کاوه، کومه تکنالوجي یې درلوده، یو بزگر قولبه کوي هماغه یې تکنالوجي ده چې ځمکه تخم ته جوړوي، مفکوره همدا وي بیا یې لاره ماشین (تراکتور) ته جوړه شوه.

همدا ډول دوی کالي اوبدل، هماغه اوبدل لومړني وسایل، و اوس ماشین دی یعنی زرهاو کاله مخکې بشر تکنالوجي درلوده هماغه بشپړ شوي دي بشر له تاریخ سره تړلی دی او له تاریخه خپل سبق اخلي.

## *د افغانستان تاریخ د بشري مدنیت له مخې:*

په نړۍ درې مدنیته ډېر لرغوني دي سند، بین النهرین او نیل، په دې کې تر ټولو لوی، لرغونې، پر مختللي د سند مدنیت دی چې افغانستان په هماغه حوزه کې دی یعنې د اباسین په دواړو خواوو کې د کابل سین له اباسین سره یوځای کېږي.

مور د سند مدنیت ته چې په نړۍ کې د لرغوني په توگه تر ټولو لوی او پرمختللی دی، دوه نور مدنیتونه هم لرو چې باکتر او ساک دي دا دواړه هغومره اهمیت لري لکه چې د سند مدنیت یې لري.

## *افغان او افغانستان:*

د افغانستان مفهوم د میرویس نیکه ۱۷۰۹م، احمد شاه بابا ۱۷۴۷م له شتو سره شتون لري. میرویس نیکه د عدالت پلویانو ته غږ وکړ چې د ظلم په مقابل کې پاڅي، د نسل او نژاد خبره یې نه ده کړې نو برسېره پر پښتنو نور قومونه هم ور سره ودرېدل. لومړی بلوځ و، بیا نور په ایران کرد، عرب، زردشتیان، سنیان... یعنې افغان هغه دی چې عادل وي او د ظلم مخالف.

احمد شاه بابا د میرویس نیکه په اصولو دارالامان وباله یعنې هر چا ته د امن ځای دی، د عدالت پلویان دلته اوسېږي. شاعر د احمد شاه بابا دوره داسې څرګندوي:

یوه غمجنه څېره نه لیدل کېږي د ده په دور کې
که ټوله نړۍ یو مخ هېنداره شي

د دغو دوو باباګانو سیاسي او اخلاقي اصول په نړۍ او د نړۍ په تاریخ کې ساری نه لري. دا چې تر اوسه دغه اصول نه دي تشریح شوي، خدای دې رحم وکړي.

یو بل ته مسئولیت درلودل دا دي چې خوشال خان شېرشاه سوري ته مسئولیت لري او وایي:

و مغــــلو ته به هغه چار ښکاره کړمه
چې راضي راځخه روح د فرید خان شي

فرید خان د شېرشاه نوم دی، کله چې ده زمری وواژه شېرخان شو، بیا چې پاچا شو شېرشاه دغه ته وایي (ترقي) په پښتونولۍ کې همدا ترقي وبولي چې شیرشاه د زمری له وژلو پیل او بیا امپراتور شو.

احمد شاه بابا وایي:

د حمید او د فرید دور به بیا شي
چې پـــه توره پښتانه کا ګذارونه

حمید لودي سلطان د هند پښتون پادشاه فرید امپراتور شېرشاه سور، یعنې اوسني پښتانه خپل تاریخ او تاریخي باباګانو ته مسئولیت نه لري، خدای دې ورحمېږي خدای دوی ته ورکړه بې مسئولیته ژوند.

بیا دې خدای لــه هغو پښتنو سره ښه وکړي چې پښتو او پښتونولي ساتي، ځکه همدغه هڅوب دی چې وګړو ته څېراو ډول ورکوي یعنې شکل او صورت، هر ګوره که چا ته چې وویل شي بې کلتوره ښه خبره نه ده، د کلتور او هڅوب خاوند ښه بللي شي.

فیروز شاه د ډیلي پادشاه و (۱۲۹۰ م ۱۳۲۰ م) خورشید جهان لیکي، د فیروز شاه پـه دربار کې (پښتو او پښتوبازي) ډېره وه تاریخ دایره المعارف داسې وایي:

Th Khalji dynasty of Delhji was faunded by Firoz of the Khalji tribe of turks, lang residdent among Afghans

د خلجي لړۍ په ډيلي کې د فيروز لـه خوا کښـېنـودل شوه. خلجي د ترکو يـوه قبيلـه ده چې د افغانـانـو تـر مـنـځ ډېـره مـوده اوسـېدلي ده .دغـه دايـره المعـارف پـه دوه زرم مـيـلادي کـال کـې خـپـور شـوی دی. د افغانسـتـان او افغانـانو پـه برخـه کې پـه سلهـاوو داسـې مسـايل لري چې سمول غواړي دغه کتاب دومره 'وستونکي لري چې دا دی د شپږم وار لپاره چاپ شوی.

موږ داسې وايـو چې خلجيان، غلځيان، د پښتنو ډېر لوی پياوړی قوم دی. تـرک يـو پښـتـون قـوم دی چـې اوس تـره کـې بلـل کېـږي، غلـځ او ترکهارسيان وايي او انګلسي ته هم د دوی ورغلي.

مـوږ بـه څومره داسې غلط معلومـات چې پارسيانو، هـنديانو او نـورو ورکړي دي، اصلاح کوو. پـه داسې حال کې چې موږ لوستي نه وو يا نه يې لولـو، پـه همدغه منابعو کې د دغو غلطو معلوماتو اصلاح د پېړۍ خبره ده، د هغـه اصلاح خـو لا پرېږدئ، پـه ۱۳۸۱ کې لـه دې وروسته موږ ملي اردو ملي پولـيس، ملي معـارف او ملي اقتصاد جوړو لا مو پيل کړی نه دی دعا کوئ اندېوالانو!

کـه زه داسې ټکي راوباسم څو کتابونه به ترې جوړ شي، خير لـه خدايـه غـواړئ ملګرو دا نـه کېږي، مګر پـه تاريخ کې افغان يو فعال عنصر دی چې نـوم يې تـل يادېږي. ځيـنې وايـې چې دولت خدا دا دي کار دی، علم عقل او منطق تـه ضـرورت نه لري. خو خپل حال ته وګورئ نو لس هېوادونه يا په بلـه ژبـه ټولـه نړۍ ورتـه راغلي ده، امنيت نـه شتـه اوس مـو افغاني نوټونه چاپ کـړي هر څه پـه صفر کې دي يـا خدايـه ته يې لـه صفره وباسې، خپلواکي مو وسـاتې د زمري زړه راکړې وروري مـو بـيرتـه جوړه کړې بيلتون مو پيوستون کړې توره شپـه مو رڼا کړې. *امين يا رب العامين*.

تــــوره شـپـه ده تـوره خونـه　　　شـــين خالـي نه ده معلومـه
توره شپـه بـه خدای رڼا کړي　　　شـــين خالي بـه راپيدا کي

کومې معتبرې سرچينې چې پـه تـاريخ کې شتـه د افغانسـتـان تـاريخ لـه هـنـد، ايـران، ماورالـنهر، ترکـيـه، اروپـا او چيـن سره يوځـای کـتـل کېـږي، د

افغانانو تاریخ په شپږ سوه کلو کې چې د دوی پادشاهي وه هند کې اوس د ډیلي د سلطنت په نامه یادېږي، تر هغه وروسته چې انګلسیان له هند نه ووتل، هندي ناسیونالیزم د افغانانو نوم سلطنت کېښود حتی د ښوونځیو له درسي کتابو څخه افغان وویستل شو.

دا یوه بله موضوع ده چې یو واقعیت د یو لوی دولت له خوا پټېږي.

د احساس له مخې تاریخ نه لیکل کېږي او واقعیتونه دي ۱۱۵۰ م ۱۱۵۰هـ ل چې د غور شنسباني (سوري) له کورني سلطان علاوالدین غزنی ونیوه په تاریخي کتاب کې چې یو دایره المعارف دی، داسې لیکي: "یو شنباني پارسي شهزاده له غور نه لاړ غزنی یې ونیوه، د غزني پادشاه پنجاب ته لاړو"

وګورئ چې یو شنسباني شهزاده چې پارسي شهزاده شي څه معنی لري؟

داسې مسایل چې سم ونه لیکل شي خبره جړه شي.

نو پښتانه د بشري مدنیت له پیل نه تر اوسه پورې لویه برخه لري، مګر د دې خبرې روښانول په پټو سترګو نه کېږي.

که زموږ زلمیان په تاریخ ځان پوه نه کړي، د پرون، نن او سبا په راز به پوه نه وي.

نو ماشوره ورانه ده سر په لاس نه راځي.

موږ پر پرون باندې ځان خبرو، نن مو په واک دی، سبا تنظیمولای شو او هغه داسې کېدای شي چې د پردیو په غرضونو پوه شو او واک خپل کړو.

سبا به څه پېښېږي؟ په دې ځینې پوهانو لکه "تاین"دا وړاندوېینه کړې ده چې د غرب مدنیت مخ په ځوړ روان دی او دې نښې نښانې ډېرې لیدل کېږي، ویسا په ناویسا بدله شوې ده، تاین لي وایي، اروپا خپله لوړتیا په دوو خپل منځي جګړو کې له لاسه ورکړه دغه برلاسي امریکا ته ورسېده. ښایي بر لاسی ختیزې اسیا ته لاړ شي.

د ژوند چاپېریال ویجاړېدل، کمونیزم چې د پانګه والي نظام ته خطر له منځه تللی دی او د لارې اسلام سره جګړه روانه ده، امریکا دا خبره نه پټوي چې غواړي د نړۍ لارښوونه په غاړه واخلي، نړیوال پوهېږي چې امریکا د ځان لوړتیا غواړي او ټولې اقتصادي سرچینې په خپل واک کې لري.

پښتانه بويه د حالاتو انتظار وباسي چې تولـه معلومه شي، په راتلونکي مهال کې پښتانه دې تـه اړ دي چې تـاريخ، هځوب او پښتونولي وساتي په بهر کې لـه سني مذهبه مسلمانانو سره ښـه اړيکي ولـري، لـه لوېديزو هېوادونـو سره د قراردادونو لـه مخې چې هر څه په کې څرګند وي، اړيکي وسـاتي، طالـبانو غوښـتل چې امـريکې خـبره سـپينه کـړي چې د دواړو هېوادونو کار معلوم وي، خو امريکا دا کار ونه کړ او جګړه يې پيل کړه.

د افغانسـتان او پاکسـتان اوسنى حالـت نـه پاتې کېږي، په دواړو صورتو کې پـاتې افغانان او پاتې پاکستانيان سره نژدې اړيکي ولري، هېڅ به دومره زور نـه لـري چې بـل ګيډې تـه واچوي، دوى بويـه په دې پوه شي يو بل ته دې امکانـات برابـر کـړي، پاکسـتان بـه د بحـر لاره ورکـوي او افغانسـتان بـه مرکزي اسيا ته دا دواړو هېوادونو لپاره ضرور دي.

ډاکټر نثار احمد صمد

# راتلونکي؛
# د تېر په څېر

*خشت اول گر نهد معمار کج*
*تا ثریا میرود دیوار کج*

افغانستان نن د بې هوښۍ په دارو سره بې سده کړای شوی دی. لمر ته پروت او ډول ډول حشرې او خزندې وربانديې راتولې دي. ځينې يې پر مخ، سترګو، خوله او پزه لګيا دي، وځې ننوځي او نور يې ګېډې او پښو ته جوړېدلې دي. دا د نااهله طبيب د غلط تشخيص اوور ډوز انستيزي ده، چې ټول ورته حيران، پرېشان او دعا په خوله دي. خو طبيب ته څوک څه ويلی شي ځکه هغه مخکې له مخکې لا د ناروغوال څخه د بشپړ صلاحيت لاسليک اخيستی دی...

افغانستان د نړۍ يوازينی هغه مظلوم هېواد دی چې د يوې پېړۍ نه په لږه موده کې ــ يعنې په ۸۲ کې درې ځله د وخت د سترو ځواکونو تر پوځي نيونې لاندې راغلی دی. برتانيې تر ۱۹۱۹ مخکې. شوروي اتحاد تر ۱۹۷۹ وروسته، امريکې د ۲۰۰۱ په اکتوبر کې افغانستان نيولی دی. په بل عبارت افغانستان په نولسمه پېړۍ کې تر برتانوي واک لاندې، په شلمه

پېړۍ کې تر روسي واک لاندې او په یوویشتمه پېړۍ کې تر امریکایي واک لاندې کښېوتلی دی چې هر یو د خپل وخت ستر ځواک دی.
دغې هرې نیونې د افغانستان ریښې لړزولي او افغانانو یې مقاومت ته اړایستلي دي.
افغانان حق په جانب دي چې ووایي که مخکې عربان، پاکستانیان او چیچنیایان راغلي وو خو نن د هغوی پر ځای امریکایان، برتانویان او روسان راغلي دي. که هغوی پردي وو نو دوی هم پردي دي. که هغوی بهرنیان وو نو دوی هم بهرنیان دي. که هغوی په خپل سر راغلي وو، نو دوی هم په خپل سر راغلي دي، که هغوی جنګ کاوه، نو دوی هم جنګ کوي. که افغانانو هغوی نه غوښتل، نو دوی هم نه غواړي. که افغان ولس پرون د هغوی یرغمل و، نو نن د دوی یرغمل دی. او که پرون هغوی وژل نو نن یې دوی وژني.
همدا علت دی چې یوه فاجعه (یعنې د سپتمبر یوولسمه) بنایي په بلې فاجعې (یعنې د اکتوبر پر اوومه) سره دفع شي. ویلیام شکسپیر څه ښه ویلي: "قتل قتل زېږوي ... د تاریخ تر اخره او تل د انصاف یا عدالت په نوم".
ځینې کسان به په اغماض او نور به په بې خبرۍ سره ادعا کوي چې ګویا امریکا افغانستان ته ضرورت نه لري چې اشغال یې کړي، بلکې هغوی ګواکي له تروریزم څخه د خلاصون او د افغانستان د نجات په خاطر دلته راغلي دي. دا ادعا حقیقت نه لري. هر هېواد چې کوم بل هېواد ته په خپل حکم سره په زرګونو پوځیان ورلېږي او د ملت په غیاب کې له خارجه تړلې حکومت ورباندې تحمیل کوي او د ولسمشر باډي ګارډان یې د خپل بېزاره ولس په وړاندې بهرني کوماندوګان وي او هره ورځ هلته پوځي عملیات مخې ته بیایي نو دا د محکوم هېواد بې له اشغاله او بلواکۍ نه پرته بل څه نه دي. لکه څرنګه چې انګلستان هم په نولسمه پېړۍ کې افغانستان ته نېغ ضرورت نه درلود، بلکې هغه یې د هند د "طلایي مرغۍ" د ژغورنې په خاطر نیوی. شوروي اتحاد هم عیناً په شلمه پېړۍ کې افغانستان نه غوښت، بلکې هغه یې د "ترمو اوبو" د کنټرول په خاطر نیوه.

کټ مټ امریکا هم نن په یوویشتمه پېړۍ کې خپله افغانستان نه غواړي، بلکې هغه یې د منځنۍ اسیا "نفتي زېرمو" د خپلولو په خاطر نیولی دی. که امریکا په ظاهره د القاعده د ټکولو او ختمولو په خاطر افغانستان ته راغلې وه، نو دوی خو هغه جنګسالار ترورېستان مسلط کړل، چې د همدې القاعدې پالونکي او دلته راوستونکي دي. هغوی شپېته زره افغانان د خپلې ځلور نیم کلنې واکمنۍ پر مهال یوازې په کابل کې شهیدان کړل. که مسئلې ته ښه ځیر شو نو وبه پوښتو چې په ۱۹۷۹ کې په کابل کې د امریکا سفیر "اُلف ډبز" چا یرغمل او په کابل هوټل کې یې وواژه؟ په ۱۹۹۵ کې په سومالیا کې امریکایي ضد مبارزینو ته له کابل نه چا وسلې ور ولېږلې چې امریکایي سرتېري وربااندې وژل کېدل؟ اسامه بن لادن او ملګري یې ۱۹۹۴ په مۍ کې چا له سوډان څخه کابل ته دعوت کړل؟ هغوی ته چا افغاني تذکرې او او افغاني پاسپورټونه ورکړل؟ د چا د واک پر مهال هغوی دلته "توره بوره" او نور استحکامات جوړ او په کې اوسېدل؟ فلهذا واشنګټن ته لازمه ده چې د ترورېزم "عامل" له منځه یوسي، نه دا چې امتحاني جنګسالار ترورېستان او د مخدره موادو کاروباریان پر افغانستان مسلط کړي. په دې کار سره ښایي هغوی بالاخره افغانستان سیمه، ان خپلې ګټې هم له ستر ګواښ سره مخامخ کړي ځکه "ازموده را ازمودن خطا است".

سوپرپاور امریکا نن زېرو پاور افغانستان نیولی دی او څه چې یې زړه غواړي هغه کوي. هېڅوک او هېڅ قسمه څه نه شي ورته ویلی. امریکا دا کار یوازې او یوازې پخپله ګټه او د افغان ولس په مطلق زیان سره وکړ. پنټاګون د ویټامین B-52 په زور غلې، قاتلین او جنایتکاران له تورو غارونو رابهر او ماڼیو ته ورسول. په بل عبارت اوسني جنګ سالاران د پردیو سیاسي مخلوقات دي، چې پر افغانستان تپل شوي دي. هغوی هر یو له خپلې ډلې ټپلې څخه پرته نور هېڅ ملي پشتوانه او ګرانښت نه لري، بلکې د بهرنیو د ګټو زېږنده عناصر او باندې دي، چې د بېلا بېلو ځواکونو له خوا لاس په لاس شوي - څو چې نن د امریکې په برخه شول.

امریکا او ملګرو ملتونو د افغان ولس د هیلو برخلاف د ټرلو دروازو شاته یو داسې رژیم جوړ، او پر افغانستان یې وتاپه چې د هر وزیر او هر والي او هر قومندان د جنایاتو په دوسیو یې د بشري حقوقو د هر نړیوال جوړښتون الماري ګانې ډکې دي.

دا نن یو نړیوال اصل دی چې وایي امریکا د دیموکراسۍ پلار دی، خو په افغانستان کې د هغې کړنې عملاً دا ښیي چې د دیموکراسۍ سیاست یې پرغمل نیولی دی. واشنګټن په افغانستان کې دیموکراسي پلوه څو محدود اشخاص د دیموکراسۍ له ثابتو دښمنانو سره په یوه قفس کې اچولي دي. په دې کار سره به کله هم د افغان ولس د هیلو څپانده کښتۍ د ساحل مخ ونه ګوري او دا هغه تریخ حقیقت دی چې د تېر یو کال هرې ورځې عملاً ثابت کړی دی.

فعلي تپلي رژیم د یوې داسې په اصطلاح "اضطراري لویې جرګې" محصول دی چې د افغانستان په تاریخ کې هېڅ مثال نه لري، بلکې هغه د بهرنیو (خاصتاً د امریکې) یوه ډرامه وه چې لویه جرګه یې په دې توګه بدنامه او مسخه کړه. که د دې ډرامې د سټېج عقبي پرده پورته کړو، نو وبه ګورو چې فوق الذکر قلابي جرګه (چې ځینې یې لویه جرګه هم بولي) په خپل وار د یوه داسې ساختګي (انتخاباتي کمیسیون) زېږنده ده چې ټول غړي یې د افغان ولس په غیاب کې بهرنیو انتساب کړي وو. نه ملي شخصیتونه، نه ملي مخور او نه هم ملي یا مجرب کسان وو. همدغو کسانو د لوي جرګې لپاره "شخصیتونه" غوره او راوبلل چې نتیجه یې هر چا عملاً ولیده. که تر دغه کمیسیون یو ګام نور هم ورتېر شو نو وبه ګورو چې نوموړی کمیسون پخپله ولي د یوې داسې په اصطلاح "لنډ مهالې اداري" محصول و، چې هغه پخپله هېڅ حقوقي او قانوني صبغه نه لرله، بلکې بنسټ یې د افغان و س په غیاب کې د بهرنیو تر څارنې لاندې یوازې څلورو ډلو اېښی و. د حیرانتیا ځای لا دا چې له څلورو ډلو (روم، قبرس، پېښور او شمالي ائتلاف) څخه بیا هم دوی ډلې (قبرس او پېښور) په عبوري اداره کې له سیاسي ګډون څخه بې برخې کړای شول. دغه کار د عبوري ادارې حقانیت او مشروعیت نور هم له مځکې وواهه. په هر صورت

که فوق الذکر عبوري اداره (چې شپږ میاشتې د کاغذ له مخې لاکن دوه کاله عملاً روانه ده) پسې راوسپړو نو وبه ګورو چې هغه د ۲۰۰۱ کال د دسمبر پر پېنځمه په بن کې غیر افغان ځواکونو رابللې او ترپلې وه. د دې غونډې د بېلا بېلو منفي او چپه اجراتو په لړ کې تر ټولو ناوړه او د دیموکراسۍ ضد پرېکړه هله پلې شوه چې د عبوري ادارې د مشر ټاکنې په خاطر د روم د ډلې له منځه عبدالستار سیرت (۱۱) رایې او حامد کرزي یوازې دوه رایې وګټلې، خو د سیرت پر ځای امریکایانو حامد کرزی غوره کړ. پس له دې ټولې ډرامې نه معلومېږي چې څلور واړه نمایشونه (د بن غونډه، د عبوري ادارې استقرار، د لویې جرګې د رابللو کمیسیون، د اضطراري لویې جرګې جوړول او بالاخره د اوسني لنډمهاله حکومت نصبول) ټولو بهرنیو د افغانستان ولس په مطلق غیاب کې په افغانانو تپلی او دا هر څه د امریکا د پوځي نیونې تر سیوري لاندې د هغوی د پوځي عملیاتو پر سپېنسي پېیل شوي دي. هو، دا ټول او دا هر څه غیر افغاني پرمختیاوې دي چې کیزه (قیزه) یې په زرګونو کیلو متره لرې د نورو په لاس کې ده.

د بن تړون لیک تر پردې شاته د یو لړ هغو غیر اصولي او نامشروع اقداماتو د اصولي ښودلو او مشروع بللو یو داسې سرپوښ دی، چې د نړیوال سیاست دلالانو د ملګرو ملتونو ترماسک لاندې پر افغانانو وروتاپه.

دا چې فعلي اتلس میاشتنی حکومت له خپله اره دیموکراتیک او پرګنیز نه دی، حقوقي او قانوني پړاوونه یې نه دي طي کړي او ملي صبغه نه لري پر دې ټولو علاوه کړنې او اجرات یې هم جعلي او نامشروع دي.

د کرزي مشرۍ عبوري حکومت صرف شپږ میاشتنې عمر درلود، مګر یو لړ اجرات یې په دونه عجله سره وکړل چې ته به وایې د یوې پېړۍ لپاره ګومارل شوی و. د بېلګې په توګه ستر جنګ سالار احمد شاه مسعود یې "ملي اتل" او لوی جنګ سالار قسیم فهیم یې (مارشال) اعلان کړل، چې دا اصلاً یوه ملي غلا ده. کرزي د ځان د دایمي کولو پر خاطر په مسعود او فهیم باندې پنځوس کلنه دوره صرف په پنځوسو دقیقو کې ووهله. کرزی

همدارنګه د نظار شورا (۳۱۰) جنګسالارانو ته د جنرالۍ ساختګي رتبې هم ورکړې چې دې کار هغه نور نو په نظار شورا پورې سنجاق او له ملت څخه جلا کړ.

کرزی د لویې جرګې د رابللو د کمیسیون د اکثریت غړو په هکله د شمال ائتلاف پلویان او حواریون وو، د ملت په فریاد او غوغا باندې نه خو هېڅ سر خلاص نه کړ او نه یې هم کوم اعتراض یا اقلاً ملاحظات څرګند کړل: چې دا پخپله یوه ملي ضربه ګڼل کېږي. د بن پریکړه لیک د دولتي لویو مامورینو او افسرانو د ټاکنې په غرض د یوه "مستقل کمیسون" د جوړولو سپارښتنه کړې وه. لاکن کرزي هغه جوړ نه کړ او نظار شورا هر ځای خپل کسان او افسران وګومارل. دا یوه بله ملي جفا ده چې کرزي وکړه. د ملکي هوابازۍ د وزیر ډاکټر عبدالرحمن په قتل کې د نظار شورا غټان پخپله کرزي متهم وبلل. خو ژر یې بېرته خاموشي غوره کړه او هېڅ یې هم ونه کړل چې دا یو بل ملي پیغور دی. په همدې ترتیب کرزی د شمال د پښتنو د وژنو، تښتونو، شړنو، بې عزتیو او لوټولو په هکله چې ټولې نړۍ منجمله د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو کمېسیون په شواهدو وښودل خو هېڅ کوم غبرګون یې ونه ښود ان تر دې چې هغه یې مبالغه وبالله.

بل دا چې د بن تړون لیک واضحاً سپارښتنه کړې چې له کابل او د نورو ولایاتو له مرکزنو څخه دې وسلوالې ډلې ووځي او ځای دې نړیوال سوله ساتي پوځ ونیسي، خو کرزي د کابل ښار د نظار شورا په ببر سرو جګړه مارو سره ډک کړي او هغوی یې ډول ډول ظلمونو او جنایتونو ته ازاد پرېښي دي چې دا پخپله ستره ولس ځپنه ده.

دا چې (د عیني شاهدانو له خولې) په ساختګي لویه جرګه کې اوسنۍ کابینه نظار شورا جوړه کړې او په کرزي باندې یې اعلان کړه اصلاً هغسې یوه څپېړه ده چې د افغانستان په تاریخ یې ورګوزار کړه. نوموړي پخپله جعلي لویه جرګه کې پخواني پاچا ته هم لنګته واچوله او هغه یې په صفر کې ضرب کړ. د پاچا له نفوذ څخه یې ښه بهره برداري وکړه، مګر له هغه نه یې یو سیاسي یرغمل جوړ کړ. بله سپکه یې لا دا چې د هغه د پلار لقب

يې مسعود ته او د هغه د تره لقب يې فهيم ته عطاء کړ؛ حال دا چې د هغه ځاني اعتبار او نوم يې ځان ته ورنه واخېستل.

له خپل ملت سره د کرزي بله جفا لا دا چې کله د تېر جولای پر لومړۍ نېټه امريکايي الوتکو د ارزګان په دهراوود کې د واده پر يوه محفل د بمبارۍ په نتيجه کې شپېته ملکي کسان شهيدان او تر (۱۲۰) يې زيات ټپيان کړل. نو هغه امريکې ته ننواتې وکړې چې دغو قربانيانو ته (۱۸۵۰۰) ډالر تاوان ورکړي، (داسې چې د هر وژل شوي پاتې کسانو ته به دوسوه ډالر او هر ټپي ته ۷۵ ډالره تاديه کېږي). دا په اوسني تاريخ کې هغه لږ ترين او ارزان ترين قيمت دی چې د يو ستر دښمن مؤکل يې خپل ولس ته ټاکي. امريکې چې کله د ۱۹۹۹ په مې کې د بلګراد کې چينايي سفارت بمبارد او درې کسه يې مړه او ۲۷ نور يې ټپيان کړل. نو واشنګټن د هغوی کورنيو ته څلورنيم مليونه ډالر غرامت ورکړ چې هر قرباني ته يو نيم لک ډالره ورسېدل.

څه موده وروسته چې کله په امريکايي بمباريو څو ايټالويان ووژل شول. نو د هغوی هر يو قرباني ته يې دوه ميلونه ډالر ورکړل. په همدې ترتيب د هند په بوپال کې چې کله امريکايي (يونين کار بايډ) فابريکې په زرګونو کارګران مسوم او ووژل نو امريکا جمعاً (۴۷۰) ميليونه ډالر يعنې هر يو وژل شوي ته (۳۲۰۰) ډالره او هر ټپي ته (۸۷۰) ډالره ورکړل. پس له دې پرتليزې شننې څخه ښکاري چې حامد کرزي خپلو افغانانو (په تېره پښتنو) ته څومره غښ!! ارزښت ورکوي. يعنې تر چينايانو اووه سوه ځله لږ تر ايټالويانو لس زره ځلي لږ او تر هنديانو پنځلس الی پينځه ويشت ځله لږ بيه ټاکي ايا دا د خپلو افغانانو د ارزښت او اهميت کمولو يا سودا بازي نه ده؟

له دې ټولو جعل کاريو صحنه سازيو او تېرايستنو څخه ښکاري چې اوسنی رژيم د خپل ولس په غياب کې افغانستان مخ پر يوه مبهمه او نامعلومه اينده روان کړی دی چې انجام به يې دردناک او افسوسناک وي.

نن پر افغانستان جنګ سالاران. قاتلان. قاچاقبران او تباه کاران مسلط دي. چې يو ځل په خپل څلورنيم کلن امتحان کې ناکام شوي هم دي. دوی

ټولو په مجموع کې تقریباً هم هغه حالت راغبرګ کړی چې د طالبانو تر ظهور او تسلط مخکې پر هېواد مسلط و ـ فرق یې صرف دا دی چې هغه وخت یې پکول او چارخانه دستمال ګرځاوه. خو نن پتلونونه او نیکتایګانې استعمالوي. همدغه کسان چې نن نورو پر هېواد ترپلي ـ هم دوی اسامه بن لادن افغانستان ته راوستلی. افغاني تذکره او پاسپورټونه یې ورکړي وو. تر څو په ازاده په نړۍ کې خپل سیاسي. مالي او نور پټ فعالیتونه سازمان کړای شي. د ښځو بې پته کول. چور او غلا. جنګ او قتلونه. د مخدره موادو کرل او تجارت. د ملي شتمنیو لوټول او هېواد پر څو خان مختاره سیمو ویشل. ظلم. شر او فساد دا ټول هغه کرغېړن جنایات دي چې ۱۹۹۲ ۹۶ کلونو تر منځ په دومره تفاوت جاري وو. چې هغه مهال میدان هغوی ته ایله و. خو نن امریکایان د هغوی د ولي نعمتانو په حیث د هغوی تر شا ولاړ دي. له روان مسلط حالت څخه په زغرده ښکاري چې د افغانستان اینده د تېر تکرار ده. پس هر څه باید له سره یا صفره بېرته راپیل شي. خکه ورځنۍ پرمختیاوې دا ښیي چې امریکایي پوځیان پخپل ټول طاقت سره د پورتنیو جنایاتو په مخنیوي کې یا خو بې وسه دي او یا هم هغه نه کنټرولوي. په دواړو حالاتو کې د هېواد اینده د تېرې تکرار ده.

ډېره مهمه خبره دا ده چې افغان ولس په عام ډول او پښتانه په خاص ډول د بن ناکامه غونډه (چې د مابعده نامشروع توالد او تناسل مور ده) خکه مجبوراً منلې او غلي دي چې وګوري امریکا. ملګري ملتونه او لوېدیځ په ربښتیا هم د هغوی غم خوري او که یه؟! په نظار شورا او نورو باندونو باندې افغانان (خصوصاً پښتانه) نور هم وهي او که یه؟! ۱۹۹۲-۹۶ کلونو ملي فاجعه بیا راغبرګوي که یه. حق به حقدار او کار به اهل کار ته سپاري که یه؟! او بالاخره تر ټولو مهمه دا چې ایا یو ازاد افغانستان. ملي یووالی. ملي شتمني او ملي واکمني یې تامینوي اعاده کوي او که یه؟!

د دې ټولو پوښتنو د "یا" په صورت کې هم د امنیت د مسلسل نشتوالي. د بشري حقوقو د حق تلفیو. د شمال د پښتنو د قومي تصفیې.

له طالبانو او القاعدې سره د تړاو په بهانه د مخالفانو تعقیب او خور. د غربي کولو تر نوم او پلمې لاندې د اسلامي افغاني کلتور د سپکاوي او ګاونډیو ته د ملګرو ملتونو تر سیوري لاندې د ناوړه مداخلو په جواز سره به بالاخره افغانان دې ته مجبور شي چې یوه بله لاره غوره کړي" هو. ژر یا وروسته به هغه هڅې چې امریکا او ملګري ملتونه یې شاربي داسې تولید وکړي چې ممکن سیمې بې ثباته او ولړزوي. که (خدای مه کړه) دغسې وشي چې نن شونې هم ښکاري. نو بیا به امریکا او لویدیځ په تېره بیا ملګري ملتونه په خپله تګ لاره کې مخکې له دې چې ناوخته شي له سره غور وکړي تر څو د یو ستر ناورین مخ راوګرځول شي.

فعلي ناوړو شرایطو ته په ژورې کتنې سره د حل غوره لار د افغانانو په تېره د پښتنو لپاره دا ده چې نن زموږ هېواد خپلواک نه بلکې بلواک دی. هره کړنه او پرېکړه په کابل کې د جارج بوش د خاص نماینده په مرسته دېکته او بیا عملي کېږي. د نورو له خوا د کېښنول شوي ولسمشر باډي ګارډان د خپل ولس په وړاندې یا غیاب کې اشغالګر کوماندوګان دي. هېواد مافیا او جنګ سالاران تپل شوي دي. د نړۍ د شلو پرمختللو هېوادونو د شل زره کسیز پوځ له شتوالي سره سره امنیت. حفاظت او ضمانت نه شته. کله د مخورو کاروان بمباري کېږي. کله د واده محفل او کله هم د جنازې مراسم په بې رحمانه ډول بمباري کېږي دا ټول هغه عیني حقایق او ورځنۍ پېښې دي چې که د چا خوښه وي او که نه په شدت سره جریان لري

افغانان ریښتیني مسلمانان دي او رب العزت د هر ناوړه او هرې ناخوالې په وړاندې د صبر هدایت فرمایي او الله ښکه د صابرانو مل دی. له روانو ظلمونو او تېریو څخه د ژغورنې تر ټولو غوره لاره الهي فرمان ته تسلیمي دد او هغه فعلاً واقعي صبر او په ځانونو کې د مثبت بدلون راوستل دي. الله تعالی فرمایي چې "یو قوم تر هغه نه بدلوم تر څو چې هغوی پخپله د بدلون په لټه کې نه شي" د ظالم واکمن په وړاندې د حق ویل پر هر مسلمان فرض دي چې افغانان عموماً او پښتانه خصوصاً دا امر په سر سترګو مني.

هو. خاموشه افغانان که نن مثبت بدلون ونه کړي ممکن جاري فشار یې ژر یا وروسته بدلون ته مجبور او چمتو کړي، ځکه د هغوی پلرونو له روسانو سره او نیکونو یې له انګرېزانو سره مجبوراً دغسې بدلون راوستو، چې حق ویلو او الهي رضایت ته یې غاړه ایښې وه.

و ما ذالک علی الله به عزیز

د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر شلمه.

ډاکټر نبي مصداق
اکتوبر ۲۰۰۲

# پښتانه د افغانستان په شمال کې

پښتانه د افغانستان په شمال کې د پېړیو پېړیو سابقه لري. لومړی د اریایانو په دوره کې، د امو له سیند نه په راپورې کېدو کې په بلخ، نننې مزارشریف، خلم (چې احمد شاه بابا یې نوم په تاج قرغان بدل کړ)، میمنه او نورو ځایو کې ځای پر ځای شول. بیا پېړیو وروسته موږ د پښتنو شاهانو نوم له غور نه اورو چې هلته یې خپل بشپړ حکومتونه درلودل او د پښتو ژبې لومړی شعر په ۷۱۲ م کې چې امیر کروړ ویلی، د همدې غور د شعر او ادب نمونه ده، او دا شعر د وزن او قافیې او موزونو تورو د استعمال نه دومره پوخ دی چې ژبپوهان دې نظر ته رسېدلي چې پخوا تر دې شعر باید تر پېړیو پېړیو وړاندې د پښتو شعر ویل شوي وي، تر څو دې درجې ته رسیدلي وي. له همدې غور نه، سوریانو او غوریانو د بیلا بیلو قبیلو په صفت په هند کې حکومتونه کړي چې شېرشاه سوري او د هغه اولاده چې اصلاً د غور دي نو هم پخپله غوریان، د پښتنو د سلطنت او خوداراديت بهترین مثالونه دي. [د غوریانو، لودیانو او سوریانو د تفصیل لپاره د M, A,Rahim 1961 کتاب ته دې رجوع وشي] د پښتنو دا دورې د هند په تاریخ کې، د "ډهلې د سلطنت" په نوم یادېږي چې د ظهیرالدین محمد بابور، د هند د مغلو د ادارې له شر نه پخوا یې، هلته حکومتونه درلودل.

زما په دې مضمون کې به له دې څغلنده نظرنه، نور نه غواړم چې د پښتنو په دې پخوانیو دورو باندې زیات څه ولیکم، ځکه د مقالې پر ځای

په يو پنډ كتاب ورځخه جوړ شي زما هدف د هغو پښتنو په باره كې معلومات وړاندې كول دي، چې د امير عبدالرحمن خان په وخت كې او بيا د ظاهرشاه په دوره كې، د افغانستان شمال ته وليږدول شول. ځكه د همدې پښتنو په باب اوس ډېر ناوړه دروغ او مبالغه اميزه مضمونونه او تبصرې ليكل شوي دي چې نتيجه يې د پښتنو بې ستري. د هغو د مالونو چوړ او غلا كول او پښتانه بالاخره دې ته اړ كول چې له خپلو كلو او باندو نه، د مهاجرو د يو بل سيلاب په ډول د افغانستان جنوب او پاكستان ته وكوچېږي

نو لومړى پوښتنه چې بايد ځواب يې وليكل شي دا ده چې ولې امير عبدالرحمن خان پښتانه د افغانستان شمال ته ولېږل؟

افغانستان په ۱۹ پېړۍ كې د ابر قدرتونو تر منځ پروت و چې ختيځ ته انگريزان او شمال ته تزاري روسيه وه. انگريزان چې د تجارت په پلمه په ۱۶ پېړۍ كې په مدارس كې پلي شول. د دوه سوه كالو په موده كې يې ځانونه له افغانستان سره پولې ته را ورسول او په دې لړ كې يې له سكانو سره مرسته وكړه چې د ابداليانو په مقابل كې راپاڅېږي او وروسته د پنجاب له نيولو نه ځانونه پېښور او سوبه سرحد ته راورسوي او په ۱۸۹۳ كې د ډيورنډ د كرښې په لاسليک سره، لر او بر پښتانه سره جلا كړي. په همدې ډول د شمال له لوري ترازي روسيې د سير د درياب نه په راپورې كېدو سره له جنوب لورې ته په حركت كې و او د لوې كترينې له هيلې سره سم يې غوښتل چې ځانونه يوه ورځ د هند د سمندر تورو اوبو ته ورسوي. له تورو اوبو نه مطلب دا چې د روسيې په شمال، ختيځ او لوېديځ كې سمندرونه د ژمي د څو مياشتو لپاره كنگل نيولي وي چې نه د جنگ او نه هم د تجارت لپاره په دې وخت كې ورځخه استفاده كيداى شي، پس د هند بحر ته لارې پيدا كول به د دوى لپاره ستراتيژيكي لوى مشكل حل كړي.

له يوې خوا د تزاري روسيې دا هېر وي چې جنوب لورې ته په حركت كې وه او بل دا چې د تركمنانو درې قبيلې چې دوره يې. سار او سارق نومېدې. تل به په اسونو باندې له امو سيند نه راپورې وتل او د افغانستان په شمال كې به يې په بې رحمه ډول چور او چپاول كولو. دا نارامي دي

مرحلې ته ورسېده. چې د امو د سيند په جنوب کې په تېره بيا په فارياب او باد غيس کې ټولو خلکو خپل کلي پرېښودل او بيا حتی په ميمنه کې به هم د همدې ترکمنانو غلو او چپاولګرو تر حملو لاندې راتلل.

کله چې به امير عبدالرحمن خان ته د روسانو له خوا د خطرنه يادونه کېدله، چې د امو هغه لوري پنجده او د سيند جنوب ته به يې متوجه شي. امير به د ترکمنانو دا قومونه په ګوته کول چې هغوی به روسان پرې نږدې چې دا سيمې ونيسي. خو کله چې روسانو په پنجده لښکرې ويستلې او په ١٨٧٣ کې يو لک او دېرش زره کيلو متر مربع ځمکه په پنجده کې ونيوله او بيا يې په ١٨٩١ کې واخان او ذوالفقار ونيول. نو عبدالرحمن خان برسېره پردې چې ١٢ کاله يې په تبعيد کې د روسيې په مرکزي اسيا کې تېر کړي وو، دې نتيجې ته ورسېد چې له پښتنو پرته نور هېڅوک به هم د روسانو مخه ونه نيسي [نانسي ډپر ١٩٨٣، ٢٣٤مخ) يو ځل چې امير د برتانوي هند د لاهور ښار په سفر بوخت و، ورته د روسانو د حملې خبر ورسېد، هغه له انګرېزانو نه غوښتنه وکړه چې ورته وسله ورکړي چې د دې تېرې مخه ونيسي، خو څرنګه چې انګرېزانو له روسانو سره په مشوره لا پخوا د دې سيمو په برخه کې فيصله کړې وه امير ته يې هېڅ هم ورنه کړل. يوازې دومره تلسي يې ورکړه چې روسان له امو سيند نه، راپورې وتل نه غواړي.

امير چې د يوې خوا د روسانو له بهرنې سياست نه. کله چې په تبعيد کې و پوره خبر و چې هغوی تورو اوبو ته تلل غوښتل او له بلې خوا، په داخل کې له ټولو نه زيات له غلزايي پښتنو سره د شپږو کالو لپاره د غزني په شاوخوا کې په جنګ کې و، نو فيصله يې وکړه چې د افغانستان شمال ته د پښتنو په لېږلو سره به د هغه ډېر مشکلات حل شي: اول دا چې د غلزايانو قوت به د هغه په موجوده ځايو کې کم شي، دوهم دا چې پښتانه به د روسانو د تېرې مخه ونيسي او درېيم دا چې د هغه لوی هدف چې غوښتل يې يو متحد افغانستان جوړ کړي، د قومونو په مخلوطولو سره به. د بېلا بېلو اتنيکي ډلو تر منځ د بدبينۍ او مصافه مخه ونيول شي. ځکه

هغوی به په یو ځای اوسېدو سره سم، ودونه سره وکړي، په یو جومات کې به لمونځونه کوي او بالاخره په یوه هدیره کې به خپل مړي ښخوي.

امیر عبدالرحمن خان د داسې افکارو په پس منظر سره ۱۸ زره پښتانه فامیلونه چې اکثره یې غلزیان وو، د افغانستان په شمال کې له روسیې سره په پوله ځای پر ځای کړل. دا پښتانه، د نورو استوګنو خلکو په ځمکو او باغونو باندې ځای پر ځای نه شول، لومړی هغوی د امو د سیند په غاړه کې خواره واره شول، خو د وخت په تېرېدو سره څرنګه چې په شمال کې ځمکې زیاتې او نفوس خورا کم و، هغوی یو څه ځمکې واخیستې او نور یې چې دښتې او وچې وې، تر یوې لاندې راوستلې. په بل عبارت هېڅوک هم نه شي کولای چې د یوه محلي قوم مثال پیدا کړي چې د هغوی کلي او ځمکې په زور پښتنو نیولې وي.

پښتانه د تورې او مېړانې تر څنګ په کرهڼه او د کرهڼې په صنعت کې خاص استعداد لري. کله چې سوریان، لودیان، غوریان او نورې کوچنۍ پښتنې ډلې د هند شمال ته، چې هوا یې د هغو له مزاج سره تطابق کاوه، وکوچېدل، هغو د همالیا د غرونو په لمنو کې بایر ځمکې تر یوې یا قلبې لاندې راوستلې او هم یې د غرونو له منځ نه، تونلونه ووهل. چې د غره د یوې خوا اوبه، د غره بلې خوا ته واړوي. انګرېز لیکوال ګومانځ -- چې د پښتنو د امپراتورۍ په اقتصادي وضعه یې بو کتاب لیکلی د داسې مثالونو ذکر کوي [J.L.Loss Sommans په هند کې د پښتنو امپراتوري ۱۹۹۵] نو کله چې پښتانه د افغانستان په شمال کې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې او بیا په شلمه پېړۍ کې ځای پر ځای شول. هغو د خپلو څو پېړیو د کرهڼې له صنعت نه په استفادې سره ته یوازې کندز ته نژدې ارچي دښته له صفر نه اباده کړه، خو د کندوز د ملاریا غوماشې چې په زرګونو کسان به یې هر کال وژل هم د خپلو متو په زور ورکې کړې، او کندوز یې عصري استوګنې ته برابر کړ. په همدې ډول د افغانستان په شمال کې پښتنو بایر او لامزرع ځمکې تر اوبو او یوې لاندې راوستلې او د نورو قومونو تر څنګ په ورورۍ او ورورګلوۍ سره استوګنه شول. یوازې په سر پل کې د نظرخیو خانان چې په اسحق خېلو ګډېږي، له استوګنو ازبکو

سره سخته رویه نیولې وه. پخپله وزیر محمد ګل خان، په هغه وخت کې نظرخي خانان وغندل او د هغوی پر ځای یې د شورا د وکالت لپاره یو ازبک د خلکو له منځ نه انتخاب کړو [تپر ۱۹۸۳ ،مخ ۲۴۲]. ځکه په شمال کې ډېر قومونه د شلمې پېړۍ تر نیمایي پورې ځای پر ځای شوي وو او د هغو ورور ګلوي د حکومت مهم هدف و تپر لیکي چې د سرپل او شبرغان تر منځ د سړک پر غاړه دا قومونه څنګ په څنګ پراته دي. ازبک، دراني، ملکي، ازبک، هزاره، دراني، بلوچ، عرب، سید، دراني، غلزايي، دراني" [تپر ۱۹۸۴ ، مخ ۲۳۷].

د سرپل او شبرغان تر منځ د سړک په دواړو خواو کې پورتنی مثال ښيي چې د افغانستان شمال ته عرب چې په اوومه پېړۍ کې په مرکزي اسیا کې د اسلام له خپرېدو سره راغلي وو او بیا فارسي ژبي شوي وو، هم راغلي وو. بلوڅان، سید او هزاره هم، شمال ته تللي وو. خو یوه پوښتنه دا ده چې ولې د هغوی په مقابل کې دومره بدبیني او بدنظري نه شته، لکه چې د پښتنو په مقابل کې شته ده؟ د دې پوښتنې ځواب اصلاً د نورو قومونو نیمګړتیاوو ته ګوته نیسي، هغوی هېڅکله هم د افغانستان د ازادیو په جنګونو کې په پراخه او دوامداره توګه د پښتنو په شان برخه نه ده اخیستې. ځانونه یې ناقلین او اقلیتونه ګڼل چې د "اوغانانو" تر څنګ هر چېرې پراته وو. ځکه هم نن ټول ملي افتخارونه او ملي قهرمانان پښتانه دي. پښتنو د موجوده افغانستان د جوړېدو لپاره په لوېدیځ کې د صفویانو د ۱۵۰ کاله سلطه په ۱۷۰۹ کې له منځه یوړه او ملي قهرمان میرویس نیکه، نه یوازې صفویانو ته ماته ورکړه او د افغانستان لوېدیزې سیمې یې ازادې کړې، خو د هغه زوی او وراره، ټول ایران ونیوه او تر دریو لسېزو پورې یې هلته حکومت وکړ. په همدې ډول پښتنو مخکې تر دې په ختیځ کې د ۱۵۰ کالو لپاره د مغلو په مقابل کې جنګونه وکړل او بیا درې ځلې یې له انګرېزانو سره جنګونه وکړل. بل هېڅ قوم په افغانستان کې داسې قهرماني او مېړانه نه ده ښودلې. په حقیقت کې په شمال د افغانستان کې دې غیر پښتنو قومونو له یوې خوا پنجده، واخان، ذوالفقار روسانو ته تسلیم کړل او له بلې خوا یې تر هغو دمخه، د بخارا امارت قبول کړی و.

حال دا چې احمد شاه بابا نه. حتى قزاقانو چې په ۱۷۶۲ کې ورځخه خواهش وکړ چې د اسلام د یوه پیاوړي پاچا په صفت ورسره مرسته وکړي تر څو د چین د منچو اداري له ولکې نه. ختیځ قزاقستان ازاد کړي. احمدشاه بابا چې وروسته ۱۷۴۷ نه یې د تاریخي افغانستان د یووالي لپاره لښکرې ویستلي او په موفق ډول یې د افغانستان په لوېدیځ کې تر کرمان او په ختیځ کې تر ډهلي پورې یو موټی کړ. نو له قزاقانو سره یې د مسلمانۍ وروروګلوۍ پر اساس، د هغو د ملک د ازادولو ژمنه وکړه. همدا و چې په ۱۷۶۳ کې یې د محلي ځواکونو یو لښکر جوړ کړ. خو هغوی ونه شو کولای چې د منچو قواوې وباسي. احمدشاه دراني پنځه کاله وروسته د پښتنو یو لوی لښکر جوړ کړ چې د منچو چینایان یې له ختیځ قزاقستان نه وشړل. د همدې مېړانې له امله، هغه ته خرقه مبارکه ورکړه شوه چې تر دې وخته په بخارا کې وه، په لاره یې په زرګونو خلکو ته وښودله وروسته په کندهار کې تبرک کړه او تر نن ورځې پورې هلته ده.

د قزاقانو مطلب ما د دې لپاره ذکر کړو چې غیر پښتانه پوه شي چې پښتنو په خپلو وینو حتی د هغو لپاره هم جنګونه کړي دي. بل دا چې د لوی احمد شاه بابا دا کارنامه د "ګردن کلفت" موجوده قزاق مشرانو به هېره وي او باید ورته په یاد شي چې که نن هغوی په اصطلاح د شمال ائتلاف تر څنګ درېږي باید په یاد ولري چې همدا پښتانه وو چې هغوی د چینایانو له منګولو څخه خلاص کړل.

مخکې له دې چې د موجوده وضعې خبرې ته راشم غواړم د یوه امریکایي له قوله بیا واضح کړم چې پښتنو په شمال کې هیڅ وخت د کوم بل قوم یا اتنیکی ډلی کور او مال په زوره نه دی نیولي. د مثال په ډول کله چې صافیان د ظاهر شاه د حکومت په وخت کې فرار شول، یوه برخه یې له نورو پښتنو سره قطغن ته فرار شول. بار فیلډ وایي چې هغوی نه امام صاحب ته ولېږل شول او نه هم تالقانو او یا خان اباد ته، خو په دشت ارچي کې چې واقعاً یوه لامزرع اوبایر دښته وه واچول شول. دا دښته په هغه وخت کې نه ترکمنانو، عربو، ازبکو له خوا نیول شوې وه او نه هم هغوی کومه علاقه درلوده. پښتنو دې دشتې ته، نهر راوست او بیا یې په ډېره حاصل

خیزه خمکه بدله کړه. لکه چې د کندز ډنډونه او خندکونه یې وچ کړل او د
خای پر ځای اوبو دلدلزارونه یې له منځه یوړل چې ورسره د ملاریا
غوماشو د هګۍ اچولو ځایونه هم له منځه ولاړل او بیا یو بل خروټي
پښتون د ناشر په نوم عصري صنعت او فابریکې راوړلې چې قندوز د هر چا
لپاره د مرګ له ښار نه. د هر چا لپاره د استوګنې او ژوند پر ښار بدل شو.
[بار فیلډ ۱۹۷۷، مخ ۳۰].

ولې د کمونستانو له شکست نه را په دې خوا په شمال کې له پښتنو سره ناوړه چلن غوره شوی دی؟

په افغانستان کې د ډاکتر نجیب اله د کمونست حکومت د سقوط مهم دلیل هغه کودتاه وه چې په فبروري ۱۹۹۲ کې په مزار کې وشوه. دا کودتاه د پښتنو پر ضد، صف نیول و چې د لمړي ځل لپاره قلابي مجاهدین لکه د نظار شورا او جمعیت ډلې له کمونستانو او د روسانو له ملیشو سره چې دا ستمیان او کیهانیان وو د شیعه حزب وحدت او اصف محسني شیعه ډلې تر څنګ یو ځای شول او یو حکومت یې هم جوړ کړ چې په هغې کې مسعود، مزاري، دوستم او نورو ته لوړ مقامونه ورسپېدل. دوی غوښتل چې دا حکومت په مناسب وخت کې اعلان کړي، خو په کابل کې د نجیب تر حکومت وروسته پخپل منځي جنګونو کې بې له دې چې هغه اعلان شي، له منځه ولاړ او په ضمن کې یې هزاره حزب وحدت او د ازبک جنبش له پښتون حکمتیار سره د تاجک مسعود او رباني پر ضد یو ځای شول.

وروسته له پنځه کاله قتل وقتال، بې ناموسیو، غلا، زنا او هر ډول نورو کړاوونه چې هم د اسلام او هم د افغان او پښتون د عنعني او دود پر ضد دي، طالبان راپیدا شول او د هغوی لومړی وعده، د جنګ سالارانو له منځه وړل، د افغانستان د یو موټي پاتې کېدو ضمانت او پر ښځو او بې وزلو خلکو باندې تعرضونه ختمول، او هم دا ژمنه چې قدرت به هر هغه چاته ورکړي چې اسلامي حکومت ټینګ وساتي ورسپاري. په دې کې شک نه شته چې طالبانو امن او ارامي راوستله. ملک یې بیا یو موټی کړو او پر ۹۵ فیصده یې خپل حاکمیت ټینګ کړو. بې ناموسي ختمه شوه، وسلې تر یوه حده ټولې شوې او چا به نه شوای ګرځولی. ټوپکي قومندانان په

غارونو او سوړو کې ورننوتل. خو له بده مرغه چې طالبانو نه له قدرت څخه لاس واخیست او نه یې هم حکومت کول زده وو. ډېر بادرده افغانان د هیئتونو او په جلا ډول هغو ته د نړۍ له ډېرو برخو نه ورغلل چې د ملک په ابادۍ کې د اوسني وخت او زمان له شرایطو نه خبر کړي، خو هغو به په ډېر احترام د مېلمنو خبرو ته غوږ نیوه، لیکن په یوه یې هم عمل ونه کړو. همدا دلیل و چې د هغوی په له منځه تللو لکه د پخوانیو ډلو په شان [د داوُد جمهوریت خواهان، خلق، پرچم، د نجیب د ملي پخلا کېدو حکومت، ستمي او افراطي ډلې] چا ورپسې اوښکې تویې نه کړې، اوښکې د هغو تنکیو ځوانانو لپاره تویېږي چې د اسلام لپاره یې ملا وتړله خو د طالبانو په بې سنجشه پلانونو کې محوه او نابود شول. دوستمیانو د روسانو د ځواکونو د ملېشو په ډول، په کندهار، کابل او ګردیز کې زیات پښتانه ووژل، د طالبانو په لومړي شکست کې په مزار کې ۱۹۹۷ چې له قاتل مالک سره په یوه سازش کې یو ځای شوي وو، د ۷ او لسو زرو تنو پورې پښتانه او طالبان ووژل شول او د لیلا دښته او ژور کوهیان یې ورڅخه ډک کړل. یو کال وروسته د جون پر ۱۹۹۸ کله چې طالبانو مزار ونیو، د بي بي سي د خبریال له خولې چې اولین بهرنی خبریال و چې مزار ته ورته د تګ اجازه ورکړل شوه، وویل "د ۵۰۰ - ۱۰۰۰ تنو پورې ازبک او هزاره د مزار په جنګ کې وژل شوي دي. خلک خوشاله دي چې دا دی افغانستان سره متحد شو، خو د طالبانو له اسلامي کړو وړ څخه په وېره کې دي" [د بي بي سي خبریال ویلیم رافیز رپوټ له مزار نه سپتمبر ۱۹۹۸].

طالبانو وروسته له دې چې مزار یې ونیو، د هزاره جات، هرات، کندهار او نورو ځایونو په شان د انتقام وژونکي لار یې ونه نیوله. له همدې امله په دې او نورو ځایونو کې د خلکو ملاتړ ورسره شو. حتی په مزار او بامیانو کې خلکو هېڅ باور نه کاوه چې په افغانستان کې هم د تېرو شلو کالو په بربادیو سربېره، "د طالب" په شان یوه طبقه پاتې وي چې نه یې د چا په سر، مال او ناموس باندې تجاوز کاوه او نه یې هم زغملی شول چې افغانستان یو موټی پاتې نه شي. خو د طالبانو مشرانو ځانونه یا پوه نه کړل او یا یې

هم اختیار نه درلود چې د تېرو ډلو تېپلو تجربو نه استفاده وکړي چې ولې هغوی د ملت نه تجرید شول او دوی باید هغه سهوې تکرار کړې نه وای.

خو د امریکې بمبارۍ چې د اکتوبر پر شپږمه ۲۰۰۱ کې پیل شوې، که څه هم د امریکې هدف د القاعدې د مشرانو نیول او د هغو د کمپونو ړنګول و. خو ډېر ژر یې خپلې ستراتیژۍ ته بدلون ورکړ او د طالبانو په لومړۍ کرښه یې په کابل او تخار کې فرشي بمبارۍ پیل کړې. څکه ورته ځرګنده شوه چې د القاعده د مشرانو نیول به وخت ونیسي او په امریکې یې د خلکو توقع دومره زیاته کړه چې باید عملاً وښیې چې د هغوی پر ضد یې ګام پورته کړی دی.

نو څرنګه چې طالبانو په لوېدیځ کې ځان ته یو دوست هم نه و پرېښودلی او چا د هغو غږ نه پورته کاوه. امریکا هم د ۷۲ ساعتوپه منځ کې د هغوی د تباهۍ لپاره لستوڼي رابډ وهل.

کابل د بمباریو په ۳۴ ورځ طالبانو پرېښود او ټولې هغه ډلې او ټپلې چې طالبانو د جنګ په میدان کې له منځه وړې وې یو په یو بېرته راپیدا شوې او د امریکې له ځمکنیو او هوایي ځواکونو سره په یو لاس یې د طالبانو سنګرونه په شمال، مرکزي افغانستان او نورو ځایونو کې ونیول.

## د ائتلافي ډلو چلن له پښتنو سره:

د امریکا په بمباریو کې د شمال تبعیضي ډلې چې یوازې مشترک ټکي یې د پښتنو پر ضد درېدل و او د نجیب حکومت په پای کې د لومړي ځل لپاره دا ائتلاف منځ ته راغی. یو ځل بیا سر راپورته کړ. که څه هم دا ائتلاف څو ځلې منحل شو او د ائتلاف مهمې ډلې چې د دوستم جنبش او د مزاري وحدت ډلې وې. څو میاشتې وروسته له لومړني ائتلاف څخه ووتې او د حکمتیار تر څنګ د نظار شورا او جمعیت پر ضد ودرېدې. خو د ائتلاف په انشعاب سره ځینې کسان یې یوې خوا ځینې یې بلې خوا شول چې تفصیل ته یې دلته ضرورت نه شته. له دې ډلو څخه چې زیات تېری یې پر پښتنو کړی دي هغه په مزار کې د دوستم جنبش، د محقق هزاره ګان او د نظار شورا تاجکان دي.

تورن اسماعیل هم په هرات او فراه کې د پښتنو تجاوز او د ځایي خلکو پر ضد جنګ او تعصب شروع کړي دي، خو د شمال د ډلو په شان بې ناموسي دلته نه ده شوې چې دلیل یې هم دلته پخپله د پښتنو زور او شمېر دی، نه د اسماعیل خان لطف او شفقت.

د افغانستان په شمال کې د پښتنو پر ضد تعصب، بې ناموسي، چور، چپاول او قتلونه بې سابقه دي چې باید د تاریخ پاڼو ته وسپارل شي.

په نیویارک کې د بشر د حقوقو موسسې غړی د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کالونو تر منځ د افغانستان شمال ته یو لړ سفرونه وکړل چې په پښتنو باندې ظلمونه پخپلو سترګو ووینې، د امریکایي ورځپاڼو او جریدو خبریالانو هم په دې باب په تفصیل سره په تېر یو کال کې رپوټونه لیکلي دي. په بل عبارت پر پښتنو باندې د جهاد په ټوله دوره کې دومره مواد د لویدیځو ملکونو او د هغو د مطبوعاتو له خوا نه وو لیکل شوي لکه چې په دې تېر کال کې لیکل شوي دي. افغان پوهان او لیکوال باید د دې عیني شاهدانو په اسنادو د پښتنو د تېر کال په باب په تفصیل سره مقالې او کتابونه ولیکي، تر څو هغوی تاریخ ته ور وپېژني. دا مقاله د دې پېښو د تفصیل د لیکلو حوصله نه لري. خو غواړم چې له دې تېریو او ظلمونو پرده پورته کړم. د بشر د حقوقو د رپوټونو د تفصیل لپاره د هغو د برېښنا وېب سایټ نه استفاده کولای شئ چې پته یې http:\\www.hrm.org ده:

دا لاندې پېښې په Homun Rights Watch او په واشنګټن پوست کې لیکل شوې دي:

الف: اختر محمد چې وروسته له ۱۵ میاشتو مزدورۍ او مهاجرت نه په ایران کې بېرته. د افغانستان په شمال کې خپل کور ته راستون شو، نو د دې پر ځای چې د فامیل غړي یې تود هرکلی وکړي د سرویس نه په کښته کېدو کې یې ازبک ټوپکیانو ونیو او خپلې قرارګاه ته یې یوړو. هلته یې دومره وواهه چې ضعف یې وکړ او څه چې یې په ایران کې په مزدورۍ ګټلي و، هغه یې ورڅخه غلا کړل. کومې تحفې چې یې د فامیل غړو ته اخستې وې، هغه یې هم ورته پرې نښودې.

کلـه چې وروسته لـه څه مودې اختر محمد ازبکانو خوشې کړ. هغه خپل کور ته ولاړ او ویې لیدل چې کور یې هم تالا شوی و او د کورنۍ درک یې نه و.

ب: ۱۴ کلـنې فـاطمې. هـزاره عـسکرو تـه عـذر او زارۍ وکـړې چـې ورباندې تجاوز ونه کړي، ځکه عمر یې کم او باکره ده. خو یوه هزاره ګي ټوپک وربـاندې را واړه چې ((کالـي دې وباسـه او کـه نـه نـو وژنـو دې؟)) او عسکرو پرې تجاوز وکړ او بیا نورو چې ټول د حزب وحدت غړي وو د هغې په سپین سرې مور هم جنسي تجاوز وکړ. د فاطمي مور لـه دې کسانونه پوښتنه وکړه چې تاسو ولي زموږ په حق کې دومره ظلم کوي، هغوی ورته وویل چې ته طالبه او پښتنه یې)).

مخکې لـه دې چې دا عـسکر ولاړ شي هغو د فاطمې پلار چې یو بوډا شل او شوټ سړی و. دومره وواهه چې بې سده شو. بیا یې د دې کورنۍ هر څه په چور او غـلا سره یوړل. د فـاطمې مـور خبریالانو تـه وویل چې موږ تـه نور هېڅ نه دي راپاتې. موږ عزت واده او ننګ ټول لـه منځه وړل شوي دي.

د واشنګټن پوست نماینده لیکي: په شمال کې اوس پښتـانه، د طالبانو د نیمګړتیاوو تـاوان ورکـوي. د بشـر د حقوقـو Human Rights (H.R ټولـنه وایي چې موږ پـه تېـرو څو میاشتـو کې د شمال پـه څو ولایـتونو کې، لکه بغلان، تخار، بلخ، جوزجان او سرپل کې لـه یوه کلي نه بل کلي ته تللي یو او و مو لیدل چې ذ پورتـه دوو مثالو په شان. هر چېرې د جنبش. وحدت او نظار شورا لـه خوا په پښتنو باندې ظلمونه تحمیل شوي دي. د رپوټ په بله برخه کې لیکي چې په یوه کلي کې ۳۷ تنه نارینه پـه دې ووژل شول چې ورځخه غوښتل شوې پیسې یې نه درلودې چې دې ملیشاوو ته یې ورکړې وای. رپوټ وایي چې اوس د پښتـنو کلـي بې ارواح بانډو تـه ورتـه دي او اوسېدونکي پښتـانه یې یا پاکستـان او یا هم د افغانستـان په جنوب کې، د پښتنو سیمو ته مهاجر شوي دي.

ج: رپوټ وایې چې د فاریاب پـه یوه کلي کې زموږ ناڅاپه رسېدل یو ازبـک ټوپچکی وهېراوه چې لـه یوه سپینږیري پښتون نه یې په زوره پیسې غوښتلې.

د: د سمنګان په ولایت کې په هغه ورځ چې موږ ورسیدو د کلي یو مشر پښتون مجبور کړای شوي و چې خپله ټوله رمه په هماغه سهار ټوپچکی قومندان ته د خپل ځان او د فامیل د ژوند په مقابل کې ور وسپاري.

واشنګټن پوست ورځپانه د خپل رپوټ په پای کې لیکي چې د امریکا په مرسته دا سرغړوونکي په قدرت راغلل خو اوس امریکا او زموږ متحدین باید په بېړې سره قدم پورته کړي تر څو دا جنګ سالاران له هغه څه نه چې د القاعده او طالبانو پر ضد تر لاسه شوي. له لاسه ورنه کړي. ځکه امریکا د روسانو له وتلو نه وروسته افغانستان ته شاه کړه او د سپتمبر د ۱۱ یوولسمې تاوان یې ورکړ. دا ځل که د افغانستان د خلکو لپاره نه وي. نو موږ باید د خپل ځان لپاره د افغانستان امنیت او استقرار ته په درنه سترګه وګورو.

هـ: پر پښتنو باندې د تېریو له امله د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو رئیسه مېرمن رابین سن د ۲۰۰۲ په مارچ کې د افغانستان شمال ته ولاړه او وې ویل چې په پښتنو باندې د تاجکو ازبکو او هزاره. اتنیکي ډلو د تېریونه هغې "شوک وخوړ". ځکه په مزار او بلخ کې پښتنو په خپله خوله هغه قتل و قتال، غلا او چور او بې ناموسي چې د هغوی په حق کې شوي، ورته حکایت کړي. د اسلام اباد په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې میرمن رابین سن وویل چې دواړه نارینه او ښځینه وو هغې ته د جنسي تېریو د سر او مال د تجاوز په باب کیسې وکړې. هغې خبریالانو ته وویل چې دا تجاوز ډېر جدي دی چې په هغو کې قتل. وهل او ټکلول. پر ښځو باندې جنسي تجاوز. په یوه کلي کې د زرونو پسونو غلا کول او د پښتنو له کورونو نه د هر شي په سرقت او غلا وړل شامل دي.

د کوریا ازادي راډیو چې په پراګ کې د امریکي په پیسو چلېږي ۲۰۰۲ کال د مارچ پر ۱۴مه وویل شول چې په شمال کې تر یو میلیون پښتانه. ټول د ازبک. هزاره او تاجک اتنیکي ډلو. له انتقام اخیستنې سره مخامخ شوي دي.

و: په یوه رپوټ کې چې له تاجکستان څخه د ۲۰۰۲کال په سپتمبر کې راليږل شوي وو تاجک او ازبک ټوپچکیانو خبریالانو ته په پښتنو باندې د

خپلو تېريو کيسې وکړې چې څرنګه موږ حتی په ۸ کلنو نجونو چې بدن يې هلکانو ته ورته و اونه پوهېدل چې موږ څه ورسره کوو. جنسي تيري کړي دي. هغوی وايي چې موږ ته ويل شوي و چې له وژلو نه هم په پښتنو باندې جنسي تېري وکړئ چې ټول عمر د بې ننګۍ پور ورباندې وي. له دې څخه ښکاره ده چې دا ټوپکماران نظر يو پلان ته چې د هغو مشرانو طرح کړی دی دا ډول تېري کوي. ممکن يو هدف هم د افغانستان د شمال او لوېديځ تصفيه له پښتنو نه وي. تر څو که ورځ يې راغله چې دا سيمې بې له کوم مقاومت نه په شمال کې له تاجک او ازبکستان او په لوېديځ کې له ايران سره يوځای شي.

ز: څکه د بشر د حقوقو (H.R) په رپوټ کې له بغلان نه ليکل شوي چې د شورای نظار او سيدکيان اسماعليه ډلې د پښتنو پر کليو د تعرض په وخت کې هغوی ته ويلي وو: "تاسې پښتانه يئ ستاسو له دې سيمې سره اړيکي نه شته، تاسې بايد کابل ته ولاړ شئ، نور دغه سيمه موږ ته پرېږدئ" د دې بشري ټولنې څلور تنه چې د ۲۰۰۲ کال د مارچ او فبروري په مياشتو کې بغلان، سمنګان، بلخ، او فارياب ولايتونو ته ولاړل او هم يې له هغو مهاجرينو سره چې له کندوز نه بې ځايه شوي وو خبرې وکړې، ټولو ورته ويلي چې د ښځو له ګانو او د کور له غلې داني څخه نيولې تر جنسي تېريو، وهلو او وژلو پورې ورباندې د دې اتنيکي ډلو د لوټمارانو له لوري تحميل شوې دي.

د بشر دحقوقو اداره (H.R) د رپوټ په پای کې وړانديزونه لري چې څرنګه د دې حالت مخه ونيول شي. او هم ملګري ملتونه وړانديزونه کوي چې څه بايد وکړي او دريم په منځ مهاله حکومت کې دوستم، فهيم، او محقق ته ګوته نيسي چې بايد د خپلو سرغړونکو کنټرول په لاس کې واخلي. هغوی چې دا جرمونه کوي بايد لرې کړل شي او له حکومت سره د دې تېريو په پلټونو کې مرسته وکړي څکه هغوی هر يو د دې عبورې ادارې غړي دي. په شمال کې پښتانه بيرته په خپلو کورونو او کليو کې ځای پر ځای کړي او د پخلاينې لاره تر مخه شي.

د بشر د حقوقو او د ملګرو ملتونو د بشر د کميسون د مشرې مېرمن رابين سن لـه رپوټونونه دا دي اتـه مياشتې تېري شوې خو د پښتنو پر ضد، تېري او تعصب دوام لري. عـبوري حکومت د دې پر ځـاى چـې مخـه يـې ونيسي، د هغوى ويـاند يوسف نورستاني خبريالانو تـه د ۲۰۰۲ پـه مـارچ کې وويـل چـې د "تيريو رپوټونـه مـبالغه اميزه دي" دا هغـه خبرې تـه ورتـه ده چې خلقيانو بـه د مهاجرو پـه بـاب کولـه چې هغـه کوچيان دي او لـه کلونو کلونو راپه دې خوا پاکستان تـه اوړي او را اوړي. خداى(ج) دې ظالمان پـه جزا ورسوي.

*اخځونه:*


۱- م، ع، رحيم: د افغانانو تاريخ پـه هند کې **۱۵۴۵** - **۱۶۳۱** م پورې، پاکستان پبلشينګ هوس کراچي ۱۹۶۱

۲- ج، ل، لوس ګومانځ: د هند و افغـان د امپراتورى پيدا کېدل ۱۷۱۰ - ۱۷۸۰

۳- اى، جى، برل لايډن، هالنډ **۱۹۹۵**

۴- ريچارډ ټپر [سر محرر]((مقدمه)) ، د پـه افغانستان او ايران کې د قوم او دولت تر منځ مخالف، ګروم هلم، لندن **۱۹۸۳**

**۵**- نانسي ټپر مقاله په همدى کتاب کې.

۶- توماس، جى، بارفيلډ: د ناقلو پښتنو تاثير پـه کوچي تـګ لاره، د مرکزى اسيا اتحاديه، نيويارک ۱۹۷۸.

انجنير محمد انعام واک

# د افغانستان قومي ـ ژبنۍ جوړښت
## او قومي تجانس

*یادونه:* دا څېړنـیزه لیکـنه د واک فونډېشـن سـروې او څېړنـې (۱۹۹۱ ــ ۱۹۹۶) هغـه لنډيز دی چې د سږ کـال د مې د میاشـتې پـر یوولسـمه نېټـه د جرمنـي د کولـن پـه ښـار کـې د افغانسـتـان د کلتـوري ودې ټولـنې لـه خوا پـه رابلـل شـوي سيمينار کـې مـا ولوسته.

*لیکوال*

### د افغانستان قومي جوړښت:

د افغانســتـان قومــي جوړښـت پــه ټــول افغـــان نفــوس کــې د ختــې پــر بنسټ د افغانستـان د قومي ګروپونو له فیصدۍ څخه عبارت دی.

لـه شـپېتمې لسـيزې (۱۹۶۰) نـه وړانـدې پـه افغانـي ټولـنه کـې پـه ختـه نسـب او قـوم پـورې د ځـان د تړلـو روحـيه پـياوړې وه، خـو پـه هېـواد کـې د "دولتـي حاکميـت" او "ملـي احسـاس" نسـبي پياوړتـيا پـه خلکـو کــې د قــوم او نســب پــر ځــای پــه مــربوطه اداري سياســي واحدونــو (ولايتونو) پورې د ځان تړلو احساس منځ ته راوست.

د ۱۹ پېـړۍ د پـای او د شـلمې پېـړۍ د مـنځ پـه کلونـو کـې يـو شـمېر ټولنـيزو، کلـتوري، مواصـلاتي او اقتصـادي پـروژو د افغانيـت او افغــان کولــو (Afghanization) پــه بتــې کــې د قومــي ګــروپونو پــه نسـبي ويلـې کېدنـې يـو "لـوار" ملـي پيوسـتون مـنځ تـه راووسـت. خـو د

دموکراسۍ د لسیزې (۱۹۶۴ ــ ۱۹۷۳) ناوړو پایلو شته ملي احساس کمزوری او په دې ډول شته ملي پیوستون نور هم لواړ شو:

په اتیایمه لسیزه کې د "طبقاتي مبارزې" په بڼه کې د یوې ایډیالوژۍ او په ۹۰مه لسیزه کې د "مذهب" په بڼه کې د بلې ایډیالوژۍ د ټولنې او دولت جوړونې ناکام پخلي د شته ملي پیوستون او قومي ژبني جوړښت خام کوشیرونه نور هم وخېژول. په پای کې ټولنه په ۱۹۹۲-۱۹۹۶ دوره کې په قومي بنسټونو ټوټه شوه. په اتیایمه لسیزه کې څه پخپله افغانانو او څه بهرنیو محافلو د افغان قومي ګروپونو د نوي تناسب او فیصدیو په وړاندې کولو د قومونو د فیصد دا بالقوه ټولنیزه ستونزه په یوې بالفعل سیاسي ستونزې بدله او هغه یې د ننني افغان سیاست په محراق کې ورننه ایسته.

په دغسې یوه ټولنیز ــ سیاسي چاپېریال کې واک فونډېشن د یوې ټولنیزې پروژې په توګه په ۱۹۹۱ م کال کې په افغانستان کې د قومي ګروپونو د کره فیصدۍ د لاس ته راوړلو کار پیل او په ۱۹۹۶ م کال کې یې په بریالیتوب پای ته ورساوه.

د نفوسو دقیق شمار او د قومونو کره فیصدي به زموږ د وېشلې ټولنې او وران ویجاړ هېواد په فزیکي بیا ودانولو او اقتصادي پرمختیا کې د لنډې مودې او د ملي ټولنې په جوړښت کې به د اوږدې مودې د هدف په توګه لوی لاس ولري.

د واک فونډېشن دا سروې او څېړنه د دې پروژې پای نه، بلکې د پیل ټکی دی. موږ هیله من یو چې راتلونکې او نورې څېړنې به زموږ دا موندنې لا هم غښتلې کړي.

د دې سروې او څېړنې نتایج د ولسوالیو، حوزو او زونونو په تفکیک یوځل په ۱۹۹۸ کال کې په پښتو او بیا په ۱۹۹۹ کال په انګرېزي ژبه په پېښور کې چاپ شول.

موږ دلته په لنډ ډول یوازې د زونونو او ټول هېواد په کچ د قومي ګروپونو دا فیصدي وړاندې کوو.

۱- شمال+ لوېديز زون (بدخشان، تخار، کندز، سمنګان، بغلان، بلخ، فارياب، جوزجان، بادغيس، هرات، فراه):

پښتانه په سلو کې ۳۹ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۱۳).

تاجک په سلو کې ۲۱ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې۷).

ازبک په سلو کې ۱۸ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۶).

هزاره په سلو کې ۶ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۲).

ايماق په سلو کې ۶ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۲).

*يادونه:* د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۳۴ په دې زون کې اباد دي.

۲- مرکزي زون (غور، باميان، ارزګان):

هزاره، په سلو کې ۵۰ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۳).

پښتانه په سلو کې ۳۵ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۲).

ايماق په سلو کې ۱۲ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۲).

نور اقليتونه په سلو کې ۱ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۱).

يادونه: د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۶ په دې زون کې اباد دي.

۳- جنوب + ختيز زون:

پښتانه په سلو کې ۷۶ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۳۷).

تاجک په سلو کې ۱۱ (د ټول هېواد د نفوسو کې په سلو کې ۵).

هزاره په سلو کې ۸ (د ټول هېواد د نفوسو په سلو کې ۴).

نور اقليتونه په سلو کې ۴.

*يادونه:* د هېواد د ټول نفوس په سلو کې نږدې نيمايي، په سلو کې ۴۹، په دې زون کې مېشت دی.

*کوچيان:*

ټول کوچيان د افغان نفوس په سلو کې ۱۸، ۱۱.

پښتانه کوچيان د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۹,۹۵.

نور کوچيان د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۱,۳۲.

د قومونو وېش د هېواد په کچ:

۱- پښتانه په سلو کې ۶۲,۷۳.
۲- تاجک په سلو کې ۱۲,۳۸.
۳- هزاره په سلو کې ۹,۰.
۴- ازبک په سلو کې ۶,۱.
۵- ترکمن په سلو کې ۲,۶۹.
۶ ایماق په سلو کې ۲,۶۸.

ټول: ۹۵,۵۸

نور اقلیتونه په سلو کې ۴,۴۲.

ټولټال: ۱۰۰

د افغانستان په شمال+ لوېدیز زون یانې له بدخشان نه نیولې تر فراه پورې په یوولسو ولایتونو کې دا چې تاجک په سلو کې ۲۱، ازبک په سلو کې ۱۸، ترکمن په سلو کې ۸، هزاره او ایماق هر یو په سلو کې ۶ دي. نو، پښتانه په سلو کې د ۳۹ اوسېدونکو په توګه د دې زون اکثریت قوم دی.

د یادونې وړ ده چې د هېواد د ټولو تاجکو په اندازه پښتانه یوازې په شمال + لوېدیز زون او د هېواد د ټولو ازبکو په اندازه تاجک په همدې زون کې اباد دي.

*پښتانه:* په ټول افغان نفوس کې په سلو کې له ۶۲,۷۳ پښتنو څخه ۲ د هېواد په مرکزي زون ۱۳ د هېواد په شمال + لوېدیز زون په سلو کې ۳۷ په جنوب + ختیز زون او په سلو کې پاتې ۱۰ یې د کوچیانو په توګه ژوند کوي.

تاجک په ټول افغان نفوس کې په سلو کې له نومورو دولسو (۱۲) تاجکو څخه (۷) یې له هندوکش نه هاخوا په شمال ختیز کې له بدخشانه نیولې په لوېدیز کې تر فراه پورې په یوولسو ولایتونو کې او پاتې (۵) یې په عمده ډول په ختیځ ــ مرکزي ولایتونو یانې کاپیسا، پروان او کابل کې اباد دي.

د واک فونډ پښـن د سـروې او څېړنـې پـه نتـيجه کـې د قومونـو ویش ښيـي چې اصلي تـاجک مېشـته سيمې د پروان، کاپيسـا، تخـار او بدخشـان ولايـتونه دي. پـه نـورو ولايـتونو کـې لکـه کـابل، بغـلان، کـندز، بلـخ، جوزجـان کـې تـاجک حاشـيوي او څېـرمه پـيز نفـوس لـري. نـو کـه د پورتنيو څلـورو ولايـتونو اوسېدونکي ټول هـم تـاجک وګڼل شـي، بـيا هـم د دې ولايـتونو نفـوس ۲۰۷۵۷۴۹ (۱۹۹۰ کـال) د ټـول افغان نفوس په سلو کې ۱۲ جوړوي، خو داسې نه ده:

د کاپيسـا ولايـت ۵۳ پـه سلو کـې د پـروان د ولايـت ۶۰ پـه سـلو کـې د تخـار د ولايـت ۴۵ پـه سـلو کـې او د بدخشـان د ولايـت پـه سـلو کـې ۱۷ اوسـېدونکي غـير تـاجک دي. يـانې د دې څلـورو ولايـتونو ټـول تـاجک پـه منځنـۍ توګـه د دې ولايـتونو پـه سـلو کـې ۵۷ نفـوس جـوړوي. چې دا د افغانسـتان د ټـول نفـوس پـه سـلو کـې ۷ کېږي، پـه سلو کې پاتې ۵ تاجک په نورو ولايتونو کې مېشت دي.

*هزاره:*

باميـان پـه مرکـزي افغانسـتان کـې هغـه هـزاره مېشـته سيمه ده، چې د افغانسـتان د ټـول نفـوس پـه سـلو کـې يـوازې څـه ناڅـه ۲ هـزاره ګـان پـه کـې اباد دي. پـه عمومـي ډول پـه ټـول افغـان نفـوس کـې پـه سـلو کـې ۲ هـزاره پـه شـمال + لوېديـز زون پـه سـلو کـې ۳ پـه مرکـزي زون او پـه سـلو کې پاتې ۴ يې په جنوب + ختيز زون کې مېشت دي.

د واک فـونډ پښـن پـه عقـيده د هـزاره ګـانو لـپاره د فيصـدي د ۶ (L.Dupree) او يـا د ۱۹ (CIA) اعـداد هېڅکلـه هـم د مـنلو وړ نـه دي.

د باميانو هزاره ګان په سلو کې نژدې دوه ۱,۷.

د ارزګـان ولايـت د شهرسـتان او دايکـندي د دوه ګـڼ مېشـته ولسـواليو پـه ګـډون د دې ولايـت ټـول هـزاره ګـان د دې ولايـت پـه سـلو کـې ۴۷ نفـوس جـوړوي؛ چـې دا پخـپل وار د هېـواد د ټـول نفـوس پـه سلو کې ۳,۱ کېږي.

د غزني ولایت هزاره ګان د دې ولایت د نفوسو په سلو کې ۴۵ دي، چې دا د ټول افغان نفوس په سلو کې ۹,۱ کېږي.

د هېواد نږدې نهمه برخه هزاره ګان (۰,۹) په کابل او پروان کې اباد دي.

نو د همدې ولاتونو هزاره ګان د هېواد د ټول نفوس په سلو کې څه ناڅه ۶ هزاره ګان جوړولای شي. په سلو کې پاتې درې هزاره ګان په لوګر، وردګ، بادغیس، بلخ، کندز، جوزجان، او سمنګان کې مېشت دي.

*کوچیان:* د افغان نفوس په سلو کې ۱۱,۱۸ دایمي یا اصلي کوچیان دي. د کوچیانو په سلو کې ۸۹ پښتانه دي چې د افغان نفوس په سلو کې ۹,۹۵ کېږي، نور کوچیان د هېواد د ټولو کوچیانو په سلو کې ۱۱ دي، چې دا د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۱,۲۳ کېږي.

**د افغانستان ژبنی جوړښت:**

افغان ژبنی جوړښت هم یو وېشلی جوړښت دی. د ملګرو ملتونو د معلوماتو او یونیډېټا (UNIDATA) د ۱۹۹۱ کال د سروې او څېړنې له مخې په افغانستان کې د بېلو بېلو ژبو د ویونکو منځنی حد په لاندې ډول دی:

درې ژبې په سلو کې ۴۸.

پښتو ژبې په سلو کې ۴۰.

ازبکي ژبې په سلو کې ۵,۸.

ترکمني ژبې په سلو کې ۱,۴.

بلوڅي ژبې په سلو کې ۱,۸.

د ختې پر بنسټ د واک فونډېشن او د ژبې پر بنسټ د ملګرو ملتونو د نوموړې سروې د نتایجو له پرتلې نه جوته ده چې افغان قومي او ژبني جوړښتونه یو پر بل کې ننوتي دي. یانې یو شمېر

افغانـي قومـي ګـروپونه پـه کلـتوري - ژبنـي لحـاظ يـو پـه بـل کـې ورک شـوي دي. پښـتانه او هـزاره زيـات ورک شـوي قومـي جوړښـتونه دي.

مـوږ لـه نومـوړې پـرتلې څخـه پـه ټـول هېـواد کـې پـه ژبنـي بنسـټ د ورکـو شـويو قومـي ګـروپونو فيصـدۍ لاس تـه راوړې دي. دلـته يـوازې څو مثالونه وړاندې کوو.

پـه فـراه کې پـه سلو کې ۵۵، پـه هـرات کې پـه سلو کې ۳۳، پـه غـور کې پـه سـلو کـې ۴۱، پـه پـروان کې پـه سـلو کـې ۲۱، پـه کـابل کـې پـه سـلو کـې ۴۲ او پـه پـاى کـې پـه ټـول هېـواد کـې پـه سـلو کـې ۷,۷۳ پښتانه له کلتوري ژبني پلوه ويلي شوي دي.

هـزاره ګـان، ايمـاق، ازبـک او ترکمـن هـم پـه همـدې ډول لـه کلـتوري ژبنـي لحـاظ ويلـي شـوي دي. داسـې چـې هـزاره ګـان او ايمـاق څـه ناڅـه په سلو ۳۳.

ازبکي ژبې په سلو کې ۵,۸.

ترکمني ژبې په سلو کې ۱,۴.

د يـادونې وړ ده چـې يـو شـمېر تـاجک (۱) د پکتـيکا ولايـت پـه ارګـون، د ننګرهار ولايـت د چپلـيار او روداتـو پـه ولسـواليو او د کونـړ ولايـت پـه دم کلـي کـې پـه ژبنـي لحـاظ پښـتانه شـوي دي. د ننګرهار ولايـت د خوږيانـيو د ولسـواليو د قلـيغو پـه کلـي کـې نـژدې پـنځوس کورنـۍ اباد قزلـباش د ژبـې لـه پلوه پښـتانه او د مذهـب لـه مخـې پـه مطـلق ډول (سـنيان) شـوي دي. دا يـو نـادر مـثال دى چـې مذهبـي چاپېريال د ګوتو په شمار خلک په مذهبي لحاظ اړولي دي.

د واک فوندېشـن څېړنـې ښيـي چـې مذهبـي برلاسـى يـا مذهبـي اکثريت پـه افغانسـتان کـې قوميت نـه دي اړولـي. د مـثال پـه ډول د بدخشـان ولايـت د کـران او مـنجان روشـان، شـغنان، واخـان او زيـباک د ولسـواليو اسـمعيليه تـاجک شـيعه ګـان اوس هـم پـه ختـه تـاجک دي. قزلـباش د ژبـې لـه پلـوه پښـتانه او د مذهـب لـه مخـې پـه مطلق ډول (سـنيان) شـوي ديـز دا يـو نـادر مـثال دى چـې مذهبي چاپېريال د ګوتـو

په شمار خلک په مذهبي چاپېريال د ګوتو په شمار خلک په مذهبي لحاظ اړولي دي.

د واک فونډېشن څېړنې ښيي چې مذهبي برلاسيو يا مذهبي اکثريت په افغانستان کې قوميت نه دي اړولي. د مثال په ډول د بدخشان ولايت د کران او منجان روشان، شغنان، واخان او زيباک د ولسواليو اسمعيليه تاجک شيعه ګان اوس هم په ختکه تاجک دي. قزلباش شيعه ګان (پرته له پورتني استثنا نه) د يوه ډېر کوچني اقليت په توګه چې د پښتنو، تاجکو او نورو سني قومونو سره ګډ اوسېږي اوس هم قزلباش دي. د بغلان د ولايت د دهنه غوري، دوشي او پلخمري د ولسواليو اسمعيليه شيعه ګان هم په ختمه هزاره پاتې دي. سره له دې چې سني او شيعه هزاره ګانو د نورو افغان قومي ګروپونو په څېر نړيوالې نه دي مات کړي بيا هم په باميان، بلخ، کندز، ارزګان، جوزجان او غزني کې هماغسې هزاره ګان پاتې دي.

نو ويلای شو چې: برلاسي په افغانستان کې په عمومي ډول کلتوري ــ سياسي وه! نه قومي او مذهبي ياني د اکثريت مذهب نه اقليتي مذاهب او نه يې د اقليتونو قوميت، يو هم نه دي اړولي. همدې کلتوري ژبنۍ برلاسي منځ ته راوستې وه.

په افغانستان کې د قومونو د ويلي کېدلو او ژبني ورکېدنې عدد زموږ د څېړنې له مخې ۲۱ دي. ياني، په ټول افغانستان کې د غيرتاجک قومي ګروپونو ۲۱ تنه له کلتوري ـ ژبني پلوه فارسيوان شوي دي. نو افغان ژبنی جوړښت په لاندي ډول ګڼلای شو.

د پښتو ژبني جوړښت په سلو کې ۵۵، لومړنی مستقل ژبنی ګروپ.

دري ژبنی جوړښت په سلو کې ۳۳، دويم ژبنی خو ائتلافي ګروپ:

په دې ډول چې تاجکو په ژبني لحاظ:

په سلو کې څه ناخه ټول هزاره ګان،

په سلو کې سل واړه ایماق.

په سلو کې ۱,۲۹ ترکمن،

په سلو کې ۰,۳ ازبک،

او په سلو کې نږدې اته (۷,۷۳) پښتانه په خپل ځان کې ویلي کړي دي. نو د افغانستان ژبنی جوړښت په لاندې ډول دی:

پښتون ژبنی جوړښت په سلو کې ۵۵.

تاجک، ژبنی جوړښت په سلو کې ۳۳.

هزاره ژبنی جوړښت په سلو کې څه ناڅه صفر.

ازبک ژبنی جوړښت په سلو کې ۵,۸.

ترکمن ژبنی جوړښت په سلو کې ۱,۴.

## قومي تجانس:

یو په بل کې د قومي – ژبني ګروپونو ویلي کېدل او ورکېدل عامه خبره ده.

نه یوازې په افغانستان، بلکې په درسته بشري ټولنه کې دا ویلي کېدل لیدل کېږي. دا ویلي کېدنه په لنډه موده کې کلتوري او په پای کې د ملي ټولنې د جوړېدو په درشل کې قومي تجانس منځ ته راوړي.

طبعي قومي تجانس په افغانستان کې د نولسمې پېړۍ له پای څخه کمزوری شو. د ۱۹مې پېړۍ تر پایه ۱۸۹۳ قومي تجانس په افغانستان کې څه ناڅه ۸۰ و.اوس قومي تجانس ۶۳ او کلتوري ژبنی تجانس د پښتو ژبې په بنسټ ۵۵ او د دري ژبې پر بنسټ ۳۳ دي.

قومي تجانس په پاکستان کې ۴۸، په ایران کې ۴۵,۶، په تاجکستان کې ۶۲، په ازبکستان کې ۷۱ او ترکمنستان کې ۶۵ دي.

په پاکستان کې په سلو کې ۲۳، پښتانه په پنجابي، سرایکي، سندي او بلوڅي کلتور کې ویلي شوي دي، نه یوازې پښتانه، بلکې

د پښتنو په ګډون ټول پاکستان مېشت پورتني قومي ژبني ګروپونه په (پنجابي قومي ـ ژبني) ګروپ کې ويلي شوي دي. ويلای شو چې په پاکستان کې قومي تجانس ۴۸ دی، خو کلتوري ـ ژبني تجانس تر دې ډېر اوچت دی.

په ايران کې غټ قومي ګروپ فارس دی. چې د ايران د ټول نفوس په سلو کې ۴۵,۶ کېږي. د ايران ملي ژبه فارسي ده. د ايران نور غټ او واړه قومي ګروپونه اذري، کرد، عرب، بلوڅ، قشقاري، ترکمن، بختاري، لر ارمنيان او نور ټول او ټول په فارسي کلتور کې دل شوي دي.

ويلای شو چې د پاکستان په څېر په ايران کې هم ژبنی کلتوري تجانس د قومي تجانس نه ډېر اوچت دی او ليدل کېږي چې:

په ايران کې اقليتونه د اکثريت په کلتوري ژبني بټۍ کې ويلي شوي دي.

په پاکستان کې د غټو او کوچنيو قومي ګروپونو د کلتوري ويلي کېدنې په نتيجه کې يو نوی قومي ژبنی جوړښت منځ ته راغلی دی، خو:

په افغانستان کې د غټ قومي ګروپ پښتانه په ګډون يو شمېر کوچني قومي ګروپونه په تېره بيا هزاره او ايماق په يوه کوچني قومي خو پياوړي قومي ژبني ګروپ، تاجک کې ويلي شوي دي.

د کلتوري ويلي کېدنې بهير په پاکستان او ايران کې د پاملرنې وړ ملي احساس منځ ته راوستی دی، خو په افغانستان کې په تاجک کلتوري بټۍ کې په سلو کې د ۲۱ غير تاجک قومي ګروپونو له ويلي کېدنې سره سره بيا هم ملي احساس او د ملي ټولنې د جوړېدو يو "افغان" بهير بريالی نه دی.

د تېرو څلوېښتو کلونو سياسي ـ کلتوري تجربو وښوده چې افغان قومي توکي د ملي ټولنې د جوړېدو په افغان بټۍ کې هماغسې لواړ پراته دي، لکه د کمونېزم د ۷۰ کلن پخلي په بټۍ کې د مرکزي اسيا قومي توکي.

ښکاره ده چې د قومي تجانس او د ملي تولنې د جوړېدو لپاره تاجک کلتوري بنې په سلو کې په خپل ۱۲ قومي ظرفيت په سلو کې د پاتې ۸۸ افغان قومي ظرفيت د ويلې کېدو لپاره ډېره کوچنۍ ده. ويلای شو د قومي تجانس او ملي تولنې د جوړېدو لپاره ۶۳ پښتون قومي ظرفيت او ۵۵ پښتون کلتوري ژبنی ظرفيت مناسب ظرفيتونه دي، خو؛ بيروکراسۍ له دوه نيمو پېړيو او ايډيالوژۍ له نيمې پېړۍ راهيسې د ملي تولنې د جوړېدو لپاره په افغان پټۍ کې د قومي جوړښت د ويلې کولو ناکامې تجربې کړې دي.

## د پښتو ژبني جوړښت مخالف مثلث

الف، ايډيالوژي:

۱- يو نيم افغان سياسي سازمان، لکه د افغان ملت ګوند، چې څه يې پرون او څه يې نن د ډموکراتيکو اصولو له مخې له کلتوري پلوه د پښتون ژبني جوړښت په بنسټ د ملي تولنې په جوړېدو باندې ټينګار کړی خو په عمل کې يې څه غټ ګام نه دی اوچت کړی.

۲- د داسې ايډيالوژيو په تېره ولاړ سياسي سازمانونه چې د ژبې ستونزه ورته ملي ستونزه نه ښکارېده او نه ښکاري، او نن دې سازمانونو ته يوازې او يوازې پښتانه غړي پاتې دي.

پښتانه خلقيان او پښتانه مذهبي بنسټپالي د مثال په توګه اخوانيان او طالبان.

*پښتانه خلقيان:* سره له دې چې د خلقيانو د لنډمهالي حاکميت په دوره کې د ژبې او قومي په بنسټ نه، بلکې د اجتماعي ـ اقتصادي طبقه بندۍ په بنسټ د اکثريت او اقليتونو تفکيک له يوې خوا او د اکثريت او اقليتونو ټولو ژبو ته د ملي او يوې ته په دولتي ـ رسمي سترګه په کلتوري له بلې خوا، د ژبې دملي مسئلې

د حل پالیسي د ستالیني مکتب د ایډیالوژیک تاثیر لاندې وه، خو بیا هم په دې لاره کې په یوه نه یوه بڼه څه کار وشو.

*پښتانه اخوانیان:* دوی لا هم د "پښتو او فارسي په اسلام کې نه شته" او د "اکثریت او اقلیت په اسلام کې نه شته" په نظریاتو باندې کلک ولاړ دي.

یو شوکسان او یوه نیمه سیاسي حلقه شته چې د پښتو پښتو خبره کوي، خو د هغوی د دې خبرو په ورو کې د هغوی د ایډیالوژۍ شګه ګډه ده او له پښتو نه د یوه سپر کار اخلي.

پښتانه بنسټپالي لکه څنګه چې په شلمه پېړۍ کې د خپل ایډیالوژیک انجماد په تېره کلک ولاړ و، نن په یوویشتمه پېړۍ کې هم هماغسې ولاړ پاتې دي. دوی ته د ژبې ملي ستونزه او نور ملي منافع له خپلې ایډیالوژیکي ونې نه ډېر تیټ ښکاري.

ایا په ختیځ پښتنه مذهبي بنسټپالنه هم شته؟

اسلامیزم په ټوله مرکزي او جنوبي اسیا کې په پښتنو کې ډېره وده وکړه، خو دا چې ایډیالوژي قومي پولې نه پېژني او هغه ماتوي هم. نو؛ پښتون اسلامیزم شوني دی؟

ایا د طالبانو دوره د پښتون اسلامیزم دوره وه؟ که د پښتون نشنلیزم؟

او که د دې دواړو "ایزمونو" د ګډون او امتزاج دوره؟

ځینې افغاني پوهانو د طالبانو دوره د پښتون نشنلیزم دوره ګڼلې ده او ځینې یې پښتون اسلامیزم ګڼي. خو دا یوه درنه تېروتنه او سرسري نظر دی.

واک فونډېشن د ۱۹۹ کال په وروستیو دریو میاشتو کې په پاکستان او افغانستان کې د یوې سروې په ترڅ کې له ۲۰۰۰ دوه زرو تنو باخبرو افغانانو څخه د طالبانو "د سیاسي ایډیالوژیک" هویت پوښتنه وکړه. په سلو کې ۸۶ کسانو نه یوازې د طالبانو

تحریک "پښتون نشنلېزم" او "پښتون اسلامیزم" و نه ګاڼه، بلکې هغه یې سوچه بنسټپالې اسلامي وباله.

واقعیت دا دی چې له تیوریکي پلوه هم نه پښتنه مذهبي بنسټپالنه شته او نه په عملي لحاظ مذهبي بنسټپالنه، د ۱۹۹۲ کال نه تر ۲۰۰۰ کال پورې د اخوانیانو او طالبانو په خپلو دوارو بڼوکې نه د پښتو ژبې او نه د نورو پښتني او افغاني ارزښتونو په یوه تیره هم و نه درېده، نو ویلای شو چې:

ایډیالوژي په خپلو دوارو "کمونیسي" او "مذهبي" بڼو کې د پښتو ژبنی جوړښت په وړاندې د مخالف مثلث یو کونج جوړ کړ.

*ب، بیروکراسي:*

بیروکراسي نه د افغانستان د ۱۳۴۳ ل کال د اساسي قانون دریمه ماده چې پښتو او دري ژبې د هېواد رسمي ژبې ګڼي او نه د همدې اساسي قانون پینځه دېرشمه ۳۵ ماده چې پښتو ژبه د هیواد ملي ژبه "ګڼي" یوه هم په رسمیت نه پېژني، بیروکراسي نه پښتو لیکي او نه په پښتو غږېږي. بیروکراسي په واقعیت کې یوازې او یوازې دري ژبه د هېواد رسمي او ملي ژبه منلې ده.

یانې:

بیروکراسي د پښتو ژبې جوړښت د مخالف مثلث راس.

ج:

یوه ډله دوه اتشه غیر ګوندي پښتانه څېړونکي او لیکوالان شته چې سوچه پښتو لیکي او له هر چا زیات د پښتو ژبې جوړښت ملاتړ کوي، خو دا ښاغلي په خپلو کورنو کې له خپلو ماشومانو سره په پښتو ژبه نه غږېږي.

له یو غیر پښتو ژبي افغان سره څو کسه ناست پښتو ژبي افغانان په دري ژبه غږېږي.

ځینې پښتانه څېړونکي د پښتو ژبې شپږ اوه سوه څېړنیز کتاب په پښتو، خو سریزه یې په دري ژبه لیکي.

دا ډول درانه څېړونکي ليکوالان، پښتو ژبي پښتانه او فارسيوان پښتانه او د پښتو ژبنی جوړښت انقلابي غوښتونکي په لوی لاس د پښتو ژبنی جوړښت د مخالفينو تبر ته لاستی اچوي.

ويلای شو چې په بېروکراسۍ پورې نښتي ښاري شوي او محافظه کار پښتو روښانفکره قشر لږ تر لږه له دغسې يوه کلتوري انحطاط او لوېدنې سره وران نه دی، ياني دا ډول کلتوري ــ ژبني بهير د پښتو ژبني جوړښت د مخالف قشر بل کونج.

ننه بر

ايډيالوژي، بېروکراسۍ او نومړي کلتوري ــ ژبني بهير د پښتو ژبني جوړښت پر وړاندې د مخالف مثلث جوړ کړی.

واقعيت دا دی چې قومي جوړښت بېله کلتوري ـ ژبني جوړښت څخه يو کمزوری او بې بنسټه جوړښت دی. دا خو ژبنی جوړښت او بنسټ دی چې قومي جوړښت ښکته پورته بيايي.

کلتوري ـ ژبنی جوړښت په افغانستان کې پښتانه په سلوکې ۱۳ ؛

او هزاره ګان په سلو کې سل را ښکته کړي.

خو،

تاجک يې درې ځلې پورته کړي دي.

پورتنۍ څېړنې او ارقام ښيي چې:

پښتون "قومي اکثريت" په واقعت کې په سياسي لحاظ پر يوه کلتوري اقليت بدل شوی دی.

پښتو ژبه له "يوه سياسي واقعيت" نه يوه کمزوري کلتوري واقعيت" ته راښکته شوې ده.

په حقيقت کې قومي، جوړښت د يوې تولنې بطې او "ژبني جوړښت" يې سياسي پوله ده. يو په بل باندې د دې پولو لړول مطلوب قومي تجانس منځ ته راوړل شي.

*وړاندیز*

پښتو ژبنی جوړښت له مخالف سیاسي کلتوري مثلث نه لږ تر لږه د خلاصون درې پخې رسمي، ملي او دموکراتیکې لارې لري:

د نوموړي اساسي قانون د درېیمې مادې له مخې د پښتو ژبې رسمي موقف؛ د همدې اساسي قانون د ۳۵ مادې او د اکثریت د ژبې په توګه د پښتو ژبې ملي موقف؛

او په مرکزي او جنوبي اسیا کې د یوې سیمه ییزې ژبې سیمه ییز موقف،

نو؛

د پښتو ژبني جوړښت غوښتونکي، د ټولنې د کلتوري واقعیتونو په توګه د هېواد نورو ژبو ته په احترام، د پښتو ژبې د کلتوري او علمي انکشاف لپاره نوموړې لارې خپلولی شي.

تر څو پښتو ژبه له نننې کمزورې "کلتوري واقعیت" نه "سیاسي واقعیت" ته اچته شي.

پوهنمل محمداسمعیل یون

# راتلونکې لويه جرګه او انتخابات

# تشويشونه، اټکلونه او وړانديزونه

*تشويشونه:* وخت او ژوند د باد او اوبو مثال لري، ډېر ژر ژر تېرېږي او شاته نه ګوري. هوښيار خلک هغه دي چې له وخت څخه پر خپل وخت ډېره ګټه پورته کړي، رحمان بابا خو ان تېر وخت او تېر ساعت د لحد مړی ګڼي چې ان په سختو ژړاګانو هم نه را ژوندی کېږي او نه بېرته لاس ته راځي.
د بن د تړون او د بېړنۍ لويې جرګې د پرېکړو له مخې د همدې بېړنۍ لويې جرګې تر جوړېدو يو نيم کال وروسته د اساسي قانون د تصويب لپاره بله لويه جرګه رابلل کېږي او تر هغه وروسته بيا د شپږو مياشتو په بهير کې عمومي انتخابات کېږي او په نتيجه کې به يو منتخب حکومت رامنځ ته کېږي. اساسي قانون، لويه جرګه، انتخابات او منتخب حکومت هغه ډېرې سترې سياسي مسئلې دي چې د افغانانو او افغانستان برخليک ټاکي. د زمانې څرخ په ډېره بيړه تاوېږي، خو زموږ ولس په تېره بيا ملي سياسي ډلې، ملي شخصيتونه او نورې سياسي ډلې لا تر اوسه کوم فعال سياسي تحرک، خوځون او فعاليت نه لري او ددې طلايي وخت طلايي شېبې يې له لاسه وځي. راتلونکې لويې جرګې او انتخاباتو ته خورا کم وخت پاتې دی که سياسي ډلې همداسې ويدې پاتې شي او يا هم نوې متحرکې سياسي ډلې او ګوندونه رامنځته نه شي، نو داسې اټکل کېږي چې د افغانستان راتلونکې به تردې هم مبهمه او بدتره شي.

که چېرې په هېواد کې د ملي ګوندونو همدا ډول حالت همداسې دوام پاتې شي او د اوسني واکمنې انحصارګرې ډلې پر وړاندې یو ملي بدیل، جبهه او ائتلاف جوړ نه شي او د هېواد په سیاسي چارو کې د اوسني واکمنې سیاسي ډلې لاس همداسې خلاص پاتې شي نو د سترو سیاسي ناورینونو د پېښېدو اټکل کېدی شي چې ځینې یې دلته په ګوته کوو:

*اټکلونه:*

**الف ـ د بدیل مخنیوی:** اوسنی واکمنه سیاسي ډله غواړي تر راتلونکې لویې جرګې پورې په هېواد کې هېڅ یوه لویه سیاسي ډله او جبهه چې ددوی ګټو ته خطر او ضرر پېښولای شي رامنځ ته نه شي، دوی غواړي همدا حالت تر لویې جرګې پورې همداسې وساتي. که چېرې دوی تر بلې لویې جرګې پورې له پوځي پلوه همداسې برلاسي پاتې شي، نو بیا هم لویه جرګه تر خپل اغېزلاندې راوستلای شي، لکه څنګه چې دې جرګه کې امریکایانو او ملګرو ملتونو دوی ته د ویتو حق ورکړ او سولې ته دګواښ په پلمه یې دوی ته امتیازونه ومنل، نو بله لویه جرګه هم همداسې وګڼه. واکمنه انحصارګره ډله غواړي د زور او پیسو په وسیله د قوي اپوزیشن مخه ونیسي، هر مخالف ته د طالب او القاعدې نوم او رنګ ورکړي او د هغو د ځپلو لپاره د بهرنیو ځواکونو په تېره بیا د امریکایي ځواکونو پام راواړوي.

**ب ـ راتلونکی اساسي قانون:** د راتلونکي اساسي قانون مسوده دیوه ځانګړي کمیسیون له خوا ترتیبېږي او لویې جرګې ته د تصویب لپاره وړاندې کېږي، په اساسي قانون کې به دوه موضوعګانې تر نورو زیاتې جنجالي وي، یوه د فېډرېشن موضوع او بله د ملي ژبې موضوع. د فېډرېشن پلویان اوس دومره ځواکمن نه دي، خو کېدی شي په افغانستان کې د یو مرکزي حکومت موضوع د زیات تائید وړ وګرځي، نو د پښتو ژبې هغه خپل حقوق چې د ۱۳۴۳ ل کال اساسي قانون کې ورته ورکړل شوي او هېڅکله عملي نه شول، هغه هم کېدی شي له ګواښ سره مخامخ شي، ځکه چې اوس د پښتو ژبې هغه ډېر شعوري مخالفین په بشپړ واک کې

دي، دوی به اوس هڅه کوي چې پر کميسيون خپل فشار راولي چې د اساسي قانون ددې مادې متن بدل کړي او بيا به په لويه جرګه کې د خپلو پلويانو له لارې هڅه وکړي د پښتو ژبې حق سلب کړي. د فيډرېشن او ژبې له موضوع پرته په اساسي قانون کې نورې موضوعګانې څکه د زيات تشويش وړ نه دي چې هغه پر ټول ولس، پر شمال وجنوب، ختيځ او لوېديځ يو شان تطبيقېږي.

ج ـ **عمومي ټاکنې (انتخابات):** په اساسي قانون کې به د انتخاباتو ماده هم راځي او کېدی شي د يوې بلې ځانګړې ضميمې په توګه د انتخاباتو قانون جوړ شي، د هېواد د راتلونکي سياسي برخليک او حکومت په ټاکلو کې د انتخاباتو قانون تر ټولو مهم رول ادا کوي. دلته مهمه خبره داده چې د انتخاباتو قانون د ټولنيز عدالت او ټولنيزو واقعيتونو پر بنسټ جوړېږي او که نه؟ دا هم تر اوسه معلومه نه ده چې د انتخاباتو د قانون بشپړ متن لويې جرګې ته وړاندې کېږي او که نه؟ که چېرې د راتلونکو انتخاباتو لايحه د بېړنۍ لويې جرګې د ځانګړي کميسيون د انتخاباتو په شان وي، نو بيا خو ښکاره خبره ده چې ټولنيز عدالت تر پښو لاندې کېږي، د بېړنۍ لويې جرګې د انتخاباتو يوه بېلګه به وړاندې کړو: په بېړنۍ لويه جرګه کې د لغمان له ولايت څخه ټول (٢٥) له لوګر څخه ټول (١٨) خو له پنجشېر ولسوالۍ څخه له بېلابېلو لارو تر (٣٠) تنو هم زيات راغلي وو. د بدخشان اداري واحدونه له (١٣) څخه (٢٨) ته پورته شوي وو. د انتخاباتو په قانون کې به حتما د اداري واحدونو او نفوسو خبره زياته مطرح کېږي. دې کې بيا د ټولنيز عدالت تر پښو لاندې کولو اټکل زيات دی، يو خو دا چې په تنظيمواکۍ کې استاد رباني په خپل سر د تاجک مېشتو سيمو اداري واحدونه زيات کړي او د نفوسو په اټکل کې هم کېدی شي مبالغه وشي لکه په تېره لويه جرګه کې چې دا کار وشو. په بېړنۍ لويه جرګه کې د خوست يو وکيل محمداکبر نېکزاد استاد رباني ته د پارلمان د اشخاصو د ټاکنې په برخه کې وويل: "استاد در افغانستان شما (تاجيکها) اکثريت هستيد يا ما (پشتونها)؟" استاد رباني ورته وويل: "شما" نو نېکزاد صيب ورته وويل: " دا نو چې زه په لويه جرګه کې له هر لسو تنو څخه يو تن د

پارلمان د غړو په توګه ومنم نو دې کې خو ته اکثریت کېږې او موږ په اقلیت کې راځو، نو دا خو معلومېږي چې تاسو او د لویې جرګې کمیسیون له موږ سره درغلي کړې او زموږ حق مو سلب کړی، اکثریت مو په اقلیت بدل کړی، نو هغه پارلمان چې اکثریت په کې په اقلیت بدلېږي نو موږ یې ولې ومنو؟ ښه به دا وي چې له هر ولایت څخه دوه دوه تنه پارلمان ته راشي". استاد رباني چې د اکبر نېکزاد دا خبرې واورېدې نو غلی شو او څه ځواب یې نه درلود.

نو ګه د انتخاباتو په قانون کې بیا هم ځوکې په همدې ډول ووېشل شي، لکه د بېړنۍ لویې جرګې له خوا چې وېشل شوې وې، نو ښکاره خبره ده چې د انتخاباتو په نتیجه کې به یو ملي حکومت رامنځته نه شي، ځکه چې د هېواد اکثریت به په لومړي ګام کې له واکه محروم شي.

د- **راتلونکې لویه جرګه:** تر اوسه دا معلومه نه ده چې د راتلونکې لویې جرګې لپاره بیا انتخابات کېږي او که نه؟ یا همدا وکیلان لویې جرګې ته ځي؟ او که نه په دې برخه کې به څه کمې وزیاتی او یا غورچاڼ کېږي؟ او که غوراوی کېږي دا به دچا له خوا کېږي؟ د انتسابي غړو، وزیرانو او والیانو د ګډون مسئله به چې اکثره د واکمنې ډلې پلویان وو څنګه اوارېږي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې باید تر لویې جرګې ډېرې دمخه سپینې او اوارې شي. که لویې جرګې ته د همدې انتسابي غړو په ګډون همدا ترکیب بیا راشي او واکمنه ډله هم تر هغه وخته په همداسې قوت کې پاتې وي او بهرنیان یې هم همداسې ملاتړ وکړي، نو داسې دې وګڼل شي چې نه به داسې اساسي قانون تصویب شي چې هغه پر عدالت ولاړ وي او نه به هم د انتخاباتو عادلانه قانون.

هـ- **راتلونکي انتخابات:** راتلونکي انتخابات د راتلونکې لویې جرګې، اساسي قانون او د انتخاباتو د لایحې له کیفیت څخه ښه څرګندېږي، که چېرې لویې جرګې ښه ورتیا درلوده او د پوره عدالت پر بنسټ یې اساسي قانون تصویب کړ او تر هغه وروسته د انتخاباتو قانون هم د ټولنیز او ملي انډول او عدالت پر بنسټ ولاړ و، نو بیا خو د راتلونکو انتخاباتو نتیجې هم

مثبتې بوله، کله چې د انتخاباتو نتیجې د عام ملت د هیلو ښکارندویې وي، نو د هغو پر اساس به جوړ شوی حکومت هم ملي او د ولس د خوښې وړ وي او که په پورته ټولو مسایلو کې درغلي شوې وه، نو حکومت یې هم همداسې بې کفایته او بې ثباته وګڼه.

**و۔ د ټاکنو د نتیجو تضمین:** تر ټولو ستره او سیاسي وېره د انتخاباتو د نتیجو تضمین دی، که چېرې په افغانستان کې رښتیني انتخابات هم وشي او د ولس د خوښې استازي په ټاکنو کې غوڅ بری هم ترلاسه کړي، خو دې سره سره بیا هم واکمنه نظامي ډله د واک له اساسي لېږد څخه ډډه وکړي نو ایا داسې کوم تضمین او سرچینه شته چې واکمنه ډله دې ته اړه کړي چې واک نوي منتخب حکومت ته پرېږدي؟

په خواشینۍ سره باید ووایو چې تر اوسه داسې کوم تضمین او د واک کومه بله سرچینه نه شته چې واکمنه ډله واک پرېښودو ته اړه کړي. په افغانستان کې اوس د واک اساسي سرچینې بهرني پوځي ځواکونه او په کورنۍ کچه د نظار شورا پوځي سیاسي ډله ده، بهرني پوځونه نه غواړي چې په افغانستان کې د ټولنیز عدالت د تضمین او تامین لپاره خپله وینه قربان کړي، غوره مثال یې همدا تېره بېړنۍ لویه جرګه ده.

دا واقعیت ټولو ته څرګند دی، چې کله پخوانی پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه په لویه جرګه کې ځان کاندید کړی وای نو (۸۰ ـ ۹۰) سلنې وکیلانو څخه ته رایه ورکوله، خو د نظار شورا د مخالفت له وجې هغه ځان کاندید نه کړ او امریکایانو نه غوښتل له نظار شورا سره د جګړې او یا د هغوی د خپګان په بیه د شاه ملاتړ وکړي، په دې وخت کې له ملګرو ملتونو او امریکایي پوځونو پرته بل مطرح قوت نه و چې پر نظارشورا باندې یې د زور له لارې د ولس حق منلای وای. کله چې پخوانی پاچا له خپلې کاندیدۍ تېرشو، نو په کاندیدانو کې تر ښاغلي حا[illegible]رزي بل غوره شخص نه و، نو څکه وکیلانو هغه په ډېر اکثریت یانې [illegible](۱۵۰۰) رایو څخه په (۱۲۹۵) رایو د هېواد د مشر په توګه په دې نیـ[illegible] چې د اوسنۍ واکمنې ډلې انحصاري واک پای ته ورسوي.

خو کله چې د حکومت د جوړېدو خبره شوه بیا له جرګې څخه واک واخېستل شو او خبره د پردې شاته ولېږدول شوه. نظار شورا څکه اساسي پوستونه او کابینه انتخاباتو ته ورانډې نه کړه چې دوی پوهېدل د انتخاباتو له لارې یې نه شو ګټلای. د لویې جرګې د رئیسه هیئت د پنځو څوکیو لپاره انتخابات دوی ته غوره بېلګه وه، چې د نظار شورا یا پنجشېر ولسوالۍ دکاندیدانو له جملې څخه یو تن هم بریالی نه شو، نو کله چې د جرګې د رئیسه هیئت څوکۍ نه شي ګټلای، نو وزارتونه به څنګه وګټي؟

همدا علت و چې بیا یې له خپل نظامي زور څخه ګټه پورته کړه، کرزی صیب امریکایان او ملګري ملتونه یې دې ته اړ کړل چې اساسي وزارتونه بیا دوی ته ورکړي او بیا په داسې وخت کې یې جرګې ته اعلان کړي چې د مخالفت لپاره هېڅ وخت پاتې نه وي. د کابینې تر معرفۍ څه موده وروسته په یوه خصوصي غونډه کې ښاغلي کرزي صیب دا اعتراف کړی و چې: " موږ په لویه جرګه کې عدالت تر پښو لاندې کړ او سولې ته مو ترجیح ورکړه". له "سولې ته ترجیح" څخه دښاغلي کرزي مقصد دادی چې نظار شورا اخطار ورکړی چې "که چېرې د کابینې په ټاکنه کې زموږ شرطونه ونه منل شي نو موږ به کابل په وینو ولمبوو". نو کرزي صیب څکه غوره وبلله چې څه که عدالت تامین نه شي نو لږ تر لږه خو به موقتي سوله رامنځ ته شي، نو د راتلونکو انتخاباتو د مثبتې نتیجې د تطبیق او تضمین لپاره هم همدا وېره شته چې بیا به د بېړنۍ لویې جرګې پېښې تکرارېږي.

اوس پوښتنه داده چې راتلونکې لویې جرګې، اساسي قانون، انتخاباتو او منتخب حکومت ته د دومره تشویشونو او اتکلیزو خطرونو د مخنیوي لپاره د حل کومه لاره هم شته او که نه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي چې د حل لارې شته، خو دا د حل لارې زیات کار، زغم، پوره تدبیر او زیاته قرباني غواړي، دلته به ځینو حل لارو او وړاندیزونو ته هم اشاره وکړو:

**وړاندیزونه:**

۱. **د یوه ملي سیاسي بدیل جوړول:** د اوسني انحصار د مخنیوي لپاره تر ټولو ضروري خبره د یوه افغانشموله سیاسي بدیل جوړول دي. په دې سیاسي بدیل کې باید په افغانستان کې د ټولو قومونو د استازي تمثیل وشي، که چېرې داسې وشي نو د یوې ځانګړې ډلې د انحصار ماتېدل ډېر اسانېږي، اوسنۍ انحصارګره ډله غواړي تر راتلونکې لویې جرګې او انتخاباتو پورې هم سیاسي حالات او هم نظامي وضع همداسې پاتې شي او په دې موده کې کوم قوي مخالف تحریک سر راپورته نه کړي، که چېرې حالات همداسې بې تحرکه روان وي، نو د اوسنۍ سیاسي نظامي ډلې د بري اټکل زیاتېدی شي.

۲. **د لویې جرګې د وکیلانو رول:** که چېرې د راتلونکې لویې جرګې لپاره بیا له سره ټاکنې کېږي، نو باید د هغو لپاره سم ترتیبات ونیول شي او هغه نیمګړتیاوې چې په تېرنۍ لویه جرګه کې وې د هغوی د مخنیوي لپاره باید هڅه وشي، کوښښ دې وشي چې غوره ملي او مسلکي شخصیتونه لویې جرګې ته ولېږل شي، ولایتونو او ولسوالیو ته د زیات وکم سهم د ورکړې هغه نا انډولي چې په تېرنۍ لویه جرګه کې وه هغه باید بیا تکرار نه شي او که چېرې همدا وکیلان بیا لویې جرګې ته ځي او یا په کې غورچاڼ کېږي، نو ددې لپاره باید یا یو بېل ناپېیلی کمیسیون وټاکل شي چې د هېڅ سیاسي ډلې اغېز پرې پروت نه وي او یا دې هم د هر ولایت له خپلو وکیلانو یوه یوه جرګه جوړه شي او هغوی دې له خپل منځه لویې جرګې ته غوره او مسلکي کسان ور وپېژني، په دې لویه جرګه کې د مسلک پر خاوندانو ځکه زیات ټینګار لازم دی، چې دا د اساسي قانون د تصویب لپاره جوړېږي، نو د فن او مسلک خاوندانو ته په کې ډېره اړتیا لیدل کېږي، که لویې جرګې ته په رښتیا هم ډېر غوره غوره وکیلان لاړ شي نو زیات اټکل دی چې دوی به په هېوادنۍ کچه غوره پرېکړې وکړي او د اساسي قانون هغه مادې چې د ملت د ګټو پر ځای د ځینو خاصو ډلو د نظر او ګټو د تمثیل لپاره وړاندې کېږي د هغو مخه به ونیسي.

۳. د انتخاباتو څانګړی کمیسیون: د انتخاباتو څانګړی کمیسیون باید بشپړ ناپېیلی او د ملګرو ملتونو تر مستقیمې څارنې لاندې کار وکړي، د واکمنې ډلې او نورو تنظیمي ډلو تر اغېزې لاندې باید نه وي. انتخابات هم باید د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې ترسره شي. د انتخاباتو طرزالعمل باید روښان او د عدالت پر بنسټ ولاړ وي، که چېرې سیمه ییزه، ژبنۍ، قومي او تنظیمي لېوالتیا په کې په پام کې نیول شوې وي او په انتخاباتي حوزو کې د څوکیو او یا استازو شمېر ناعادلانه وي، نو مخکې تر دې چې عملي انتخابات پیل شي ـ باید سمون په کې راوستل شي، که د انتخاباتو د ناعادلانه طرزالعمل له مخې عادلانه ټاکنې هم ترسره شي نتجیه به یې منفي وي، د ساري په توګه که د انتخاباتو په طرزالعمل کې یوې ولسوالۍ ته (۱۰) څوکۍ او یوه ولایت ته (۱۰ یا ۱۲) څوکۍ ورکړل شي نو دا عدالت نه دی. د بېړنۍ لویې جرګې د طرزالعمل له مخې پنجشېر ولسوالۍ (۹) څوکۍ، لوګر او نورستان ولایت ته (۱۷) (۱۷) څوکۍ ورکړل شوې وې، خو وروسته د بنځینه استازو او نورو غړو په ګډون له پنجشېر ولسوالۍ څخه (۳۰)، له لغمان څخه (۲۵)، له نورستان څخه (۱۹) او د لوګر څخه غالباً (۱۸) کسانو ګډون کړی و، نو که دا او دې ته ورته نورې دا ډول هڅې کېږي، نو دا به طبعاً انتخابات تر پوښتنې لاندې راولي، که فرضاً د انتخاباتو طرزالعمل له دا ډول بېلګو څخه ډک وي. نو بیا انتخابات ځکه ضرور نه دي چې طبعاً یې همغه خلک ګټي چې چا پر طرزالعمل خپل دا ډول نظر او غوښتنه تحمیل کړي. په تنظیمي پړاو کې د اداري واحدونو خبره بله لانجمنه مسئله ده، که د هغو پر بنسټ نویو زیاتو شویو اداري واحدونو ته امتیازات ورکړل شي، نو بیا به اکثره مستحق ولایتونه او د هغو اوسېدونکي زیانمن شي، د تنظیمي پړاو له مخې د پنجشېر یوه ولسوالۍ پر څلورو ولسوالیو بدله شوې، لغمان ولایت هم څلور ولسوالۍ لري، مانا دا چې لغمان او پنجشېر ولسوالۍ ته به یو ډول حقوق ورکول کېږي، که چېرې د انتخاباتو کمیسیون هم د بېړنۍ لویې جرګې د کمیسیون لاره تعقیب کړه نو څرګنده خبره ده چې عدالت تر پښو لاندې کېږي.

د اداري واحدونو تر څنګ د نفوسو شمېر بله جنجالي مسئله ده چې د انتخاباتو کميسيون به ورسره لاس وګرېوان وي. په افغانستان کې هېڅ قوم هم پر خپل هغه شمېر چې په ځينو احصائيو کې ښودل شوی قانع نه دی، اکثره احصايې هم دقيقې نه دي، نو که د نفوسو د همدې اټکلي شمېر له مخې ولايتونو او ولسواليو ته سهم ورکړل شي، ځينې نور به پرې ځکه قانع نه شي چې هېڅوک تربل ځان کم نه ګڼي او که په انتخاباتو کې نفوس په پام کې ونه نيول شي نو دا هم لويه بې انصافي ده، که چېرې د ملګروملتونو له خوا واقعيت ته کومه نږدې احصائيه وي، نو هماغه دې په پام کې ونيول شي، هم نفوس او هم اداري واحدونه دواړه دې په پام کې ونيول شي او که دقيقه احصائيه نه وي، نو د هرې سيمې او په مجموعي ډول د هېواد د نفوسو تر دقيقې سرشمېرنې پورې دې انتخاباتي سيستم تر تنظيمي اداري دمخه اداري واحدونو له مخې اعيار شي. هغه ولايتونه چې په ښکاره تر نورو لوی دي او زيات نفوس لري لکه کابل، ننګرهار، کندهار، هرات، مزارشريف او پکتيا دوی ته دې تر نورو ولايتونو نسبتاً زيات سهم ورکړل شي او نورو ولايتونو ته دې مساويانه ونډه ورکړل شي، کله چې تر منتخب حکومت وروسته په هېواد کې عمومي سرشمېرنه وشوه بيا دې په نورو انتخاباتو کې هم اداري واحدونه او هم نفوس دواړه په پام کې ونيول شي، لنډه دا چې د ببړنۍ لويې جرګې د ځانګړي کميسيون له خوا چې داخل کومه بې انصافي شوې وه هغه بايد بيا تکرار نه شي.

۴. د انتخاباتو د نتيجو د برې د عملي کولو تضمين: ډېر زيات احتمال دی چې تر انتخاباتو پورې به په افغانستان کې ملي پوځ او ملي پوليس (څارندوی) جوړ نه شي، البته تر اوسني حالت به يو څه پرمختګ وشي، خو د داسې ملي پوځ او ملي پوليسو جوړول چې د ولس زړه پرې راټول او ډاډه شي تر هغه وخته ستونزمن برېښي، که چېرې اوسنۍ واکمنه ډله په همدې ډول له خپل نظامي او سياسي زور سره په واک کې پاتې وي، نو طبيعي خبره ده چې نه يوازې پر تاکنو خپل اغېز غورځولای شي، بلکې د هغو تګلورې هم بدلولای شي، که چېرې همدا ډله انتخابات وګټي نو بيا يې د نتيجې د عملي کولو لپاره تضمين ته ځکه اړتيا نه پيدا کېږي چې خپله

همدوی دي نو دوی به په خپله دولت هم جوړوي او خپل نظامي دریځ به هم غښتلی کوي. خو که چېرې د دوی مخالفینو انتخابات وګټل لکه په تېره لویه جرګه کې چې تقریباً اکثره وکیلان د دوی له انحصار سره مخالف وو، نو بیا به څه کېږي؟ واکمنه ډله به په خپله خوښه نظامي او سیاسي واک پرېږدي او که نه؟ په هېڅ ډول فکر نه کېږي چې هغوی دې په خپله خوښه واک پرېږدي. که فرضاً ډېر زیات نړیوال سیاسي فشار پرې راشي نو بیا به هم ووایي چې څه ملکي برخه یې د منتخب حکومت خو د نظامي چارو امتیاز باید موږ سره وي، ځکه چې د "طالب او القاعدې پر ضد مو جګړه کړې ده؟!!" نو که بیا هم همداسې حکومت چې نظامي چارې یې د تنظیمي اشخاصو او ملکي چارې یې د ملت د استازو له خوا ترسره کېږي رامنځ ته شي ګومان نه کېږي چې ډېر دوام به وکړي. تل به ملکي حکومت د پوځي هغو له خوا ترګواښ او خطر لاندې وي. نو تر ټولو ښه لاره یې داده چې یو نړیوال سیاسي او پوځي تضمین موجود وي. ګومان نه کېږي چې امریکایي پوځونه او نړیوال سوله ساتي ځواک تر راتلونکو انتخاباتو دمخه له افغانستان نه پښې سپکې کړي، ځکه که دوی ووځي د اوسني حکومت عمر هم شاید را لنډ شي.

نو ښه لاره خو داده چې د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې سوله ساتي ځواکونه تر نویو انتخاباتو پورې د اوسنی واکمنې ډلې ټولې ملېشې بې وسلې کړي او د ملي پولیسو او ملي اردو د جوړولو کار دې ډېر زیات ګړندی کړي، په ملي اردو او پولیسو کې باید د جهاد او الحاد په نومونو د تنظیمي اشخاصو او ټوپکوالو داخلول بند شي. د بن کنفرانس پرېکړې هم وایي چې له کابل ښار څخه باید ټول وسلوال کسان ووځي. تر هغه چې کابل ښار له وسلوالو ملېشو څخه پاک نه شي او د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې سوله ساتي ځواکونه او همدارنګه د نړۍ ستر زبرځواکي؟ د امریکا متحده ایالتونه، انګلستان او نور مطرح هېوادونه په افغانستان کې د راتلونکو انتخاباتو د نتیجو تطبیق تضمین نه کړي او افغان ملت ته یې ډاډ ورنه کړي راتلونکي انتخابات به بې باوره او بې نتیجې وي.

پوهاند دکتور مجاور احمد زیار

# د افغانستان اوسنی ژبتو کمیز رغښت

## (Ethno – Linguistic composition of Afghanistan)

پورتنۍ لیکنه چې د پوهاند صاحب زیار یوه ژوره څېړنیزه او پوهنیزه لیکنه ده، د "پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې" خپره شوې ده او د لیکنو له دغې ټولګې سره سمون خوري. ځکه درانه لوستونکي د نوموړې ښوونیزې لیکنې لوستلو ته رابولم چې د اثر په شپږم څپرکي کې (۲۶۸ ـ ۲۹۸مخونو) بشپړه راغلې ده.

په مینه اومننه

ډاکټر جاوید

ډاکټر جاوید

# د افغانستان په شمال کې
# د طالب او القاعده په نومونو د پښتنو وژنې

د لیلې دښته یوازې دښته نه ده
چې له مني نه یې زه پکښې مدفون یم
هره دښته د وطن لیلي ـ لیلي ده
زه د خپل وطن له سره تېر مجنون یم

یادښت:

د روان زېږدیز کال د اګست په پیل کې د همدغه کتاب چې اوس یې تاسې لولئ د لیکنو د راټولو هوډ وکړ او د همدغې مقالې تر سرلیک لاندې مې موضوع ښاغلي ډاکټر سبحان هاتفي ته وسپارله. هغه په ورین تندي ومنله. خو وروسته بیا ښاغلي هاتفي صاحب زیات بوخت شو، او د نومبر تر اومې نېټې پورې مې په دې اړه د هغه له خوا کوم احوال تر لاسه نه کړ، نو پرېکړه مې وکړه چې د په همدې برخه کې په مطبوعاتو کې خپرې شوې مستندې لیکنې او راپورونه ستاسې په وړاندې کېږدم.

په دې کې خو هېڅ شک نه شته، چې پښتانه له خپلې ژبې سره ګډه ریښه لري او د مېشتېدنې اولېږدېدنې لومړنې مرکزونه یې د هندوکش شمالي برخې دي. چې ګڼو بهرنیو څېړونکو او ختیځپوهانو لکه، ګايګر، ډاکټر مارګنستېرزن او ډېرو نورو په اثبات رسولې او همداراز یو شمېر افغاني څېړونکواوپوهانو هم په خپلو اثارو کې ورته اشاره کړې ده.

که چېرې موږ د خپل ټاټوبي د لېږدېدنو لنډ تاریخ ته ځیر شو نو د موتنګړې په قول په منځنۍ اسیا کې د کمونستانو تر واکمنېدو وروسته ( ۱۹۱۷ - ۱۹۲۶ ) څه له پاسه نیم ملیون په تېره بیا تاجک او ازبک کډوال زموږ هېواد ته راوکوچېدل او ګڼ شمېر یې د افغانستان په شمالي سیمو کې مېشته شول او د هغه مهال افغاني واکمنانو په ډېره ورینتدې او اسلامي روحیه ځمکې او افغاني هویت وروبخښل.

(رښا او دفاع. د محمد حسن سهاک لیکنه)

خو د دېموکراسۍ له لسیزې را په دېخوا کله چې د افغانستان په اساسي قانون کې پښتو د ملي ژبې په توګه ومنل شوه، روسیې د همدغو کډوالو په مرسته د اقلیتونو او ملیتونو د مارکسېستي اصطلاحګانو او اطلاعاتو په مرسته زموږ د ملي کور د ورانېدو بنسټ کېښود، چې په یو اړخیزه توګه د پښتنو پر وړاندې، ان تر ننه دوام لري.

"د ټولنپوهنې علم، په بېلا بېلو ټولنو کې ورځنۍ ژوند او سیاسي چارو دا ثابته کړې چې اقلیتونه یا لږکي په هره ټولنه کې د هغې د اکثریت په اندول بې ثباته وي، له استثنايي حالاتو پرته دوی هغه وخت زیات سر راپورته کوي چې هېواد له عمومي بحران سره مخ وي او همدا حالت دوی د خپل ځان او ژوند د خوندي کولو او د خپلو غوښتنو د لاس ته راوړلو وخت بولي. ان که د دوی غوښتنې د ټولنې او د هېواد له ملي ګټو سره په تضاد کې هم وي. هر هغه ټولنه چې لږکي ولري په خپل ځانګړي موقعیت او حالت کې د خپلو اقلیتونو له دې ډول غوښتنو سره مخ وي. اقلیتونه کېدای شي مذهبي وي او یا کېدای شي قومي وي. هغه هېوادونه او ټولنې چې ګڼ قومیزه وي له دې ستونزو سره مخ وي. په ځانګړې ډول هغه ټولنې چې

اقلیتونه یې له نورو هېوادونو سره قومي او مذهبي اړیکي لري، په خطرناک ډول له دې بحران سره مخ وي.

افغانستان هم له هغو هېوادونو څخه دی چې د یو لوی (اکثریت) قوم تر څنګ ځینې واړه قومونه او مذهبي لږکي هم په کې ژوند کوي. دا اقلیتونه کېدی شي پر دوو کټګوریو ووېشل شي: یو هغه لږکي چې له بهرنیو هېوادونو سره ژبني، قومي او مذهبي اړیکي لري او په اصطلاح د طمعې، لمسونې، هڅونې او پارونې اصلي سرچینې یې هم هماغه هېوادونه وي.

دویم هغه ډول اقلیتونه دي چې تر هېواد دننه ژوند کوي، ځانګړې ژبه، تقریباً ځانګړی کلتور لري، خو له بهرنیو هېوادونو سره قومي اړیکي او نور ټینګ تماسونه نه لري.

افغاني ټولنې ته د لومړي ډول اقلیتونو د حقوقو مدعیان د زیات خطر او سر دردي سبب کېږي. په دې لږکیو کې تاجکان، چې د پخوانې شوروي له تاجکستان او له ژبني پلوه له ایران، ازبکان چې د پخواني شوروي له ازبکستان او هزاره ګان چې له مذهبي پلوه له ایران سره اړیکي لري، ځینې وختونه په افغانستان کې د خپلو قومي، ژبنیو او مذهبي "حقوقو" د تلف کېدو چیغې پورته کوي.

سره له دې چې افغانستان یو داسې هېواد و چې د اقلیت او اکثریت خبره په کې چندان مطرح نه وه، که ظلم هم شوی، نو پر ټولو شوی او که د سوکالۍ لمر هم لګېدلی نو پر ټولو لګېدلی دی. البته د ځینو واکمنو له خوا به د پردي ټېري د مخنیوي او اقتدار ته د خطر د له منځه وړولو په نیت پر کوم ځانګړي اتنیکي ګروپ فشار راوړل شوی وي، خو دا ټولټال په دې مانا نه دي چې ګني چا پر کوم ځانګړي اقلیت ظلم او تعدي کړې دي. د نفوس په اندول په افغاني ټولنه کې تر ټولو خراب ژوند د پښتنو و او دی، یوازې د کوچیانو پښتنو له خواریو ډک ژوند او د هغو د وګړو شمېر، د افغانستان د هر اول، دویم او درېیم اقلیت له وګړو څخه زیات دی، پاتې نور پښتانه لا خو پر ځای پرېږده. له دې سره سره بیا هم په افغانستان کې ځینو اقلیتونو ته منسوب اشخاص په قراره کېنناستل او له لرې او نژدې

سرچينو سره يې اړيکې ټينګ کړل، يا هغوى ورسره اړيکي وساتل او په افغانستان کې يې د "اقليتونو"، محرومو اقليتونو "مليتهاى ستمديده" او په نورو نومونو شعارونه پورته کول.

له پخوا زماني راهيسې روسان په دې ګروهه وو چې د منځنۍ اسيا د قومونو تر اېل کولو وروسته به د افغانستان ځينې سيمې هم د همدغو قومونو د قومي اړيکو په واسطه اېل کړي، خو ځينې پښتانه د دوى پر دې نيتونو پوه وو، نو د روسانو د احتمالي او يا هم څرګند او جدي خطر پر وړاندې يې پښتانه په شمال کې د يوه پولادي ديوال په توګه ودرول او هم يې د هغه ځاى شاړې ځمکې پرې ابادې کړې. روسان هم ارام کېننا ستل او خپلې هڅې يې پيل کړې. کله چې د افغانستان په اساسي قانون (اعليحضرت محمد ظاهرشاه د وخت) کې پښتو ژبه رسمي او ملي اعلان شوه، نو روسانو د يوې تبصرې په ترڅ کې وويل: "د افغانستان د دولت سياست د پښتو پالنې پر لورې روان دى".

دويمه سقاوي، سمسور افغان

بې وزله افغانانو لا د شوروي پوځ او بيا ورځېرمه دويمې سقاوۍ وروسته د سولې اوهوساني دمه نه وه ايستلې چې د سپتمبر يوولسمې د بدمرغۍ غبرګون هم زموږ پر ولس وروتپل شو. تر نوموړې نېټې وروسته زموږ مظلوم ولس چې د امريکا تر سختو اوغير انساني بمباريو لاندې شو، د "الجزيره" تلويزيون د ارقامو له مخې څه له پاسه ۶۳ زره افغانان په شهادت ورسېدل، شمالي ټلوالي ته يو ځل بيا موقع په لاس روغله چې د کلدارو او روبلو ځاى ډالرو ونيو. په دې ترڅ کې امريکا د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره پر هغو کسانو تکيه وکړه چې په افغانستان کې د ترهګرۍ (ټروريزم) بنسټ اېښودونکي، د مخدره توکيو دقاچاق مافيا او د همدې مظلوم ملت ښکاره او څرګند جنايتکاران دي.

عام ولس او څېړونکيو دا تمه لرله چې په دې ځل به د امريکا دا نوى سياست څه نا څه د دوى په ګټه وي او د هېواد د بيارغونې کار به په ډېره چټکۍ پر مخ لاړ شي، څه له پاسه درې نيم ميليونه کډوال به په تېره بيا له

ګاونډيو هېوادونو څخه ژر بېرته هېواد ته راستانه شي او همداراز په سوله او امن کې به د کاروبار او عزت څښتنان شي، خو دا د عام ولس يو خوب و، چې نه يوازې هېڅکله رښتيا نه شو. بلکې په ځانګړې توګه د پښتون تبر پر ضد د هېواد په هر ګوټ کې د وژنو، تولوژنو او نورو جنايتونو لکه د کورونو، شتمنيو غلاوې او بې ناموسۍ د قومي تصفيې تر بريده دود شوې او د دې جنايتونو او بې ناموسيو ريکارډ ــ فاشيزم، سهيونيزم او ستالينيزيم ته پېغور شو.

هو، په دې ځل بيا د شمالي ټلوالې جنايتونه لکه تېر ځل چې د روسيې، ايران او نورو غليمو هېوادونو له خوا رهبري شوي وو او د جنرال مالک او د شمالي ټلوالې د نورو غړو له خوا په نامرده ـ غير افغاني، غيراسلامي او غيرانساني عمل چې په زرګونو تشلاسي طالبان او د طالب په پلمه د شمال بې وزله اوسېدونکي پښتانه يې په ډله ييزه توګه په ډېر بربريت سره ووژل، نه يوازې دا چې بې محاکمې پاتې شول. بلکې نن د امريکا په پلوۍ دغه بې فرهنګه قاتلين او ګوډاګي داړه ماران د سولې حاميان او مدعيان هم وبلل شول او دا خو لا څه چې دغه نالوستي غله زموږ د مظلوم ملت پر ضد پر جنرالۍ، ستر جنرالۍ، مارشالۍ او ان وزارتونو هم ونازول شول، چې سليم عقل يې په هيڅ وجه نه شي منلی. په هېواد کې د تنظيمي سياليو ځای پردو غليمانو ته د يو څو ډالرو په بدل کې د جاسوسۍ ناوړه عمل په تولېزه شمالي ګډه (ټلوالې) او په ځانګړي توګه د نظار پنجشېرۍ او منفورې مافيا ورځنۍ روزي وګرځيده، چې په وجه يې ډېرې پښتون مېشتې سيمې، کورنۍ او د پښتنو مخور مشران د طالب يا القاعده په نامه شهيدان کړای شول چې تر ننه دوام لري او د همدغه ګوډاګيتوب په مرسته له دې کمکۍ ولسوالۍ څخه د منځمهالې اداري شپږ نااهله کسانو ځانونه په زور وزيران او په ګڼو نورو وزراتونو کې جګپوړې استازي وټاکل، څکه نن يې رښتينی مظلوم افغان ولس له خوږ ګوټې ټينګ او يرغمل نيولی او هرې لوړې ځوکۍ ته د رسېدو معيار يې له پوهې او وړتيا څخه پر پنجشېريتوب او دويم پړاو کې د شمالي ټلوالې غړيتوب اړولی دی. د

ایران او روسي په مرسته کابل ته د یو بین المللي جاسوس د عکسونو لپاره چاپخونی راوړل شوې او د دوی د عبادت معبود گرځېدلي، چې پر ټول ولس یې غوارې ورو‌تپي او سلو زر نور ورته جنایتونه چې یادون یې د دې کمکۍ ټولګې له وسه پورته ښکاري، خو د افغان شهیدپال تاریخ یې د حساب او عدالت تر ورځې تکي په تکي په پام کې ساتي او ثبتوي.

د دې ټولو غلاوو، وژنو، ډلوژنو او بې ساري جنایتونو په اړه به ډېرې رسالې او پنډ پنډ مستند کتابونه چاپ شي او د نړۍ په سینماګانو کې به یې په اړه فلمونه خپاره شي، چې بیا به هم لږ وي، خو موږ دلته د مشت نمونې خروار په توګه یوازې د یو څو بهرنیو ژورنالېستانو او دوو هېوادوالو سترګو لیدلی حال په پوره امانتدارۍ سره راخلو او هیله ده چې د دغه ویده ولس د خبرتیا، ویښتیا او یووالي لپاره د اسرافیل شپېلۍ وګرځي، تش په نامه قبیله پرستۍ او سیمه ییزو توپیرونو ته شا کړي او ټول مجرمین او بې رحمه قاتلین په یو غږ د عدالت محاکمې ته وړاندې کړي.

# د قعلــه جنګي قصابه

## د لومړي ځل لپاره د قلعه جنګي په اړه دقيقترين او باورنوونکی راپور

●

وروسته لــه يوې اوونۍ خوني جګړو په سلګونو عربان او لـه پرديو وطنو راغلي فدايان او طالبان په دې کـلا کې پـه داسې توګـه ووژل شول چې د انسـانيت پـه تـاريخ کې بـه د مـثال پـه توګـه يادېږي؛ ځکـه چې دوی د جنګي کـلا بغـاوت پـه نـوم لـه دغـو محاصـره شـويو کسـانو سره هغه څه وکړل چې د شريف وجدان خاوندان يې هېڅکله هم نه شي تبرئـه کولی. خو زه نه پوهېږم پـه هغـو درواغجـنو او غلطو راپوروونو چې جنرال دوستم او امريکايي سرتېرو خبري رسـنيو تـه ورکـړي، تـر څـه حـده د دې قصـابخانې پـه بربريـت پـرده غوړلې؟ خو زه پـه داسې حال کې هلتـه ورسېدم چې ګڼ شمېر مړي پراته وو، د هر لاش پـه سر دوو دريو ځړ پړو خډرو سپيانو خپلې ژامې او پنجې ښخې کړې وې او داړل يې.

د دغـو مړو پـه منځ کې يو څو اسونه هم مړه پراته وو چې سپيانو يې ځېتې څيرلې وې او بـد بـوی تـرې لتېـدو. يـو بـل زخمـي اس هـم تـړل شـوی و چـې د زخمـونـو او درد لــه وجې لېوني شوی و. پورتـه پورتـه غورځېدو او زګيروی يې خوت او چيغې يې وهلې، يوه پښه يې په لاندې بند کې پرې شوې وه، پورتـه پـه کرکـيو کـې څوکسـه مليشـې ورتـه ناست وو او خـندل يې، دوی تـه د اس وحشي شغـار او زخمـونـو د يـوې ډرامـې حيثيـت درلـود چې دوی پـه ډېر لذت او خونـد ورتـه پـه تماشا بوخت وو. اقـلاً پـه لږ نژدې فاصله کې يو دوه سوي

ټانکونهٔ او څو سوي ډاټسنې هم پرتې وې، دغه ټانکونه د شمالي ټلوالې (دوستم د مليشو) وې، خو ډاټسنې د عربانو مربوطې وې.

د کلا په لويه دروازه چې وردننه شوم، نو کتل مې چې يو روسي غولپيکر ټانک په پولادي چينونو سره د کتار پرتو مړو او زخميانو پر سر ورخېژوي، د کتلو تاب مې نه درلود. هلته به د زخميانو د لااله الا الله فريادونه اورېدل کېدل. دغه اوازونه به ډېر لوړ شول، ټانګ به چې څومره نژدې کېدو د دوی د لا اله الا الله اوازونه به هم لوړېدل. د کلا پر بامونو بې شمېره مليشې ولاړ وو او له صحنې څخه په لذت اخېستو سره يې د مړو او زخميانو سرنوشت ته خندل. د مړو او زخميانو او ژونديو اسيرانو لاسونه او پښې سره ګډ تړل شوي وو او ټول په يوه اوږد کتار د چيندار ټانک مخې ته اچول شوي وو. د ټانک پر سر يو ازبک افسر له پيکا ماشيندار سره ناست و، مردکي اوګردنه يې تر غاړې او ملا تاو کړې وه، غټ کانې يې هم څنګ ته ايښي وو، ده به د پرتو کسانو سيل کاوه، اوکه به له دوی نه چا سر پورته کاوه او يا غوښتل به يې چې د ټانک له چين څخه ځان وژغوري، نو په همدې غټو کاڼو به يې پر سروېشتو، په همدې عجيب حالت کې يو مليشه د يوه مړه په خوله لګيا و او د سرو زرو غاښ يې ترې ايستو، په داسې حال کې چې سپي يې هم د همدې مړي په خېټه بوت و.

بله خوا د بامبوټي پر سر د فېروزيي ګمبدې (چې په چونې او ژېړو خاورو رنګ شوې) څنګ ته په مورچل کې د CIA افسر د يوه مړي لاش په داسې حال کې پروت دی چې يو عرب مجاهد له تړل شويو بمونو سره ځان پرې اچولی او د دواړو غوښې يې باد باد کړې دي، خو په مورچل کې د دواړو مړو د وجود زياتې برخې پاتې دي، په يوه بله مورچه کې دوه تکې عرب ځوانان په داسې حال کې مړه پراته دي چې د دواړو تر منځ د لاسي بم کړه تړل شوې او په مجرد د دې چې څوک دغه مړي وښوروي او يا يې سره بېل کړي، نو بم به هم ورسره والوځوي، بله خوا ته د يوې بلې خاورينې ګمبدې لاندې د زېرزمينې لور ته د زينو لاندې لاره ده، نه پوهېږم په زېرزمينې کې به څومره مړي پراته وي؟ ډېر څه په کې نه معلومېږي، ځکه چې ډېره ژوره او تياره وه، لرګينې زينې يې هم سوې وې، د سويو انسانانو بوی ترې

راخوت، چې سړي د لوګو او بوی زغم نه درلود. ووېرېدم او په بیړه بېرته ترې راستون شوم.

کلا ډېره لویه ده، هره خوا په کې سوړې او ځمکې لاندې او لغمونه دي، په ځینو ځمکې لاندې کې مرداري او چټلې اوبه هم راغونډې شوې او د دغو مردارو اوبو پر سر تور تور مړي پراته وو.

د کوټو او ځمکې لاندې د باندې ګډې وډې ملیشې ګرځېدې راګرځېدې، چا پلنګي دریشی، چا ګوپیچې او چا برګ برګ څادرونه تر سر تاو کړي وو، د اکثرو ملیشو عسکري بوټونه او د ځینو سسوړې په پښو وې. په دوی کې ځینې ملیشې لګیا وې او د مړو لباسونه او بوټونه یې ایستل، د یوه مړه عرب پښو ته یو سورمخی جنګیالی ناست و او د هغه کرمچ یې را ایستل، ده په داسې حال کې چې د مړي یو کرمچ په خپله پښه کړی و او بله پښه یې لوڅه وه او غوښتل یې د مړي دویم کرمچ هم راوباسي، په داسې حال کې چې خپلې سسوړې (لېرېښ بوټونه) یې د مړو خوا ته ورغورځولې وو. د کلا هرې خوا ته چې سترګې اړوې د بربادۍ او دهشت مناظر تر سترګو کېږي. هره صحنه او هره منظره د انسان زړه ګروي، هره خوا مړي او زخمیان پراته دي، هره خوا وېرانۍ او بربادۍ دیو هره خوا پرې کړي سرونه او بند بند شوي اندامونه او د وجود ټوټې پرتې دي، د بوی او وحشت ساری نه دي لیدل شوی.

افغانان دې ته جنګي کلا وایي خو اوس د جنګ تر څنګ څنګ باید ورته د مړو او دهشت کلا هم ووایي.

زه دلته په داسې حال کې راغلی وم چې د نومبر میاشت وه، د سهار د لمر زرینې وړانګې او د ژمي ساړه بادونه او خپلې د سیمې فضا ته ډېر مغموم رنګ ورکړی و، زه که څه هم دغه کلا ته د معرکو تر کرارۍ او سکون وروسته لومړنی شاهد نه یم، خو له څو ورځو وروسته هم انسان د مړو او بربریت په لیدو سره اټکل کولی شي چې دلته به څه قیامت تېر شوی وي! د وسلو پاتې شوې ذخیرې او درجن درجن مړي د مقاومت او نبرد زور پخپله بیانوي. د کلا منځ له مرمیو او پیکچکو (تولیو) داسې ډک دی ته به وایې د مرمیو فابریکه ده. د سپکو او درنو وسلو ګولۍ او باروت هره خوا

نامنظم او کوټه کوټه پراته دي، د لاسي بمونو او د PRG راکټونو چاودلې او ناچاودلې مرمۍ له شماره وتلې وې، د دې ټولو باروتو او مرميو د انبارونوپه منځ کې په همدې خوني کلا کې زه هم ګرځېدم راګرځېدم، نه پوهېدم چې چېرته پښه کېږدم، تر څو د لاسي بمونو او ناچاودونو مرميو خوراک نه شم. عيناً د هغه پېښنو په څېر لکه چې د اوبو په فوارې کې را ايساره وي او زيار باسي چې اوبه پرې توبى نه شي. موږ هم د مرګ له وېرې په ډېر احتياط پل د بل پله پر سر کېښود. زما شاوخوا د امريکايي توغندبو ټوټې پرتې وې، چې هر څه يې تباه کړي وو. دغه راکټونه د کلا په منځ کې د موټر او ټانکونو تر منځ د کلا په دېوالونو او چتونو راپرېوتي وو. د سوځل شويو ډاټسنو په منځ کې هم دغه راکټونه ليګېدلي وو. په ډاټسنو کې د سپرو عربانو غوښې يې هره خوا باد باد کړې وې. د يوې ډاټسنې په منځ کې صرف څو سوي هډوکي پراته وو. په کلا کې د سنوبر ونې له چرو او کوفته شويو غوښو، داغ داغ ولاړې وې، جنګي کلا د مرګ باغچې ته ورته ښکارېدله. تا به ويل چې دا تورو داغدارو ونو هم خون کړی وي. مهيبه او وحشتناکه ولاړې وې. د باغچې دېوالونه هم تک تور اوښتي وو، يوه اوونۍ د کلا په باغچې کې اورونه بلېدل. د کلا تر مسجدي ګمبدو لاندې په يو لېرې کونج کې يوه پلنه بنده دروازه ده، ښکاري له کلونو کلونو پرې د چا ګوزر او دخول نه دی شوی. شاخوا يې وچ بوټي او کاڼي پراته دي، لکه د پېريانو ځای، ځکه د کلا تر ټولو خلوت رکن همدا و. دلته بې شمېره پټکي، لونګۍ، څادرونه، او په وينو لړلي واسکټونه يو پر بل برسېره نامنظم پراته وو، لکه د پشمينه بافۍ زباله داني لوی ډېران ترې جوړ شوی و.

مانا دا چې دا کلا جنګي ده، يو وخت د شاهانو او ملکانو قصر و، دا د خانانو کلا وه، ۱۲۰ کاله پخوانۍ کلا. دا کلا په اصل کې ختېنه ده، خو کاڼي او لرګي په کې هم پرېمانه کارول شوي دي. د کلا دېوالونه او ودانۍ په ژېړې خاورې او ګچ رنګ شوي دي. خو کلونه کلونه کېږي چې چا يې مرمت نه دی کړی. د کلا محوطه لوړ لوړ پخخه يي دېوالونه لريوچې تر نيم متر زيات سور لري. د دېوالونو لوړوالی يې ۱۰ مترو ته رسېږي. د کلا

دننه ودانۍ په دوو برخو وېشل شوې، جنوبي او شمالي برخه د دواړو ودانیو پر سرد شلو مترو په لوړوالي برجي مورچلونه جوړ شوي دي، چې د کلا شاوخوا صحرا ترې په ښه توګه څارل کېدای شي. له همدې جګړو څخه مخکې په کلا کې د بزکشۍ ۳۰۰ اسان ساتل کېدل. د کلا شاهي اهمیت که څه هم ډېر کلونه کېږي چې ختم شوی، خو د اسونو له غوجل خانې سره یې شکل او اهمیت بلکل ورک شو، کله چې په عربانو او طالبانو له هرې خوا حملې پیل شوې او له دوی څخه یې د پناه لاره ورکه کړه، نو ځینو یې (چې اکثره عربان وو) دې کلا ته پناه راوړه، په هغه ګړۍ کې لا په کلا کې ډېر زیات اسونه ولاړ وو. د امریکا او محلي متحدینو (ازبکو ملیشو، د نظار شورا، د حزب وحدت او حرکت محسني) په ګډو عملیاتو کې د وسلو او وسایلو له فوق العاده تفاوت سره سره د دې عربانو مقاومت یو ځل بیا جنګي کلا ته نړیوال شهرت ورکړ، داخل به تاریخ څه چې د زمانې ضمیر هم د شوي استبداد او وحشت کیسه هېره نه کړي، د ژوند په صفحه کې مې دغسې کیسه بله نه شته او نه پوهېږم نورو ته به دا روایت څنګه ښکاري او څه ډول به یې تعبیروي؟

خو زه یې د یو بې طرفه انسان په توګه لیکم او بیانوم، یوازې د صحنې د یو شاهد او ګواه په توګه، او کیسه داسې وه:

د کلا جنګي محاصره شویو جنګیالیو د تسلیمۍ اعلان وکړ، دوی پوهېدل چې په هېڅ صورت کې جنګ نه شي ګټلی. د سیمې قوماندان شمس الحق ناصري وایي: زما کسان په دې بریالي شول چې بې شمېره طالبان او عربان په مزارشریف کې اسیران کړي، موږ دغه نیول شوي، کسان ژوندي او سلامت دجنرال دوستم ځواکونو ته تسلیم کړل.

شمس الحق ناصري اوس د بلخ سرپرست دی، لوړه ځواني او توري برندې سترګې لري، خړه پلوي لونګۍ یې تر سر تړلې، له مظاهرو یې برېښي چې د بارسوخه کورنۍ غړی دی. په پیاوړي اوګټیالي چاپنداز یې هم شهرت موندلی.

کله چې زما سره غږېده، نو له ډېر ځوراو غضب څخه یې ګوتې پرېدلې.

دی ځان ته د جنګي کلا د بغاوت د ختمولو فاتح وایي او په فخر سره وایي

چې په ترکمنستان کې د امریکا قونسلګرۍ سره تعهد لري. د سپتمبر له پېښې وروسته یې له امریکایي ډیپلوماتانو سره اړیکي نور هم پاخه شوي. اوس چې په سیمه کې طالبان او القاعده ختم شوي، د دوی راج چلېږي. امریکایان اوس په مزارشریف کې درې مخابروي مرکزونه لري چې په هوا کې د دریو مصنوعي ستوریو له خوا ورته اطلاعات راغونډېږي.

## له مزاره تر کندز پورې:

د مزار له سقوط څخه یوازې دوه اونۍ مخکې امریکا، جنرال دوستم ته د مزار د عملیاتو لپاره ۳۰۰۰۰۰ ډالره ورکړل. په داسې حال کې چې شمس الحق ته یې ۵۰ زره ډالر او ستلایتونه ورکړل. د ورځې په اوږدو کې د قوماندان شمس الحق جنګیالي لومړۍ ډوله وه چې د مزارشریف مقاومت یې ختم کړ. شمس الحق د دوستم په مشوره او د هغه د حکم په اساس د کندز په لور روان شو. دی په دې هم مکلف و چې د طالبانو او القاعدې غړي چې په هر ځای کې پټ او پراګنده شوي باید ژوندي یا مړه تر لاسه کړي. شمس الحق ته امریکایانو د سپوترس Spotters دستګاه هم ورکړې، چې په ډېر دقت سره د معلوماتو په لېږدولو کې ترې کار اخېستل کېږي، د همدې د ستګاه د شفري فعالیت په اساس امریکایان کولی شي خپل اهداف په نښه کړي او د عسکري نقشې په درلودو سره یې په اتوماتیک ډول او له رادار سیستم سره تماس ټینګېږي، دغه دستګاه په اسانۍ سره د توغندیو او الوتکو بمبارد رهبري ګوي. شمس الحق د مزار د سقوط په اړه وایي: "کله چې د مزارشریف نظامي مرکزونه او امنیتي کمربندونه د هوایي بریدونو په واسطه فلج شول، زموږ جنګیالیو پلي عملیات پیل کړل. مزار مو لاندې کړ، د عربانو په شمول مو د طالبانو ۴۰ ډاتنسي او ۲۰۰ سړي ژوندي ونیول. د نومبر پر نهمه د شپې لس بجو د کندز په لور را روان شو. دوستم راته وویل چې د مزارشریف او نورو سیمو ټول وسله وال طالبانو او عربانو کندز ته تللي او زموږ کوښښ به دا وي چې په سوله ییزه توګه د کندز مسئله حل کړو، په کندز کې د طالبانو او د القاعدې (له ۸۰۰ څخه تر ۱۰۰ تنه) خارجي جنګیالي (چیچنایي، عرب،

ازبکستاني، پاکستاني او...) راغونډ شوي وو. په کندز کې اصلي مشکل د طالبانو نه و، ټول مشکل د هغو خارجي جنګیالیو چې تر مرګ پورې یې د مقاومت ژمنه کړې وه. د کندز شاوخوا ته له رسېدو سره سم مې خپل پخوانی دوست امیر جان چې ډېره موده د طالبانو ملګری پاتې شوی و، ور ولېږو. امیرجان په کندز کې د طالبانو له نظامي قوماندان ملا فاضل سره په تماس کې شو او زموږ سره په مذاکراتو کې قانع کړ. لومړني مذاکرات مو د دوستم په مشرۍ په جنګي کلا کې تر سره کړل، په مذاکراتو کې د هزاره وو مشر محقق، د نظار شورا عطاء محمد او دوه نور محلي قوماندانان او یو لوړ، سور او سپین امریکایي چې ازبکي لباس یې په تن و هم شامل وو.

جنرال دوستم ویل چې که چېرې دوی خپل خیر غواړي، نو بهترینه لاره دا ده چې موږ ته وسلې او سامان وسپاري، موږ به دوی په اطمینان سره کندهار او نورو جنوبي سرحدونو ته ورسوو. خو خارجي طالبانو به امریکایانو ته تسلیموو ملا فاضل ته د دې خبرې منل ګران وو چې عربان او نور خارجي طالبان دې امریکا ته وسپارل شي، خو کله چې جنرال دوستم د وروستي ځل لپاره ګواښ وکړ، که چېرې زموږ پر شروطونو توافق و نه شي نو نه به روغ انسان له دې سیمې ووځي او نه به په کندز کې د چا کور او مال سلامت پاتې شي، ځکه زه به ټول ژوندي وګړي د ټانک تر چینونو لاندې کړم.

له دې مذاکراتو وروسته کله چې د کندز د محاصرې کړۍ نوره هم تنګه شوه، د ملافاضل موقف ډېر بدل شوی و، په دویم ځل مذاکراتو کې یې نه یوازې د دوستم ټول شرطونه ومنل بلکې ملا فاضل دا هم وویل: که چېرې دوستم په خپل کړیو ژمنو صادق پاتې شي، نو دی به اسامه هم لاس تړلی ورته تسلیم کړي او ټول کابل او نورو سیمو پورې به شمالي ځواکونو مرسته وکړي. په همدې توګه کله چې مزار د نومبر پر نهمه او ورپسې کابل د نومبر پر ۱۳مه سقوط وکړ، لس ورځې وروسته (د نومبر ۲۴) کې کندز هم سقوط وکړ. د نومبر په څلورويشتمه ملا فاضل امیر جان ته اطلاع ورکړه چې موږ ټول تسلیمېږو، خو زر تنه عربان چې زموږ سره موافق نه وو له

کندز څخه وتلي او د مزار په لور روان دي. که څه هم د دوی له جملې څخه ۴۰۰ تنه موږ دې ته متقاعد کړې چې زموږ لاره ونیسي، خو ۶۰۰ نورو یې زموږ له فیصلو سرغونه کړې، دغه ۶۰۰ کسان چې په خپلو ډاټسنو او جیپانو کې سپاره وو او د مزار په یوه څنډه کې متمرکز شول. ملا فاضل او امیر جان له دې وېرې چې د مزارشریف د سلطان راضیې د ښوونځي پېښه تکرار نه شي. د هغوی په تعقیب شول (د سلطان راضیې په ښوونځي کې ۵۰۰ ایسار شوي عربان او پاکستانیان د شمالي تلوالې او امریکایانو له خوا په ډېرې رسوایي سره ووژل شول او څه یې تېښیان هم شول)، که څه هم له کندز څخه د دغو ۶۰۰ تنو د وتلو هدف په مزار د حملې نه و. دوی غوښتل چې یوازې او یوازې ځانونه امیرجان ته چې دا خلک ورسره بلد وو تسلیم کړي، ځکه چې امیرجان یو باغیرته پښتون او مهربان انسان دی، خو په دې شرط به تسلیمېدل چې په صحنه کې به هېڅ امریکایي افسر نه وي، د دوی د شرط په اساس د امیرجان له خوا (د دوستم او نورو متحدینو په حضور) د دې کسانو د خلع سلاح کول کار پیل شو، خو دا څه اسانه کار نه و، ځکه چې ځینو افراطي عربانو له خپل ځان سره لاسي بمونه، پیسې، چاقو او تمانچې پټې ساتلې وې. خو کله چې د دوستم کسانو له دوی تلاشي اخیستنه د دوی د پیسو په سر یې په خپلو کې هم ټکر او شخړې راغلې، خو کله چې مانښام نژدې شو او د دې مجاهدینو د روژه ماتي وخت راغی، د اسیرانو د شپې تېرولو لپاره د ځای بندوبست په کار و. دوستم غوښتل دا کسان د مزار هوايي ډګر ته انتقال کړي، خو هلته امریکایانو د خپلو ماموریتونو په پلمه اجازه ور نه کړه. نو د مجبوریت له مخې یې جنګي کلا انتخاب کړه، تر څو شپه هلته تېره کړي. تر جنګي کلا بل داسې مضبوط او ستر ځای په نظر نه راتو.

## د جنګي کلا شپه:

کله چې اسیران جنګي کلا ته را ورسول شول، نو د دقیقې تلاشۍ لپاره د جنرال دوستم قوماندان "نادر" او د هزاره وو د ډلې "سیدالله مسرور"

کسانو د اسیرانو په پلټنې پیل وکړ. د تلاشۍ اخیستو په جریان کې یوه عرب خان په لاسي بم والوزاوه، چې له دې انفجار سره د شمس الحق ناصري دوه تنه هم له منځه لاړل. دا خو هسې مازې د کار پیلامه وه. عربان په دې ناراضه وو چې له دوی سره غلطي وشوه. لومړۍ غلطي دا وه چې دوی ځانونه امیرجان ته تسلیم کړي وو، خو په منځ کې ټول واک او اختیار د دوستم ملیشو ترې واخیست. بل دا چې له دوی سره وعده شوې وه چې تر هرات پورې به دوی سلامت رسول کېږي. خو له وضعې برېښېده چې دوی امریکایانو ته ورتسلیموي. له پېښې وروسته یې اسیران په ډېرې چابکۍ سره د کلا د جنوبي برخې زېرزمینیو ته ښکته کړل او ټول هماغلته ځای پر ځای شول. د شپې ناوخته اسیرانو یو بل پسې خپل ځانونه پر بمونه الوزول، ښایي دوی ته دا کار تر هغه مرګ ښه برېښېده چې سبا ته د امریکایانو له خوا ور رسېږي. په دې زېرزمینیو کې شل کلن "جان فلیپ واکر" هم موجود و چې ملګرو یې د عبدالحمید په نامه پېژانده. هېڅوک نه پوهېدل چې دی دې د امریکا د "مارېلاند" سیمې اوسېدونکی امریکایی وي. واکر د امریکا په سانفرانسیسکو کې د یوې کاتولیکې کورنۍ په غېږ کې رالوی شوی دی.

دا چې د زېرزمینۍ له لومړۍ ځان وژونکې چاودنې وروسته هلته نور څه پېښ شول، جان واکر داسې وایي: د نومبر پر ۲۵مه نېټه د شمال تلوالې ملیشو سهار وختي له زېرزمینیو څخه زموږ را ایستل په داسې حال کې پیل کړل چې زموږ لاسونه یې تر شا راته کلک تړل او بیا یې یو یو را ایستلو، د لاس تړلو پر مهال دغو ملیشو له سختو وهلو او ټکولو هم کار اخیست، هېڅوک نه پوهېدل چې له څه ډول سرنوشت سره به مخامخېږو، په دې د ټولو یقین و چې تر هرات پورې د دوی رسول هسې یوه دوکه او فریب و، په موږ کې ډېرو اسیرانو په کرس کرس ژړل، ځکه اوس تر ډېره حده دا محسوسېده چې یا خو به همدلته لاس تړلي وژل کېږو، او یا خو به موږ په ډېر ذلت سره امریکایانو ته سپاري. موږ یې چې له زېرزمینۍ زاوویستلو، نو سملاسي مې سترګې په دوو امریکایانو ولګېدې، د یوه په لاس کې وړوکې ویډیویي کامره وه.او زموږ عکاسي یې کوله.

جان واکر زیاتوي: دغه دوه امریکایي صاحبمنصبان د CIA غړي وو. د لومړي کس نوم: دایف Dave چې لوړ قامت او غټه سره ږیره یې درلوده او د ازبکانو لباس یې په تن کړی و، هغه په روانه لهجه په ازبکي او روسي ژبه خبرې کولی شوای، خو له دې ټولو سره سره له ورایه ښکارېده چې هغه امریکایی دی. د ده سور او سپین مخ، شنې سترګې او په ورانه پورې تړلې تمانچه او د خبرو سبک په خپله دا ښودله چې امریکایی دی. د دویم سړي نوم مایک (جاني مایکل سپاین (Jonny Micheal Spayn) و. مایک چې ۳۲ کلن و او د جین پلتون یې اغوستی و او تور بریتونه یې لرل، د ده له ویدیویي کامرې پوه شوم چې د CIA غړی دی. دغو دوو امریکایانو زما پلټنه کوله، خو زما په اړه یې هېڅ معلومات نه درلودل، او نه یې هم زه پېژندلم.

واکر وایي: همدا دوه امریکایان او ورسره د افغاني ملیشو سړي په څوکیو ناست وو او له هر بندي څخه یې په ډېر فاتحانه غرور پوښتنې کولې، دوی به هر بندي را غوښت او په ګوند به یې خپلې مخې ته کېناوه (په داسې حال کې چې لاسونه به یې تر شا کلک تړلي وو) او بیا به یې تحقیق ترې کاوه.

جان واکر چې په خیرن او ډنګر صورت د CIA افسرانو مخې ته کېښنول شو، خو دوی تصور نه کاوه چې دا به د دوی په څېر یو امریکایي وي. د CIA مامورین په لوړ غږ غږېدل، او پوښتنې یې کولې، خو جان واکر چوپ او خاموش و، هېڅ ځواب یې نه ورکاوه. نور اسیران هم په کتار کې چوپ او غمګین ناست وو او د خپل تحقیق لپاره یې د نوبت انتظار کاوه.

دوی د مایک او دایف خبرې اورېدې. مایک خپل لاسونه په ډېر خور تر ملا نیولي وو. له خپلې څوکۍ پاڅېده او ویې ویل: زموږ هدف د هغو خبیثانو لاس ته راوړل دي چې په نیویارک کې یې بې ګناه خلک ووژل، په هغو چاودنو کې په سلګونو مسلمانان هم ووژل شول.

مایک په داسې حال کې چې جان واکر یې مخې ته ناست و، په لوړ اواز غږ وکړ:

خبرې کوې که نه؟ زموږ ځواب راکړه؟ خو واکر هېڅ نه ویل.

د ورځې يوولس بجې شوې، د تحقيق له مېز څخه ۳۰۰ متره لرې د سره صليب غړی سيمون بروکس Simon Brooks هم د دغې صحنې عيني شاهد و (ده له جنرال فوزي څخه چې د مليشو عمومي قوماندان و، د اسيرانو د سرنوشت په اړه د ملاقات لپاره وخت اخيستی و). بروکس خپل د سترګو ليدلی حال داسې بيانوي:

د کلا له يوې څنډې څخه د کلاشينکوف د ضربې اوازونه راغلل، ما لا له جنرال فوزي سره خبرې نه وې پيل کړې، دواړه د ده په يوه کوټه کې ناست وو، جنرال فوزي پاڅېده او ويې ويل اوس نو ملاقات نه شو کولی. زه يې په همدې کوټه کې پرېښودم، او دی ووت. د ډزو اوازونه وار په وار زياتېدل، ورسره ورسره د بمونو اوازونه هم راغلل، زه ووېرېدم، غوښتل مې چې کوټه پرېږدم، او جنرال فوزي ته ځان ورسوم. هغه د کلا له بام څخه خپلو ملګرو ته چيغې ور وهلې چې پام کوئ، څوک و نه تښتي، زه پوه شوم چې حتماً اسيرانو د کلا په جنوبي برخه کې بغاوت کړی.

د جرمني تلوېزيون استازی چې هلته موجود و، کيسه داسې بيان کړې ده:

بنديان په ډله ييز ډول تحقيق ته راوستل کېدل، او د CIA افسرانو (مايک او دايف) ترې پوښتنې کولې، مايک له يوه بندي څخه پوښتنه وکړه چې څوک دی؟ او ولې دلته راغلی دی؟ بندي په ځواب کې ورته وويل: ستاسو مرګ ته! او له دې سره سم يې ځان پر مايک ورغورځاوه. مايک خپله تمانچه راوويستله او بندي يې مړ کړ.

دايف يو بل بندي وپوښت او د شمالي تلوالې له يوه کس څخه يې کلاشينکوف واخيست او انداخت يې پيل کړ. بنديانو ځانونه پر مايک ور واچول او په لغتو يې په خوله خوله وواهه، هغه په خپله تمانچه دوه نور عربان هم ووژل، او ده هم تر پښو لاندې ساه ورکړه. نورو بنديانو په عين وخت کې له مليشو څخه څو ميله وسله تر لاسه کړه او ډزې زياتې شوې، دايف درې نور طالبان هم وويشتل او بيا يې د کلا د شمالي دېوال په لوري تېښته پيل کړه. هلته د سره صليب استازی هم موجود و، او پر هغوی يې چيغه وکړه چې ځئ، ځانونه وباسئ.

ضابط داود چې د بغاوت له پيل نه تر پايه پورې په صحنې کې و، وايي: لومړی هجوم او بغاوت څه کم يوه دقيقه وخت ونيو، خو وروسته وروسته يې لمن خوره‌ شوه. بغاوت درې مرحلې درلودلې. په لومړۍ مرحله کې د کلا د جنوبي څنډې له زيرزمينيو څخه بنديانو په لاسي بمونو پر پهره دارانو حمله وکړه او په دم ګړۍ کې يې هغوی ووژل او توپونه يې ترې واخيستل. په همدې کې د CIA ضابط مايک هڅه کوله چې په باغيانو فيرونه وکړي، خو د القاعدې هغه اسير چې لاسونه يې تړلي وو، د سر په ضربې سره په مايک حمله وکړه او د مايک خوله او پوزه يې ورته مات کړل. مايک چې سرې وينې پرې رابهېدلې، غوښتل يې خپل حريف په تمانچه وولي، خو په همدې شېبه کې يو بل عرب راورسېد او پر مايک يې ډزې وکړې او ختم يې کړ. خو دايف په يوې ضربې سره خپل مخامخ دوه کسه عربان ووژل او په منډه يې ځان له صحنې څخه وويست او د کلا د شمالي برخې په لور يې تېښته واخيسته. معرکه نوره هم ګرمه شوه، په دغو ډزو کې جان واکر هم ټپي شو. بله خوا سيمون بروکس په تېښته تېښته د کلا د شمالي برجونو سر ته ځان ورساوه. هلته د المان د تلوېزيون ټيم هم راغونډ شوی و. په لږ شېبه کې همدې برج ته دايف هم ور ورسېد.

بروکس وايي: دايف په وېرې او وارخطايي سره وويل چې وضعه ډېره خرابه ده. بنديانو شل تنه مليشې بې وسلې کړې، اوس تر شلو ميلو زياتې وسلې د عربانو لاس ته ورغلې دي. دايف له موږ څخه وغوښتل چې هر څرنګه چې وي بايد تاسو له کلا نه ووځئ. موږ ورته وويل چې څنګه ووځو؟ ايا د کلا له سر څخه چې شل متره لوړوالی لري ځانونه وغورځوو؟ د دايف خبرې نورو وسله والو مليشو رد کړې او ويې ويل چې د کلا شاوخوا سيمې په مينونو فرش شوې پام کوئ چې داسې اقدام و نه کړئ. په هماغه شېبه کې موږ په دې پوه شوو چې په مصيبت کې راګير شوي يوو او له هرې خوا مرګ را روان دی. بروکس زياتوي: دايف له ځان سره څه درودونه ويل او شکر يې ايست چې له پېښې ژوندی راووت. ده د الماني تلوېزيون له ټيم څخه د هغوی ستلايت امانت واخيست او ويې ويل چې بله چاره نه لرو،

مجبور یوو له خپلو ملګرو مرسته وغواړو. ژر کوئ چې وضعه زموږ له کنټرول څخه وځي.

د کلا جنوبي برخه د باغیانو په کنټرول کې ولوېده، دوی فوراً په لوړو برجونو کې خپلې مورچې ټینګې کړې. دوی ته د بمونو او د RPG راکټونو دوه ذخیرې هم په لاس ورغلې وې.

د ورځې پر یوه نیمه بجه معرکه پوره ګرمه او خونې شوه. د القاعدې کسانو غوښتل چې د کلا عمومي دروازه او پر سر یې برجونه هم قبضه کړي؛ خو د دوستم ملیشو په پوره زور او خشونت سره د هغوی مخنیرنه کوله. په همدې لحظه کې له یوه "لنډاور" موټر څخه د برتانیې د ځانګړي ګارډ (SAS) شپږ تنه په خپلو مجهزو یونیفورمونو کې راورسېدل، دوی پکول خولۍ پر سر کړې وې او مخامخ هماغه برج ته ورغلل چې سیمون بروکس د ټایم د مجلې خبریال، الېکس پیري د الماني تلوېزون ټیم او د دایف په شمول ځینې نورې داخلي ملیشې په کې وو.

الېکس پیري خپله کیسه داسې بانوي:

برېتانوي پوځیانو له موږ وپوښتل چې که څوک په انګرېزي پوهېږئ، نو موږ ته دې د کلا وضعه تشریح کړئ. لږ شېبه به نه وه تېره چې په یوه نظامي موټر کې د امریکايي پوځونو یوه ډله راورسېده. دوی هم همدې ځای ته راغلل او په درنګ ګړې کې ټولو په ګډه د شمالي ټلوالې له څو قوماندانانو سره پر پلان خبرې پیل کړې.

د امریکايي ځواکونو مشر د عسکري راډیو له لارې له خپلو مقاماتو سره په تماس کې شو او له هغوی څخه یې د الکترونیکي توغندیو د استعمال مرسته وغوښته... "...اورئ، هلو... اورئ..." د همدې راډیویي ارتباط په لړ کې دایف هم خپل راپور وړاندې کړ او ویې ویل چې مایک ضایع شوی او باغیانو په کافي پیمانه وسلې او مهمات تر لاسه کړي دي. په همدې شېبه کې دایف له موږ څخه لرې و او د جنوبي برج په کوم نژدې برج کې پټ و. د ده په غږ سره موږ ته د مقابل طرف ټول معلومات حاصل شول.

دایف چې د خپل سټلایت له لارې د خپل موقعیت معلومات ورکړل، ټول حیرانه شو. د یو بل برج په سر د ازبکو ملیشو یو قوماندان د سټلایت له

لاړې لـه امريکايي ځواکونو سره په تماس کې و او هغوی ته يې لـه خپل موقعيت څخه د ليزر په شعاع سره د دښمن ځايونه ښودل. لږ شيبه وروسته جيټ الوتکې راورسېدې او راکټونه ترې راخوشې شول. هماغه د ليزر په شعاع نښه شوي ځايونه يې په نښه کړي وو. راکټونه د جنوبي برخې د يوالونو شا ته ولګېدل او سپېرې دوړې جوړې شوې.

بروکس وايي: موږ خپلو ملګرو ته وويل: موږ ته په کار ده چې دا موقعيت پرېږدو او ځانونه وباسو.

دا لومړنۍ هوايي برید و چې بيا پر څلورو بجو او پنځو دقيقو زموږ له سر څخه د راکټونو کتار تېر شو او د کلا په جنوبي برجونو ولګېدل، پاس د بام پر ناستو مليشو چکچکې او شپېلاقونه پيل کړل. د راکټونو په ګردونو او لوخړو کې د دوستم مليشو هم خپل شاجورونه په پټو سترګو ورتشول.

د ډزو لړۍ د شنبې تر سهاره رواني وې، تر هغې ګړۍ پورې لا هم د باغيانو روحيه او قوت غښتلی و.

د لسو بجو په شاوخوا کې امريکايانو تصميم ونيو چې د باغيانو خبره ختمه کړي، اوس نو دوی د کلا په شمالي برجونو کې د ترصد او قوماندانۍ لپاره خپل ځای تثبيت کړی و.

د کلا پر جنوبي برخې لـه بهر نـه هم درې څلورو غول پيکره ټاکونو، توپونه وويشتل، همدې انداختونو تر ډېره حده دجنوبي برخې برجونه فلج کړي وو. دجنرال فوزي لـه امريکايي او برتانوي ځواکونو سره په دې سلا شول چې دمخالفينو تر ولکې لاندې د وسلو ګدام بايد لـه منځه يوسي.

لـه هوايي ځواکونو سره په راډيويي مخابرې تماس ونيول شو. د ګودام پوره کوروکې هوايي ځواکونو ته ورکړل شوه، د هدف نقطه (طول، عرض، مساحت او هر څه په انچ سر،) نښاني شول.

طياره راورسېده "...شرقي!! هول، شرقي خلکو!! پام... پام... تاسو ټاکلي هدف ته ډېر نږدې ياست... لطفاً موقعيت مو بدل کړی... زموږ د برید تخريبي ښمونه سل متر مربع ساحه لـه منځه وړي... لطفاً فاصله ونيسئ... فاصله... فاصله... ځکه چې تاسو په همدې سل متره کې شامل ياست..."

د شمالي برج قوماندان په ځواب کې "...چاره نه شته.... مونږ نه شو کولی دغه برج پرېږدو... ځکه چې مونږ له همدې برج څخه د لېزر په شعاع تاسو ته د هدف نقطه په نښه کولی شو... له بل موقعیت ممکنه نه ده چې تاسې هدف معلوم کړئ...."

او تر لږ سکوت وروسته پیلوټ: "... متوجه... متوجه... بم در واستول شو..." ځمکنی قوماندان: "هوکې... هوکې... موافق یو...."

څو ثانیې نه وې تېرې شوې چې هماغه خوشې کړل شوی بم د دې پر ځای چې د وسلو ګودام له منځه یوسي د متحدینو د ترصد د برج پر سر راولوېد.

له کلا څخه دباندې فرانسوي کامره مین دامیان دیغول وکولی شو چې په تلوېزیون کامرې سره د منفجر شوي بم فلمبرداري وکړي. د ازبکو یو قوماندان په خپلې مخابرې سره لګیا دی چیغې وهي:

... دلته نه.... دلته نه.... بلکل غلط هدف... بس کړ... بس کړئ.... نور بمونه و نه غورځوئ.... زمونږ خپل کسان مو تباه کړل...

فوزي وايي:

په هماغه شېبه کې زه په برج کې وم چې بم زمونږ پر سر راورسېد، د برج دېوال زما پر سر راوغورځېد، دا متې مې لا تر اوسه هم خوږېږي، تر همدې ورځې پورې زه سم غږ نه اورم. مخابره مې په لاس کې وه چې د بم چرو راڅخه والوزوله، خو زه الحمدلله ژوندی راووتم. دا یوه حقیقي معجزه وه، زمونږ سره په برج کې هېڅا د دې امید نه کاوه چې څوک به ژوندي پاتې وي، له مونږ سره ۳۰ امریکایان او برتانویان مړه شول، ۲۰ کسه زخمیان شول او ځینې نور چې ژوندي وتلي وو، د دوړو او خاورو له انبار څخه راووتل. په همدې یوه شېبه کې دغه شل متره لوړ برج د خاورو په انبار واوښت، دا بم دومره دروند و چې د کلا شا ته یو ولاړ ټانګ سرچپه راواوښت او په بل مخ شو. له هغه وروسته بمبارد ودرول شو، خو کله چې شپه شوه، نو د امریکا مدرنترینه څارندویه الوتکه AC ډوله الوتکه په کار واچول شوه، دغه الوتکه محشر جوړوي، په ډېره ټیټه فاصله کې پرواز کوي، خپل ښکار د شپې په تیاره کې کوي، الوتکه لیدل کېږي نه، نه یې

غبرګ شته، نه رنګ، خو دا هر څه ویني، مرګونه کړي، کله چې راورسېده نو په یوه ګوزار سره یې د باغیانو د وسلو ډیپو والوزوله. د چاودنې لمبې دومره لوړې وې چې د مزارشریف له ښار څخه هم لیدل کېدلې.

د سې شنبې د ورځې په اوږدو کې د نومبر پر ۲۷مه تصفیوي عملیات پیل شول، د ټانکونو او توپونو مشترکه بکتریا د مخالفینو مقاومت خنثی کړي و. وروسته همدغه ټانکونه په مورچلو او زېرزمینو ور وختل.

د چارشنبې تر سهاره پورې همدا تصفیوي عملیات روان وو. تر هغه ځایه چې د کلا په جنوبي برجونو کې پرته له کوفته شویو غوښو بل هېڅ نه وو پاتې. له یوې خوا شدید بمبارد او له بلې خوا د ټانکونو او توپونو فیرونه او بیا د باغیانو پر مړو د چین داره ټانکونو چین مالي هر څه ایره ایره کړي وو. یوازې د دغو مړو راټولول له سره صلیب سره څلور ورځې وخت ونیو. دوی په دې وتوانېدل چې ۲۳۷ لاشونه راټول کړي.

کله چې د متحدینو ځواکونه د مقاومت په ختمېدو مطمئن شول، پینځه کسه ملیشې یې په دې وګومارلې چې زېرزمینیو ته د زینو له لارې ور کوز شي او معلومه کړي چې که څوک ژوندي پاتې وي. پلټونکي له لږ شېبې وروسته راووتل او ویې ویل چې هېڅوک هم ژوندی نه دی پاتې، لږ شېبه نه وه تېره شوې چې دوه کسه زخمي عربان له زېرزمینۍ راووتل. دوی په ډېره بده وضعه کې وو، خپ خپ وو، یوازې ساه په کې چلېده. لږ شېبه وروسته دوه نور چې چندان ژوبل نه وو هم راووتل، دوی د مرستې او مدد نارې وهلې او ویل یې چې په زېرزمینۍ کې نور کسان هم شته.

د ځانګړې ګارډ قوماندان ووېل، چې په کار ده زېرزمینیو ته پرېمانه اوبه ورخوشې کړو تر څو پاتې کسان یا خو راووځي او یا هم همالته د یخ له کبله کنګل شي. همداسې یې وکړل. وروسته له دې چې زېرزمینۍ ته یې اوبه ورخوشې کړې د اوبو په سر یې تېل هم ورخوشې کړل او اور یې ورته ولګاوه. په زېرزمینۍ کې جهنمي لمبې بلې شوې، تکې تورې لوخړې او سخته بدبویي ترې راووته، د اور د لمبو له منځه تورې بلاوې راووتې، د دوی مخونه او لاسونه سوي وو، په دغو محدودو کسانو کې چې د لمبو له سپرغیو سره راووتل یو هم امریکایي جان واکر و. دی تر اوسه پورې ژوندی

و. لـه څـه شپېو انتظار وروسته متحدينو زېرزمينۍ ته نارې وروهلې چې که څوک ژوند غواړي نو رابهر دې شي، خو د چا ځواب نه اورېدل کېده.

بـيا نـو د دوی لـه هـرې سـوړې څخـه زېرزمیـنۍ تـه ګـرنېټونه او چاودېدونکې مواد ورغورځول، او وريسې يې يخې واورينې اوبه يو ځل بيا ورخوشې کړې. که څه هم لـه دې کار سره ډېر تېپيان ووژل شول خو پوره يوه شپه په همدې توګه تېره شوه، دغه نور راوتلي اسيران دجان واکر په شمول د کلا په غولي سختې يخنۍ ته کېنول شوي وو او پاس د بامونو لـه سرو څخه ملېشو نظارت پرې کاوه.

سهار شو (د شبې پر ورځ سهار وختي) په داسې حال کې چې د متحدينو مشران او همداراز د ملېشو ګڼ قوماندانان او د سره صليب ماموران د کلا په منځ کې راغونډ شوي وو او د ناستو اسيرانو تماشا يې کوله چې لـه زېرزمینیو څخـه داهونـو اواز او د اخ اخ فـريادونه تـر غـوږ شـول. ملیشـو ځانونـه بـريد تـه تـيار کـړل او منتظر وو چې کـه څـوک لـه زېرزمیـنۍ څخـه د حملې په نيت راووځي نـو پـه ګولـيو بـه يې سـوري سوري کـړي. خو دا ځل د زېرزمینۍ پاتې شويو کسانو پناه غوښته او ځانونه يې تسليمول.

د جنګي کلا تمرد چې د عـربانو لـه خوا پيل شو، د پېنځو پېړيو بربريت او د يووشتمې پېړۍ تـنکالوژۍ پـر داسې داستان بدل کړ چې تاريخ هم پرې شرمېږي. عجيبه دا ده چې دا جګړه پـر يوه تسـليمي پيـل شوه او يوه اوونۍ وروسته پر يوه تسليمي پای ته ورسېده؟!

په کلا کې راغونډو شويو کسانو اټکل کاوه چې کېدای شي تر پنځو يا شپږو تنو زيات کسان نه وي، خـو لـه دې محشـر څخـه (لـه دومره اورونو، بمونو، يخو اوبو او لوږو تندو سره سره) په شمار ۸۶ کسان راووتل. مخونه يې د لـيدو نـه وو، تـا بـه ويـل چې مړي دي. مخونه يې سوي و. د ډېرو خو د سترګو کونجونـه هم لـه يخ څخه چاودې او خيري وو. د ډېرو غړونه لـه يخنۍ مـات شوي وو. پوزې يې لـه تورو لوږو ډکې شوې وې، جامې يې سوې وې، داسې بـرېښېدل لکه چې د دوزخ لـه سپرغيو جوړ شوي انسانان دي. کلـه چې دغـه ټول اسيران سره راغونډ شول او د هغو نورو اسيرانو چې لـه بېګاه څخه په همدې غولي ناست وو، يـوه امريکايي د تـرحم لـه مخې يوه تنکي

ځوان تـه مالـته ورانـدې کـړه، هغـه سوي زخمـي ځـوان پـه انګرېزي ژبـه مننه ورڅخـه وکـړه. پـه هماغـه کـړۍ کې امريکايي ځواکونه په دې پوه شول چې دا هماغه ورک جان واکر دی.

خو د دې ژونديو او مړو لـه شمېر څخه بيا هم داسې ښکاري چې ۱۱۷ کسـان ورک شوي. او همـدا نـن چې نـن دی هم څـوک نـه پوهېږي چې لـه دې کلا څخه هم ۱۱۷ ورک شوي عربان څنګه وتلي؟ چېرته وتلي؟ او ايا بيا به پيدا شي که نه؟؟؟

خو مـوږ جنګي کـلا پـه داسې وخت کې پرېښوده چې د مړو او زخميانو په ليدو مو خپله دنيا هېره کړې وه، موږ ته داسې ښکارېده چې ګوندې په ټولـه دنيا کې بـه قيامت وي. کلـه خو وايم چې دا به خوب و، خو دا هر څه ربښتيا وو، موږ ډېر هغه رازونه لا کشف نه شواى کړاى چې د دې کلا د بربريت واقعي انداز تـرې څرګند شي. خـو زه وايـم يـوه ورځ نـه يـوه ورځ بـه زمانه داسې هم راځي چې د دې کلا اصلي سناريو موږ ته په ربښتينې توګه راوسپړي او ملعومه کړي چې ايا دغه محشر د دې اسيرانو له خوا پيل شو، که فقط په دې خاطر چې د دې خونکاريو پـرمخ پـرده واچول شي، ورتـه د جنګي کلا د بغاوت نوم ورکړل شوی؟؟

*جان پولي ماري:*

لـه کلا څخه لـرې کېـدم، د ډاتسنې پـه باډۍ کې ناست وم او تر اخره مې کلا تـه کـتل. کـلا مې تـر نظر وار پـه وار وړوکې کېـده، د موټر په دوړو کې مې تـر لـرې ځـاى د کـلا عکاسي کولـه، تـر هغـو چې بلکل د موټرو په دوړو کې ناپيده شوه.

جـان پـول مـاري، د فرانسوي مجلې نوفل ايزرفاتور ستر خبرونکی، پښتو تـه ژبـاړه: عبدالرحمن سکوت، وطـن مجلـه، د درېـيم کـال يوولسـمه ګڼـه، ۲۰۰۲ کال، اپرېل ـ مې، ۳۳-۴۱مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شبرغان په دښتو کې د مرګ قافلې چېرته لاړې؟؟؟

## د طالبانو بندیانو د ډلـه ییزو وژنو وروستنی بشپړ او ژوندی راپور

د شمالي ټلوالې د شبرغان لـه تور زندان څخه د موټر په مزل د پنځلسو دقیقو په فاصله کې یو پراخه کنډو کپر دښته راځي چې د لیلي په نامه یادېږي.

لـه دغې دښتې څخه هستوګنو سیمو تـه ځینو صحرایي حیواناتو پـه خپلو خولـو کې هډوکې راوړي وو. چې ځینـې یې وچ او زاړه او ځینـې یې لاهماغسې تازه او پـه غوښو کې نغښتـې وو دا څرګندونې ډاکټر "هاګلند" چې د بشر پوهنې په ځانګه کې استاد دی او د بشري حقوقو په یو ټیم کې یې پـه دغو تازه ورځو کې لـه شمال څخه د لیدنې په ترڅ کې دلیلي دښتې ته هم سر ورښکاره کړی، خپل راپورتاژ تهیه کړی.

نوموړی پـه دې هکلـه چې طالـب بندیان څرنګه د مرګ کومې ته ورسول شول یـو اوږد راپـور تـه تـیار کـړی دی، چې موږ یـې ستاسـو مخـې تـه ږدو. نوموړی لیکي: مـا د لیلي پـه دښته کې نیمې کینـدل شوې ځمکې ولیدې چـې ځـای ځـای د تسـتپو مـری او تارونـه، د سـرونو ګلګوټـې وېښـتان: د جمجمې هډوکي او همداراز بوټـان پـه کې پراته وو، پـه ځینو ځایونو کې مې د بلډوزرونو هغـه نښـې ولیـدې چـې د وینو لیکـې او خاپونـه یـې تـر ډېـره لـه ځـان سـره کش کـړي وو. خـو زه وایم چې د ډلـه یزو قبرونو موندل اسان کار نـه دی، ولـې پلټونکـي او د دغـه کـار ماهریـن پـه دې ښـه پوهېـږي چې چېـرته د بلډوزرو د عـرابو نښـې او د کرهنې د ځمکې پـه پرتلـه د دغـو ځمکـو تـوپیر ښکارېږي، نو دا ښيي چې په دغه ځای کې ډلـه ییز قبرونه موجود دي.

ما د لاسونو پټۍ او څه اندازه دستکشې ولیدې چې یوه خوا او بله خوا پرتې وې او دا هغه دستکشې دي چې وژونکي یې د مړو جسدونو د ښخولو پر وخت په لاس کوي، نو دا هغه ثبوتونه دي چې په ډاګه دا معلومېږي چې د دغو بندیانو وژل یو پلان شوی کار و.

ډاکټر هاګلند وایي: د لیلي دښتې له لیدلو وروسته زه له خپلو دوو ملګرو سره چې دواړه د "بوستن" دي، د شبرغان جیل ته لاړم، دلته مو چې څه ولیدل ډېر دردوونکي دي، نژدې درې زره طالبان مو ولیدل چې په داسې یوه کوټه کې اچول شوي وو، چې یوازې د اته سوه تنو لپاره جوړه شوې ده. دا ټول هغه زخمیان، وږي او ناروغ طالبان وو چې د کندز د سقوط پر مهال د دوستم ځواکونو ته تسلیم شول، موږ د دوی د دغه دردوونکي حالت په اړه د زندان له یوه مسوؤل قوماندان سره خبرې وکړې، خو هغه د دغه بد حالت له شتون سره تر منلو وروسته موږ ته د پیسو د نشتوالي خبره وکړه او ویې غوښتل چې که تاسو دوی ته د غذا تیارولو او د یو کوهي (څاه) ویستلو مرسته وکړئ چې دوی ته پاکې اوبه ورسېږي، نو ښه او کنه نو موږ یې نه شو کولای.

خو خبره داسې نه وه، موږ د طالبانو له بندیانو څخه نورې دردوونکې کیسې واورېدلې، خو له دې پېښو سره چې دوی ورسره مخ شوي وو، اوس هم طالعمند وو چې ژوندي پاتې وو، هغوی ویل چې موږ څخه په سلهاوو ملګرو هغه وخت مرګ ته غاړه ورکړه چې له کندز څخه په وسپنیز کانټینرونو کې تخته بند او په زور ځای پر ځای شوو، دروازې راپسې بندې شوې او ساوې مو تنګې شوې، تر دې چې په سلهاوو ملګري مو له خپل ژوند نه ستړي او د مرګ کومي ته ولوېدل".

هاګلند مخکې وایي: کله چې مې له څو تنو ځایي کارګرانو سره د جسدونو لټولو لپاره د لیلي په دښته کې کار کاوه د پنځو فټو په اندازه مو یو ځای روسپړلو. نو و مو کتل چې بې شمېره جسدونه څنګ ترڅنګ قطار پراته وو، بیا مو لږ ورهاخوا د شپږو مترو په اندازه یو ځای وکیندلو، پنځلس جسدونه په کې راووتل، خو د حیرانۍ خبره دا ده چې دوی هماغسې تازه او په اندامونو یې غوښې لانښتې وې، د ځینو لاسونه د

شاخوا ته ترل شوي وو، ټول ځوانان وو، د دوی په جسم ښکاره ټپونه نه وو او نه هم پرې د ټوپکو د برچو اويا مرميو اثار وو، نو له دې نه دا خبره څرګندېدله چې دوی ټول د ساتنګۍ له امله په کانتېنرونو کې مړه شوي دي. دا چې د ليلي په پراخه دښته کې به ځومره داسې ډله يزه وژنې او قبرونه تر خاورو لاتدې شوي وي، زه يې اندازه نه شم لګولی او نه پوهېږم، خو د ملګرو ملتونو د يو مقام له خولې دا خبره کوم، چې هغه ويلې دي چې د دغې دښتې په هره تنګه کنده کې په سوونو جسدونه د بلدوزرو له ارابو لاندې شوي او په همدې هکله د افغانستان د بشر د حقوقو مشر عزيزالرحمن رزاق ماته وويل چې له زرو څخه زياتو تسليم شويو طالبانو په بندو کانتېنرونو کې ساه ورکړې.

همداراز په دې اړه ما ته ډېرو بنديانو، د لارو چلوونکو، افغاني مليشو، محلي کليوالو او نورو وګړو ژوندۍ کيسې کړي دي.

د ليلي دښتې مړګونه هغه تريخ حقيقت دی چې د افغانستان په تاريخ کې ساری نه لري او د همدغه بې کرکي مړګونو لامل و، چې امريکا په ډېره لږه اندازه عسکري ځواک د افغانستان په خاوره کې پلي کړ او د ځايي مليشو د مرستې لپاره يې د هوايي ځواک قومانده په خپل لاس کې واخيسته چې دا کار د امريکا هغه مسوٴليت تر پوښتنې لاندې راولي چې د بنديانو په هکله يې د "ژنيو " تړون ته لرلو خو په هر حال دا جګړه امريکايانو ته په ډېرارزانه قيمت تمامه شوه او هغه دا چې د امريکايي وينو پرځای په کې افغاني وينې وبهيدلې.

کله چې تسليم شوي طالبان په کانتېنرونو کې اچول کېدل، امريکايي عسکر موجود وو، هغوی ددغو بنديانو د مړينې شاهدان دي. کله چې کانتېنرونه روان شول او د شبرغان د جېل مخې ته يې دروازې خلاصې شوې، نو اکثرو يې مرګ ته لبيک ويلي و، خو د دوستم عسکرو داکار هيڅ خبره نه ګڼله او ويل يې چې موږ دوی په سخت امنيتي حالت کې ځکه ساتلي وو چې د قعله جنګي غونډې يو ځل بيا اغتشاش جوړ نه کړي، دا چې وژل شوي دي دا د خپلو ټپونو له امله دي چې په جګړو کې ورته رسېدلي وو.

کله چې په دې هکله د پنتاګون له ویاند سره تماس ونیول شو نو هغه له ځواب ورکولو څخه انکار وکړ.

همداراز په دې اړه نړیوالو مؤسسو ته دا ګوته نیول کېږي چې د دومره لوی دردوونکي او ثابت شوي عمل په هکله به دا غوره نه وای چې دغه قصابان یې د محاکمې مېز ته راکش کړي وای، چې په دومره بې دردۍ یې له بندیانو سره دا ډول چلن کړی دی.

د شمال د ملیشو د مشر جنرال دوستم ویاند فیض الله ذکي نیوزویک ته دا خبره کړې چې دا سمه ده چې په کانټینرونو کې به یو څه بندیان مړه شوي وي چې ټول شمېر به یې سلو او یا هم یو سلو او شلو په شاوخوا کې وي، خو نوموړي دا هم ویلې که چېرې د قلعه جنګي د پېښې د تکرار وېره نه وای، نو موږ به دوی په ازاده فضاء کې په ټرکونو کې انتقال کړي وای.

هغه وایې چې کله بندیان په کانټینرونو کې بارېدل نو په دغه ځای کې دوستم موجود نه و او دا کار موږ د ټیټې سطحې قوماندانانو ته حواله کړی و. "چیفر لینینګ" چې د بشري حقوقو د پلټنې یو ماهر او د "هارورډ" په پوهنتون کې د عامه روغیتا پروفېسر دی وایي چې: "له دغه پېښې څخه چې چېرته، څرنګه او په کوم وخت کې رامنځته شوه، امریکایي ځواکونه بنه خبر وو.

د طالبانو او القاعدې پلویان د یوې معاهدې په ترځ کې د کندز او مزارشریف ترمنځ د "یارګنک" په سیمه کې د دوستم قواوو ته تسلیم شول، د دوستم د یو قوماندان شمس الحق ناصري له خولې ویل شوي کله چې د طالبانو د تسلیمېدو مراسم تر سره کېدل نو د نورو قوماندانانو په شمول جنرال دوستم هم موجود و.

همداراز د امریکا د خفیه ادارو ځینې افسران هم راغلي وو او له بندي طالبانو سره دا وعده شوې وه چې د القاعدې له مخکښنو غړو پرته به افغاني بندیان خپلو کورونو ته ستنیږي، پاکستانیان به هم تر تحقیق او پلټنو وروسته خپل هېواد ته لېږل کېږي او عربان او نور خارجیان به ملګرو ملتونو او نورو مؤسسو ته سپارل کېږي.

د دغو حالاتو يو بل شاهد وثيق الله سادات دی، دی وايي: "د طالبانو نمايندګانو او استازيو په دې خبره ټينګار کاوه چې دوستم ته په دې شرط تسليمېږو چې د تېرو وژنو انتقام به تر ړنه نه اخيستل کېږي. د همدې موافقې پر اساس د نومبر پر پنځه ويشتمه نېټه له څلور سوه طالبانو پرته چې په کندز کې پاتې شول او له تسليمېدو يې انکار وکړ نور ټول، لکه د پسونو په شان د تسليمۍ ميدان ته راغلل، د دوی د بې وسلې کولو لپاره څلور غونډونه جوړ شول او د وسلو له تسليمۍ څخه وروسته يې په ډاټسنو، لاريو، روسي کامازونو او کانټېنرونو کې بار کړل.

د مزار شريف د کانټېنرونو د موټرو يو موټروان چې نيوزويک يې د اصلي نوم له ښودلو ډډه کوي او په محمد يې يادوي وايي چې: "ماښام ناوخته د دوستم څو عسکر زموږ د کانټېنرونو تم ځای ته راغلل او له ما يې وغوښتل چې خپل کانټېنر له موږ سره تر "قلا زيني" پورې بوځي چې په کې بندي طالبان د شبرغان زندان ته انتقالوو. "کلا زيني" د مزارشريف او شبرغان تر منځ د سړک پر سر پرته ده، ماښام نژدې اوه بجې وې چې کلا زينې ته ورسېدو، له يارګنک څخه د بندي طالبانو کاروان را وران و، کله چې ټول را پوره شوو نو عسکرو له هغوی څخه پګړۍ، خولۍ، او واسکټونه واخيستل، له موټرو يې راکوز او کانټېنرونو ته يې د ختلو امر ورکړ، په هر کانټېنر کې يې له دوه سوه څخه زيات بنديان واچول)).

نوموړی ډرېور وايي: "کله چې په دغو بنديانو پسې يې د کانټېنرونو دروازې په وسپنيزو ځنځيرونو وتړلې، نو ما پخپله د ځينو بنديانو داسې غږونه واورېدل چې: له موږ سره مو خيانت وکړ! د کانټېنر دروازې مو راپسې قلف کړې..."

ښايي چې بنديانو په غړېدلو سترګو خپل مرګ ليدلی وي، دا د عکسونه ځای ډله ييزې وژنې هغه اسانه لاره ده چې په ۱۹۹۷ م کال کې د شمال يو بل جنګ سالار جنرال مالک پهلوان هم طالب بنديانو په وژنه کې له دا ډول طريقې څخه کار اخيستی و او ويل کيدل چې ۱۲۵۰ تنه بنديان يې د کانټېنرونو په وسپنيزو ګېډو کې د مرګ تر پولې ورسول او هغه داسې چې د مالک په امر کانټېنرونه د ليلي دښتې سوزېدونکي لمر کې ودرول

شول او کله چې د کانټېنرونو دورازې پرانیستل شوې بندیان ټول د سوزېدلو سکرو په شان یو پر بل ټول پراته وو، زیاتره بندیان ویلي شوي او خوړیت پړیت شوي وو. خو کله چې طالبانو په ۱۹۹۸ م کال کې مزار شریف ونیو، د انتقام په توګه یې له دوی سره هم هماغسې وکړل چې ورسره شوي وو.

نوموړی موټروان وایي: "...د کانټېنرونو له روانېدو څو ساعته وروسته ما د کانټېنرونو له منځه د بندیانو تریکې او ټوپونه حس کړل د عکس ځای او چیغې یې وهلې چې مړه کېږو، لږې اوبه راکړئ، د خدای لپاره انسانان یو، څناور نه یو او داسې نور..."

موټروان زیاتوي: په دې وخت کې ما یو څټک رواخیست چې د کانټېنر ځینې ځایونه بندیانو ته د هوا داخلېدو په نیت سوري کړم، له یو دوو کوچنیو سورو څخه پرته یو عسکر چې ما سره ناست و، زما کار نیمګړی کړ او د ټوپک په میله یې تهدید کړم. له دې سره سم یو بندي چې د دغه سوري په چاود کې یې خپله ژبه راویستلې وه، ویل یې (مسلمان یې که نه؟ ته دا زما ژبه وګوره!!) په ریښتیا چې د هغه ژبه له تندې چاودلې وه".

د یوه بل کانټېنر موټروان هم دې ته ورته خبره کوله چې ویل یې یو ځل ما کوښښ وکړ چې بندیانو ته د یو سوري له لارې اوبه ورکړم خو د دوستم ځواکونو په دې کار دومره وډبولم چې شپه یې هم راباندې په خپل موټر کې تېره کړه.

د عبدالله په نامه یو ځایي سړي نیوزویک ته دا خبره سپینه کړه، کله چې د دوستم عسکرو د شپې له خوا موږ ته له دغه ځایه د بارولو ویل، زموږ کور د زیني کلا په خواکې و. نوموړی وایې کله چې موږ د کور تشولو په حال کې د بام پر سر وختو، نو ومو لیدل چې څلور کانټېنرونه د کلا خواته راورسېدل او بیا د کلا په منځ کې په وار وار له هر یو کانټېنر څخه بې شمېره بندیان چې لاسونه یې تړل شوي وو راکوز شول او هغه بندیان چې چالاکه مزل به یې نه شو کولای د عسکرو له خوا به د ماشیندارو په کونداغونو وهل کېدل، نوموړی وایي چې څه شېبه وروسته دغه بندیان بېرته کانټېنرونو ته وخېژول شول او کله چې به کانټېنر ښه ډک شو، نو

دروازې به یې وریسې وتړلې او روان به شول. عبد الله زیاتوی چې د دوستم د عسکرو یواځینې هدف د دغو بندیانو وژل و او بس. دی وایې چې ما په دې هکله په پټه د امریکایي ځواکونو له خوا یو ترجمان وثیق الله سادات سره وکتل او له دغه حالت څخه مو خبر کړ او هغه راته د عملي اقدام کولو خبره وکړه. رښتیا هم امریکایي ځواکونو په خړ رنګو ډاټسنو کې "زیني کلا" ته راغلل، خوله بندیانو ډک کانټینرونه لا پخوا له دې ځایه تللي وو نو دوی هم بیرته مزار شریف ته ستانه شول. سادات وایې چې په همدغو ورځو کې یعنې د نومبر پر پنځه ویشتمه د قلعه جنګي د بندیانو پاڅون دوی (امریکایان) ډېر پریشانه کړي وو، له یوې خوا یې خپل یو افسر "مایک سپان" په دغه جنګ کې له لاسه ورکړی و، چې مړی یې بیا د مزار له هوایي میدان څخه پورته شو او بل دا چې دوی یو امریکایي طالب "جان واکر" نیولی و، نو له همدې امله دوی په ډېر احتیاط سره ګام اخیستو، خو زه باور لرم چې دا ټوله ډرامه به ډیر ژر امریکایانو ته افشا شي چې د شبرغان له زندان څخه ځومره بندیان په کانټینرونو کې ووژل شول.

موټروان محمد وایي چې د نومبر پر ۲۹ نېټه د ورځې یوولس بجي وې چې موږ له یو بل کاروان سره چې ۱۳ کانتنرونه یې رابار کړي وو، یوځای شو، له هر ډریور سره په خوا کې یو عسکر ناست و، په دوی کې یو موټروان چې موږ به ورته حسن ویلو، ماته کیسه کوله چې کله به په کانټنرونوکې د پښو دربهار او ټوپونه پیل شول نو عسکر به راته امر وکړ چې دوی لا او س هم اوبه غواړي بس مزل کوه او ګېرونه بدلوه. کله چې موږ د شبرغان جېل ته ورسېدو او له هغې وروسته چې یو یو کانټینر د جیل انګړ ته داخلېدو، نو ما له خپل ځان څخه مخکې کانتنرونو ته کتل چې دورازې یې خلاصې شوې او د دوو سوه تنو په شاوخوا کې به اټکل کېدل چې مړه جسدونه لکه د رمې پسونه له کانټینرونو څه راوغورځول شول. د هغوی جامې ټولې لمدې وې د ځینو مړو له خولو او غوږو څخه وینې بهېدلې.

محمد وایي چې د دغو ۱۳ کانټینروټو له جملې څخه یواځې ۱۷۶ تنه بندیان ژوندي پاتې وو او هغه هم له دې امله چې په ځینو کانټینرونو کې

مــوږ سوري جوړ کړي وو، هغــه وايي چې پــه دغــه وخت کې چې کانټېنرونه پرانيستل کېدل يو امريکايي هم موجود نه و.

د عبدل پــه نامــه يــو بــل اتــه ويشت کلـن موټروان نـيـوزويـک تـه دا خبره وکړه: "پــه هغــه کــاروان کې چې۲۴ ساعته يې مزل وکړ او بنديانو د اوبو، اوبو چيغي وهلې موږ لــه سوريو څخــه ولــيدل چې هغــوی يــو د بــل د بدن خولې څټلې او ځينو خو يې داسې حالت ته رسېدلي وو چې پر يو بل به يې خولــه لګولــه"

نوموړي زياتوي "کلــه چې مــوږ د شبرغان زندان تــه ورسېدو يواځې لــه شلو څخه تر ديرشو پورې بنديان ژوندي پاتې وو او نور ټول مړه شوې وو".

د محمود پــه نامــه يو پاکستاني بندي نيوزويک ته دا خبره وکړه: "موږ د پنځلس سوه (۱۵۰۰) تنو په شاوخوا کې طالبان دوستم او شمالي ټلوالې ته تسليم شوو، لــه دې وروسته يې مــوږ پــه خپلو پګړيو کې لــه پښو او لاسونو څخــه وتړلو او د مــيږو د رمــو پــه شــان يــې کانټيــنرونو تــه ګــوزار کــړو، پــه کانټيــنرونو کې زمــوږ تنده او ساه تنګي دې حالت تــه ورسېده چې اکثره پــه کې لېونــي شول، خولې لګول، شوکارې لګول او هر هغه څه ته لاس کول چې کوم لوند او نمناک شی يې خولو ته ورشي، خو چې څو جيل ته رسېدو، سل تنه لــه موږ څخه مړه شوي وو".

يــو ډريــور چې دغه حالت يې ليدلی و، بې اخيتاره يې چيغې وهلې: ملل متحد، مړګونه، دا ډلې ډلې مړګونه ووينه! ملل متحده چېرته يې؟؟

کلــه چې د نومبر پــر ۲۹ د سره صليب مامورين زندان تــه راغلــل نــو يواځې [illegible] ژوندي بنديان يې وليدل چې سترګې يې وازې پاتې وې او نور ټول يې ګومان کېږي چې په ليلي دښته کې تر خارو لاندې کړي وي.

د ليلــي دښتې تر څنګ د "لب جر" پــه نامه سيمې هستوګنو نيوزويک تــه دا خبره پــه ډاګــه کړه چې د دسمبر پر لومړۍ نيمايي کې په ناڅاپي توګه د دوستم د عسکرو لــه خوا مــوږ تــه د کورونــو پرېښودو امر وشو او پوره څو ورځې دغــه ځــای لــه اوسېدونکو تش ساتل شوي و. د دغه ځای يوه تن ځايي اوسېدونکي چې ۴۹ کلن سړی و دعــوه وکړه چې عسکرو پــه دغــه لاره چې دليلـي دښتې تــه څېرمه پرته ده، د موټرو پياده خلکو او ان د کچرو او خرو

تګ راتګ بند کړ. نوموړی وایي چې ما په پټه له دغه سیمې څخه د کانټېنرونو کاروانونه ولیدل چې د لیلي دښتي پر لور روان وو او همدا راز ما له لېرې څخه د بلدوزرو د ماشینونو اوازونه هم واورېدل چې د ښخولو په کار لګیاوو. سره صلیب د ژوندیو بندیانو له خولې راپور تیار کړ، هاګلند له خپلو همکارانو سره یوځای د دغو زړه بوږنوونکو پېښو په هکله مفصل راپور ولیکه، د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو ټولنې د پېښې له تصدیق سره سره په دې اړه راپور تیار کړ، ولې امریکایان تر او سه له دغه خبرې سره موافقه نه کوي او دلیل راوړي چې که دا کار شوی هم وي زموږ د عسکرو په شتون نه دی شوی او نه ترې زموږ ځواکونه خبر شوي.

نیوزویک وایې چې د باوري سرچینو له قوله موږ خبر شو کله چې د شبرغان جېل ته د بندي طالبانو لومړی کانټینر راورسېد او د مړو جسدونه یې ترې راوغورځول، نو د امریکا ځانګړی کوماندوي ځواک هلته موجود و. او دوی ته دنده سپارل شوې وه چې په بندیانو کې د القاعدې شکمن کسان په نښه کړي او ځینو خویې د جیل امنیتي چارې سمبالولې.

د امریکا د دفاعي چارو څانګې په دې هکله د پنځم نمبر ځانګړي امریکایي ځواک له قوماندان "کول جان" څخه د معلوماتو غوښتنه کړې وه، هغه ورته په ځواب کې ویلي وو چې د دغو سیمو مسول ځواکونه د لومړي نمبر قواوو پورې اړه لري، خو د دغه ډلې ځانګړو ځواکونو پنتاګون ته په صراحت سره وویل چې هو! ډېر طالب بندیان مړه شوي، خو اصلي لامل یې هغه ناروغتیاوې او زخمونه وو چې په کندز کې دوی ته رسېدلي وو. د نیوزویک خبریال وایي کله چې موږ د پېښې د سپیناوي لپاره له دواړو خواوو سره تماس ونیو، خو هغوی په دې هکله له څه ویلو څخه ډډه وکړه.

. سره صلیب د موسسې لپاره هم دا ډېره زړه دردوونکې پېښه ښکارېده، خو نه پوهېږو چې هغوی له کومې وېرې زندان ته نه ورتلل، او بندیانو ته د مرستو تیارولو څخه عاجز و.

د افغانستان د بشري حقوقو د تنظیم مشر عزیز الرحمن رازق وایي چې موږ خو ځلې هڅه وکړه چې ICRC مامورینو چې دفتر یې په مزار شریف

کې و، دا خبره څرګنده کړې چې په ۲۲ او ۲۳ مه نېټه ګڼ شمېر طالب بندیان د کندز له یارګنک څخه چې تسلیم شوي وو په کانټېنرونو کې د شبرغان جېل ته یوړل شول، خو دوی وایي چې مقامي چارواکو نه غوښتل چې موږ دې له جېل څخه لیدنه وکړو.

د جنورې میاشت په نیمایي کې "جان حفران" او "جیفرنیګ" په کابل کې د ICRC له دوو مامورینو سره وکتل چې یو له هغوی څخه له ژینو څخه د تحقیقاتو لپاره رالېږل شوي وو چې معلومه کړي له بندیانو سره امریکایانو څومره مرسته کړې. نوموړي وایي چې کله مو په دې هکله له امریکایي چارواکو سره په کابل کې وکتل، هغوی ځانونه بې خبره وښودل او بیا یې وویل چې دا مهمه پېښه ده او باید په اړه یې پلټنه وشي. خو موږ په یقین سره چې د دغو ټولو ناخبریو سره سره چې امریکایان یې خپله بهانه نیسي او سره له دې چې د وژل شویو بندیانو په اړه له همدردۍ څخه په مرموز ډول ډډه کوي، دا کافي ده چې دوی په اعمالو د لیلي دښتې مړه جسدونه شاهدي ووایي.

*وطن مجله، د څلورم کال دویمه ګڼه، ۲۰۰۲ سپتمبر*
*له نیوزویک مجلې څخه د "وطن" د اداري ژباړه.*

لیکوال : ملزن کلاوس
ژباړونکی: سراج الحق ببرک زی ځدران
له دیرشپیګل مجلې نه

# د جنرال د قتلونو دښته

په زرګونو طالب جنګیالي په ۲۰۰۱ نومبر کې شمالي تلوالې ته ورتسلیم شول، بیا وروسته په دغه دښته کې ډله ییز قبرونه ومیندل شول. د جمهور رئیس د کابینې یو غړی ددغې ډله ییزې وژنې پړه او مسئولیت پرغاړه لري، ایا امریکایانو د غه قتلونه زغملي دي؟


دغه دښته د شبرغان شا ته پیل کېږي، شبرغان د افغانستان په شمال



کې د سوداګرۍ یو ډېر زوړ ښار دی، دلته تود باد تر پاک شنه اسمان لاندې

په مترونو ژېړې شگې ډېرې کوي. د دغه پوستکارت غونډې ځای په منځ کې څه دي؟ یوازې څوگامه له سړک څخه لرې د مرگ انځور یا منظره ده، دلته ټوټې ټوټې د ملا هډوکي، لږ وړاندې څو ټوټې د پښتۍ، د ټټر نري هډوکي، کیڼ خوا ته د کوناټي هډوکې، لاندنۍ ژامه، یو متر وړاندې د خاورې نه یوه کوپړۍ راوتلې، تور وېښتان یې ښکاري، دغه د انسان پاتې شوي ټوټې دي، څه چې دلته په شبرغان کې اټکل اته میاشتې مخکې پېښ شوي دي.

په افغانستان کې ډېرې گنگوسې شته چې دغه د کرزي حکومت او امریکایي ملاتړي او ملگري تر فشار لاندې راولي، چې د امریکایي سرتېرو او د شمالي ټلوالې په گډون د طالب جنگي زندانیانو د ډله ییزې وژنې مسئولیت د همدوی پر غاړه دی. دغه صحنې څه موده مخکې په یو ایراني ټلویزیون کې ښکاره شوې. که څوک په دې اړه د لټون لپاره پوښتنې



کوي، پر جنرال دوستم نه شي تېرېدلی، څو اوونۍ مخکې دغه ۴۸ کلن ځوان ازبک د کرزي له خوا د شمالي ولایتونو د مسئول په توگه ونومول

شو. خو ځواک په شبرغان او شاوخوا کې د کابل له دغې دوعا سربېره هم له دوستم سره و.

دلته په شمال کې ده هر وخت خان ورګډ کړی دی. بیا یې له دوی سره خیانت کړی دی. لومړی له کمونستانو سره ، بیا د مجاهدینو تر څنګ او د یو لنډ وخت لپاره له طالبانو سره هم و.

دغه سړی رحم نه پېژني ځکه په ژوندیو جنګي اسیرانو باندې یې څو ځلې ټانکونه یا شوبلې ورخېږولې دي، د خپلې واکمنۍ د خوندي کولو لپاره دغه خونخور یا وینې څښونکي د خپلو مخالفینو په له منځه وړلو کې له هر څه نه بې پامه کار اخیستی دی، دغه قتلونه د هغه په دښته کې دي، دوستم بې له کوم تور یا جرمه وایي چې دا هغه ازبکان دي چې طالبانو څو کاله وړاندې دلته وژلي دي، نو پوښتنه داده چې ولې د شمالي ټلوالې دغه شهیدان په عزتمن او سر لوړي توګه په هدیره کې نه ښخول کېږي؟ ولې دومره ډېر مات هډوکي لا تر اوسه په چټلي کې په دغه سیمه کې خواره واره تل دي؟ او څه کوي د طالبانو یو بیرغ یا جنډه د شمالي ټلوالې د مړو د سکلیټونو تر څنګ؟

دغو پوښتنو ته یو څه مات ګوډ ځواب په شبرغان کې موندل کېږي، یوازې پوښتنه د جنګي کلا دلارې په وګړو کې ډار اچوي، یو ازبک شپون ښه تکړه ژنی چې په خوله کې یې "How are you " وه خپله رمه پیوله، په وېره او تلوار د سپند خواته وزغلېده او ناره یې وکړه چې زه نه پوهېږمه ارام مې پرېږده.

محمداحمد بیا نه ډارېږي، دغه بزګر تر خپل ټراکټور لاندې پروت دی. له هغه لارې څخه لرې نه دی چې هغې دښتې ته ورځي، تاسو هغه مهال څه ولیدل؟ احمد یوه دقیقه غلی شو، یو سګرټ یې ولګاوه. شین لوګی یې راوویسته او وچ یې وویل: "ما ټول شیان لیدلي دي، زه دلته ژوند کوم د دوستم سرتېرو یو شپږ کنټینره دغې دښتې ته یوړل" په دغو کنټینرونو کې په سلګونو طالب سرتیري وو، دوی خپل ځانونه اټکل ۲۵۰ کلیومتره لرې په کندز کې شمالي ټلوالې ته ورتسلیم کړي وو. د طالبانو د مشر ملا عمر څو زره سرتېري د افغانستان په شمال کې له وسلو سره دوستم ته ورتسلیم

شول، چې يوه برخه جنګي اسيران يې هماغه مهال ونيول او جنګي قلعه ته راوړل شول، پاتې طالبان چې يو ډېر شمېر يې په خپله خوښه راغلي، پاکستاني وو، کنټېنرو ته واچول شول، دوی بيا په کنټېنرو کې شبرغان ته ولېږدول شول.

د نوامبر په اخره کې په دغه لښکرکوټ کې يو پاڅون وشو، چې د امريکايي پرله پسې هوايي بريدونو په ترڅ کې له منځه يوړل شو. د طالبانو په چوپړ کې هغه وسله تون ولوېد چې دوی له پخوا نه په دغه لښکرکوټ کې پټې وسلې ځای پرځای کړې وې او د دوستم سړيو ته پټه نه وه. دغه نابېره پاڅون ډېر شمېر امريکايي ايجنټان چې دوی له شمالي ټلوالې سره يو ځای دغه لښکرکوټ کنټرولولو حيران کړل. سربېره پر دې له دغې وروستي بلوا څخه طالبانو لږ ګټه پورته کړه زياتره سرتېري په دې پاڅون کې له منځه ولاړل. د شبرغان مړي سره له دې چې په نښته کې نه دي وژل شوي خو دا خبره ددوستم سړي يو ځلي هم نه کوي، په دغه ډښته کې د لارې ټرخنګ په سلګونو د مردکيو پوښونه پراته وو چې د درنو وسلو وې، تر دې لږ وړاندې بيا د انسان هډوکي.

دلته اعدامونه ترسره شوي دي، څنګه چې يو افغان ليدونکی په يو مستند فلم کې ادعا کوي؟ احمد ډېرې نه دي اورېدلې، د قواو راټولېدنه په دغه سيمه کې له رمزه ډکه پاتې کېږي، خو ددغو قبرونو تر څنګ په يوه وخت کې په دغه ډښته کې تر ډېرو ورځو کنټېنرونه ولاړ وو.

ددغو پېښو شاهد احمد وايي" لنډه دا چې سړيو دغه مړي اټکل ۶۰۰ يا ۷۰۰ له کنټېنرونو څخه را وويستل او په دې ډښته کې يې وغورځول. د افغانستان په شمال کې ډله ييزې وژنې په کنټېنرونو کې يو ميتود دی، چې د مقابل لوري د له منځه وړلو لپاره ترې کار اخيستل کېږي. دا مېتود د طالبانو، هزاره ګانو او اوزبکانو له خوا کارېده، ميتود تل يو شانې وي، لومړی ډېر شمېر اسيران په يو تنګ ځای کې راټول او پرس کېږي، په ژمي کې تودوخه په شبرغان کې له ۲۵ نه تر ۳۰ ګرادو رسېږي، حرارت په دغه پولادي کنټېنري قبر کې دوزخ ته ورته وي، د اکسيجن کمښت پسې دغه سړي ورو ورو د يو ډېر خوږمن او ځورونکي زندۍ مرګ پر لوري خوځوي.

د ليلي په دښته کې هم ځينې طالبان ژوندي پاتې وز، دوی په دغه خوا کې وو، احمدوېل او ګوته يې د محبس پر لور وخوځوله، دغه ۴۵ کلن بزګر پر خپل ټراکټور ډډه ولګوله، زه په کافي اندازه پيسې لرم، زه له دوستمه نه ډارېږم او د خدای پامانۍ په وخت يې وويل:

ايا سړي کولی شي چې د شبرغان د ختيځنو لوړو دېوالونو او ازغنو سيمونو تر شا د حقيقت او رښتينو نښو او پل په موندلو کې برياليی شي؟

۱۲۰۰ طالب سرتېري او قوماندانان د محبس په يوه وتلي ځای کې اسيران دي، کله چې د طالبانو په واک کې و، د محبس دغه اوسنی قوماندان ازبک اخترمحمد خپله په همدې زندان کې بندي و، هغه په خندني توګه وويل" افغانستان همداسې دی، يو وار د يو نوبت دی بل وار د بل" ډېر بر بړ غرېږي، يو سړی چې ۴۳ کالو څخه يې يوولس په محبس کې تېر کړي لکه اختر محمد، هغه چای او شنو انګورو ته وبللو" وګوری په ارامه دلته هرڅه منظم دي" محبس ته چې وګورې يو نمونه محبس برېښي، سور صليب يو کتنځای لري چې محبوسينو ته په کافي اندازه ډوډۍ، وريجې، سابه او اوبه ورکول کېږي، اټکل ۵۰ تنه محبوسين په نري رنځ اخته دي، دوی په کرنتن کې ژوند کوي او درملنې يې هم کېږي.

طالبان په دريو برخو وېشل شوي، دوې برخې د افغانانو او يوه د پاکستانيانو لپاره بېلې شوي چې تر ۴۰۰ تنو پورې په يوه بلاک کې دي، په ۲۰ متر مربع خيمه کې تر ۱۵ تنو پورې ژوند کوي، په اوونۍ کې دوه وارې انګړ ته ايستل کېږي.

دلومړي بلاک د بنديانو استازي عبدالستار کندهاری دی کوم چې د طالبانو د پورته کېدو اصلي مرکز او ديو سترګي ملا عمر ولايت دی، ستار وايي يو معمولي سرتېری دی نه قوماندان، دی تېزې تېزې خبرې کوي، هماغسې چې په مدرسه کې يې زده کړي دي.

غواړی تاسو تر خوشې کېدو وروسته بيا هم وجنګېږئ؟ کله چې په کابل کې بې بوکرې ښځې وګورئ چې ښوونځيو ته د تللو اجازه لري هغه وخت به تاسو څه وکړئ؟ ستار له غوسې خپلې شونډې وچيچلې، ده وويل: زه يې

بـايد لومړۍ وګورم، د هغـه په څنګ کې يو ساتونکی په شين يونيفورم کې ولاړ دی طالب ته يې د هغه په خبرو ګوت څنډنه وکړه.

عمران يو ۲۲ کلن پاکستانی د محبس ساتونکي ته څه خاص اهميت نه ورکوي، دغـه د لاهور ډودۍ پخوونکـی پـه نوامبر کـې د خپـل مـلا پـه غـږ افغـان ورونـو تـه د وسلو د مرستې په نيت روان شوی و، پس لـه دوه ورځـو دی په کندز کې اسير شوی، يو بدمرغه انسان دی په څه خبر و.

عمران په انګرېزي وايي: زه پـه کنټينر کـې وم. ساتونکی په دې خبرو نه پوهېږي زړه تـنګی شي او پـه خپلـه مخـه ځي" موږ يې تر ۳۰۰ تـنو پـه يوه کنټينر کـې يو ځـای تپـل وهلو، بيا يې موږ دښتې ته يوړو، په لومړيو دريو ساعتونو کـې هغـه چې په جګړو کـې ټپـي وو ـ مړه شول، بيا بوډاګان چې دوی تـه هـوا ونـه رسېده" عمران زياتوي پـه سلګونو مړي پـه يوه کنټينر کـې وو، د عمـران ويـنا ډېرو نـورو محبوسينو تصديق کـړه، پـه دويـم بـلاک کـې افغانـان وو، چې ډېر شمېر سړي پـه کـې ناست وو، پوښتـنه تـرې وشوه چې څوک پـه داسـې کنټينرونو کې بنديان شوي وو چې مړي پـه کـې وو؟ډېرو لاسونه پورته او د قتلونو خبرونه يې تائيد کړل.

تر ۲۰۰۰ زيات پر هغـه مهال مړه شول، ملا عبدالمنان يو شين سترګی پښتون لـه سويل نـه وويـل، دغـه شمېره بـه لـه دې هم زياته وي، په شبرغان کې يو اوزبـک ډاکټر چې ځان يې نـه معرفـي کـاوه، ځکه چې ددوستم په سيمه کې يې کـار کـاوه، دا خبرونه چې د هـوا د بنديدو لـه املـه وژل زښت ډېر وو تصديق کړل.

دا چې د جنرال دوستم مليشې جنګي جنايات، ډلـه ييزې وژنې تر سره کړي، نو بې لـه شکه امريکايـي سرتېري هم په کې وو. دوی د طالبانو د اسيرانو ورمېږونـه پـه رښتـيا سره مات کړل، د پوښتنې ګروپونې او پلټنې پر مهال به زياته شکنجه ورکول کېدلـه.

دغـه خبري همدارنګـه د کنټيـنر لارۍ چلوونکـيو او هـم نـورو عينـي شاهدانو پـه مستند فلم کې په څرګنده توګه کړې دي، د عمران په ياد راځي چې پـه کـندز کـې ډېر امريکايان وو، کلـه چې پـه کـندز کې لـه کنټيـنره

راوویستل شو، ډېر کمزوری و هېڅ یې نه شو لیدلی. محمد یو بل بزګر نه شي کولی چې امریکایان خپل خاطر ته راولي هلته ټول د دوستم سړي وو.

امریکایان په دې هیله وو چې چېرته به اسامه بن لادن او یا ملا عمر ونیسي، د جنګي کلا په پاخون کې د CIA یو سړی هم ووژل شو. یو شمېر په ډزو کې ټپیان شول. دوی امریکایي یونیفورم نه لرلو، بلکې ملي افغاني کالي یې اغوستي وو چې نور ونه پېژندل شي. دغو امریکایي مشتریانو خپلې وسلې په وطني عامو کلاشینکوفونو بدلې کړې وې.

له تصوره وتلې خبره ده چې دغه په شمال ټلواله کې ځای پرځای شوي د CIA اجنټان د شبرغان په ډګر کې پر اینبودل شویو اوسپنیزو تابوتونو باندې خپل پام واړوي، یا پرې څه فکر وکړي او یا په دې اړه د بشر د حقوقو په رڼا کې په دې اړه کومه خواخوږي ښکاره کړي، هغوی د یو انسان په توګه له طالبانو سره هېڅ علاقمندي نه لرله.

د محبس امر په ډېرو باټو او کبر وایي چې ددغه ځای بندیان اوس په ګوانتانامو کې ناست دي.

*له "هیله" دوه میاشتنی خپرونې څخه په مننه*

س. سپېڅلی

# د افغانستان په شمالي سيموکې د بشري حقوقو حالت

هسې هم په تېرو دوو لسيزو کې په افغانستان کې د بشري حقوقو د ېلابېلو جنګي ډلو لـه خوا تل تر پښتو لاندې شوي دي، خو لـه ۱۹۹۲ کال څخه را په دې خوا کلـه چې په دې هېواد کې قانون، دولتي سيستم او اردو لـه منځه تللي او دولتي واک په سيمو کې د بېلابېلو ډلو په لاس کې ولوېد د هېواد زياترو سيمو د اوسېدونکو پر حقوقو د تېري پرېمانه بېلګې تر سترګو شوې دي.

په دې وروستيو کې د افغانستان په شمال کې د جنګي ډلو د سيمه ييزو قوماندانانو لـه خوا پر پښتنو او نورو مېشتو قومونو باندې شوي ظلمونه او د بشر لـه حقوقو څخه سر غړونې د نړۍ د مطبوعاتو او د بشر د حقوقو نړيوالو سازمانونو د پاملرنې وړ ګرځېدلې دي.

د هېواد شمالي سيمو اوسېدونکي پښتانه، پشه يان او مغل د توکم او ژبې پر بنياد ځورول شوي، شته او جايدادونه يې د شمالي ائتلاف د وسلوالو جاني ډلو لـه خوا په زور او جبر غصب شوي، ګڼ شمېر پښتانه وهل شوي او ټکول شوي دي. پر ښځو او پېغلو نجونو باندې په جبر سره جنسي تېري شوي دي د هېواد لـه شمالي، په تېره بيا د بغلان اوتخار لـه

ولایتونو څخه په دې ورستیو وختونو کې ګڼ شمېر کورنۍ د ننګرهار ولایت د حصار شاهي ولسوالۍ د مهاجر کمپ ته ورکډه شوي دي.

د دغه کډوالو ډېره برخه پښتانه دي چې د شمال د سیمه ییزو جنایتکارو قوماندانانو له خوا له خپلو کورونو څخه شړل شوي دي. که له یوې خوا د ملګرو ملتونو د پلان له مخې د روان عیسوي کال تر پایه له یو ملیون نه زیات افغان مهاجرین خپلو کورونو ته ستنېدونکي دي، له بله پلوه د هېواد له شمالي سیمو نه ګڼ شمېر نوي مهاجر د خپلو کورونو پرېښودلو ته مجبورېږي، دغه نوي کډوال د ژبې او توکم پر اساس د سمیه ییزو قوناندانانو او وسلوالو کسانو له خوا کړول کېږي، په حقه حقوقو یې تېري کېږي او دوی د خپل ژوند د ژغورلو لپاره پاکستان ته څېرمه د سرحدي سیمو په لور کوچېږي. په دې وروستیو وختونو کې د تخار او بغلان ولایتونو له بېلا بېلو سیمو څخه څه له پاسه درې سوه کورنۍ د حصار شاهي په کېمپ کې مېشتې شوې دي.

د دغو کډوالو د یوې کورنۍ مشر خان جان چې د بغلان ولایت د دوشي ولسوالۍ اوسېدونکی دی، وایي چې د شمال په ولایتونو کې د طالبانو له ماتې وروسته د ځایي قوماندانانو له خوا پر دوی ډېره سخته راغله او په نتیجه کې د خپلو کورونو پرېښودو ته مجبور شول نوموړی وایي: وسلوالو کسانو موټر رانه واخېست، بوټونه، پیسې، ساعت او هر څه یې رانه په زور واخېستل.

د دوشي ولسوالۍ د سرخ کوتل اوسېدونکی نور جلال هم ورته کیسه لري:

په دوشي کې وسلوال قوماندان امان پیسې، موټر او د کور ټول کالي رانه واخېستل او موږ په یو جوړ جامو کې له سیمې نه راوتښتېدو.

د دولت په نامه د کیله ګي اوسېدونکی بیا وایي چې ټوله خبره د ژبې ده. نوموړي زیاته کړه: خبره د پښتو او د فارسي ده، موږ له کیله ګي نه تر سلو زیات کورونه چې ټول پښتانه وو، له خپلو سیمو څخه راوشړل شوو، موږ چور شوو، هر څه یې رانه واخېستل. قوماندان مصطفی او قوماندان امان پر موږ ډېر ظلمونه وکړل، یوازې قوماندان جلال سالنګي له موږ سره

مرسته وکړه، خو د هغه زور نه رسېده، موږ په لاره کې هم د وسلوالو کسانو له خوا چور شوو.

د تخار ولایت د فرخار ولسوالۍ اوسېدونکی سید محمد وایي: د سیمې قوماندانانو وویل چې نور دلته ستاسې د اوسېدو لپاره ځای نه شته. داود قوماندان او د نورو وړو قوماندانانو لکه بیداق، عبدالولي او قهار پر موږ ډېر ظلمونه وکړل. دوی د خرماو، عساط، سیمان او خاکدای د سیمو اوسېدونکو ته وویل چې له سیمې څخه ووځي.

دغه راز د بغلان د نوي ښار اوسېدونکی حاجي محمدالله وایي:

زموږ د شهر جدید، نهرین او نورو سیمو له پښتنو څخه یې ځمکې، کورونه او هر څه په زور واخېستل. قوماندان قاضي فضل، خورشېد، ولي ګک د حنیف زوی او نورو قوماندانانو د سیمې پر خلکو ډېر ظلمونه وکړل، له موږ نه یې ځمکه، کورونه او ټوله شتمني واخېستله. د ننګرهار ولایت د حصار شاهي په کېمپ کې څه له پاسه ٣٥٠٠ کورنۍ مېشتې شوې دي، چې ټول د خوراکي موادو او پاکو اوبو د نشتوالي له امله له سختو ستونزو سره مخامخ دي.

د افغانستان په شمالي سیمو کې د بشري حقوقو تر ټولو لاندې کولو لړۍ تقریباً د دغې سیمې ټولو ولایتونو ته غځېدلې ده.

د پروان ولایت اوسېدونکی تاج الدین وایي: ورک یې کړه، څه به درته ووایم هغه څه چې پر موږ شوي دي، یا مو پر سترګو لیدلي دي په حوله مې نه راځي چې درته ویې وایم. د جمعیت اسلامي او نظار شورا وسلوالو کسانو د خلکو ښځې، خویندې او لوڼې بې عزته کړې، مالونه یې رانه بوتلل او ځمکې یې په زور رانه واخیستلې. موږ غواړو چې د غو ټولو سیمو ته سوله ساتي پوځونه ولېږل شي او وسلوالو کسانو ته سزا ورکړل او د هغوی د زور زیاتي مخه ونیول شي.

د پروان ولایت یو بل اوسېدونکی علمداد چې له خپلې سیمې شړل شوی دی، له ملګرو ملتونو او نړیوالو څخه ګیله لري وایي: صاحبه! موږ په قوم ناصریو، زموږ ګناه څه وه؟ موږ خو یوازې پښتانه وو! له موږ نه یې هر څه په زور واخېستل، موږ ایله بیله خپل سرونه راخلاص کړل، ملګري ملتونه

اونوره دنیا زموږ غم ولې نه خوري ولې زموږ له حاله ځان نه خبروي؟ د افغانستان له حکومت او ملګرو ملتونو څخه هیله کوو چې موږ بېرته خپلو سیمو ته ستانه کړي او له وسلوالو کسانو څخه وسلې ټولې کړي او د ظلمونومخه یې ونیسي.

د افغانستان د لندمهالې ادارې د سپکو صنایعو او خوارکي موادو زیرمو محمد عارف نورزی چې د یو هیئت په مشرۍ د هېواد شمالي ولایتونو ته تللی و، د بشري له حقوقو څخه د وسلوالو ډلو دغه سرغړونې تاییدوي او وایي:

په شمالي سیمو کې د وسلوالو افرادو او قوماندانانوله خوا پر خلکو ډېر ظلمونه شوي، د پنځوسوو په شاوخوا کې عریضې موږ ته رسېدلې دي چې هر یوه په کې د خپلو کورونو او جایدادونو د بېرته ورکولو غوښتنه کړې ده.

د یادونې وړه ده چې د افغانستان له شمال نه په زور راکډه شوي ټولو مهاجرینو په یوه اواز په دغو سیمو کې د وسلوالو ډلو د بې وسلې کولو او د وسلوالو جنایت کارانو د محاکمه کولو او د هېواد په شمال کې د نړیوال ځواکونو ساتي پوځ د ځای پر ځای کولو غوښتنه وکړه، ځو د سیمه ییزو وسلوالو ډلو د زور زیاتي مخه ونیول شي او دوی په ډاډه زړه خپل ورځني ژوند ته دوام ورکړي.

*له نوښت مجلې څخه په مننه.*

## د مزار تولوژنه

# په امریکا کې یوه ناویل شوې کیسه

د ژباړن یادښت:
کله چې تېر کال طالبان د واک پرېښودو ته اړ کړای شول، افغانانو هیله درلوده چې نور به هېواد ته سوله او ارامي شي، نور به وروروژني، وینې توینې، ځورونې او د ورانۍ لړۍ ته د پای ټکی کېښودل شي، نور به ارامي او سوکالي راشي. خو له بده مرغه چې حالات لا نور هم تویاني شول. د هېواد په شمال کې د شمالي تلوالې او نړیوالې تلوالې له خوا بشري جنایتونه تر سره شول، داسې بشري جنایتونه چې د بشر په تاریخ کې به یې ساری ډېر لږ ولیدل شي.
دا چې د هېواد په شمال کې بشري جنایتونه تر سره شول، نو اوس د افغانانو لپاره څه کول په کار دي؟
د ټولو افغانانو لپاره په کار دي چې نړیوالې او افغاني محاکمې ته د بشري جنایتکارانو راکښلو لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړي. ځکه د افغانستان د چارو څېړونکي او پلټونکي په دې باور دي چې د یوه رژیم له نسکورېدو سره د نوي رژیم د واک ته راتلو پر مهال ډله ییزې وژنې تر سره شوې دي، دا ډله ییزې وژنې د غوایي د کودتا پر مهال او بیا یې په اوږدو کې تر سره شوي دي. که هغه مهال او یا تر هغو وروسته دا بشري جنایتکاران او جنګي جنایتکاران محکمې ته راکښل شوي وای، اوسني

*جنايتونه به نه رامنځ ته کېدل. اوس هم که دا جنايتکاران محکمې ته راوښکل شي نو په راتلونکي کې هم د داسې جنايتونو وېرې شته.*
*نړيوالې محکمې او افغاني محکمې ته د جنايتکارانو د راکښولو مقصد د يوې ډلې پلوي او د بلې مخالفت نه دی، بلکې د جنايتکارانو محاکمه کول له بشريت سره مينه ده.*
*له ۲۰۰۱ کال وروسته چې د هېواد په شمال کې کوم بشري جنايتونه تر سره شوي دي، د هغــــو په اړه يوه ايرلېنډي ژورنالېست مستند فلم جوړ کړی دی چې Clive Freeman يې په اړه يوه ليکنه کړې او ما ژباړلې ده، تاسې يې لوستو ته رابولم.*

*اشفاق*

د اسير شويو طالبانو په شکنجه کولو او وژلوکې امريکايي پوځيان لاس لري او د هغو درېيو زرو اسيرانو د ډله ييزې وژنې په پټ ساتلو او پټولو کې يې مرسته کړې چې مزارشريف ته څېرمه په يوه سيمه کې تر سره شوې.
دا هر څه د يوه ايرلنډي فلم جوړوونکي Jamie Doran له هغه مستند فلم څخه په ښه توګه څرګندېږي چې له دغو تباه کوونکو وژنو څخه يې ډک کړی دی.
د Jamie Doran دا وروستی فلم چې "په مزار کې ډله ييزه وژنه" نومي، د جرمني په برلين کې په پارلماني ودانۍ کې وښودل شو. د فلم له ننداري سره سم له لاسه د يوه نړيوال پلاوي د جوړېدو غږ پورته شو چې د دغو سندونو له مخې پلټنې وکړي.
د نړيوالو بشري حقوقو يو مشر Andrew McEntee چې همدا مستند فلم يې د سينما پر پرده ليدلی او په دې اړه يې د فلم بشپړه ليکنه لوستې، په دې باور دی چې دا د سترو جنګي جنايتونو څرګند شواهد دي چې امريکايي عسکرو په افغانستان کې ترسره کړي دي. McEntee چې د مستند فلم د ننداري پر مهال په برلين کې و، وويل: څرګنده چې جنګي جنايتونه تر سره شوي دي، اوس بايد جنايتکاران يوازې نړيوال عدالت ته

پرېښښودل، لـه نړيوال عدالت سربېره جنايتکاران بايد د امريکا د متحده د ايالاتو د قانون منګولو ته هم وسپارل شي.

د Jamie Doran د مستند شل دقيقه يي فلم زياته برخه په پټه جوړه شوې، که څه هم په فلم کې عيني شاهدانو ويلي چې د غچ اخيستو په وېره او ډار کې ژوند کوي، خو لـه دې سره سره بيا هم دوی ټول حاضر دي چې په يوه نړيوالـه محاکمه کې د شاهد په توګه او د سترګو ليدلو حالاتو د ويلو لپاره حاضر شي.

په دغه فلم کې يو عيني شاهد وايي چې ما په خپلو سترګو يو امريکايي پوځي وليد چې د يوه افغان بندي سر يې پرې کړ او پر نورو يې تېزاب تلې کړل؛ دلته امريکايانو هر هغه څه وکړل چې غوښتل يې، موږ ډېر بې وسه او ناچارو وو، هېڅ قوت مو نه درلود چې د دغو بې رحمه خلکو د داسې جنايتونو مخنيوی مو کړی وای.

همدغه سړی د خپلو سترګو ليدلي حال وايي او زياتوي: هغه بنديان چې وهل او دربول شوي او ټپيان شوي وو، کله به يې چې لـه زندان څخه د باندې وويستل، بيا نو نه رابښکاره بدلـه. دوی بيا د تل لپاره غيبېدل. د نورو شاهدانو لـه منځه دوو نورو شاهدانو وويل: موږ دې ته په زوره اړ کړای شوي وو چې کانتينر لرونکي موټرونو وچلوو او طالب بنديان دښتې ته يوسو، چې بيا به په بيړه او منډه په داسې حال کې په ټوپکو ويشتل کېدل او وژل کېدل چې ۳۰ -۴۰ امريکايان د وژنو د افادې کولو لپاره ولاړ وو. د اسنادو او شوهدو لـه مخې بنديان دغې دښتې تـه د ځايـي امريکايي قوماندان په امر وړل شوي او وژل شوي دي.

په فلم کې يو بل عيني شاهد پخپل لاس د بنديانو د وژلو اعتراف کوي او يو بل افسر چې د دوستم په ځواکونو کې افسردی وويل: زه په دې تهديد شوم، چې په راتلونکي کې بايد هر څه د خپل ژوند د خونديتوب لپاره پټ وساتم. نو دغه افسر لـه خپلو جنايتونو څخه پرده پورته نه کړه.

پـــه المـــان کې PDS (Party of Democratic Socialism) ګوند چې په مزار کې د ډلـه وژنې (Massacre in Mazar) فلم د ځانګړې ننداريې لپاره يې په Reichstage کـې ترتيبات نيولي وو، د ګونـد مشر Roland Claus پـه

احتیاط او غور د فلم محتویات کتل، خو د دغه فلم د سوچه والي او رښتینوالي په اړه یې خبرې وکړې.

Adre Brie چې په اروپایي پارلمان کې PDS ګوند غړی دی، د پاتې ناروغ طالب بندیانو په درملنه کې یې علاقه وښودله. ده زیاته کړه: زه به خوشاله شم چې یو نړیوال کمیسیون هغه ناراموونکیو او پرېشانوونکیو سوالونو ته ځواب ووایي چې د دغه فلم له ننداري وروسته راپورته کېږي.

په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې Bire وویل: زه په افغانستان کې د Doran د خطرناک فلم په کړو وړو پوه شوم او زه به له فلم سره مالي مرسته ورکړم. د PDS ګوند غواړي چې په افغانستان د جګړې رښتیني فلمونو تر لاسه کړي. ده زیاته کړه چې فلم به د اروپا په پارلمان کې هم ننداري ته وړاندې کړي.

*د Clive Freeman لیکنه، ژباړن: حامد اشفاق، ګوربت دوه میاشتنۍ خپرونه، پرله پسې ۱۷ ګڼه، ۲۰۰۲ کال،*

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند احمد ، مزارشریف

# په شمال کې د شمال ټلوالي جارحیت او د پښتنو مظلومیت

د طالبانو له ماتې سره سم په شمال کې د پښتنو حالت ډېر زړه دردوونکی او خواشینوونکی دی. د شمال ټلوالې له خوا په شعوري ډول پښتانه ځورول کېږي، په ډول ډول نومونو ځپل شوي او په بېلابېلو ډولونو ربړول شوي دي. پښتنو ته د بې پاسپورټه بهرنیانو په سترګه کتل کېږي او مال، شتمني، ځمکې او ګردې هستي یې د هغوی له خوا چور او تالان شوي دي. د سمنګانو په ولایت کې له پښتنو سره ډېر بد چلند شوی دی



دشمال ټلوالي د ظلمونو بېلګه

چې قلم یې د کاغذ پر مخ نه شي کښلی او د ایبک او نورو سیمو ترخنګ د غزنیګک کلي مېشت پښتانه یو مخ بې عزته شوي او د هغوی ګردې

هستی یې چور او تالان کړي دي، ددې ځای له پښتنو څخه یې یوازې څلوېښت زره مېږې پېولې دي.

ددې ځای د پښتنو ګناه دا وه چې دوی د ستر افغان محمدګل خان مومند له تېر سره تړاو درلوده، عزت یې لوټ شوی او ډېر ځوانان یې په دې جرم چې القاعده دي، وژل شوي او ان ځینې یې ژوندي له پوسته جلا شوي او حلال شوي هم دي. د مزارشریف او بلخ په سیمو کې هم د پښتنو حالت ډېر خراب او زړه دردوونکی دی، هغه ورځ چې په مزار کې د استاد عطا او دوستم ډلو ترمنځ جګړه وه په ښار کې د پښتنو کوم واده و او ناوې یې د شاه کورته لېږدوله چې په لاره کې یې څو ټوپکیانو مخه ونیوله او ناوې یې ترې بوتله، چې تر ننه پورې لا درکه ده او هېڅوک یې غږ نه اوري، همدارنګه د مزارشریف په ښار کې پښتانه په ازاد ډول نه شي اوسېدلای او نه شي کولای چې خپل کاروبار پر مخ بوزي. د مزار او پلخمري دلارې په اوږدو کې د رباطک په سیمه کې وسله وال کسان د موټرو مخه نیسي او له پښتنو څخه پیسې غواړي، که لانجه یې ترمنځ راغله بیا یې ژوندي نه پرېږدي. په دې بهیر کې یې دوه اوونۍ وړاندې دوه پښتانه ځوانان چې کابل ته راتلل په دغه سیمه کې د نورو له منځه رابېل کړل او بیا یې شهیدان کړل.

د جوزجان او نورو ولایتونو په ګردو سیمو کې هم له پښتنو سره ورته چلند کېږي او د ژوند ګردې اسانتیاوې یې ترې اخیستي دي، پر کورونو یې هره ورځ وسله وال کسان ورځي او په بېلابېلو نومونو یې وسله والو او پټو ځایونو ته بیایي او په ډېره سختۍ د پیسو په بدل کې راخوشې کېږي. پښتانه هېڅ حق نه لري چې خپل غږ پورته کړي او خپل شکایتونه څرګند کړي او که دا وکړي بیا یې د پټېدو ځای نه شته.

له بهرنیو خبریالانو او د بشر د حقوقو له بهرنیو چارواکو سره یا د شمال ټلوالې ژباړن او وسله وال کسان وي او یا هم د شمال کوم لوړ پوړی چارواکی چې پښتانه ونه شي کولای بشپړ شکایت وکړي او په بهرنیو رسنیو کې یې خپاره کړي او نړۍ د شمال ټلوالې له ظلمونو او تېریو څخه خبره شي چې د انسانانو پر یوه ځورېدلې ټولنه څه تېرېږي.

د منځمهالي دولت له خوا هم چې کله کوم پلاوی شمال ته راځي، د شمال ټلوالې کسان ورسره وي او پښتانه نه شي کولای چې بشپړې خبرې وکړي او هغوی ترې خبر کړي، ځکه له هغو سره د ټلوالې وسله وال کسان وي او څوک دا جرئت نه شي کولای چې بشپړې خبرې وکړي او ګرد حالات ورته ووايي. خو له دې سره سره بيا هم هغوی څه نا څه د خلکو عريضې راټولې کړي او د منځمهالي دولت مشرتابه ته يې کېدی شي رسولې وي، همدارنګه د بشر دحقوقو غوښتونکو هم لږ تر لږه ځانونه په دې خبر کړي دي، خو تر اوسه يې هېڅ مثبته نتيجه نه ده ورکړې.

د بغلان او کندز ولايتونو په مرکز او ولسواليو کې پښتانه وژل شوي، وهل شوي، او مالونه يې چورشوي دي. موټرې ترې په بېلابېلو نومونو وړل شوي او تښتول شوي دي او د موټر چلوونکو د وژلو ډېرې بېلګې په لاس کې شته. پر ځمکوالو او کروندګرو باندې له عشر پرته پر يوه جريب ځمکه دولس منه غنم ټاکل شوي هغوی به يې د شمال ټلوالو ټوپکيانو ته ورکوي. په لارو کې امنيت نه شته او په ځانګړي ډول پښتانه په بېلابېلو سيمو کې لوټ شوي او ځينې يې وژل شوي دي. لنډه دا چې د شمال ټلوالې تر بريو وروسته په عمومي ډول پښتانه ځورول شوي او په شعوري ډول يې چور او چپاول کړي دي، ځکه د شمال ټلوالې يو کوماندان چې نه غواړم نوم يې ياد کړم، ما ته وويل: " ماره جنرالان ايراني و روسی تربيه ميدادند که پشتونهای شمال را بزنيد، بکوبيد، چورکنيد، بی عزت کنيد. تا شما از چنګال انها ازاد شويد وکشور ازاد داشته باشيد. به انها مسلط باشيد و تا اخرين قدرت خود کوشش کنيد که انها را ازشمال بکشيد، ومجبور کنيد که وطن ابای شما را ترک کنند و بروند" په دې ډول د ټلوالې يو بل کندک مشر چې غيور نومېږي، ما ته وويل: "چه فکر ميکنيد که ما کی هستيم؟" ما ورته وويل تاسې مجاهدين يئ او د نړۍ ستر زبرځواک ته مو ماته ورکړه او د منځمهالي دولت غړي ياست. ويې ويل: " نه، تو نفهميده يی. ما مجاهد عليه فساد و مجاهدين نګهداری نواميس کشور نيستيم. ما مجاهد هستيم عليه پشتونها، ما که شما را زنده مانده ايم شکر بکشيد".

له دې خبرو څخه څرګندېږي چې روسان بیا غواړي موږ سره وجنګوي او دا ځل وروور له وروور سره دښمن کړي. د ایران هڅه دا ده چې نه یوازې په شمال بلکې په ګرد افغانستان کې د پښتنو ځواک او قوت له منځه یوسي او فرهنګ یې زیانمن کړي. د ډموکراسۍ مخه ونیسي او زموږ خپلواکي له ګواښ سره مخامخ کړي، همدا خبره ده چې ډول ډول ایراني فلمونه، کتابونه او نورې خپرونې شمال ته رالېږي، له شمال ټلوالې سره مالي مرستې کوي او د شمال ټلوالې د برلاسۍ هڅې کوي، همدارنګه شمال ټلوالې ته لارښوونه کوي چې څه وکړي او کومه پالیسي غوره کړي او د چا پر وړاندې خلک راوپاروي. ایران نه غواړي چې د افغانستان ملي بیرغ د تل لپاره هسک وي او د نورې نړۍ په کتار کې یو پرمختللی او ازاد هېواد وي.

روسان هم دا هیله لري، په شمالي سالنګ کې همدا اوس هم د روسانو بیرغ رپېږي او ترڅنګ یې د شمال ټلوالې د پخواني حکومت (د رباني حکومت) بیرغ ولاړ دی، اوس نو تاسو خپله فکر کولای شئ چې د شمال ټلوالې اصلي ماهیت څه شی دی؟.

*له هیلې مجلې څخه په مننه*


PROPERTY OF ACKU

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصویر خبري کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



PROPERTY OF
ARIC
Established
1989



عبدالباري جهاني

# دعوه

کـنـدهار مــې د بابــا پــه قوالــه دی
که پنجشېر دی که واخان دی وطن زما دی
هـره لوېشت مې د نـيکه او بابـا ګـور دی
پـر هـر ګـام بـاندې لحـد او کفـن زمـا دی
هر غـاټول يې زما لـه وينو رنګ اخېستی
دا پـه وينـو روزل سـوی چمـن زمـا دی
لـه نـيکه را پاتـه سـوی پـه مـيراث دی
دا د مشـکو رباتونــه ختــن زمــا دی
سـرداري يـې زمـا پـه پچـه ده ختلې
لـه آمـو تـر مست هېلمنده مامن زمـا دی
کـه تـاجک دی کـه ازبـک دی يـو افغـان دی
د دې خـاوري هـزاره ترکمـن زمـا دی
چې فکر [illegible] په سر کې
[illegible] کفن زما دی
ښه يې زما دي، بد يې زما دي، هر څه زما دي
د دې خـاورې ارغـوان او زرغـن زمـا دی
دلـته هـره تـيږه، کـانړی بدخشـان دی
دا لالونـه، غـرونه غـرونه دمـن زمـا دی
د ازل تقسـيم بـاغوان يـم پـيدا کـړی
دا بهـار دا لالــه زار او ګلشــن زمـا دی
دا مورچـل مورچـل پکتيا او دا شـېر برېتي
چې فلـک بـه کـوږ وګـوري دښمـن زمـا دی
کـه "مـيرويس" دی کـه اکبر کـه مسجدي دی
هـره تـوره، هـر مـيدان او تـورزن زمـا دی
فـتح زمـا ده، فخـر زمـا دی، جشـن زمـا دی
شـهيد زمـا دی د ويـرژلو شـيون زمـا دی
چې پـه زړه کې څـه در تېر نـه سي اسمانه!
چې پـرون مـې د نـيکونو، نـن زمـا دی

ويرجينيا، ۵، ۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Pushtoons In North of Afghanistan

## (Collection of Articles)
## Collected By Dr. M.Jaweed

Published by:

S.C.P.R.D --
Sapi's Center for Pushto Research and Development
Address: Flate No 314, 3rd floor, Gul Haji Plaza,
Ph/ Fax: 091-5704506
Email: SCPRD@psh.paknet.com.pk

Date 2003

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library